بسم الله الرحمن الرحيم

# شیخ زاید پوهنتون

# شیخ زاید علمي - څېړنیز ژورنال

---

د شیخ زاید پوهنتون علمي ـ څېړنیزه درېمیاشتینۍ خپرونه

( ټولنیز علوم )

د ۱۴۰۴ل (۱۴۴۷ ق) کال درېیمه ګڼه، لیندۍ ــ پرله‌پسې ۴۰مه ګڼه

(لومړی ټوک)

۴۰

# شیخ زاید پوهنتون

# علمي څېړنو معاونیت

# علمي مجلې آمریت

# علمي مجلې عمومي مدیریت


د امتیاز خاوند: شیخ زاید پوهنتون

مسؤول مدیر: پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب

علمي مجلې عمومي مدیر: نورمحمد انقلابي

برېښنالیک: journals@szu.edu.af



| کتنپلاوی | |
|---|---|
| پوهاند زرولي صدیقي | ټولنیزو علومو پوهنځی |
| پوهاند عبدالخلیل افغاني | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب | ژبو او ادبیاتو پوهنځی |
| پوهنوال محمد شفیق مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال محمد الله مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال عبدالتواب عزیزي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهنوال امان الله څدراڼ | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال شفیع گل شفیقي | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال صالح خان صالح | کمپیوټر ساینس پوهنځی |
| پوهنوال سید کمال شاه بنوري | شرعیاتو پوهنځی |
| پوهنوال نقیب الله عطیش | ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهنځی |
| پوهندوی گوهرشاه گوهري | کمپیوټر ساینس پوهنځی |
| پوهندوی غازي جان محمدي | ښوونې او روزنې پوهنځی |



پته: شیخ زاید پوهنتون، علمي څېړنو معاونیت، د علمي مجلې آمریت خوست- افغانستان

۰۰۹۳۷۷۷۷۹۱٦۵۳ / ۰۰۹۳۷۷۴۳۰۲۴۷۷

## د علمي ـ څېړنيزې مقاله ليکنې لارښود

درانه څېړونکي دې د علمي مقالې د ليکلو پر وخت لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

- ✓ مقاله بايد مخکې نشر شوې نه وي او نه همهاله بلې مجلې ته لېږل شوې وي.
- ✓ د کتابتوني مقالې اړين توکي په ترتيب سره دا دي: عنوان، د ليکوال نوم او پته، لنډيز، کليدي کلمې، سريزه، موخې، کړنلاره او کارتوکي، اصلي متن، پايله، وړانديزونه، اخځليکونه او د طبيعي علومو په علمي مقالو کې مناقشه هم اړينه ده.
- ✓ عنوان بايد مانا لرونکی او له موضوع سره بشپړ مطابقت ولري. د کلمو شمېر يې له (۱۵) څخه زيات نه وي، سايز يې بايد (۱۴) بولډ او د پاڼې په منځ کې وي.
- ✓ د ليکوال پېژندنه دې په دې ډول وي: د ليکوال علمي رتبه، بشپړ نوم، تخلص، پوهنتون، پوهنځی او څانګه. ورپسې دې لاندې ښي اړخ ته په (۱۱) سايز کې برېښناليک راوړل شي.
- ✓ لنډيز دې د (۲۰۰- ۲۵۰) کلمو پورې وي او د لنډيز عنوان دې (۱۲) بولډ وي.
- ✓ کليدي کلمې دې د الفبا په ترتيب له (۵- ۷) پورې راوړل شي.
- ✓ سريزه دې په بسم الله الرحمن الرحيم او د الله تعالی په ثنا او صفت پيل شي ورپسې دې د موضوع وضاحت، ستونزې، موخې، پخوانيو ليکنو ته کتنه، د څېړنې اهميت او تګلاره راوړل شي.
- ✓ د موخو ليکلو لپاره دې (**SMART**) ته پاملرنه وشي، يعنې موخې دې مشخصې، د اندازه ګيرۍ وړ، د لاسرسي وړ، په واقعيت ولاړې او د وخت مطابق وي.
- ✓ د څېړنې اهميت او تګلاره کې دې واضح شي، چې کومې نيمګړتيا دغه څېړنې ته هڅولی يې؟ په کوم سبب زما څېړنه مهمه ده؟ کومو لوستونکو سره به مرسته وکړي او څه مثبت تغير پېښولی شي؟
- ✓ په تګلاره او کارتوکو کې دې خپل د ليکنې روش او تګلاره څرګنده شي او د ميتود ډول دې واضح شي.
- ✓ په اصلي متن کې دې له امانتدارۍ او د ماخذ ليکلو له سمې طريقې استفاده وشي. د قران کريم او نبوي احاديثو په ژباړه کې دې دقت وشي او په خنجري ليندېو ﴿﴾ کې دې ونيول شي. د مقالې د کلمو شمېر

دې (۵۰۰۰ - ۶۰۰۰ ) کلمو پورې وي، لیکنه دې د لیکدود او ګرامر له مخې سمه وکښل شي، د پښتو لهپاره (Bahij Zar) ، د دری لهپاره(Bahij) فونټونه، د عربي لهپاره (Traditional Arabic) او د انګلیسي متن لهپاره دې (Time New Roman) فونټونه وکارول شي .

- ✓ له منځپانګې بشپړولو وروسته دې پایله، مناقشه او نتیجه ګیري راوړل شي. په پایله کې دې هره نتیجه په ځان ته پراګراف کې راوړل شي.
- ✓ وړاندیزونه دې د پایلې، مناقشې او نتیجه ګیرۍ څخه په الهام راوړل شي.
- ✓ د انګلیسي (Abstract) د لیک سایز دې (۱۲) وي، د کلمو شمېر دې یې د (۲۰۰- ۲۵۰) وي. د (Abstract) لاندې دې (Key Words) راوړل شي، چې شمېر یې د (۵- ۷) پورې وي او د (Abstract) سر ته دې په انګلیسي ژبه د لیکوال بشپړ نوم، علمي رتبه، پوهنځی، څانګه، ګرځنده شمېره، برېښنالیک، د تقریظ ورکوونکي بشپړ نوم او د مقالې عنوان ولیکل شي.
- ✓ مأخذونه باید د الفبا په تورو ترتیب، شمېر یې له اتو کم نه وي، د ټولنیزو علومو مأخذونه دې د (APA style) کې او د طبیعي علومو مأخذونه دې د (Vancouver Style) کې راوړل شي.

## ټولنیز علوم


| ګڼه | سرلیکونه | لیکوال | مخګڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د سعدالدین شپون د لیکوالۍ سبک | پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب<br>پوهاند پښتون اقا شیرزاد | ۱ |
| ۲ | په تحلیلي ژورنالیزم کې د مقالې او سرمقالې توپیر | پوهنوال محمدخان نیازی | ۱۷ |
| ۳ | د مجرمینو په تثبیت کې د ګوتو د کرښو اهمیت | پوهندوی عرفان وزیر | ۳۷ |
| ۴ | په اداره کې د عامه اړیکو مدیریت | پوهندوی اسدالله تنی | ۵۵ |
| ۵ | د اسلامي بانکدارۍ په ترویج کې د حنفي فقهې رول | پوهندوی دوکتور مفتي عزت نور | ۷۳ |
| ٦ | په اداري کلتور باندې د تضمین کیفیت اغېزې: د شیخ زاید پوهنتون مطالعه | پوهنمل رحمت الله منګل<br>نوماند پوهنیار خالد شاکر | ۸۹ |
| ۷ | د ملګروملتونو سازمان له خوا د دولتونو په رسمیت پېژندل او پر سیاست یې اغېزه | پوهنمل محمد شاهد | ۱۰۵ |
| ۸ | درک چالش‌ها و بحران‌های انسانی از منظر انسان‌شناسی عرفانی و پاسُخ مولانا | پوهنمل عبدالبصیر حکیمي | ۱۲۱ |
| ۹ | د ګرځندوی صنعت په پرمختګ کې د کلتوري میراثونو ارزښت او ونډه | پوهنمل سیف الله غروال<br>محمداسماعیل محمدیار | ۱۳۹ |
| ۱۰ | د حقوق جزای اسلام ځانګړتیاوې او بنسټیز اصول | پوهنمل فضل الرحمن ایوبي | ۱۵۷ |
| ۱۱ | د فقر عواملو پیژندنه او حل لارې - د خوست ولایت قلندر ولسوالي | پوهنمل ماموالدین منګل | ۱٦۹ |
| ۱۲ | په خوست ولایت کې د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ په وړاندې خنډونه | پوهنمل حفیظ الله مین امین | ۱۸۵ |
| ۱۳ | د چاپېریال ساتنې اغېزې پر انساني حقوقو باندې | پوهنمل محمد ساقي عادل | ۲۰۳ |
| ۱۴ | ماشومانو ته په مورنۍ ژبې د زده کړې اهمیت | پوهنمل میرزاخان نیکزوی | ۲۱۵ |
| ۱۵ | په معاصرو مطبوعاتو کې د فیچر لیکنې ارزښت او اهمیت | پوهنمل اسماعیل عاطف | ۲۲۵ |
| ۱٦ | د طبیعي چاپیریال د رول او ارزښت فلسفي او تحلیلي څېړنه | پوهنیار زینت الله ارمان | ۲۳۷ |
| ۱۷ | په بانکدارۍ کې د سهمونو رول | پوهنیار رباني وحدت | ۲۴۹ |
| ۱۸ | د سازماني تعارض په مدیریت کې د مذاکرې رول | پوهنیار نذیرجان نوري | ۲٦۳ |
| ۱۹ | د عضوي انتقال په اړه د حنفي مذهب د معاصرو فقهي احکامو څېړنه | پوهنیار دلاورشاه متقي | ۲۸۱ |

# د سعدالدین شپون د لیکوالۍ سبک

پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب د شیخ زاید پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي، پښتو څانګې استاد
پوهاند پښتون اقا شیرزاد دکابل ښوونې اوروزنې پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي، پښتو څانګې استاد
ایمیل ادرس: subhanullah.shahab1364@gmail.com

**لنډیز**

استاد سعدالدین شپون د پښتو ادبیاتو د معاصرې ادبي دورې د ویښتیا پړاو غښتلی لیکوال او شاعر دی، چې په داستاني ادبیاتو کې خاص ځای لري او د خپلو ناولونو له امله ورته د داستاني ادبیاتو د پلار لقب ورکړل شوی دی. استاد شپون په دې دوره کې خپل ذوق پاللی او هم یې د خپلې ټولنې ناخوالې د شعر او نثر په بڼه وړاندې کړې دي. د ځانته سبک خاوند د خاص طرز تفکر مخکښه څېره ادیب، شاعر او لیکوال و، ده ځانګړی سبک درلود، چې د ده سبک په دې (معاصره) دوره کې له کلاسیکې دورې سره ښکاره توپیر لري. توپیر یې په دې کې دی، چې د ده په شعر او نثر دواړو کې بربنډ والی او ښکاره توب و، په زړه یې چې څه راغلي هغه یې په ژبه بیان کړي دي. له دې څېړنې څخه هدف دا دی، چې د سعدالدین شپون ادبي سبک په نښه کړو او ستونزه هم همدا ده، چې لا تر اوسه یې د سبک خصوصیات نه دي ځانګړي شوي، په دې څېړنه کې له تشریحي مېتود څخه ګټه اخېستل شوې ده او ډول یې کتابتوني دی. د دې څېړنې په بشپړولو دې نتېجې ته ورسېدو چې د استاد شپون د لیکنې سبک معلوم کړو او دا هم څرګنده شوې ده، چې د اوسنۍ ادبي دورې د لیکوالانو سره د سعدالدین شپون د لیکوالۍ سبک جوت توپیر لري.

کلیدي کلمې: سبک، شپون، لیکوالي، نظم، نثر

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

سعدالدین شپون د یو لیکوال، شاعر، څېړونکي او کره‌کتونکي په نوم شهرت لري، پښتو ادب ته د ده په کړو خدمتونو هېڅوک سترګې نه شي پټولی، هر ادیب (لیکوال، شاعر، ادبپوه او ادب څېړونکی) د خپلو ادبي پنځونو او څېړنو (تخلیقي او تحقیقي) آثارو پر بنسټ د خپلې ژبې په ادبي او فرهنګي تاریخ کې ځانته ځای لري؛ خو دغه ځای او پوړ هغه ته د خپلو آثارو کیفیت ټاکي، نه د آثارو کمیت. دا چې د دې څېړنې موضوع د سعدالدین شپون لیکنی سبک دی؛ نو وایو چې د شپون په نظم او نثر کې احساسات په سمه توګه راوړل شوي دي، هغه یوازینی لیکوال دی چې د خبرو او لیکلو سبک یې مشخص او ځانګړی دی، چې دا د شپون د لیکنو خاصه ځانګړنه او کمال دی. استاد شپون به په کابل او امریکا کې ښه ژوند کړی وي، خو سبک یې د کلونو کلونو پخوانی د کور او کلي د ولسي کیسو او طبیعي انځورونو په څېر دی، کوم بدلون په کې نه وینو. دا هغه لویه لاره ده چې سبک یې په ادبیاتو کې ځانګړی ځای لري.

د استاد شپون ماشومتوب د چارتوت په شولو، میوو، مېږانو او ختکیو کې تېر شوی دی. استاد تر اخره خپل ماشومتوب نه دی هېر کړی. چې د همدې موضوعاتو د ده سبک اغېزمن کړی. حیرانونکې خو دا ده چې په خپلو لیکنو کې یې د کوچنیتوب عادتونه د ژوند تر اخره ساتلي وو.

که د مختلفو لیکوالو سل مخه نثر موجود وي او په دې سل مخه کتاب کې د شپون یو پراګراف نثر هم وي لوستونکی په اسانۍ سره د ده نثر پکې پېژندلی شي، ځکه چې ځانګړی سبک یې درلود او جملې یې په ساده او طنزي ژبه وړاندې کړې دي.

## موخې

۱. د شپون په لیکني سبک کې د ده نظم او نثر لار په ګوته کول دي.

۲. د ده په نظم او نثر پوهېدل دي.

۳. د شپون د ژبې سره بلدتیا پیدا کول دي.

## کړنلاره او کار توکي

د دې څېړنې مېتود تشریحي او توضیحي دی او ډول یې کتابتوني دی، چې لومړی د موضوع د ښې روښانتیا په موخه د سعدالدین شپون د سبک په هکله معلومات وړاندې شوي او بیا د ده سبک د بېلګو په ښودلو سره جوت شوی دی.

## د څېړنې ارزښت

د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی، چې سعدالدین شپون په نظم او نثر کې دواړو کې د نورو لیکوالو سره جوت توپیر لري، چې په دې څېړنه کې د شپون د لیکوالۍ په سبک خبرې شوي دي، په اوسنۍ دوره کې له دې مخکې داسې نظم او نثر نه دی لیکل شوی؛ نو همدې ارزښت ته په کتو دا څېړنه بشپړه شوې ده او دا په ډاګه شوه، چې د ده د سبک ټولې خواوې په هر اړخیزه توګه سپړل شوي دي.

## د سعدالدین شپون ادبي سبک

هر لیکوال چې لیکنه کوي، که هغه نظم دی او که نثر او یا که چېرته څوک خبرې، تګ، خوراک، اغوستل او هر ډول عمل ترسره کوي، نو حتمي ده چې د یوې تګ لارې او مسیر څښتن به وي، کېدای شي چې یو څوک په قراره وغږېږي او په مقابل کې یې بل شخص په لوړ غږ خبرې کوي، دغه ټول کړه وړه د سبک پورې اړه لري.

شپون په خپل سبک کې د کلمو د ښکلا پرځای د کلمو دقت ته ډېره پاملرنه کوي، تشبیهات او کنایي چې مجازي معنا لري، خو د دې اصطلاحاتو پر ځای مستقیمه ژبه او کلمې کاروي، ژبه یې ډېره انځوریزه، خوږه او رنګینه ده، چې همدغه انځوورنه د تشبیهاتو، مجاز او کنایې پر مټ وړاندې کوي. لکه په لاندې متن کې ګورو:

«مازیګر لمر د شولو نه په راولاړ شوي براس کې زیرچکی په غړغړو و، چې په خوبجن کلي کې هاهو جوړه شوه. نهه تنه، په آسونو سپاره زموږ د کور مخې ته ولاړ وو. وربوزونه یې په پګړی تړلي وو او د چپنو لاندې یې د کارتوسو ګردنۍ ښکارېدې. د چپنو لاندې، کیڼ اړخ ته پړسوپ بېشکه چې تمانچې وې. مست آسونه، ځګونه او رواني خولې یې د لرې سفر ځغاستې او ستړیا بېلګې وې. ابا مې جومات کې و او زه لګیاوم، غواوې مې چې د پادې نه بېلې کړې وې، تړلې» (شپون، ۱۳۸۵ل، ص. ٦٢).

متل د ده په ژبه کې یوه ځانګړنه ده، چې موږ یې هم په ورځنۍ ژبه کې کاروو او دی یې هم په خپلو خبرو کې د اثبات لپاره راوړي، داسې متلونه راوړي چې په پښتني ټولنه کې منځ ته راغلي وي، په هر متل کې یې یو خاص مطلب ته اشاره کړې ده، چې دا ځانګړنه د ده (خړتومي چرګ ورځ) په ادبي طنز کې لېدلی شو:

« دا ځلې د پیلمرغ ورځ د نوامبر په څلروېشتمه، پنجشنبه راځي او د تېرو کالونو په شان ماشومان بېغمه چکرونه وهي، چې د ماسپښین په دوو بجو هجوم راوړي؛ یو نیم چې لا هم پښتو عادتونه ورکې پاتې وي، په زړهٔ سوي پخلنځي ته راځي او وايي: ابا! هر کال یوه ورځ څه فرق کوي، چې پښتو متل بدل کړو، ووایو چې بچیانو! تاسې خپلې مېلې کوئ، د غم لایق ابا دی» (شپون، ۱۳۹۹ل، ص. ۱۳۷).

استاد په ځومره مهارت سره د خړتومي چرک ورځ په نوم طنز کې کارولی دی، ښکلې کلمې او د کلمو ترځنګ يې د پښتو متل کارول دی، چې دا مهارت نورو لیکوالو ته یو څه ستونزمن دی. (شپون، ۱۳۹۹ل، ص. ۱۳۸).

یوه ځانګړنه چې ما ته ډېره په زړهٔ پورې ده، هغه د ده حسي انځورونه دي، دی داسې انځورونه په خپلو کیسو کې راوړي، چې زیات يې د لېدلو حس پورې اړه لري، کله چې دغه انځور راوړي؛ نو سړی فکر کوي، چې شاوخوا کې يې موجود دي، داسې انځورونه وړاندې کوي که هغه خیالي هم وي، خو د لوستونکي نظر ته طبیعي معلومېږي یعنې لوستونکي بې له کومه فکره پرې یقیني کېږي. چې دغه ځانګړنه د شپون (د بنګي غاړه) په اثر کې د شمشه دین او دورانۍ په کیسه کې لېدل کېږي.

« د شمشه دین ښځه، دورانۍ، بله آشا وه، یره، دنګه، غنم رنګې، کږ وروځېو پلن پېزوان يې په نرۍ پوزه وهلی او شمشه دین سره به يې یوځای د مازیګري د چرسو چیلم څکه. د دورانۍ سترګو، په تېره چې به يې چرس وڅکل، خوړل کول او یوه وړه چوکچوکه يې په کلي کې پیدا کړې وه. مېړه او اورتې زموږ په باغ کې کوډله وهلې وه او کله به چې دورانۍ د سابو دپاره د باغ نه بهر ووتله، نو د د هقانانو سترګو به ورته لار کوله. د شمشه دین اولاد نه و، نوره ګناه يې نه وه، خو لږ تیت قدی او چوغ مخی و. زه هغه وخت په دومره پتنو (فتنو) او پسانو ( فسادونو) نه پوهېدم، خو دورانۍ مې څو ځلې ولېده، چې شمشه دین به بازار ته مېوه وړې وه او دا به د لر او بر دهقانانو سره چې د اوبو د نوبت او بندونو دځارلو پسې د نهر په غاړه تلل راتلل ولاړه وه. کله به لا په خبرو خبرو کې چې دې به په کوز پټي کې سابه کول او دهقان به د پولې په سر ورسره روان و... . » (شپون، ۱۳۸۵ل، ص. ۱۰۲).

په پورته بېلګه کې ګورو چې استاد شپون په ځومره مهارت او انځوریزه ژبه د شمشه دین او دورانۍ کیسه وړاندې کړې ده. ته به فکر کوې چې دا خپله په دې کیسه کې موجود و او دا کیسه د ده له سترګو په مخکې تېره شوې ده.

د شپون د سبک يوه بله ځانګړنه د شوخو فعلونو کارول دي. چې دا يې په خپله ليکنه کې کاروي. چې له يوې معنا سر سره د معنا دقت او رنګارنګي هم لري. استاد شپون چې کله د شوخۍ فکر په خپله ليکنه کې کړی دی، نو شوخ فعلونه يې کارولي دي. لکه : ځه، دانګه، ترپ وهه، منډه کړه، ګېر لګوه، والوزه، ورک شه، پښې اوباسه ‹‹ خلکو پاينده خان راګېر کړ چې دا نوی خېښ غلی کړه، موږدرګرده رټي›› (شپون، ۱۳۸۵ل، ص. ۷۹).

په بل ځای کې داسې ليکي: ‹‹او موږ هلکان يې راپنډ کړو››، ‹‹ميرزا ستار د درواغو ګوډی و›› (شپون، ۱۳۸۵ل، ص. ۹۳).

اصطلاحات د ده يوه بله ځانګړنه ده، چې په خپلو ليکنو کې يې کاروي، دغه اصطلاحات دی په داسې ډول راوړي، چې سړی ورته کله کله ځير شي؛ نو فکر کوي، چې ډېر دقت يې پرې کړی دی، څرنګه چې دی د کلمو په کارونه کې ډېر دقت کوي، دغسې د اصطلاحاتو په راوړنه کې هم له ډېر دقت څخه کار اخلي. ټول اصطلاحات يې منطقي او په پښتني ولسي ادب پورې تړاو لري، کله ساده او کله مرکب اصطلاحات هم کاروي، چې دا ټولې د متن په ښکلا او د دلايلو په پياوړتيا کې مرسته کوي. چې دا کړنه د استاد شپون په (يوشپون) اثر کې چې ادبي طنزونه دي د کور کلي ژبه په ادبي طنز کې کتلی شو:

‹‹ ابا مې يوه ورځ پس د سهار د چايو د دړېواړو په مخکې زما مور ته ويل: جلۍ! چا راسره د بډه اوبښ وعده کړې، چې بله هفته به يې راوړي، د خوګيانو په لهجه چې يواځې مور مې پرې پوهېده، بډه اوبښ ځنګلي دانې يا سابه دي، چې په پاړسي يې کورې ( که وه رې) او په انګريزي (Capers) بولي، دويمې ميرې مې د ښځګلو د عادي حرص له مخې وار ړومبی کړ: ښه شوه؛ ځکه چې زما بالښتونه هم ټول تش دي، بډګال غواړي چې ډک يې کړم (بډګال د ختيو سره ګډوي او هم غريبان چې د مالوچو توان نه لري؛ بالښتونه ترې ډکوي؛ نو پلار او مور مې دواړو مرموز وخندل، چې دويمه ښځه د بډګال او بډه اوبښ فرق نه شي کولی)؛ بس نوپه کور کې عجيبه پښتو وه، چې نر ښځه کړي او ښځه نر›› (شپون، ۱۳۹۹ل، ص. ۴).

که د استاد پورته ليک ته نظر وکړو، نو مختلفې لهجې او اصطلاحات يې په خپله ليکنه کې راوړي دي. چې دا د استاد لوړ علميت په ګوته کوي. يوازې يوه ژبه يې نه ده کارولې بلکې پښتو، فارسي او انګليسي څخه يې هم ګټه پورته کړې ده. لکه د بډه اوبښ کلمه چې هم يې په پښتو او هم يې په فارسي او همدارنګه يې په انګليسي هم ليکلې ده.

بله ځانګړنه يې د جملو لنډوالی دي، جملې يې ډېرې ښې او خوندورې دي، نه ډېرې اوږدې او نه هم ډېرې لنډې دي، کله نا کله په جمله کې فعل غورځوي، خو دغه فعل که څه هم په جمله کې نه وي، خو بیا هم سړی مطلب او مفهوم په بشپړه توګه اخلي، ځينې وخت داسې جملې هم راوړي چې ډېرې لنډې خو مطلب يې بشپړ وي، چې دا ځانګړنه د ده په (ښايستو) ناول کې تر سترګو کېږي.

((مینه پیشو ده پل يې غږ نه لري، یا لکه واوره غلیاجنه راځي، شپې راځي، کرار خوبونه وهي او چې سهار پاځي سړېچن غوندې وي،سردي لاخلاص نه وي چې له کړکۍ بهر ته ځير شي، نو ترور شي چې دې سپینو مالوچو را ایسار کړی يې چې هر څو پرېږ پټو په ځان راټينګوي لکه رباب ریږدي)) (ازمون، ۱۳۹۸ل، ص. ۵۷۷).

بدله د استاد شپون په سبک کې بله ځانګړنه ده، چې ځای ځای يې د خبرې د اثبات لپاره استعمالوي او خپله خبره پرې پخوي، بدله په پښتني ادب کې زیات مهم رول لري. د بدلې په اوریدو سره موږ ته تېر تاریخي واقعیت په ګوته کېږي. نو استاد شپون هم په خپله لیکنه کې له داسې فورمونو څخه کار اخلي د ادبي طنزونو په نوم کتاب کې يې د (برماڼو) په نوم کیسه کې دا رنګه یادونه کړې ده: ((په ما کې چې کومه د پلار د اړامۍ تومنه پرته وه، د سالم جان او برماڼو له فارغ تحصیلۍ سره چې زه يې یواځې کابل کې پرېښودم؛ بهر ته راووتله، د پوهنتون درس پاتې و، درسته ورځ به مې د ادبیاتو د پوهنځي د یوه محصله انګرېزي ویله او یا مې شعرونه او داستانونه لوستل، استادان را باندې په غوسه وو؛ خو ما بېغمه خپلې وشتې کولې، پوهېدم چې په پوهنتون کې وهل ډبول نشته؛ نو ایله به مې د صنف نه وباسي او ما هم همدا غوښتل، چې بیا مې ابا ته بهانه برابره شي او د یارانو په شان ادبیاتو ته لاړ شم، په ربښتیا چې ټول پوهنځی هسې ملنډې وې، چې به د مړو تحویلدار د اناټومي په ورځ سکلېټ راوړو؛ ما به له خندا نه خوله نه شوه ټولولی، سلامت مړی؛ خو بې غوښې، بې پلې، په سر يې يو کنجک مېخ ټک وهلی و، تحویلدار زوی مړی چې بې هغې هم سخوټ، لویشتوکی و؛ سکلېټ به يې له کنجک نه نیولی، د ځان پسې صنف ته راځکاوه، د هډوکو شرنګا به يې چې په دهلېز کې واورېدل شوه؛ د صنفونو نه به شاګردانو سرونه ایستل او زما په مشرۍ یې په ګډه بدله ور پسې ویله چې :

شرنــګـــه د پـــایـزیـــب دې عـــالـمـــونــه خــبرویــنــه
مـــارشـــــال! ورو ورو کـــېـرده قـــدمـــونــه، مـــارشــــال

ویل به یې چې هغه دی مارشال صیب يې راوړو، د دوی مطلب د باچا تره مارشال شاولي خان و، چې کابلیانو د مارشال چملک، مارشال ناشکن، مارشال پلاستیک او داسې نورو نومونه ورکړي وو.

که پورته ليکنې ته نظر وکړو؛ نو استاد شپون خپله ليکنه په دا رنګه الفاظو کوله چې په دې سره لوستونکی نه بې ذوقه کېږي، بلکې نور يې هم د لوستلو سره مينه پيدا کېږي. (شپون، ۱۳۹۹ل، ص. ۱٦).

څېړنوال محمد اصف احمدزی په خپل اثر: (طنز په پښتو ادب کې) د استاد سعدالدين شپون د طنز په باره کې داسې ليکي: (( سعدالدين شپون هغه ليکوال دی، چې په اثارو کې يې د طنز مالګه موجوده ده. د هغه شين ټاغی ناول طنز دی يا دا چې طنزي برخې لري. د هغه د نثر يو کمال د هغه طنزي انداز دی او هغه هم طبيعي انداز. استاد د خپل طنز په برکت موږ د پېښو، موضوعاتو او د ژوند ژورو ته ورکاږي، له طنز څخه يې يواځې دا مطلب نه دی، چې موږ وخندوي. عبدالغفور لېوال د استاد په نثر کې همدې ښکلا ته ځير شوی او په دې باور دی، چې د استاد طنز طبيعي خوند او رنګ لری. دی وايي: ښاغلی شپون د خپلو کيسو او ناولونو په سر برخه کې يو ډېر طبيعي طنز کاروي، چې موږ خندوي، خو که پسې ورګرځو، داسې څه په کې نه شو پيدا کولی چې هغه مصنوعي او تپل شوی طنز وبولو)) (احمدزی، ۱۳۹۷ل، ص. ۴۲۵).

استاد اسدالله غضنفر په خپل اثر کې چې (د نثر ليکلو هنر) په نوم يادېږي. د استاد سعدالدين شپون د اتوبيوګرافي سبکي خصوصيات تر عنوان لاندې ليکنه کړې ده او د استاد شپون له خولې ليکلي دي: (( د امريکا راډيو په پښتو څانګه کې به يې تل په دې جنجال و، چې د پښتو ښکلا او قوت خو په همدې کې دی چې لا تر اوسه د هغې د ليکلو او ويلو ژبه دومره فرق سره نه لري.)) دی هم دې مقصد ته د رسېدو لپاره دغه لاندې کارونه کوي:

۱. هغه لغت غوره ګڼي، چې د افغانستان عام پښتانه يې استعمالوي. هغه لغت ممکن پښتو وي او يا د بلې ژبې، خو چې عوام يې وايي د استاد خوښ دی.

۲. عاميانه اصطلاحاتو او محاورو ته ډېر پام کوي.

۳. کله نا کله د عادي خبرو په پيروي د جملې فعل حذفوي مثلاً د کتاب په لسم مخ کې لولو: ((صندلی ته خوګيانيوالو چرګی ويله، بس مينځ کې نغری، پکې غتې سکروټې، په خوړلن پټې. هغه وخت لا د وسپنې منقل نه و، بس د کوټې په مينځ کې نغری، درې خوا يې نيالچې. پر سر يې د ابا، د دېوال خوا د لالا، د کړکی يا وره خوا د مور او خويندو.))

دلته د (و)، ( وې) او (وه) فعلونو څو ځايه حذف شوي دي.

۱. دغه راز د عادي خبرو په پیروي یو نیم ځای د جملې د اجزاوو ځای بدلوي. مثال: ((په رښتیا چې هماغه کله منار و، چې ما یې په داستانونو کې نوم اورېدلی و، د هډوکو کوپړی، دسترګو ژورغالي خالي، ژامې جینګې.))، دلته د صفت او موصوف ځایونه سره بدل شوي دي.

۲. استاد د خلکو خبرو ته د دقت کولو په برکت ډېر ځله د نورو اقوال هوبه هو را اخلي او په دې ډول خپل نثر لا ډېر، خبرو ته نژدې کوي.

۳. موږ په رسمي رواجي نثر کې مقدمو ته اهمیت ورکوو او چې له یوې خبرې بلې ته ځو په دې منځ کې یو څه ویل ضروري ګڼو. استاد د عادي خبرو غوندې ډېر ځله له یوې خبرې بلې ته نا څاپي ځي، چې دا کار هم د لیکنې د بې ځایه اوږدوالي مخه نیسي او هم لوستونکی د ناڅاپي توب له ښکلا سره مخامخ کوي)) (غضنفر، ۱۳۸۸ل، ص. ۲۵۲).

په همدې ترتیب اجمل ښکلي په خپل اثر (سبکپوهنه ) کې. د استاد شپون سبک تر عنوان لاندې وایي: ((شپون به په کابل او امریکاکې ښه ژوند کړی وي؛ خو سبک یې د پنځوس کلن پخواني خان‌آباد د چارتوت کلي ولسي کیسو او طبیعي انځورونو ته وقف دی. دا هغه لویه لاره ده، چې موږ د استاد سبک تر کلي رسولای شي.))

اروا‌پوهان وایي چې ماشومان له رنګونو او خارق العاده ( لکه د پیریانو، دېوانو، اتلانو او نورو عجیبه) پېښو سره مینه لري هر ماشوم له یوه تخیلي پړاوه تېرېږي، یوه خیالي نړۍ لري، چې تفکر یې درک کولای نه شي؛ خو د استاد شپون حافظه هم د ستاینې ده، چې د ماشومتوب رنګونه یې ساتلي دي او هماغسې سلامت یې درته وړاندې کوي. استاد په خپلو کیسو کې د چارتوت هرې پېښې ته د خپل ورک ماشومتوب له زاویې کتلي دي او د هرې پېښې په اړه یې ماشومانه قضاوت کړی دی. لویانو ته یوه پېښه یو رنګ ښکاري او کوچنیانو ته بل رنګ، لویان په پېښو کې ګټه او تاوان ته ځیر وي او کوچنیان ترې خوند اخلي، لویان له پیالې سره احتیاط کوي، چې ماته نه شي؛ خو ماشوم یې د ماتولو څخه خوند اخلي. په هر سړي ماشومتوب تېر شوی دی؛ نو ولې به دا کیسې خوند نه ورکوي. د مرزانو نیول، د شولو للون، د انګورو په مېلو پسې د ونې سرته خاته، کېدای شي، هغه کسان چې د ژمن او اخلاقي ادب پلویان دي خوند ورنه کړي؛ خو د نړۍ شهکارونه له همدا ډول انځورونو ډک دي. بیا د استاد شپون کیسې هسې خبرې نه دي؛ بلکې سړي ته د تېر وخت د خواریو مزدوریو روڼ انځور په لاس ورکوي او په دې توګه تاریخي ارزښت راخپلوي.

علم د معلوماتو د ښو او بدو ډګر دی او هنر د خوند و کیف که یو شعر خوند درکړي، نو پوه شه چې شعر خپل مسؤولیت تر سره کړ. د استاد شپون کیسې له همداسې خوندونو ډکې دي. طنز تریخ وي او اخلاقي پیغام لري، په خندا خندا کې لوستونکي ژړوي؛ شوخي د ماشومانو خاصه ده؛ ځکه چې ماشوم درسره هغه بریدونه او پولې نه مني، چې ته یې د ارزښتونو په نامه پېژنې، بلکې بغاوت ترې کوي؛ ځکه خو ماشوم فطرت ته نږدې باله شي.

د استاد شپون په ټولو کیسو کې دا شوخي خپره ده. شوخي له خونده پیدا کېږي او استاد په هره پېښه کې دغه خوند لټولی دی. د استاد شپون ټول سبک په ماشومانه شوخیو او له دغه شوخیو څخه زېږېدلی او په ماشومانه بغاوت لړلی دی. د استاد بغاوت هم د لویانو په څېر تریخ نه دی، بلکې د ماشومانو غوندې نازک دی. استاد له ټولنیزو ارزښتونو بیخي بېزاره هم نه دی او د ځینو لیکوالو غوندې له ارزښتونو په بغاوت کې هنر نهویني؛ خو په ځینو ارزښتونو نرۍ غوندې خندا کوي.)) (ښکلی، ۱۳۹۰ل، ص. ۱۲۸- ۱۳۳).

شپون پېچلې ژبه نه ده کارولې، که په کوم ځای کې یې ځینې سوچه پښتو لغتونه کارولي دي، هغو ته یې هم هنریت ورکړی دی. په لیکوالۍ کې یې ځانکړې لاره درلوده. د استاد شپون شعر روان و او لیکوالي یې په حقیقي ستنو ولاړه وه. ده په نظم، نثر، او طنز کې واقعیتونه پییلي دي او ټول ژوند یې پر واقعیتونو باندې ولاړ وو. د ده ژبه روانه وه، هر څه یې د ولس لپاره لیکل، دا ځکه چې له ولس سره پاتې شوی. د استاد شپون لیکوالي، شاعري او سبک د اوسنۍ زمانې او په ځانګړې توګه د ده د ژوند د زمانې لیکوالي او سبک دی.

کله چې یو څوک د استاد شپون نثر لولي؛ نو داسې فکر کوي، چې د ژمي لمر ته ناست دی او پیتاوی کوي او استاد ورته کیسې کوي. د استاد شپون په کیسو کې رواني تسلسل لیدل کېږي. استاد شپون لوستونکی له ځان سره ساتي او د کیسې غوټه په اخر کې ورته خلاصوي؛ دا تسلسل د ناول په لیکلو کې ډېر مهم دی؛ لکه د (ګټیالي) په ناول کې چې دی دګلاجان یادونه کوي، په همدې ډول د سمڅې په یاران ناول کې نوموړی د ډاکټر محب حال او احوال اخلي، چې نېغ دې په خپل کلي او کور ګرځوي او مستقیماً دې خپل ماشوماتوب ته بیایي.

د ده په سبک کې بله لویه ځانګړنه شوخي ده، که څه هم له شوخۍ سره د طنز خبره جوړه ده، خو طنز او شوخي سره ډېر توپیر لري، ځکه طنز تریخ وي او اخلاقي پیغام لري په خندا خندا کې دې ژړوي، خو شوخي بیا د ماشومانو ځانګړنه ده، همدا لامل دی چې استاد شپون په خپلو دغه ډول ځانګړنو له ولس سره نږدې پاتې شوی دی.

د استاد شپون سبک د ده شوخو کردارونو او نورو طنزیه کلمو هم ښکلی کړی دی؛ لکه: دانګه، ترپ وهه، ګېر لګوه، ورک شه، پښې وباسه، زه د کونګ ورور یم، په هغه وخت کې لوی سنډا وم او داسې نور.

استاد شپون ته د افغانستان قلم ټولنې درې ځلې ستاینغونډې جوړې کړې وې. په وروستۍ ادبي غونډه کې چې د استاد شپون د درناوي په افتخار جوړه شوې وه، استاد ته یې د نثر د پاچا لقب هم ورکړ. که له دې را تېر شو؛ نو استاد شپون له طنز نه ډک لیکوال و.

استاد شپون پر دې سربېره چې کومې کیسې او ناولونه لیکلي، هغه په نړیوالو اصولو او نورمونو برابر لیکل شوي دي. دا کار دا را ښیي، چې استاد شپون د ادبي ژانرونو له نړیوالو اصولو سره نه یوازې بلد و، بلکې په خپلو اثارو کې یې په شعوري ډول دې ټکي ته پام کړی دی. چې دې کار د هغه د ادبي اثارو ارزښت څو چنده زیات کړی دی. په همدې ډول د استاد شپون د لیکوالۍ په سبک باندې خورا ډېر کار کېدلای شي، دا ځکه چې استاد شپون د یو منلي سبک خاوند، شاعر، لیکوال او څېړونکی دی. په نظم او نثر کې یې خپله جلا لاره درلوده.

**د استاد شپون د نثر ځانګړنې**

سعدالدین شپون د پښتو نثر ډېر ساده، روان او سلیس کړ؛ خو په عین ساده ګۍ کې تصویري بڼه لري، داسې تصویري بڼه، چې یو څه زموږ سترګو ته دروي او خوند ترې اخلو. دا هغه ځانګړنه ده، چې د داستان لپاره ډېر مناسب ګڼل کېږي. اسدالله غضنفر د ده په نثر کې د همدغه خصوصیت یادونه کوي او وایي: (( چې د استاد شپون نثر تر نورو اکثره نثر لیکونکو او د نثر تر استادانو ډېر تصویري او انځوریز دی: (د ده د نثر یو مهم خصوصیت دا دی، چې تصویري دی، د ده په نثر کې اکثره وخت یو څه وینو او یو څه احساسولی شو (بدر، ۲۰۱۰م، ص. ۲۱۰).

صدیق الله بدر د عضنفر خبره راخېستې ده، هغه لیکي: (( د استاد شپون د نثر په باره کې، چې غږېږو نو تر هرڅه لومړی باید دا خبره وکړو، چې دی د خاص سبک خاوند دی. له دې خبرې څخه منظور دا دی، چې د نورو نثرونو په منځ کې د ده نثر له ورایه پېژندل کېږي، خو لوستونکي په دې پوهېږي چې دا د شپون لیکنه ده)) (بدر، ۲۰۱۰م، ص. ۳۵).

غضنفر د شپون سبک ځانګړی ګڼي او د ځانګړتیا په اړه یې وایي: (( د دغه سبک او د دغه طرز یوه مهمه ځانګړنه دا ده، چې استاد په غیر رسمي نثر او په غیر سرکاري ژبه، په ژوندۍ او د خلکو په ژبه غږېږي او اسانه

لغتونه انتخابوي. لوستونکی نه مجبوروي، چې قاموسونه ورپسې وګوري، د جملو طرز یې کټ مټ داسې دی، لکه څنګه چې په ورځني ژوند کې خلک خبرې کوي.))

د غضنفر په وینا دا سبک ځکه ډېر مهم دی، چې هر لوستونکی یې خپل ګڼي او د پردیتوب احساس نه کوي او د ده د سبک د بري راز په دې کې دی، چې د ولس په ژبه نوې خبرې کوي: (( په افغانستان کې ډېرو لیکوالو ډېرې لیکنې کړې دي؛ خو لوستونکو د دوی خبرې خپلې نه دي ګڼلې. دا په دې معنا نه ده، چې دوی نوې خبرې نه دي کړې؛ بلکې د دوی ستونزه دا وه، چې دوی نوې خبرې په پردي انداز کې کړې دي؛ مګر استاد خپلو خلکو ته نوې خبرې په خپله ژبه کړې دي؛ نو ځکه یې ژبه مقبولیت لري)) ((بدر، ۲۰۱۰م، ص. ۳۵).

استاد پسرلی د استاد شپون د نثر ټولې ځانګړنې په یوه جمله کې رانغاړي او وايي: (( نثر یې روان او خوږ دی، تکلف پکې نشته، جملې یې انتخاب شوي دي، یو نیم طنز هم لري، چې هغه یې هم لیکنو ته مالګه ورکوي)) (عمرخېل، ۱۴۰۱ل، ص. ۲۹).

استاد شپون هغه موضوعات خپلو کیسو او ناولونو ته غوره کړي دي، چې د ملي، سیاسي او کلتوري ارزښتونو څخه برخمن دي. موضوعات یې په عمومي توګه د افغانستان د څلویښتو یا پنځوسو کلونو د سیاسي حالاتو، اجتماعي او کلتوري پدیدو په تحلیل او تفسیر کې دي. ډېر تمرکز یې د افغانانو په روحیاتو، د دوی په فرهنګي ارزښتونو او د دوی په سیاسي، اجتماعي او ملي مسائلو باندې دی.

تکړه کیسه لیکوال د موضوع تر ټاکنې وروسته د کیسې یو بل اساسي انتخاب هم په نظر کې نیسي، چې هغه لیدلوری دی. ګڼ شمېر کیسه لیکونکي، ادبپوهان او کره کتونکي د یوې کامیابې کیسې لپاره د متکلم لیدلوری غوره ګڼي. د غضنفر په وینا کله چې د استاد شپون په داستاني اثارو غږېږو، دغې موضوع ته ښه ځیر کېږو، غضنفر وايي: (( زما لپاره د استاد په داستاني اثارو کې یو ډېر جالب ټکی، چې زما په خیال ځوان کیسه لیکونکي باید ورسره بلد شي، هغه د لیدلوري انتخاب دی. دی معمولاً د متکلم لیدلوری انتخابوي)) (عمرخېل، ۱۴۰۱ل، ص. ۳۰).

کرکټر کښنه، د استاد شپون د کیسه لیکنې یوه بله ځانګړنه ده. استاد په خپله لیکنه کې کرکټرونه داسې انځوروي، چې د واقعي شخصیتونو ګمان پرې کېږي او سړی داسې فکر کوي چې په ټولو پېښو کې ورسره شریک دی، صدیق الله بدر د عبدالغفور لېوال له قوله لیکي: ((کرکټرونه یې طبیعي دي، یعنې واقعي شخصیتونو ته ډېر ورته

دي. د هغه د داستانونو کرکټرونه هم مثبتې ځانګړنې لري او هم منفي، کټ مټ لکه د ټولنې له منځه، د انتخاب شویو شخصیتونو په څېر دي)) (بدر، ۲۰۱۰م، ص. ۴۱).

( و، نه و، یو شپون و ) د ده ادبي ژوند لیک دی، چې له خپل دې ژوند لیک نه یې یو ناول جوړ کړی دی. د پېښو تسلسل، په هنرمندانه او شوخ انداز کې د عیني ژوند د واقعیتونو بیانول، په زړورتیا سره د خپل ژوند، کورنۍ، دوستانو، رسمي او غیر رسمي دندو په باب خبرې کول؛ دا ټولې هغه ځانګړنې دي چې د نړۍ د لویو لیکوالو په لاس د شخصي خاطراتو د لیکلو په لړ کې یې د شپون بیوګرافي یو بیساری مثال کېدای شي.

کله کله لوستونکی داسې فکر کوي چې ( و، نه و، یو شپون و ) یو ناول دی، ځکه چې د جملاتو او پراګرفونو سکښت یې عادي دی؛ خو کله کله بیا هنري بڼه غوره کوي او په دې ترڅ کې قهرمان، یو کلیوال زلمی د ښاري ژوند او تمدن پر لور سفر کوي، د نورو ملکونو په خوا مخه کوي، د پېښو په لړ کې کله ډوبیدو ته نږدې شي؛ خو بیا ځان د اوبو سر ته راجیګ کړي، کله له طوفاني حالاتو سره مخ شي؛ خو په ځانګړې لامبو سره بیا هم ځان خلاصوي. (عمرخېل، ۱۴۰۱ل، ص. ۳۰).

**پایله**

په دې څېړنه کې دې پایلې ته ورسېدو، چې د سعدالدین شپون د آثارو له مطالعې څخه موږ ته معلومه شوه، چې د ده سبک د دې دور د نورو لیکوالو جلا دی، دا هم را معلومه شوه چې سبک یې ساده، سلیس او د ولس په ژبه دی، کومه پېچېده‌ګي نه لري د زړه او خولې وینا یې یوه ده، په دې هم وپوهېدو چې نثر یې بربنډ او څرګند دی.

کله یې چې څوک کیسې لولي؛ نو په کیسو کې درته ماشوم سعدالدین ښکارېږي. استاد په خپلو کیسو کې هغه پېښې را اخیستې دي، چې ده ته یې په ماشومتوب کې خوند ورکړی دی یا ورته حیرانونکې ښکاره شوې دي؛ خو د ده حافظه هم د ستاینې ده، چې د ماشومتوب رنګونه یې ساتلي او کټ مټ یې په سم شکل وړاندې کړي دي.

د استاد په کیسو کې د نورو لیکوالو په څېر پېچلي مسائل او خبرې نه وینو. د دې پروا یې هم نه ده ساتلې، چې زما کیسې د ټولنې په ګټه دي او که نه؛ خو لکه د ماشوم په څېر چې کومې پېښې خوند ورکړی، هغه یې په خوندورو الفاظو لیکلې ده او ټولنې ته یې وړاندې کوي.

استاد سعدالدين شپون د ژبې په ټولو قواعدو پوهېده، خو د ده د ويلو او ليکلو ژبه د يو اصلي بنياد په توګه ده او د ويلو ژبه يې له اصلي محتوا سره برابره وه. دا چې ده ګړنۍ ژبه له ليکنۍ ژبې سره عياره کړې ده، دا يو مهارت دی چې زه يې د اوس زمانې په نورو ليکوالو کې نه وينم. د استاد يوه بله لويه ځانګړنه دا ده، چې ده به کله يو چا ته خبرې کولې؛ نو دا خبره به يې داسې سره راټوله کړه چې موضوع ته به يې هنري مالګه ورکړه لکه لنډه کيسه چې کوي، د خبرو غوټه به يې اخره کې خلاصه کړه. معنا دا چې ته به يې په خپلو خبرو کې له ځان سره واخېستې، چې خبرې به يې درته شروع کړې؛ نو په اخر کې به يې په خبرو پوه کړې او د خبرو غوټه به يې خلاصه کړه او په خبره به پوه شوې.

**وړانديزونه**

۱. د استاد سعدالدين شپون په اثارو کې بېلابېل موضوعات راغلي، چې زيات کار ته اړتيا لري، څېړونکو ته مې وړانديز دا دی، چې په اړه يې خپلې څېړنې وکړي.

۲. د پښتو څانګې استادان دې د استاد شپون د هر اړخېزې پېژندنې په اړه محصلانو ته د مونوګرافونو موضوعات ورکړي.

۳. دا چې د استاد شپون زيات آثار ناچاپ پاتې دي، علومو اکاډمي  ته وړانديز کوم، چې د چاپ په ګاڼه يې سمبال کړي؛ نو پښتو ادب ته به يې لوی خدمت کړی وي.

# The Writing Style of Saaduddin Shpoon

Associate Professor Dr. Subhanullah Shahab, faculty member, Department of Pashto, Faculty of Languages and Literature, Shaikh Zayed University.

Professor Pashtoon Aqa Shirzad, faculty member of Pashto Department, Faculty of Languages and Literature, Education University, kabul
**Email:** subhanullah.shahab1364@gmail.com

**Abstract**
Ustad Saaduddin Shpoon is a prominent writer and poet of the modern period of Pashto literature, particularly associated with the literary awakening. He occupies a distinguished position in narrative literature and is often referred to as the father of Pashto narrative literature due to his novels. During this period, Shpoon developed his literary talent while portraying the social problems and sufferings of his society in both poetry and prose. As an intellectual figure with a distinctive style and unique mode of thought, his writing differs markedly from the classical tradition. This difference is especially evident in the frankness and explicitness of his language, as he openly and directly expressed his thoughts in both genres. The aim of this article is to identify and analyze the literary style of Saaduddin Shpoon. The study addresses the gap in scholarship regarding the clear definition of his stylistic characteristics. This study employs a descriptive method and is based on library research. It demonstrates that Shpoon's writing style possesses distinct features that clearly differentiate it from the styles of other writers of the contemporary literary period.

**Keywords:** style, Shpoon, writing, poetry and prose

**مأخذونه**

احمدزی، محمد اصف. (۱۳۹۷ل). طنز په پښتو ادب کې. کابل: د افغانستان علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست. شمشاد هاشمي مطبعه.

ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹۸ل). په شګو کې سره زر. د استاد شپون داستاني کلیات. جلال اباد: ختیځ خپرندویه ټولنه.

بدر، صدیق الله. (۲۰۱۰م). د لونګو دریځې(ادبي بحثونه). کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

شپون، سعدالدین. (۱۳۸۵ل). د بنګي غاړه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

شپون، سعدالدین. (۱۳۹۹ل). یو شپون و (ادبي طنزونه). ټولونه، سریزه او زیار: محمد اسحاق مومند. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

ښکلی، اجمل. (۱۳۹۰ل). سبکپوهنه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

عمرخېل، حمیدالله. (۱۴۰۱ل). د پښتو نثر محتوایي او شکلي څېړنه. کابل: ناچاپ.

غضنفر، اسدالله. (۱۳۸۹ل). د نثر لیکلو هنر. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

# په تحلیلي ژورنالیزم کې د مقالې او سرمقالې توپیر

پوهنوال محمد خان نیازی، شیخ زاید پوهنتون، د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځی د عامه اړیکو څانګه
**برېښنا لیک:** belalahmad2020@gmail.com

**لنډیز**

مقالې او سرمقالې د تحلیلي ژورنالیزم مهمه برخه ده چې د علمي ټولنې ذهني خوراک ګڼل کېږي، د لومړي ځل لپاره په ۱۷۴۰ م کال په سویډن کې د یو مشهور شاعر *زابن* د ترانو د تحلیل لپاره؛ دویم ځل په ۱۹۵۲م کال کې د انګلیسي ژبې پېژنپوه *زلیک هریس* له خوا وکارول شوه) . د مقالې له لیکلو څخه موخه په مختلفو برخو کې د مقالې او سرمقالې تر منځ د توپیرونو واضح کول، د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست غوښتنې او ضرورت پوره کول دي؛ د مقالې ارزښت دادی، چې د مقالې او سرمقالې د لیکوالانو له خوا تعریفونه شوي، د لیکلو چوکاټ یې ښودلی شوی، پر تو پیرو نو یې چا داسې بحث نه دی کړی چې د مسلکي، په ځانګړې ډول د نویو ځوانو لیکوالو تنده خړوبه کړي، چې همدا، د اطلاعاتواو فرهنګ ریاست او د رسنیو د کار کوونکو لپاره لویه ستونزه وه، د لیکنې میتود کتابتوني تشریحي دی ځکه پر موضوع زیاتو ، موضوعاتو، مصارفو، وسایلو او محتوا له کبله واضح کړي دي، چې زیاتره برخې یې د نویو مسلکي کسانو لپاره ګونګې پاتې وې. لیکوالانو کتابونه لیکلي دي؛ د مقالې په نتیجه کې مو د مقالې او سرمقالې ترمنځ مو توپیرونه، د معلوماتو، وخت، لیکوالانو، پالیسي، ارزښت، اغېز.

**کلیدي ټکي**: ارزښت، اغېز، توپیر ، پالیسي، سرمقاله، ستونزه، مقاله.

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

**أَمَّا بَعْدُ: قال الله تعالی فی کتابه الحکیم:( ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ) (القرانکریم، القلم، ایه.۱).**

ژباړه: ن الله تعالی يې په معنی ښه پوهېږي، الله په قلم او هغه څه چې ليکل پرې کېږي قسم کوي.

اوسنۍ نړۍ د اړيکو معلوماتو او اطلاعاتو د شريک کېدو، خپرېدو، اورېدو او ليدو نړۍ ده، د اطلاعاتو او معلوماتو بهير يو انقلاب را منځ ته کړی، همدا علت دی چې ټولنې د رسنيو مختلفو بڼو ته سترګې په لار وي څو هغه څه ولولي، وې ګوري چې اړتيا يې پوره کولی شي، په ځانګړي ډول چاپي رسنۍ چې د رسنيو اساس تشکيلوي، د توضيح، تشريح او تحليل برخه يې د نورو رسنيو په نسبت ژوره، علمي او تحليلي وي په زړه پورې ښېګړې لري؛ په مناسب وخت کې يې په خپل طبعيت لوستلی او کتلی شي.

څرنګه چې رسنۍ د مختلفو سياسي، اقتصادي، فرهنګي، نظامي خوځښتونو او ټولنيزو موضوعاتو په خپل دريځ څرګندوي نو د تحليلي ژورناليزم د (مقالې، سرمقالې) له ژانر څخه ګټه اخلي، څو د هغه څه په تړاو چې پېښ شوي را منځ ته شوي او يا د رامنځ ته کېدو په حال دي، خبر شي، ځکه د رسنيو مسلک پوهان ډېری وخت د خپلو تجربو مسلک او وړتيا په اساس داسې وړاند وينې کوي، چې د ټولنې د راتلونکي لپاره مهمې او ويښونکې وي، ځکه د مسايلو پټ اړخونه، مضر رازونه او پلانونه افشا کوي، لوستونکي، کتونکي يې په اړه دقيق تصميم نيسي.

**په تحليلي ژورناليزم کې د مقالې او سرمقالې توپير**

تحليل اصلاً (عربي کلمه او مصدر دی چې د حلولو، روا ګڼلو، حلالولو او پرانېستلو معنی ورکوي، د لومړي ځل لپاره په ۱۷۴۰ م کال سويډن کې د يو مشهور شاعر(زابن) د ترانو لپاره تحليل وکارول شو، چې عام مسايل، پېښې او موضوعات کل څخه د جز پر لوري پلټي؛ ولې د خبرونو د تحليل اصطلاح بيا په ۱۹۵۲م کال کې؛ د انګليسي ژبې پېژنپوه(زليک هريس) له خوا وکارول شوه (وفا،۱۳۹۵ص.۹-۱۲).

څرنګه چې تحليل بشري ټولنو ته د مختلفو زړونو رازونه راسپړي، ستونزو ته د حل لار لټوي او خلکو ته د نېکو چارو لارښوونه کوي، په مقابل کې رسنۍ د باور او اعتماد وړ ګرځي او ټولنه ورسره همغږې کېږي، له همدې کبله يې اغېز غښتلی دی، دا چې د تحليل ژورناليزم موخه په سيمه او نړۍ کې د مختلفو پېښو اوخوځښتونو په اړه د مسلکي تجربه لرونکو، عالمانو، پوهانو د نظرونو او ليدلوريو خپرول او د عامه افکارو روښانول دي، همدا رنګه تحليلي ژورناليزم د ټولنې د شعوري، فکري او مسلکي افکارو خوراک ګڼل کېږي، ځکه تحليل د هغو پېښو

پټ رازونه او اړخونه را څرګندوي چې د ټولنې په خیر وي، د ژورنالیزم هر ژانر ځانګړې موخه او مخاطبین لري، مقاله چې د تحلیلي ژورنالیزم ځانګړی ژانر دی د خپل ارزښت، حثیت او اغېز له کبله تر دې دمه د نړۍ په چاپي، غږیزو او انځوریزو خپرونو کې زیات مینه وال لري، په ځانګړي ډول، چاپي رسنیو کې اغېز ښیندونکې برخه ده، د ورځپاڼو سرمقالې د ټولنې د همدغو وګړو برخه ده چې د هېواد اوسیمې په اړه د مختلفو موضوعاتو، خوځښتونو او پېښو په اړه د تحلیل په مختلفو ژانرونو کې لوستونکو ته خپل افکار او نظریات وړاندې کوي.

په رسنیو کې سرمقالې د رسنیزو ادارو ضمیر، بیرغ او روح بلل کېږي، ارزښت یې د لوستونکو روزنه، پالنه او لارښوونه ده، د ټولنیزو ستونزو په اړه لوستونکوته هر اړخ تشریح کوي، په سړه سینه د موضوع په هکله غور او فکر وکړي، ځکه د مقالو او سرمقاله لیکونکي د ټولنې د وګړو په نسبت د موضوعاتو او خوځښتونو د رامنځ ته کېدو او پیل کېدو په تړاو زیات وینښ، ځیرک او بیدار وي، ژر د پېښې تل ته رسېدلی شي، دوی په اخلاقي، مذهبي ملي او مسلکي لحاظ مسئول ګڼل کېږي چې د پېښو په اړه د ټولنې عامه افکار پر وخت وینښ وساتي، را وې پاروي او له دولت سره یې اوږه په اوږه همغږي او د ټولنې حق تر لاسه کړي، ځکه د مسؤولیت له مخې ژورنالستان د بېړۍ د ماڼو د معلوماتو ذخیره، د ټولنې لارښود او دضمیر بلل کېږي.(حجازی،ص،۷۰-۷۵).

مقالې ته په انګلیسي ژبه کې Article وایي، دا کلمه د لاتیني ژبې د Articulus کلمې څخه اخیستل شوی، چې د برخې، حصې او تحرک په معنی دی، د ژورنالیزم په اصطلاح کې د مطبوعاتي لیکنو هغه ډول دی چې لیکوال پکې مختلف سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او علمي موضوعات خپروي(وفا،۱۳۹۵،ص. ۹۳).

عالمانو په لاندې ۳ برخو ذکر کړې دي.

لومړۍ بڼه پوهانو د (leading article/leader) په نومو سره ذکر کړې، دا د مقالو هغه بڼه ده چې د ورځپاڼې له نوم لاندې په ټاکلي ځای کې چاپېږي او عوما د ورځې د مهمو پېښو او مسایلو په اړه د چاپي رسنیو (ادارو )نظر څرګندوي چې په انګلیسي ژبه کې په پورته دواړو نومونو( leading article/leader ) یادېږي. (ثاقب،۱۳۸۵،ص.٦٨).

دویمه بڼه (Editorial Notes ) دی چې جامع معنی لري، چې د ( افتتاحیه، اختتامیه، پر پېښو د ایډیټر لنډه تبصرې) پر نومونو باندې یادېږي (بدر، ۲۰۱۵،ص.۱۳۸٦).

درېیم سرلیکنه: دا هم یوه عامه اصطلاح ده چې په انګلیسي ژبه کې ورته Editorial وایي چې مقالې او سرلیکنې ته استعمالېږي، حجازي لیکي د سرلیکنې د ارزښت او اغېز له کبله د ورځپاڼې دې مخ ته د سرلیکنې مخ هم وایي،کالمونه، تبصرې، راغلي لیکونه او کارتونونه هم پکې چاپېږي.(رضوي،۲۰۰۹، ص.٦٦).

پوهاند شاهد هم ورته نظر لري(مقاله مختلفې بڼې لري ۱:( leader) دا هغه سرلیکنه ده چې د ورځپاڼې له نوم لاندې لیکل کېږي او د ورځې د مهمې موضوع په اړه د رسنیزې ادارې نظر څرګندوي، چې leading article هم ورته وایې چې په اردو ژبه کې ورته د مقالې او افتتاحې اصطلاحات هم استعمالېږي امریکایي لیکوالان ورته lead Editorial وایي (شاهد،۱۳۸۵،ص.۲۲۳).

افتخار لیکي چې مقالې په مطبوعاتو کې له دوو اړخونو( لغوي او ژورنالېستي) معنی پېژندل کېږي، د لغت له مخې مقاله د انګریزي ژبې د Editorial مترادفه ده چې د مدیر لیکنې(تحریر) ته وایي په دې معنی چې د ورځپاڼې مسئول مدیر یې لیکي د مهمو مسایلو او پېښو په اړه د رسنیزې ادارې د پالیسۍ مطابق نظر څرګندوي، چې عموماً په دوو برخو تقسیمېږي، ژورنالېستي معنی او اصطلاحي معنی، د ژورنالیزم(صحافت) له اړخه مقاله هغه لیکنه ده چې د ورځپاڼې د پالیسۍ مطابق د یوې پېښې مسئلې اړوند نظر په موثقو د لایلو سره د رد او یا منلو نظر څرګند وي چې د ورځپاڼې له نوم لاندې په ټاکلي ځای کې خپرېږي(افتخار،۲۰۱۵،ص. ۱۲۳).

له اصطلاحي پلوه: مقاله په دوو برخو ( leader او سرلیکنه او پرېپښو تبصره) باندې تقسیمېږي. leader هغه سرلیکنه ده چې د ورځپاڼې له نوم لاندې چاپ کېږي او د ورځې د مهمې موضوع په اړه د رسنیزې ادارې نظر څرګندوي چې په انګلیسي کې ورته leading article لفظ استعمالېږي؛ د ادارې تبصرې، د مقالې یا افتتاحې له خپریدو وروسته د ادارې نوټ(یاداښت) چې په انګلیسي کې ورته Editorial Notes وایي چاپېږي، ځکه په دې برخه ځینې هغه مهم خبرونه یا پېښې چې د ادارې له خوا(پالیسي) مطابق پر تبصرې کولو ارزي لیکي او خپلومینه والو ته یې خپروي. دې ځای کې اداره موضوع ته له خپل نظر څخه ګوري او عامه افکارو ته د موضوع په تړاو لید لوری وړاندې کوي.(حجازی،۱۳۸٦ص.۷۷).

عبدالسلام خورشید لیکي:(د سرلیکنې د اصطلاح په اړه نورې مترادفې کلمې هم شته چې د اردو او انګرېزي ژبې کلمات دي (Leader,Leding Articale,Lead Editorial ذکر شوي نومونه مترادف دي فقط خلک او پوهان یې په مختلفو نومونو یادوي (شاهد،۱۳۸۵ص.۲۱۳).

د عالمانو، مسلکي پوهانو له پورته نظرونو څخه دې پایلې ته رسېږو چې؛

- مقالې مختلفې (خبري، علمي، سیاسي، اقتصادي، نظامي، فرهنګي، مذهبي، ساینسي او ټکناجیکي) بڼې لري خپلو عامو لوستونکو ته یې د علمي، مسلکي او ذهني تفریح په اړه معلومات وړاندې کوي.
- سر مقاله د مقالې ځانګړې بڼه ده چې د رسنیزې ادارې رسمي نظر دی څرګندوي .
- لیکوال یې مسئول مدیر، هیئت تحریر، یا هم د مسلک با تجربه کس وي.
- په ځانګړي مخ کې د ورځپاڼې له نوم لاندې چاپیږي.
- پر مهمو پېښو د رسنیزې ادارې نظر څرګندوي.
- له سر مقالې برسیره، تبصرې، کالمونه، کارتونونه، طنزي ټوټې، د مهمو خبرونو په اړه د ایډیټر له خوا څېړنه او توضیحات (شذرات) راغلي لیکونه ...معلومات چاپ او خپریږي.
- مقالې نسبت سرمقالو ته علمي، ژورې، مسلکي، څېړنیزې او د معلوماتو له کبله کره وي، د لیکلو لپاره یې وخت زیات وي، ممکن ځینې مقالې په مختلفو برخو (علمي، څېړنیزو، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي) کې د بشري ټولنې د پرمختګ د بنسټ حثیت غوره کړي.
- د مقالو موضوعات او سوژې ډیرې څېړنیز حثیت لري، چې د مختلفو پرمختګونو او نوښتونو باعث ګرځي (کنسر واکسین).

**اصطلاحي تعریفونه**

سر مقاله لیکنه د رسنیو د اداري مسئولینو ځانګړی هنر دی چې د رسنۍ د سیاسي پالیسۍ په نظر کې نیولو سره د مهمو مسایلو د تشریح او توضیح په اړه لیکل کیږي، ځکه د ورځپاڼې د خپلې پالیسۍ په نظر کې نیولو سره پېښې او مسایل تشریح کوي، امکان لري یوه پېښه او مسئله له مختلفو ورځپاڼو څخه په مختلفو بڼو او اړخونو مطرح شي، علت یې د رسنیزو ادارو هغه پالیسي ده چې لري یې، دوی هرڅه د پالیسۍ په چوکاټ کې توضیح او تر خلکو رسوي همدغه ځای دی چې ځواکمن هېوادونه د بیرته پاتې نړۍ رسنۍ تمویلوي، خپله هغه ایډیالوژي دوی خپله هر اړخیزه (اقتصادي، نظامي، فرهنګي اوسیاسي) موخې پرته له دې چې په مقابل کې یې مزاحمت وشي پلي کوي، په هر حال، د دې لپاره چې موضوع ته داخل شو لومړی سرمقالې دپوهانو له اقولو پېژنو.

پوهاند حبیب الرحمن هاله( سرمقاله له هغې لیکنې څخه عبارت ده، چې د یوې موضوع په اړه د ورځپاڼې یا بلې مطبوعاتي وسیلې نظر څرګندوي، څنګه چې سرمقاله د ورځپاڼې نمایندګي کوي نو معمولاً د مسئول مدیر، تحریري هیأت د غړو له خوا لیکل کیږي پرته له نوم لیکلو څخه چاپیږي او خپریږي) محمد علي جوهر لیکي (په

یوه داسې موضوع باندې،چې په عین وخت کې د سپړنې او بحث وړ وي او د ټولنې له پاره یې لیکل ضرور، جدي اومهم وي، سرمقاله بلل کیږي.

مسکین علي حجازي: د سرمقاله لیکونکي له طرفه په یوه مهمه، ضروري یا ناڅاپي موضوع، بحث یا په تحریري ډول د موضوع لیکلو کې برخه اخیستل له سرمقالې څخه عبارت دی( نیازی،۱۳۸۵ص. ۸۷).

سرجیمز بیری: د مهمو جالبو او تازه معلوماتو، موضوعاتو د منطق او د لایلو په وړاندې کولو سره په داسې طرز سره چې د لوستونکو افکار تر اغېز لاندې راولي سرمقاله بلل کېږي.(رضوي،۲۰۰۹ص.۱۸۲).

**د سرمقالو موخې**

دا چې سرمقالې د رسنیزو ادارو په ځانګړي ډول د چاپي ژورنالیزم مهمه برخه ګڼل کېږي، موخه یې د مختلفو سیاسي، اقتصادي، مذهبي، فرهنګي او ټولنیزو کلتوري مسایلو په اړه د عامه افکارو ویښول، بیدارول او د غفلت له خوبه راپورته کول دي.

لنډه دا چې ورځپاڼې د سرمقالو له خپرولو څخه لاندې موخې لري.

- سرمقالې د تازه او پېچلو، مهمو، موضوعاتو په هکله د ورځپاڼې نظر څرګندوي، بلکې د عامه افکارو جوړښت او پېچیده موضوعاتو تحلیل یی هم اساسي دنده ده او له همدې لارې خپله پالیسي پر خلکو مني.
- سرمقالې د حکومتونو د پالیسیو په جوړولو، له منځه وړلو، ورانولو او تطبیق کې مهم رول اداء کوي او مسایل د کره دلایلو په رڼا کې توضیح او تجزیه کوي.(رضوي،۲۰۰۹،ص.٦٥).
- سرمقالې د مسلکي لیکوالانو د تجربو ټولګه، د حکومتي ادارو د بري لار، د ټولنې د سیاسي شعور د هڅونې او بیدارۍ لارښود او پر حقایقو ولاړه لیکنه ده.(حجازي،۱۳۸٦،ص.٦٥).
- سرمقالې لوستونکي د هغو مسایلو په اړه خبروي چې په راتلونکي کې را منځته کېږي.(بدر۲۰۱۳،ص.۷۳۳).
- سرمقاله لوستونکو ته د پېچلو پېښو په اړه سالمه لارښوونه کوي، د ټولنې د باور باعث ګرځي، ترمنځ اعتماد غښتلی کوي، څکه خو امریکایان وایي:(موږ لومړی په بایبل او بیا په نیویارک ټایمز باور لرو).
- سرمقاله لیکونکي د خپلو معلوماتو، تجربو وړتیا او تحلیل په نتیجه کې د هغه څراغ بڼه لري چې په تیاره او تپ حالت ټولنه د رڼا او ثبات لوري ته بیایي، موږ هم الله په همدې مامور کړي یو چې (تاسو خلک له تیارو څخه د رڼا پر لوري وباسی).

- سرمقاله ټولنې ته علمي، فکري او شعوري خلکو ته د ذهن خوراک برابروي څو د مختلفو موضوعاتو په اړه کره غور وکړي، ځکه همدا علمي افکار دي چې د خلکو ژوند ته بقا ښښي او ستونزو ته د حل لار لټوي.
- سرمقاله خلک نیکو کړنو ته هڅوي څو اصلاح رامنځ ته شي، تعصبات له منځه وړي، په ټولنه ټولنیز وحدت، همکاري، یو د بل زغملو ته رابولي، چې همدغه د اسلام د سپېڅلي دین اصل او د مسلمان لیکوال مسؤولیت دی.
- سرمقاله لوستونکو ته سالمه تفریح برابروي څو له بې ځایه ذهني فشار څخه په امن وي.). (بد ر،۲۰۱۳ص.۱۳۸۹).

که لنډ ووایو چې سرمقالې د ټولنې روزنه، لارښوونه په غاړه لري، د دولت او ملت ترمنځ فاصلې له منځه وړي ځکه علمي، فکري لوستي شعوري څېرې د نویو پېښو په اړه د رسنیزې ادارې نظرونه لولي، ټولنه د مسایلو په اړه را بیداروي او خپل هر اړخیز مسؤولیت ته یې متوجه کوي، خلک د خیر او ښېګړې چارو ته رابولي، د ټولنې سیاسي شعور غښتلی کوي، عامه افکار راپنځوي د مسایلو په اړه ژور، دقیق فکر ورکوي، پورته ذکر شوي مسایل عموما د یوې باسواده ټولنې په منځ کې د مطبوعاتو هغه اغېز، باور، ارزښت او وړتیا ده چې د سرمقالو له لارې یې ټولنې ته رسوي، ولې په بیرته پاتې، داسې ټولنه چې له لوږې، نا امنی روغتیايي ستونزو څخه کړېږي، هغه ټولنه له دې نعمت څخه بې برخې ده، ځکه هغوی یوازې د ژوند د بقا لپاره د ژوند کولو لومړني مسایل(خوراک، څښاک..) پسې لا لهانده ګرځي، هیڅ کله د خپل راتلونکي لپاره داسې عمیق فکر نه شي کولی، همدا علت دی چې ځواکمن هېوادونه، تل هغه مظلوم ملتونه امن، سوکالي او خوښي ته نه پرېږدي چې د خپل راتلونکي په اړه فکر وکړي، د غوره ژوند او پرمختګ لارې پرانیزي.

دمقالې او سرمقالې ترمنځ توپیرونه: موږ مقاله او سرمقاله سره بېلوو، هغه داسې چې! موږ ولوستل چې سرمقالې د رسنیزې ادارې له خوا پر تازه موضوعاتو، پېښو او مسایلو لیکنه ده چې په ځانګړي، ځای او مخ کې چاپېږي، ولې لکه پورته مو چې ولوستل زیاترو پوهانو مقالې د مختلفو علمي، سیاسي، اقتصادي، نظامي، فرهنګي او ساینسي موضوعاتو په اړه هغه څېړنیزې لیکنې دي چې د مسلکي، علمي او متجربو خلکو له خوا لیکل کېږي، په همدې اساس یې معلومات نسبت، سرمقالې ته علمي ، دقیق او کره وي، ډېری علمي مقالې د بشري ژوند په ژغورنه، غښتلتیا او پرمختګ کې زیات اغېز لري، د وخت، ارزښت، محتوی، معلوماتو، اندازې او خپرېدو له اړخه زیات توپیر لري، د صافي په وینا(مقاله کوچنی لیکنه ده چې هر ډول موضوعات پکې خپرېږي، د پاڼو شمېر یې ۱- ۳۰ پورې وي).(صافی،۱۴۰۳ص.۱۰).

هاشمي لیکي( د مقالې موضوعات مختلف وي، سیاسي، ټولنیز، انتقادي، علمي او نور معلومات پکې خپرېږي) (هاشمي، ۱۹۵ش، ص.۱۰).

په ځانګړي ډول علمي، ساینسي، ټکنالوجیکي، سیاسي، فرهنګي او مسلکي مقالې، چې مسلک پوهان یې په څېړلو، لیکلو میاشتې او کلونه تېروي، په پای کې یې داسې نوښتونه او پرمختګونه رامنځ کېږي چې د ټولې نړۍ لپاره د منلو وي، که اوسنیو ساینسي او تکنالوجیکي نوښتونو ته ځیر شو دا ټول همدغو پوهانو برکت دی چې د خپل مسلک په برخه کې یې د عمر زیاته برخه تېره کړې، د روسي ساینسپوهانو له خوا د سرطان ضد واکسین اود ملاریا ضد واکسین کشفول د مقالو ارزښت، د وخت د مصرفېدا، اغېز له کبله د څېړنې مختلفو مرحلوته ضرورت لري چې، له ذکر شویو مرحلو پرته سرته نه رسېږي، د څېړلو او ثبوت لپاره زیات وخت ته اړتیا لري، چې همدا توپیر هم ګڼل کېږي.

د مقالو په خلاف سرمقالې د ورځنیو تازه، مهمو او په زړه پورې موضوعاتو په اړه، د ادارې له خوا لیکل کېږي چې موخه یې د مختلفو موضوعاتو په اړه د عامه افکارو پوهولو، د مسایلو په اړه د پټو رازونو افشا کولو او ټولنې ته د ذکر شویو موضوعاتو په اړه د معلوماتو د ور پېژندلو په لیکل کېږي.

ولې مقالې د علمي او مسلکي پرمختګونو لپاره د پیل بنسټ ګڼل کېږي، امکان لري ځینې سرمقالې د مقالو لپاره د څېړنې نوې سوژه او موضوعات وټاکي ځکه نوې پېښې زیاتو څېړنو او وخت ته ضرورت لري، چې همدغه د سرمقالو څخه ځانګړی توپیر ګڼل کېږي، زیات وخت، معلوماتو، شواهدو او اسنادو ته ضرورت وي، مسلکي لیکوالان، څېړونکي ساینس پوهان او ژورنالستان زیات وخت ته اړتیا لري، د پېښې په تړاو مختلفو څېړونکو، معلوماتي ادارو، طبي معایناتو ته اړتیا لیدل کېږي، څو په اسنادو او دلایلو موضوع د ثبوت حالت ته ورسوي، د ایران تیر جمهوریْیس ریسي، په الوتکه کې څنګه مړشو؟ د الوتکې د لوېدو علت څه وو؟ دا ډول موضوعات هم د سرمقالې او هم د یوې څېړنیزې مقالې موضوع ګرځېدلی شي، نو ځکه ویلی شو چې سرمقالې ځینې وخت د مقالو لپاره سوژې او موضوع ټاکې، چې بیا همدغې سوژې او موضوعات د علمي مقالې لپاره ټاکل کېږي، څېړونکي پرې څېړنه کوي، ممکن میاشتې او کلونه ونیسي څو ذکرشوي موضوعات ثبوت ته ورسېږي، استاد غروال په همدې نظر دی لیکي:(مقاله لیکنه باید په دلایلو ولاړه وي، حقایق باید مستند څېړل شوي وي)(غروال،۱۴۰۰ش،ص.۳۳).

موږ د عالمانو په اثارو کې ولوستل چې؛سرمقاله د مقالې یو ډول دی چې د ورځپاڼې له نوم لاندې په ټاکلي ځای کې چاپېږي او په همدې مخ کې کالم، فیچر، د مهمو موضوعاتو په اړه د ایډیټر توضیحات او راغلي

لیکونه خپرېږي، له همدې کبله سرمقاله د پېښو، موضوعاتو او خوځښتونو په اړه د ادارې رسمي نظر بلل کېږي چې د هیأت تحریر دمسئول مدیر او متحربو مسلکي ژورنالستانو له خوا لیکل کېږي.

ولې د مقالې په اړه چا څه نه دي ویلي چې کومې ځانګړنې لري؟ له سرمقالې سره یې د موادو او معلوماتو له مخې څه توپیر لري ؟ زه په همدې اساس غواړم د مقالې او سرمقالې د (وخت، محتوی، اغېز، معلوماتو، پالیسی، موضوعاتو، الفاظو،کلماتو د استعمال، موخو، حجم، مالي ملاتړ او وسایلو له لحاظه ) سره توپیر او پرتله کړم څو هغه ستونزه چې تر اوسه ځینې لیکوالان، د رسنیو مسوولین په ځانګړې دول د مسلک ځوان کهول ورسره مخامخ دی، توضیح شي، د یادونې وړ دی چې؛ په دې اړه مې د پوهنځی له استادانو څخه مشورې اخیستې، ځکه دا د ټولو لیکوالانو مسؤولیت دی نه یوازې زما، د دوی مشوره دا وه چې(ممکن د ځینو سرمقالو موضوعات، د مقالو موضوعات وګرځي، دا سم نظر دی، کېدای شي، رسنی پر یوه داسې موضوع سرمقاله ولیکي چې علمي، ساینسي، یا یوې نوې اختراع ته لار پرانیزي چې بیا یې په اړه د مسلکي کسانو له خوا علمي مقالو ته اړتیا پیدا کېږي چې باید پرې ولیکل شي، امکان لري د سرمقالو ځینې موضوعات د علمي مسلکي مقاله لیکونکو لپاره سوژه وګرځي ځکه هر څه چې لومړی را پیدا کېږي سطحي وي، وروسته بیا د پوهانو ورته متوجه کېږي او په اړه یې نوي نوښتونه را منځ ته کوي لکه ننی طبي، ساینسي، ټکنالوجیکي اختراعات او نوښتونه، په هر حال راځو د مقالې او سرمقاې تر منځ توپیرونو ته څو له موضوع لرې پاتې نه شو.

- وخت: سرمقالې پر هغو نویو او تازه موضوعاتو چې تازه والی یې ورځ، دوه یا اونۍ وي بحث کوي، نور یې وخت ختمېږي او اداره د سرمقالې لپاره بله موضوع ټاکي، حال دا چې علمي مقالې ممکن میاشتې کلونه حتی لسګونه کاله ونیسي، څو موضوع اثبات ته ورسوي، هغه علمي مقالې چې د بشري ټولنې په اړه روغتیایي معلومات او څېړنې تر سره کوي، لومړی په حیواناتو بیا پر انسانانو تطبیق کېږي( د سرطان نوی واکسین).
- محتوی: سرمقالې په تازه جدي موضوعاتو چې خبري بڼه ولري د ادارې له خوا لیکل کېږي، موخه یې له نویو پېښو حالاتو او موضوعاتو، د ټولنې خبرول او هغوی ته نظر ورکول وي، هرې موضوع ته د خپلې ځانګړې پالیسي له عینکو ګوري، حال داچې د مقالې موضوعات ممکن زاړه وي، د موضوع په تړاو مختلف نوي معلومات راټولوي او د دلایلو او شواهدو په بڼه کې یې مسلک پوهانو، عالمانو، مینه والو ته وړاندې کوي ترڅو یې قناعت حاصل شي.
- اغېز: سر مقاله د اغېز له کبله ممکن سطحي وي، ځکه ډېری موضوعات یې نوي او تازه وي، امکان لري اغېز یې د خلکو له اذهانو زر له منځه ولاړ شي. حال دا چې د مقالې موضوعات په تدریج سره پر ټولنه او

مسلکي، علمي او ټولو خلکو تاثیر کوي، اغېز دوامداره وي، ممکن د مقالې اغېز د ژوند تر پایه پر ټولنه پاتې شي.

- معلومات: موږ مخکې وویل چې د سرمقالو معلومات نوي، تازه او د ادارې د نظر له مخې ټاکل کېږي او خپرېږي، حال دا چې د مقالې معلومات علمي، پاخه، کره او څېړنیز وي، ځکه مقالې د څېړنیزو بنسټونو لپاره تهداب بلل کېږي، اغېز يې پر زیاتو خلکو وي، ممکن د خپل ثقت او کره توب له کبله د هیڅ چا تر پالیسي او اغېز لاندې را نه شي، د خپل معیار او حثیت په نظر کې نیولو سره موضوعات څېړي څو يې بې پرېوالی او دقت پر ټولنه ثابت پاتې شي.
- پالیسي: دا ثابته خبره ده چې هره رسنیزه اداره ځانګړې پالیسي لري د پالیسۍ په نظر کې نیولو سره مسایل تحلیل او شني، حال دا چې مقالې ځانګړي علمي مسلکي، فني، تخنیکي معیارونه او پړاوونه لري، چې د هغو په نظر کې نیولو سره مسایل څېړي، هر هغه څه چې د علمي معیارونو په پایله کې رامنځ ته شول ټولنې ته د خپل علمي معیار په ساتلو سره وړاندې کوي،( هیڅکله د پالیسي تابع نه وي.)
- موضوعات: د سرمقالو خپلو لوستونکو، اورېدونکو او لیدونکو ته د تازه معلوماتو په اړه خپل لید لوری وړاندې کوي، دا ورته ښايي چې پېښه موضوع د اداري له رسمي پالیسي او نظر سره څه ډول ده؟ حال دا چې مقاله موضوعات له علمي، څېړنیز لوري څېړي، ګټې، زیان، اغېز او ښېګړه يې معلوموي خلکو ته د کره شواهدو، دلایلو او اسنادو په وړاندې کولو سره د ثقت، ریښتینولي، ګټې او زیان معلومات ورکوي.(شاهد،۱۳۸۵ص.۱۱۰).
- موخې: د سرمقالو موخې ټولنې ته د نویو او تازه پېښو، موضوعاتو او خوځښتونو په اړه د خپلې رسنیزې ادارې نظر څرګندول او د عوامو خبرول وي، حال داچې مقالې د ټولنې د مختلفو( سیاسي، روغتیایي، علمي، تکنالوجیکي، ساینسي، طبي او فرهنګي) موضوعاتو په تړاو هر اړخیز ژور څېړنیز معلومات خپروي، چې په خپرولو، تیتولو او وړاندې کولو سره د ټولنې مختلفې ستونزې حلېږي او د ژوند د بهبود په اړه نوي ګامونه اخلي.
- حجم: د مسلک پوهانو له قوله د سرمقالې حجم له ۵۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ کلماتو پورې وي، ممکن له دې څه کم یا زیات شي، ولې د مقالو د حجم ټاکلې اندازه نه ده معلومه ممکن یوه مقاله له ۱۰۰۰ کلماتو څخه څو ځله زیاته شي، لیکوالان يې هڅه کوي چې موضوع پر دلایلو، شواهدو او اسنادو مشتمله کړي ځینو پوهانو له ۱ پاڼې څخه ۳۰ پاڼو پورې ښودلې خو دا هم ټول منلې نه ده بلکه د یو عالم نظر د، ځکه ځینې څېړنیز موضوعان ممکن له سلګونو پاڼو واوړي.

- ليکوالان: موږ مخکې وويل چې سرمقالې د ادارې د هيئت تحرير، مسؤل مدير يا يو باتجربه ليکوال له خوا وليکل شي خو د ادارې له خوا رسمي نظر ګڼل کېږي نه د شخص، حال دا چې مقاله د ځانګړې مسلکي، علمي، متجرب، کارپوه او عالم يا د څو مسلکي ادارو له خوا په شريکه ليکل کېږي، ، اسناد، شواهد او لابراتواري ثبوت راپيدا کوي، زيار، وخت، حوصلې، مالي ملاتړ، نوښوتونو او مسلکي تجربو ته زياته اړتيا لري له دې پرته نه ترسره کېږي.
- مالي ملاتړ: ډيری سرمقالې د ادارې د ځانګړو کسانو له خوا ليکل کېږي، امکان لري مالي امکانات يې دومره لوړ نه وي، چې اداره يې له توان څخه بې برخې وي، ولې ممکن ځينې مقالې مالي ملاتړ ته اړتيا ولري چې دولتونه ځانګړې ادارې يې هم له توان ونه لري.
- ليبارټري/ تخنيکي وسايل: د سرمقالې ليکونکي د سرمقالې په ليکلو کې کاغذ، قلم، کتاب او کتابچو ممکن ځينې نورو عادي وسايلو ته اړتيا ولري، حال دا چې د مقالې په ليکلو، د موادو او معلوماتو په لاس ته راوړلو کې ممکن داسې وسايلو ته اړتيا پيدا شي چې خورا زياتو مصارفو ته ضرورت وليدل شي، په ځانګړې ډول په طبي، ساينسي او تکنالوجيکي برخو کې ځکه چې ځينې چارې له سپړنې، وسايلو او لوازمو پرته نه تر سره کېږي، بلکې جدي اړتيا ليدل کېږي، چې موخو د ترلاسه کولو لپاره امکانات ولټول شي، څو خپل هدف تر لاسه او ټولنې ته پوره قناعت ورکړل شي.
- د الفاظو،کلماتو استعمال: مطبوعاتي ژبې د نړۍ د ملتونو د ټولو پرګنو په نظر نيولو اوپوهېدلو سره کارول کېږي، حال دا چې د مسلکي، علمي او ساينسي مقالو ژبه ځانګړې وي، د خاصو مسلکي خلکو لپاره ليکل کېږي، له همدې کبله د ارتباطاتو کارپوهانو ژبې پر پنځو ډولونو ( مطبوعاتي ، ساينسي ، علمي ، ادبي او عادي ) برخو وېشلې دي (نيازی، ۱۳۹۷ش،۱۴٦).
- د ځای او نوم له مخې: سرمقالې په چاپي خپرونه کې د ورځپاڼې له نوم لاندې چاپيږي، حال داچې مقالې په معتبرو، مسلکي، مجلو، کتابونو، ژورنالونو، ويبپاڼو او اثارو کې چاپيږي، ډېری يې علمي، مسلکي شخصيتونه وي چې پر لويو علي معياري ادارو پورې تړاو لري.

لنډه دا چې علمي مقالې د بشري ټولنو ذهني خوراک، معلوماتي اړتيا او د سياسي شعور د بيدارۍ علمي مرجع اړتيا او له دې پرته ژوند نيمګړی بلل کېږي. د پښتو ژبې متل دی چې (ضرورت د ايجاد مور ده) بشري ژوند ورځ تر بلې داقليمي بدلونو د مخنيوېپه خاطر لمريزې انرژي ته ضرورت احساسيږي، همدا علت دی چې بشر ورځ تر بلې د خپل ژوند د مصئونيت په خاطر نوښتونه او پرمختګونه لاس ته راوړي.

**د سرمقالو ډولونه**

د سرمقالو ډولونو سره تړول لوسوتونکي بلد دیو دلته یې فق لنډ معلومات لیکو څو د لوستونکي یو څه درک کړي.

د سرمقالو وېش، د ځانګړتیاوو (خصلتونو) له کبله لاندې ډولونه لري.

- د انشاء (لینکې) له مخې د سرمقالو ډولونه عبارت دي له: روایتي، بیاني، وصفي. (نیازی۱۳۹۷ش،ص.۸۹).
- د موضوع (د محتوی) له کبله د سرمقالو وېش عبارت دی له: خبري، سیاسي، اقتصادي،اجتماعي، علمي او هنري.
- د جغرافیې له کبله د سرمقالو وېش عبارت دی له: (محلي، ولایتي، منطقوي، ملي او نړیوالې)
- د لیکوالانو له کبله د سرمقالو وېش عبارت دی له: د سرمقاله لیکونکو د غړو (هیئت تحریر) له خوا، د خبري غړو له خوا، د بهرنیو مسلکي متجربو او علمي وګړو له خوا، د مفکرینو او مبصرینو له خوا ، مؤسسو او مسلک پوها نوله خوا په لاندې برخو ویشل شوې.
- د موخو (هدف) له کبله د سرمقالو وېش عبارت دی له: معلومات ورکوونکي سرمقالې، استدلالي سرمقالې، بوختوونکې سرمقالې (احساساتي) سرمقالې، مذهبي سرمقالې، فرهنګي سرمقالې، شخصي سرمقالې، ایډیالوژیکي سرمقالې. (شاهد،۱۳۸۵ش،ص.۲۲٦).

ځینې مسلکي خلک بیا مقالې په (تحلیلي، تحمیلي او پیش بیني یا وړاندوینې) په بڼو باندې وېشي. (نیازی، ۱۳۹۷ش، ص.۱۰۴).

- تحلیلي هغه سرمقالې دي چې موضوعات له پېښو سره تړي او مختلف اړخونه یې روښانوي څو لوستونکې د موضوع تل ته ورسېږي دا ډول سرمقالې د مسلکي، تخنیکي، علمي او سیاسي څېړو له خوا لیکل کېږي څو عامه افکار د پېښو، خوځښتونو او مسایلو په اړه ویښ او لازمه لارښوونه ورته وکړي.
- تحمیلي سرمقالې هغه سرمقالې دي چې مخکې له مخکې د ځینو ځانګړو ادارو، حکومتونو او موسسو له خوا موضوعات یا پېښې په نظر کې نیولې، یا پر لار اچول شوې وي، بیا د خپلې اداري پالیسی، حکومتي ګټو او ایډیالوژۍ په نظر کې نیولو سره ذکر شوي موضوعات او پېښې له خپل اند او لید لوري بیانوي، هڅه کوي چې موضوع له خپل انده پر تولنه ومني او د دوی مخالف نظر محکوموي چې عموماً په هغو ډله ییزو رسنیو کې چې د حکومتونو، ګوندونو او سیاسیونو په واک کې وي خپرېږي، د نیویارک ټایم، ګارډین

او نورو نامتو رسنيو سرمقالې کټ مټ د خپل حکومت پاليسي پر نړۍوالو له همدې لارې مني او توضيح کوي يې.

- دريم يې پيش بيني شده يا وړاندويني سرمقالې دي چې ليکونکي د خپلې تجربې، سياسي، نبوغ او فکر له اړخه يوې موضوع يا پېښې ته تړاو ورکوي مختلف دلايل وړاندې کوي څو خلکو ته ډاډ ورکړي چې موضوع له دې قراره ده، دا ډول سرمقالي عموماً د کره باتجربه او مسلکي خلکو له خوا ليکل کيږي دوی پېښه د خپل ژوند، تجربو، په سيمه کې د ځينو پېښو خوځښتونو او تاريخ په نظر کې نيولو سره پرتله کوي بيا خپل ځانګړی نظر وړاندې کوي څو عامه افکار، حکومتونه او دولتونه موضوع ته متوجې کړي.(اسرايل، فلسطين) دا چې سرمقاله د تحليلي ژورناليزم مهمه برخه ده، موږ يې فقط نومونه ذکر کوو، د مقالې د حجم له کبله نه غواړم بنې يې تشريح کړم .

موخو (هدف) له کبله د سرمقالو وېش عبارت دی له: معلومات ورکونکي سرمقالې، استدلالي سرمقالې، بوختوونکې سرمقالې (احساساتي) سرمقالې، مذهبي سرمقالې، فرهنګي سرمقالې، شخصي- سرمقالې، ايډيالوژيکي سرمقالې، څرنګه چې بڼه دسرمقالې ياتې تشريح ته ضرورت لري، نو د دې لپاره چې د مقالې حجم زيات نه شي موږيې په نومونو اکتفا کوو.

ليکوال او ژورنالېست ( ار اې ولز) له نظره سرمقاله لاندې ډولونه لري.

معلوماتي سرمقالې، د روانو حالاتو په اړه سرمقالې، تفريحي سرمقالې پوهاند ايس ايم شاهد بيا سرمقالې په سياسي، ټولنيزو، ساينسي برخو او د موخو له کبله يې په معلوماتي، استدلالي، او تفريحي باندې ويشي. (شاهد، ۱۳۸۵ش، ص. ۲۲۴).

**د سر مقالو ارزښت او موخې**

سرمقالې په رسنيو ځانګړې موخې لري(د ادارې د پاليسي ) غواړي له دې لارې د خپلو لوستونکو په اړه چې کوم مسؤوليت لري هغه په منظم ډول سره ادا کړي، عموماً د رسنيو مسئولين له سرمقالو څخه لاندې موخې لري.

**عامه افکارو جوړښت**

ټولنه کې هر کس د ژوند په ټولو مسايلو نه پوهېږي، د مصروفيت له کبله يې رسنيو ته سترګې وي څو د هغوی په لار پل کيږدي، همدا علت دی چې سرمقالې د مهمو موضوعاتو په اړه دقيق او مهم معلومات خپروي، عامه افکار يې لولي او باور پرې کوي.

- پر دلایلو ولاړه لیکنه: سرمقالې تل پر حقایقو ولاړ او مدلل معلومات خپروي څو لوستونکو ته قناعت ورکړي، ځکه بې دلایلو معلومات خلکو ته نه منونکی وي (افتخارم، ۲۰۱۵ص،۱۳۴).
- مسایلو او پیښو ته ارزښت ورکول: عوام ځینې مسایل عادي ګڼي حال دا چې ذکر شوې موضوع زیاته مهمه او جدي وي ځکه لیکوالان د خپلو تجربو او معلوماتو په رڼا کې د موضوع تل ته رسېدلي وي، هغه موضوع چې خلک یې عادي ګڼي زیاته مهمه او ضروري وي، د ادارو او لیکوالانو مسؤولیت دی چې بې غوره بې فکره د غفلت په خوب ویده ټولنه د پېښو پر ارزښت، اغېز او زیان باندې پوی کړي څو له کړاوونو خلاص وي.
- منونکي نظریات لیکل: دمسلکي لیکوال لپاره لازم دی چې د موضوعاتو په تړاو داسې مهم، منونکي نظریات په اغیزمن ډول وړاندې کړي چې خلک سمدستي پرې باور ولري، که د پیغام رسونې وسیله او نظریات کمزوري وي، خلک یې په مقابل کې درېږي او د ګټې په ځای زیان مومي.
- له ملي او نړیوالو پیښو خبریدل: سرمقالو لیکونکي په خپلو لیکنو کې تل د ملي او نړۍ والو مهمو موضوعاتو په اړه ټولنې ته منونکی په زړه پورې معلومات او نظر ورکوي څو خلک له ملي او نړۍ والو پېښو په دقیق ډول خبر شي (افتخار،۲۰۱۵م، ص.۱۲۵).
- د اوسني وخت تاریخي بنسټ: د پرون پېښې د نن او د نن پېښې د سبا ورځې لپاره تاریخ جوړوي، څرنګه رسنۍ پر مهمو موضوعاتو سرلیکنې کوي، چې همدغه ننۍ سرلیکنې د سبا لپاره تاریخ جوړوي، راتلونکی نسل به زموږ د وخت پېښې د تاریخ یو مهم باب بولي او د بیلګې په ډول به یې یادوي (خورشید،۲۰۱۵م، ص. ۱۱۵).
- د ورځپاڼې روح: څرنګه چې هره ورځپاڼه د سرمقاله لیکنې ځانګړی هیات غړي لري، دوی مختلفو جدي مهمو موضوعاتو ته د خپلې رسنیزې پالیسۍ له مخې سرمقالې لیکي او پېښې له خپل لید لوري څاري، چې د لینکې، پالیسۍ، وړتیا او دلایلو له کبله ټولنه اغېزمنېږي او د ورځپاڼې لوستونکي زیاتېږي، چې همدغه د لوستونکوزیات والی، د پالیسۍ په رڼا کې موضوعاتو ته کتل او ټولنه اغېزمنول د ورځپاڼې روح بلل کېږي، لوستونکي یې زیاتېږي او ټولنه متاثره کېږي او رهنمایي کېږي.
- د بحث او خبرو وسیله: د هر انسان فکر د الله د وحدانیت نښه ده که په یوه موضوع له زیاتو خلکو وپوښتو او بحث ته وخت ورکړو ممکن زیاتې نوې زاوې او برخې پیدا کړو، رسنۍ د همدې موخې لپاره پر مختلفو موضوعاتو سرلیکنې کوي، بیا یې لوستونکو ته لېږي، پر ځینو پېښو او موضوعاتو د مسلکي کسانو تر منځ

ازاد بحثونه او مناظرې کېږي، د خلکو تنده خړوبېږي او سمه لار خپلوي.(خورشید، خورشید،۲۰۱۵م ص.۱۵۱).

د بدر بیا سرمقالې په احساساتي، انتقادي، مدللې او منطقي، ژورې فکري، توصیفي، سیاسي، تفریحي او اقتصادي سرمقالو په ډولونو وېشي (بدر،۲۰۱۳م، ص.۷۴۵).

رضوي بیا د سیاسي شعور بیداري، د وطني مینې او احساس راژوندي کول، د مسایلو تشریح او د عوامو لارښوونه ورزیاتوي (رضوي،۲۰۰۹،ص ۱۴۵).

د ټولو پوهانو نظریات د منلو دي ځکه د ټولو عمومي موخه پر مسایلو، پېښو او حالاتو د ټولنې خبرول، پوه کول، بیدارول، له ستونزو خلاصول او ویښول دي، زموږ ټولنې ته په کتو په ټولنه کې د سیاسي شعور هڅونه، د پېښو په اړه د عامه افکارو بیداري د سرمقالو هغه موخې دي چې د ملي مسلکي مسوولیت بنسټ ګڼل کېږي، ځکه د علمي، مسلکي او شعوري ټولنې ذهني ځواک د همدغو سرمقالو د خپرولو او لوستلو له خوا خړوبېږي.

**د سرمقاله لیکونکي ځانګړتیاوې**

دا چې د هر مسلک او تخصص پوهان ځینې مسلکي ځانګړتیاوې لري، په همدې اساس سرمقاله لیکوال هم د خپل مسوولیت، مسلمي وړتیا، اړتیا او موخو د لاس ته راوړلو لپاره ځینې ځانګړتیاوې لري باید پرې پوه شو.

پر ژبه لاس بری، د ځیرک ذهن څښتن، د ورځپاڼې له پالیسي خبرتیا، د پراخې مطالعې خاوند، له ټولنیزو، سیاسي، اجتماعي، اقتصادي، ملي او مذهبي مسایلو خبرتیا، د مسایلو د پرېکړې، ټولنې ته د لارښوونې وړتیا او احساس درلودل، پر مسایلو د تحلیل او شننې وړتیا لرل، د مسلکي او فني نوښتونو وړتیا لرل، د ټولنې د غوښتنو او ضرورتونو درک کول، د عوامو د حقوقو د ساتنې لپاره مبارزه، د راپور لیکنې وړتیا لرل، د سیمې او نړۍ د مهمو شخصیتونو په هکله معلومات لرل، د ښو او بدو ترمنځ توپیر (بدر،۲۰۱۳م،ص،ص. ۹۸۱-۹۸۳).

خالد حبیب لیکي:( سرمقاله لیکونکی باید په عقیدوي او ملي مسایلو خبر وي، ملي ګټو او څمکنی بشپړتیا ته ژمن وي، د لارښوونې او مسوولیت پذیرې احساس ولري، مسلکي لاس تېزی وي، د پنځونې وړتیا ولري، په ټولنه کې د عادل، متوازن او منلی شخصیت ولري، مسلک او مسلکي اخلاقو ته ژمن او بالاخره د هېواد شته قوانینو ته پوره احترام ولري (حبیب،۱۳۹۳ش، ص.۶۷-۶۹).

که د سرمقاله لیکونکي ذکر شوی ځانګړنو ته ځیر شو تقریباً سره ورته او مهم دي، که کوم لیکوال

د سرمقالې لیکلو برخې: په دې برخه کې لیکوالان سره موفق نه دي، ځینو یې د سرمقالې د ښې توضیح لپاره په څلورو او ځینو یې پر دریو برخو دا برخه وېشلې ده، رضوي لیکي: سرمقالې په لاندې دریو برخو وېشلی کېږي چې له (پېژندنې، متن او نتیجې) څخه عبارت دي (رضوي،۲۰۰۹م، ص.۶۷).

ولې همدغه برخه بیا پوهاند مسکین علي حجازي او افتخار پر ۴ برخو وېشلې ده ۱-عنوان او حقایق. ۲- د پېښې وضاحت. ۳- شننه او تبصرې. ۴-دلایل نتیجه او پرېکړې،(افتخار،۲۰۱۳م، ص.۱۲۳).

۱ **عنوان.** ۲- په لنډیر سره د حقایقو او پېښو بیان.۳- معلومات پر دلایلو او شواهدو ثابتول.۴- پایله یا پرېکړه او نظر .(حجازی، ۱۳۸۶ش،ص.۱۶۲).

**عنوان**- د سرمقالې په عنوان کې د موضوع غورچاڼ بیانیږي څو لوستونکي د عنوان په لیدو سره موضوع سر ترپایه درک کړي.لکه (په منځني ختیځ کې جګړې) یا ( ایران او اسرایل د جګړې په درشل کې). (شاهد، ۱۳۸۵،۱۳۶).

موضوع لنډیز- دې برخه کې د سرمقالې مهم موضوعات او حقایق ذکر کیږي، لوستونکو ته د معلوماتو کلیدي ټکي په لاس ورکوي.

د موضوع وضاحت- دا د سرمقالې هغه برخه ده چې د خبر، پېښې یا موضوع مکمل تفصیل پکې ذکر کیږي، د پېښې ټولې زاویې، اړخونه د دلایلو، اسنادو او شواهدو په رڼا کې توضیح کېږي، موخه یې د لوستونکو ته د موضوع په اړه دقیق او کره معلومات ورکول وي او د پېښې په تړاو له هر ډول شک او شبهې څخه خلاص او کره پرېکړې ته ځان چمتو کړي، هغه لوری وټاکي چې په خیر یې وي، ځکه زیات خلک وخت نه لري چې مسایل سر ترپایه وڅاري؛ وې ګوري؛ بلکې رسنیو ته سترګې په لار وي.

**پایله(نتیجه)**

دا د سرمقالې اخري برخه ده لیکوال غواړي د خپلې ادارې د رسنیزې پالیسی په رڼا کې دپېښې لنډیز وړاندې کړي، له لوسوتونکو غوښتنه کېږي چې موضوع له دې زاوې درک کړي، څرنګه چې هره رسنیزه اداره ځانګړې پالیسي لري ممکن یوې موضوع ته مختلفې رسنۍ له مختلفو اړخونو وګوري ولې ملي، مسلکي په خدای، خاوره او دین مین لیکوالان تل پېښې د خپلو دیني، ملي او ټولنیزو شرایطو په نظر کې نیولو سره وړاندې کوي، خلکو ته د موضوعاتو اوپېښو په تړاو هغه نظر ورکوي چې د مخالفو هېوادونو، حکومتونو ادارو او وګړو مضر فکر ته اجازه ور نکړي، چې زموږ عقیدوي، ملي، مذهبي مقدسات او نوامیس له خطر سره مخامخ کړي.

د مرحوم استاد هاله په وينا: ملي ژورنالېستان تل هڅه کوي چې ملي بېړۍ له خطرونو وساتي او هغه لوري ته يې رهنمايي کړي چې د ټولنې مذهبي، ملي، فرهنگي او تاريخي گټې وساتلی شي.

**پايله**

دا چې مقاله د بشري ټولنې د علمي مسلکي او ذهني پرمختگ ځانگړی ژانر دی چې عام او خاص خلک د ټولنې له مختلفو اړخونو د پرمختگ او هوساينې پر لوري هڅوي، له مهمو مسايلو، پېښو او معلوماتو او خوځښتونو يې خبروي نو لازم دی چې د ليکلو لپاره يې کره علمي متجرب او مسلکي ځواک ولرو، ځکه هغه پېښې چې په ځينو نړېوالو مقالو کې د هېواد او سيمې په اړه ليکل کېږي لوستل او پر موخو يې د مسئولينو، چارواکو او ټولنې خبرول لازم او په ځواب کې د هغوی د نظرياتو ردول او ځوابول د ژورناليزم او ليکوالانو ځانگړی، علمي، ملي او مسلکي مسووليت گڼل کېږي، متاسفانه چې موږ تر دې دمه د هېواد په کچه داسې اداره، ځواک بشري شعوري، مسلکي او فني ټولنه نه لرو، همدا علت دی چې زموږ مطبوعات پيکه او هر وخت د چارواکو پر صفتونو نه مړېږي، دحقيقت، خدای پرستی او وطن پالنې ځای مو تملق ته ځانگړی کړی دی، د هغې ورځې په هيله چې موږ د الله تعالی د رضا لپاره قلم په لاس او هغه څه وليکو چې د خدای رضا، د مشرانو اطاعت او د ملت خوښي پکې نغښتې وي.

موږ په دې علمي مقاله کې د مقالې او سرمقالې د پېژندنې، جوړښت، ارزښت، ډولونو او چوکاټ په اړه معلومات وليکل چې د هېواد په کچه ورته د مسلکي کسانو اړين ضرورت دی، همدارنگه د اطلاعاتو او فرهنگ رياست غوښتنه وه؛ چې موضوع ته زموږ پام شو او تر خپله وسه مو هغه څه وليکل چې اړين وو، په مقاله کې مو د مقالې او سرمقالې تر منځ د توپير په هغو برخو معلومات راټول کړل چې تر دې دمه د چا ورته نه ووپام شوی او ياپې په دې اړه څه نه وو ليکليي؛ په هر حال، ما خپلې تجربې او مطالعې چې په ښه اړه مې لرلې له درنو لوستونکو سره شريکې کړې، څرنگه چې چاپي خپرونې د علمي، فکري او شعوري ټولنې خوراک گڼل کېږي څو هغه څه چې دوی ضرورت لري ورته خپاره کړل شي، دا چې زموږ ټولنه ډېری بې سواده، ده کم خلک دي چې شعوري بيداري (چاپي، مسلکي) خپرونو ته اړتيا لري، موږ د همدې موخو لپاره د سرمقالې ليکنې په اړه خورا اسانه، روښانه معلومات و ليکل څو نوي ځوانان وکولای شي عملاً په مسلکي برخه کې هغه څه تر لاسه کړي چې ضوروت يې لري.

**وړاندیزونه**

دا چې مطبوعات د ملتونو د ضمیر غږ او د راتلونکي ژوند لپاره د ټولنې بنسټ ګڼل کېږي له همدې کبله د وخت حکومت او مسوولینو ته لاندې سپارښتنې لرم.

- ملي مطبوعات باید د هېواد د ښکاره اوپټو مخالفانو په ضد ګام پورته کړي د هغوی مضرانه بې ځایه تبلیغات افغاني او نړۍ والې ټولنې ته رسوا کړي، ویده او غفلت نیولي خلک یې په مقابل کې را ویښ کړي.
- حکومت دې د اسلامي او افغاني اصولو په رنا کې رسنۍ تقویه کړي چې پر مفسدو، خپل چارو، مغرضو او زور واکانو باندې د اصلاح په خاطر نقد وکړي څو ناروا لارپرېږدي او د دښمن لاس نیوی پرېږدي.
- د ژورنالیزم د مسلکي او علمي معیارونو په رڼا کې دې هغو مسلکي کسانو ته چې وړتیا یې لري د مسلکي زده کړو زمینه سازي وکړي څو زموږ چاپي خپرونې د رکود له حالت څخه دپویا حالت ته واوړي، ځکه موږ داسې لیکوالان نه لرو چې د بهرنیو رسنیو په ځواب کې مسلکي ځواب ووایي، د هغوی د بې ځایه تبلغاتو مخه ونیسي یا په ملي مسایلو کې د پردیو تبلیغاتو ته ځوابونه ووایي.
- هغه کسان چې د مقالې، سرمقالې لیکلو وړتیا لري حکومت دې ځانګړې توجه وکړي، په مسلکي لحاظ د لاغښتلي کړي، ځکه د اطلاعاتو فرهنګ ریاست غوښتنه لري چې زموږ زموږ د ملګرو د لیکوالي برخه ضعیفه ده د مسلکي ځواکمنتیا لپاره یې کار کول په کار دي.
- د اصلاح په خاطر د نقد ته اجازه ورکړل شي څو مسئولین له نفسي خواهشاتو خلاص او د اسلام د سپېڅلې عقیدې په رڼا کې ملي مسایلو ته متوجه شي.
- د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د نویو ژورنالېستانو ته د تحلیلي ژورنالیزم (مقاله، سرمقاله، کالم، فیچر، تبصرې او شننو په اړه ځانګړي مسلکي، علمي برنامې جوړې کړي څو عملا لیکنې وکړي، لارښوونې ورته وشي، تجربې یې زیاتې شي، څو د عملي کار په خاطر زمینه سازي ورته برابره شي، له دې لارې به زکوږ د چاپي خپرونو اغېز په عوامو باندې پیاوړی شي، مطبوعات به مو له پیکه کېدو څخه وژغورل شي.

# The Distinction Between Articles and Editorials in Analytical Journalism

Associate professor Mohammad khan niazi lecturer of Communication and Journalism Faculty, Department of Public Relations
belalahmad2020@gmail.com

**Abstract**

Articles and Editorials constitute an essential part of analytical journalism and are Considered the intellectual Nourishment of the scholarly Community. The term was first Used in 1740 in Sweden by the renowned poet Zabin for the analysis of hymns, and later in 1952 by the linguist Zellig Harris. The primary purpose of this paper is to clarify the distinctions between articles and editorials across multiple dimensions and to address the needs and requirements of the Department of Information and Culture. The value of this study lies in the fact that, although definitions and structural frameworks for articles and editorials have been provided by various authors, no comprehensive discussion has been undertaken regarding their differences particularly in a manner that satisfies the intellectual demands of emerging professional and young writers. This gap has long posed a challenge for the Department of Information and Culture and media practitioners. The methodology of this study is descriptive and bibliographic, as numerous writers have previously contributed to this subject. The findings of the research delineate the major distinctions between articles and editorials in terms of information, timing, authorship, policy, value, impact, subject matter, resources, tools, and content areas that have remained ambiguous for many novice professionals.

**Keywords**: value, impact, distinction, policy, Editorial, Challenge, Articl

**ماخذونه**

اصغر, ه. س) .۱۳۹۵ ش ( د مقاله لیکنې بنسټونه) جلال اباد: هاشمي خپرندویه ټولنه.

افتخار, م) .۲۰۱۳م .(کمونیکشن سټډیز .لاهور: ایت پبلشرز.

بدر, م. ز) .۲۰۱۳ م .(ابلاغیات .لاهور: مکتبه دانیال.

ثاقب، ریاض.(۱۳۸٦ش). نوې خبریالي .(ژباړن نذیرامحد سهار).کابل: انتشارات میوند.

حبیب, خ.ا) .۱۳۹۲ ش .(تحلیلی ژورنالیزم .خوست : عرفان خپرندویه ټولنه خوست.

حجازي, م.ع) .۱۳۸٦ش .(اداریه .پکتیا: نښتر خپرندویه ټولنه.

رضوي,ا. ک) .۲۰۰۹ .(معیاري صحافت .لاهور: غلام رسول اینډ سنز.

رضوي,ا. ک) .۲۰۰۹م .(معیاري صحافت .لاهور: چوهدري غلام رسول اینډ سنز.

سعید, م. ز) .۲۰۱۳ م .(ابلاغیات .لاهور: مکتبه دانیال.

شاهد,ا.ا) .۱۳۸۵ ش .(د ژورنالیزم مطالعه .پېښور: دانش خپرندویه ټولنه..

عبدالمنان, ص) .۱۴۰۳ ش .(تحلیلي ژورنالیزم .کابل : رهبر خپرندویه ټولنه.

غروال, م. و) .۱۴۰۰۰ش .(معرفي و شناخت ژانر های تحلیلي .کابل: انتشارات سعید.

نیازی, م. خ) .۱۳۸۵ ش .(غوره ژورنالیزم. خوست : حسین احمد چاپ خانه.

نیازی, م. خ) .۱۳۹۷ ش .(د اړیکو بنسټونه . خوست : ملگرو مطبعه.

نیازی, م. خ) .۱۴۰۳ ش .(د عامه افکارو د پنځونې، لارښوونې سرچینې .خوست: شیخ زاید علمي ژورنال.

هاشمي, س.ا) .۱۳۹۵ ش .(د مقاله لیکنې بنسټونه .جلال اباد: هاشمي خپرندویه ټولنه.

وفا, ه.ا) .۱۳۹۵ ش .(د مطبوعاتو تلحلیلي ژانرونه . کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.

# د مجرمینو په تثبیت کې د ګوتو د کرښو اهمیت

پوهندوی عرفان وزیر، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.
**برېښنالیک**: irfanwazir789@gmail.com

**لنډیز**

د ګوتو کرښې په عمومي ډول د انسان د هویت او پېژندنې او په ځانګړي ډول د جنايي هویت تر ټولو منل شوی او دقیق میتود ګڼل کېږي. دغه ځانګړتیا د زېږون څخه تر مرګه بدلون نه مومي او په نړۍ کې د هر انسان لپاره د ګوتې کرښې یا نقشونه ځانګړي دي او د هېڅ شخص بل شخص ته کاملا ورته والی نلري، ترڅنګ یې همدا کرښې د ډېرو کمو جزوي ناروغیو پرته د تغییر وړ نه دي او د موقتي ستونزو په صورت کې بېرته په خپل اصلي حالت باندې راګرځي او د اجسامو سره د تماس به صورت کې خپل نقش په عادي ډول انتقالوي. په دې مقاله کې د ګوتو د کرښو او نښانونو اهمیت، د کارولو او استفادې طریقې او په افغانستان کې د تطبیق وړ اړخونو ارزونه شوې. که په ټولو مواردو کې د هویت د تثبیت لپاره د ګوتو نښانونو څخه د استفادې موارد عام شي نو ټولنیز نظم او عدالت به له نور پراخ او د امن مستحکم کېدو امید به نور هم پیاوړی شي او ټولنه به د جرایمو او مجرمینو په وړاندې هوسا ژوند ولري. د څېړنې میتود یې کتابتوني څېړنه او د موجودو علمي منابعو تحلیل باندې متکي ده. پایلې ښيي چې د ګوتو کرښې په جنايي هویت پېژندنه کې خورا لوړ دقت لري او د نورو بایومتریکي میتودونو په پرتله د باور وړ، چټکه او اقتصادي وسیله ده.

**کلیدي کلمې**: بایومتریک، جنايي څېړنه، د کرښو ځانګړنې، د ګوتو کرښې، د ګوتو مخفي اثار

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

په ټولنیز ډول د انسان پېژندنې لپاره مختلف او بېلابېل میتودونو کارول کېږي، په تاریخي لحاظ د انسانانو د هویت د تشخیص لپاره بې شمېره داسې طریقې کارول شوي دي، چې د همغه وخت مطابق مناسبې او عادلانه ګڼل کېدې، ولې د وخت په تېرېدو سره بیا هغه روښونه د انساني هویت د پېژندنې لپاره په مراتبو نامناسبې، غیرعادلانه او حتی ظالمانه او غیر انساني ګڼل شوې دي. مثلا: له دغو ګڼو مروجو طریقو څخه د اعضاوو قطع کول او د اعضاوو داغ کولو یادونه کولی شو. د انساني ټولنو په پرمختګ سره د انسانانو د هویت د تشخیص په برخه کې لوی انقلاب د ګوتو د نښو اړوند څېړنې او مطالعات دي چې د انساني هویت د تشخیص اساس وګرځېده. له هغه وخت راهیسې چې دغه کشفیات ترسره شوي تر دغه موجود وخت پورې د ګوتو کرښې په عمومي ډول د انساني هویت د تشخیص او په ځانګړي ډول د جنایي هویت د تشخیص په ډګر کې د نه تکرارېدونکې بڼې له امله ځانګړې اهمیت لري. د ګوتو د کرښو پېژندنه له شاوخوا یوې پېړۍ راهیسې د پولیسو او عدلي څېړنو د بنسټیزې وسیلې په توګه کارول کېږي او په افغانستان کې د بایومتریک سیستمونو د ودې سره سره د ګوتو د کرښو د سیستم پیاوړتیا کولی شي د عدلي ارګانونو شفافیت او د جرمونو د سریع او دقیق تثبیت کچه لوړه کړي.

**د موضوع اهمیت**

دغه تحقیق څرګندوي چې د انسانانو د ګوتو د کرښو څخه د هویت د تشخیص لپاره استفاده په نړۍ کې په بې ساري ډول معمول ده او په ځانګړي ډول په جنایي برخه کې د هویت پیژندلو لپاره نړیوال او تر ټولو منل شوی میتود دی، نو که چېرې زموږ په هېواد کې هم په ټولو مواردو کې د هویت د تثبیت لپاره د ګوتو نښانونو کارول عام شي نو ټولنیز نظم او عدالت به له نور پراخ او د امن مستحکم کېدو امید به نور هم پیاوړی شي. د ګوتو د نښانونو یوه اندازه هغه موارد په ګوته شوي چې د بایومیټرېک په واسطه د ګوتو له نښانونو څخه په هغه ساحو کې استفاده کېدلی شي.

**د موضوع هدف**

د دولتونو جنایي پالیسی د دې لپاره وي چې د مختلفو وقایوي او اجرایوي کړنو په واسطه د جرایمو ګراف تر ټیټې کچې راوالي او شته مجرمین حتما کشف او مجازات کړي. تر څو ټولنه د جرایمو او مجرمینو په وړاندې هوسا ژوند ولري. نو د دغه څېړنې څخه هم هدف دا دی چې د نورو عواملو ترڅنګ د ګوتو د کرښو څخه زموږ په ټولنه کې هم په پراخ ډول د هویت پېژندنې او په خاص ډول په جنایي برخه کې د مختلفو پرمختللو میتودونو

او وسایلو څخه استفاده صورت ونیسي، ترڅو د جرایمو ګراف راټیټ، واقعي مجرمین مجازات او بې ګناه اشخاص د جزا لاندې رانشي.

**د تحقیق تګلاره**

دا څېړنه د کتابتوني څېړنې پر بنسټ ترسره شوې ده. کتابونه، علمي مقالې او نړیوال راپورونه څېړل شوي او د ګوتو کرښو د پېژندنې اړوند پایلې تحلیل شوې.

**د ګوتو کرښې**

د انسان بدن زیاته برخه ویښتانو پوښلې ده او په زیاتو برخو کې دغه ویښتان وده او نمو نه کوي، په سترګو نه لیدل کېږي او څو برخې د انسان د بدن په کُلي ډول د ویښتانو نه لرونکي دي لکه: د لاس ورغوی، ګوتې، د پښتو تلې، خو هغه برخې چې ویښتان نه لري د برجسته خطونو لرونکي دي چې د پاپیلارټي (Papillary) خطونو په نوم یادېږي. دغه خطونه مختلف شکلونه تشکیلوي چې په مختلفو ځایونو کې یو له بل څخه فرق کوي. د بدن پوستکی د دوو اصلي برخو څخه تشکیلېږي، چې د داخلي او خارجي قشر څخه عبارت دی. د داخلي قشر پر مخ واړې برامده ګی وجود لري چې د خطونو طرحه او نقشه تشکیلوي چې حسي اعصاب د ګوتو د داخل څخه په ژور شوي شکل د خطونو په منځ کې امتداد پیدا کوي او په بندونو ختمېږي (واصل، ۱۳۹۲ل ص. ۴۴ـ۴۵).

**د ګوتو د کرښو څخه د استفادې تاریخچه**

د ګوتو د خطونو د پېژندلو او د هغې د منځ ته راتګ مشخص تاریخ معلوم نه دی،
رابرت هیندل الماني جرم پېژندونکي د ګوتې نښان تاریخ په لېرې شرق کې په دقت سره مطالعه کړی دی او دې نتیجې ته رسیدلی و چې ۹۰۶ کاله مخکې د عیسیٰ(ع) د میلاد څخه د ګوتې د آثر څخه د هویت تشخیص لپاره د ځمکې د کره په دغه برخه کې استفاده شوې وه (مهدی، ۱۳۴۵ل، ص. ۴۵). د یادونې وړ ده چې د قیامت سورت په ۳ او ۴ ایت کې په ضمني طور دغه الهي لویې معجوزې ته یعنې د ګوتو د سر برجسته خطونو ته اشاره شوې ده. ایحسب الانسان الن نجمع عظامه بلی قادرین علی آن نسوی بنانه. ترجمه: ایا انسان په دې ګمان دی، چې له مړینې وروسته به یې هډوکي را جمع نه کړو، بلې موږ په دې جمع کولو قادر یو حتی چې د ګوتو سرونه به یې په بشپړ ډول جوړ کړو.

په علمي صورت سره د ګوتو سرونو او د لاس او پښو د ورغویو د برجسته کرښو تاریخي سابقه د ۱۷ پېړۍ دویمې نیمایي ته راسېږي چې په ۱۶۸۴م کال ډاکټر ناهیما ګریو په انګلستان کې او په ۱۶۸۶م کال ډاکټر مارسلو مالپیګي د ایټالیا مشهور اناتومیست او د بوګاته د پوهنتون استاد نوم اخیستلی شو، چې د ګوتو د خطونو نقشونو ته متواجه

شول او د علمي لحاظه يې د ګوتو د خطونو د منځته راتلو طرز مطالعه او ثابت کړو. په هر حال د پورتنيو توضيحاتو څخه په ښه شکل استنباط کېږي چې پخوا هم ټول د ګوتو آثارو ته د پام وړ اهميت باندې قايل و. خلاصه دا چې د ګوتو د آثارو په وسيله د هويت تشخيص د دوو انګلسي اشخاصو په واسطه چې په آسيا کې يې ژوند کولو په يوه وخت کې په جدا ډول کشف شوی دی. يو د دغو کسانو څخه سرويليام هرشل د هندوستان د بنګال ايالت ګورنر او بل دوکتور هنري فولدز دی چې د جاپان د توکيو شفاخانې غړی و. دواړو د دې ادعا کوله چې په اسيا کې د ګوتو د اثارو څخه د هويت د تشخيص په منظور د هېڅ قِسم تاريخي سابقې په مورد خبر نه وو.

سرويليام هرشل د بنګال ګورنر په ۱۸۵۸م کال کې د ګوتو آثارو ته متواجې شو او د شلو کالونو په موده کې يې په خپلو ګوتو تجربې تر سره کړې، هر کال به يې د خپلو ګوتو نښان په منظم ډول اخيسته او هغه به يې د خپلو ګوتو د پخوانيو نښانونو سره مقايسه کولو، چې ايا په هغه کې تغييرات منځته راغلي دي او که نه؟ نوموړي د شلو ۲۰ کالو په تجربې سره پيدا کړل چې د ګوتې نښان د اولني حالت څخه هېڅ تغيير نه دی کړی او هم زمان يې د نورو خلکو د ګوتو نښانونه اخيستل او د مشباهت له لحاظه به يې ورسره مقايسه کول. نو د دغه زيات وخت په جريان کې يې هېڅ نوعه مشباهت د بنګال د خلکو د ګوتو په منځ کې پيدا نه کړو. د بنګال ګورنر ۲۰ د شل کالنې تجربې څخه دا پيدا کړل چې د ګوتې نښان د انسان د عمر په اوږدو کې تغيير نه کوي او د نورو اشخاصو د ګوتو د نښانونو د مقايسې څخه دې نتيجې ته ورسېده چې د انسانانو د ګوتو د نښانونو تر منځ مشباهت وجود نه لري. نوموړي د دغه حقيقت د کشف څخه وروسته امر وکړ چې د مستخدمينو د قرارداد د منعقدولو په پاڼو، د متقاعدينو د اسنادو ترتيب، تجارتي معملاتو او نورو مواردو کې دې د امضاء تر څنګ د ګوتې نښان هم واخيستل شي او د مجرمينو او محبوسينو د هويت تثبيت په خاطر يې د ګوتې نښان اخيستل ضروري وګڼل له همدې سببه ده چې علما او پوهان سر ويليام هرشل د ګوتې نښان پېژندنې موسس ګڼي. همدا شان په ۱۸۸۰م کال کې يو اسکاټلينډي ډاکټر د هنري فولدز په نوم چې د جاپان د توکيو په شفاخانه کې يې د طبابت وظيفه ترسره کوله د طبابت تر څنګ يې د ګوتې د نښان د خصوصياتو په مورد علمي تحقيقات ترسره کړل، ياد شوي ډاکټر لومړی د خاورينو لوښو پرمخ د ګوتو نقش ته متوجه شو او د هغه رابطه يې د لوښو جوړونکي سره په کلي ډول مطالعه کړه او د علمي تحقيقاتو په اساس يې دا پيدا کړه چې د انسان د هويت تثبيت لپاره د تفکيک بهترينه وسيله د ګوتې نقش ګڼل کېږي. ډاکټر هنري فولدز خپل نظريات په يوه طبي نشريا کې چې د نيچر په نوم وه نشر کړل او خپل ځان يې د ګوتې د نښان پېژندلو مکتشف معرفي کړ. هغه وخت چې ياده شوي مجله د بنګال ګورنر سرويليام هرشل لاس ته ورسېده نوموړي فوراً د نيچر (تبعيت) په نوم مجلې ته په ليکلي ډول وليکل: چې

ما د ۲۰ شلو کالو څخه زیات خپل مطالعات د ګوتې پېژندنې په موضوع باندې انجام کړي دي او د ګوتې پېژندلو آثر ارزښت مې مخکې د هنري فولدز څخه کشف کړی دی. د یادونې وړ ده چې په ۱۸۸۸ م کال کې سرفرانسس ګالتون د انګلستان ریاضی پوه د بنګال ګورنر سرویلیام هرشل تحقیقات راجمع او فرمول بندي کړل، وروسته د هغې نه سرادوارد ریچارد د لندل ښار د پولیسو رئیس د یادو شویو علماوو نظریات د جدیدو اصولو په اساس طبقه بندي او تکمیل کړل، چې د هانری ګالتون سیستم په نوم یادېږي. په دې ترتیب د ۱۹ کرن په اخېر کې د جرم پېژندنې استاد جان وستیش چې د ارژنتین تبع و په خاص ډول یې په زندان کې د جنیانو د هویت د تثبیت په خاطر ورڅخه استفاده وکړه. په ۱۸۹۱م کال کې د لومړي ځل لپاره په لاتین امریکا کې د ګوتو علمي طبقه بندي ترسره شوه او په خاص ډول د ګوتې د نښان طبقه بندي د اجسمامو پر مخ د مجرمینو د ګوتو د اثارو پیدا کول او د هغې له مخې د مجرمینو د هویت د تثبیت لپاره ښه او موثر قواعد کشف شول او په دې ترتیب اروپایي هېوادونو حاصتاً المان هېواد د خپلو پولیسو په نظام کې تنظیم کړل. بناً نن ورځ د هانري ګالتون سیستم په انګلستان، ایرلنډ، امریکا، جنوبي افریکه، استرلیا، هند، پاکستان او ایران هېوادنو کې معمول دی. چون دا چې د ګوتو د نښانونو زیات استعمال په نړۍ کې لومړی مقام لري، نو زمونږ هېواد افغانستان د هویت د تشخیص اداره هم له دغه سیستم څخه د هویت د تشخیص لپاره د ګوتې نښان یوه وسیله پېژندلي ده (واصل، ۱۳۹۲ل، ص. ۴۵-۴۹).

**د ګوتې د کرښو (نښان) ځانګړنې**

هغه خصوصیات چې د ګوتې نښان اخیستلو علم پرهغو ولاړ دی او د هغو په اساس کولی شو چې د هویت تشخیص په مورد د ګوتې په نښان اعتماد وکړو، دغه ځانګړنې د انفرادیت ځانګړنه، د تغییر نه قبلولو ځانګړنه، د ترمیم او التیام ځانګړنه او د اجسامو پرمخ د انعکاس ځانګړنې څخه عبارت دي:

**د انفرادیت ځانګړنه**

د انسان د لاسونو او پښو د ورغویو پوستکی نسبت د وجود نورو برخو ته یو څه زیګوالی او بابروالی لري، که چېرې په دقت سره د مطالعې لاندې ونیول شي نو وبه لیدل شي چې په هغې کې یو قسم خطونه وجود لري او د دغه خطونو په منځ کې یو تعداد متفرقه علایم وجود لري.

دغه علایم تردې حده د یوه او بل څخه متفاوت دي چې نشو کولی په ټول جهان کې د ګوتې یو شان نښان پیدا کړو.

هغه وخت چې د لومړي ځل لپاره د هویت تشخیص په مورد د ګوتې نښان اخیستلو د علم څخه استفاده وشوه، نو د طب د ډاکټرانو او حقوقدانانو د استفادې وړ وګرځېده. په هغه مقالو کې چې د ګوتې د نښان خطونو په مورد په ورځپاڼو کې نشرېږي او ادعا کېږي، چې د ګوتې د نقشونو خطونه د امکان وړ دي چې د تمامو جزئیاتو سره یو ځای په وراثت سره انتقال شي، ولې په ۱۷۹۲م کال کې یو بل عالم د فورژو Fourjoo په نوم مختلفې کورنۍ چې د یوه او بل سره یې په خپل منځ کې ازدواج کړی و د څېړنې په اساس دې نتیجې ته ورسېده چې تر دریم نسله پورې د ګوتو آثار میراثي نه دي.

په هر صورت ټول متحصصین او پوهان په اتفاق سره دغه عقیده لري چې په هېڅ صورت به د ګوتې مساوي او یوشان نښان د پلار، مور، اولادونو، ورونو او خوېندو په منځ کې ونه لیدل شي. په اخیر کې په صراحت سره ویلی شو چې د امکان وړ نه ده چې په نړۍ کې د ګوتې دوه یو شان آثار پیدا کړو، بلکې د ګوتې اثر د هر شحص مربوط په همغه شحص پورې دی او په ارث باندې نه انتقالیږي (واصل، ۱۳۹۲ل، ص. ۵۳ـ ۵۴). نو بناء د ګوتو د کرښو څخه د هویت پېژندنې دقت د ۹۹٪ فیصدو څخه هم پورته دی (Jain et al, 2004, P. 24). او هر انسان د ګوتو ځانګړې کرښې لري چې د هیچا سره یې شراکت او ورته والی موجود نه دی ( Maltoni, 2019, P. 37).

**د ګوتې نښان د تغییر نه قبلولو ځانګړنه**

یو بل د خصوصیاتو د جملې څخه چې د ګوتې نښان اخیستلو د علماوو د توجه او علاقې وړ ګرځېدلی دی، هغه د تغییر نه قبلولو اصل دی یعنې هغه وخت چې د ګوتو پر مخ نقشونه ښکاره شي حتی د مرګ ورسته تر هغه وخته پورې چې د ګوتې پرمخ پوستکی د منځه لاړ نه شي دغه خطونه تغییر نه کوي. لکه څه قسم چې دغه خطونه د مور د حاملګۍ په څلورمه میاشت کې د ۱۰۶ یوسلو شپږو ورځو په منځ کې د جنین د پیدا کېدو سره منځ ته راځي او هغه وخت چې دونیا ته راشي نو د طفولیت، ځوانۍ او بوډاوالي پورې دغه خطونه ښکاره، برجسته، لوی، واضح او پراخېږي اما تعیر نه کوي. د دغه خاصیت مطابق که چېرې د مرګ څخه ورسته جسد ثابت پاتې شي د ګوتو نقشونه تغییر نه کوي. همداشان خارجي حوادث لکه ضربات، سوزېدنه، زخمونه او شاړیدنه د ګوتو په خطونو تاثیر نلري او د صحت موندنې وروسته بېرته لومړني حالت ته راګرځي. د ګوتې نښان اخیستلو علماء د شدیدو دردونو په تحمل سره په خپلو ګوتو باندې لکه: د ګوتې د پوستکي قطعه کول، د ذغالو په واسطه د ګوتې سوازول، جوش شوو اوبو، د غواړیو داغ، د وېلې شوو سربو سره تماس او د خپلو ګوتو په سر د ضرباتو واردولو اوږدې تجربې انجام کړي دي، ولې وروسته د التیام او صحت موندنې د ګوتې خطونه په همغه قسم بدون د کوم تغییره په خپل اولني شکل ښکاره شویدي. د یادونې وړ ده چې د ګوتو په خطونو کې د

ماشوموالي د کالونو څخه د بوډاوالي د کالونو پورې صرف یو فرق ښکاره کېږي چې د ماشومتوب په ورځو کې د ګوتې خطونه په باریک او نازک شکل باندې وي ولې د ځوانۍ په ورځو کې دغه خطونه یو څه اندازه ښکاره او برجسته وګرځي او د بوډاتوب په عمر کې دغه خطونه لوی، عریض او پراخیږي او د نقشونو، خطونو، خصوصیاتو او ممیزاتو له لحاظه هېڅ تغییر په هغې کې نه رامنځ ته کېږي. بنآء د ګوتو خطونه صرف د مرګ وروسته او د جسد د منځه تللو او پوسیدلو په صورت کې د منځه ځي په دې ترتیب ویلی شو چې د ګوتو خطونه مشخص علامات دي چې مونږ یې د زانګو څخه تر ګوره پورې د خپل ځان سره لرو (واصل، ۱۳۹۲ل، ص. ۵۴ـ ۵۷).

**د ګوتې نښان د ترمیم او التیام ځانګړنه**

د ګوتې نښان یو بل توپیر او خصیت دا دی، چې د خارجي پېښو په مقابل کې لکه حرارت، سردي، ضرب او جرحې په صورت کې ټول خطونه بېرته په اصلي او لومړني شکل سره ترمیم او صحت پیدا کوي. ځکه د جنایي پېښو تاریخ معلوم دی چې یوې ډلې مجرمینو د دې لپاره چې خپل هویت یې د عدلي او قضایي ارګانونو څخه پټ ساتلی وي، نو په مکر او خیلې لاس پورې کوي چې خپله اصلي چهره پټه کړي او خپل هویت ته تغییر ورکړي ترڅو د قضاتو د حکم د صدور په وخت کې د متکرر مجرم د اتهام او د جرم د مشدده حالاتو د تطبیق څخه ځان ته نجات ورکړي. نو په سوازولو، د ضرباتو په وارده ولو او د ګوتې د خطونو په قطع کولو باندې اقدام کوي، ولې د ګوتې خطونه د ترمیم او التیام د ځانګړنې پر بنیاد ټول نقشونه او خطونه بېرته په اولني او اصلي شکل سره ښکاره کېږي او هېڅ نوعه تغییر په کې نه راځي او د بله طرفه جلدي بیماری بعضې وخت د ګوتو په خطونو باندې آثر وارده وي آما وروسته د مریض د صحت موندنې څخه د ګوتې خطونه بېرته لومړني حالت ته راګرځي. مګر بعضې جلدي ناروغۍ د ګوتې د مخ شکل او کیافې ته تغییر ورکوي چې دغه تغییر د ګوتو په خطونو هم تغییر وارده وي لکه: د جذام ناروعي، په داسې مواردو کې جلدي معالجوي دوکتوران نظر قانوني مکلفیت ته د دغو اشحاصو شهرت څخه مربوطه پولیسو ته اطلاع ورکوي. پولیس هغه مریضان چې د ګوتو خطونو او نقشونو یې د جلدي ناروغیو په اساس تغییر کړی وي د ګوتې د بېرته تثبیت په خاطر هغه ملي ارشیف ته معرفي کوي. په موقت ډول د ګوتو د نښانونو د کرښو خرابوالی او یا د پوستکي زیان له امله د هویت پېژندلو دقت کمېږي همداشان په دایمي ډول د ځینو مشخصو ناروغیو په صورت کې د ګوتو کرښې تغییر کوي او د هویت تشخیص ترې ستونزمن کېږي او یا په مطلق ډول سره ترې نه ثابتیږي (Ashbaugh, 1999, P. 23). همداشان د کیمیاوي موادو سره د تماس په صورت کې لکه تیزاب او دوامدار تماس د سمنټو او چونې سره د ګوتو د پوستکي مخ متاثر کوي ولې د دغه خرفې د پرېښودلو نه ورسته په زیتون غواړیو او ګلسرینو باندې د پاکولو او مساژ کولو

په صورت کې په ظرف د ۱۰ نه تر ۱۵ ورځو پورې د ګوتې خطونه بېرته د یوې تازګۍ او برجسته ګی سره په خپل اصلي حالت باندې ښکاره کېږي (واصل، ۱۳۹۲ل، ص. ۵۷ـ ۵۸).

**د اجسامو پر مخ د انعکاس ځانګړنه**

د ګوتې د نښان یوه بله ځانګړنه دا ده چې د ګوتې خطونه د یو جسم سره د تماس وروسته په جسم باندې انعکاس پیدا کوي ځکه د لاس د ګوتو خطونه، د لاس ورغوی یا د پښې ګوتې یا تاله او یا هر یو د دې نه د پوستکي لاندې ترشح کوونکي عدوات لري، چې په حقیقت کې همېشه د دغو خطونو مخ د مایعاتو په ترشح لوند او کاکړېږي. په دغه مایع ماده کې تقریبآ د 98,8 نه تر 99,5 فیصده پورې اوبه او باقي یې مالګې، اسیدونه، البومینونه، ویټامینونه او د غوړو څخه مرکب دي. هغه وخت چې د هموارو او صیقل شوي سطحو لکه ګیلاس، شیشه، د دروازې لاستی، سیف، د فارمیکا لرګی، پلاستیک، سنګ مرمر او په کاغذ باندې لاس لمس کوي د عدواتو څخه د تراشح شوي مایع ترکیب د جسم پر مخ د خطونو آثر پرېږدي او وروسته د مایعاتو د تبخیر څخه جامد مراکب د جسم په صیقل شوي سطحه د ګوتو د خطونو په شکل چسپ کېږي او یو پټ اثر د ځانه پرېږدي. ځینې وختونه د وهلو او لاس اچولو په اساس د مجنی علیه په پوستکي باندې د مجرم د ګوتو نښانونه باقي پاتې کېږي، مګر د دغه آثر ښکاره کول یو ډېر پرمختللي تخنیک ته ضرورت لري (واصل، ۱۳۹۲ل، ص. ۵۸).

**د ګوتو د خطونو او نقشونو ډولونه**

د ګوتو نقشونه په عمومي صورت سره په څلورو اساسي او اصلي ګروپونو تقسیمېږي او هر یو د هغې نه مشترک کلي مشبهات او مشخصات لري چې تقریبآ یو شان دي. اما هر یو د دغه اساسي ګروپونو څخه په نورو فرعي ګروپونو تقسمېږي، چې د هغو اساس د هماغه ګروپ د کوچنیو نقشونو پر اختلاف او عدم شباهت باندې ولاړ دی. د ګوتو د خطونو او نقشونو اصلي ډولونه عبارت دي له:

۱ـ قوسي خطونه. ۲ـ حلقوي خطونه. ۳ـ ګردابي خطونه. ۴ـ مراکب خطونه. د ګوتو د نښانونو دغه څلور ګروپونه په نورو فرعي ګروپونو ویشل شویدي: ۱ـ قوسي خطونه په ساده قوسي خطونو او خیمه یي قوسي خطونو. ۲ـ حلقوي خطونه په حلقوي رادیال او حلقوي اولنار خطونو. ۳ـ ګردابي خطونه په ګردابي دایروي خطونو، ګردابي بیضوي خطونو او ګردابي فنري خطونو او ۴ـ مراکب خطونه بیا د پورته خطونو د مختلفو ډولونو څخه رامنځ ته کېږي چې په مختلفو شکلونو سره ویشل کېږي (واصل، ۱۳۹۲ل، ص. ۵۹ـ ۶۵).

### د مختلفو جرمي پېښو اړوند د ګوتو نښانونو د پیدا کولو طریقې

د ګوتو د خطونو څخه هر یو د خوالو د خارجولو لپاره د یوې منفذها رشتې لرونکې وي چې په عادي خلکو کې همېشه د هغو څخه خوالې ترشح کوي، همداشان امکان لري چې د شیانو د لمس کولو په وخت کې د خطونو پر مخ د خوالو او غوړوالي هغه نازک قشر چې موجود دی د هغې سطحې څخه یوې بلې برخې ته منتقل کړي او په همدې ترتیب د ګوتو د خطونو نقش د هغې پر مخ باقي پاتې کېږي. د یادونې وړ ده چې دغه نقشونه د مخفي نه لیدونکو آثارو په نوم یادېږي. بناء د مخفي اثارو لرونکو شیانو د محل د پیدا کولو لپاره باید د جرم صحنه په یوه منطقي روش سره وپلټل شي. د پاسنیو توضیحاتو څخه وروسته د ګوتو د آثارو د پیداکولو د طریقو په مورد دې نتېجې ته رسیږو، چې د ګوتو هغه ډول آثار او علایم چې مستقیماً د هغې لیدل مشکل وي نو د لاندې تدابیرو په واسطه مشاهده او پیدا کېدلی شي. له دغه میتود څخه صرف په هغه مواردو کې چې د ګوتې نښان صرف په شفاف جسم باندې باقي پاتې شوی وي استفاده کېدلی شي البته نه په تاریک او مکدرو اجسامو کې.

### د ماورای بنفش وړانګو په واسطه د جسم روښانه کول

(LED, UV) یا لېزر د ګوتو د کرښو یو شمېر نښې یوازې د ځانګړو څراغونو د رڼا لاندې ښکاره کوي. دا وړانګې هم په ځانګړي توګه په تیاره کې په نه لیدونکو سطحو باندې د ګوتو نښانونه ښیي. په هغه ځایونو کې چې د ګوتې نښان موجودیت احتمال موجود وي باید دقیقه پلټنه وشي او وروسته باید په یوه تیاره اطاق کې جسم ته د ماورای بنفش وړانګو لاندې قرار ورکړی شي ترڅو د ګوتې نښان د لیدلو وړ وګرځي ( Jackson & Jackson, 2017, P.126).

### د آیوډین بخاراتو د پاشلو په واسطه

په هغه جسم باندې چې تصور کېږي د ګوتې نښان به پر هغې پاتې وي نو د ایوډین کوچني ذرات په تیوب کې اچول کېږي او وروسته د پاشونکي الې په واسطه د نظر وړ جسم باندې پاشل کېږي چې پر اساس یې د ګوتې نښان ښکاره کېږي او د پېژندلو وړ ګرځي (واصل، ۱۳۹۲ل، ص. ۶۵-۶۸).

### د کیمیاوي محلولونو په واسطه مرطوب کول

جسم د نایتریدو نقرې په واسطه چې د مقطرو اوبو او استیک اسیدو مقدار په هغې باندې زیات وي کاکره وي او په تیاره کې یې پرېږدي وروسته یاد شوي جسم ته د لمر د روښنایی په مقابل کې قرار ورکوي، فوراً د ګوتې مخفي آثر د جسم پر مخ ښکاره کېږي، په لومړۍ مرحله کې عکاسي کېږي او باید هېر نه کړو، چې که ذکر

شوی جسم په دومدار ډول د نور په مقابل کې پرېښودل شي د ګوتې نښان زایل کېږي. نو د جسم څخه باید په تیاره کې ساتنه وشي. همداشان سایانوایکرلېټ کیمیاوي ماده ده چې د ګوتو پاتې شوو نښو سره تعامل کوي او نښه ښکاره کوي، نینهایدرین او سلورنایټرېټ هم کیمیاوي مادې دي چې د نښو د څرګندولو لپاره کارول کېږي. دا میتودونه په کاغذ، لرګي یا پلاستیکي سطحو باندې کارول کیږي (Champod et al., 2016, p. 33).

### د مختلفو پوډرو د پاشلو په واسطه

دا تر ټولو عامه طریقه ده چې د نه لیدل کېدونکو نښانونو د ښکاره کولو لپاره کارول کېږي. په دې طریقه کې مخصوص تور یا رنګه پوډر د برش په مرسته په مشکوکو سطحو لکه: دروازو، میزونو او ښیښو باندې اچول کېږي، نه لېدونکي نښانونه ښکاره کېږي، لومړی یې عکس اخیستل کېږي او بیا په ټېپ سره انتقالیږي ( Lee, 2010, p. 28).

په هغه صورت کې چې د ګوتې د آثارو موجودیت احتمال د داسې اجسامو لکه شیشه، ګیلاس، فارمیکا، سنګ مرمر، د دروازې لاستی، سیف او وغیره پر مخ باندې موجود وي د ګوتې آثار د کیمیاوي ترکیب په واسطه چې د لاس خوالې هم ورسره مرکب شوي وي او په پوډري شکل ورڅخه ساتنه کېږي ښکاره کېږي، د ذکر شویو پوډرو ترکیب په سپین، نقره ای، طلایي، خرمایي او سرمایي رنګونو جوړ شوي وي او په مخصوصو کوټي ګانو کې ورڅخه ساتنه کېږي. په هغه صورت کې چې د ګوتې نښان احتمالاً د تور رنګ لرونکي جسم پرمخ موجود وي نو د ګوتې د آثارو د پیدا کولو لپاره د سپین رنګه پوډرو او یا نقره یي رنګه پوډرو څخه استفاده کېږي. په دې ډول چې لومړی پرجسم پوډر اچول کېږي او د یوه برس په واسطه چې له ویښتانو څخه جوړشوی وي، نهایت باریک او نفیس وي په هر طرف پوډر خورول کېږي. په هغه محل باندې چې د ګوتو محفي اثار موجود وي، لکه: اسپنه نو سپین پوډر د خطونو پر مخ جذبیږي او د ګوتې مخفي شکله آثار ښکاره کوي. ورسته په احتیاط سره پوډر د ویښتو لرونکي برس په واسطه پاکېږي او صرف د ګوتې آثار د صفحې پر مخ په سپین رنګ کې باقي پاتې کېږي او که چېرې احیاناً د جسم صفحه د سپین رنګ لرونکي وه نو د خرمایې رنګه یا سرمایې رنګه پوډرو څخه د ګوتې د اثارو د ښکاره کولو لپاره استفاده کېږي تر څو ښکاره شوی آثر د جسم د صفحې د رنګ څخه په کلي ډول تمیز ولري. د ګوتې د ښکاره شوي آثر د اخیستلو لپاره د اشکاشټیپ څخه چې مرغوب جنسیت لري په داسې ډول استفاده کېږي چې اول باید اشکاشټیپ په ډېر احتیاط سره په داسې ډول ولړول شي چې د هوا تشې پوکانۍ په کې پاتې نه شي، وروسته اشکاشټیپ په کراره سره د صحنې څخه لېرې کوو او د صفحې په مخ د هغه کاغذ نسب کوو، که چېرته لازمه وي چې په جسم باندې د ګوتې اثار په طبعي ډول پاتې شي اشکاشټیپ د ګوتې ښکاره شوي اثر باندې په طبعي حالت پرېږدو، په پورته دواړو صورتونو کې موصوف

آثر ساتل شوی پاتې کېږي او د ګوتې پټ اثار د بنفش وړانګو پواسطه د ليدلو وړګرځي. همداشان دويمه طريقه د ګوتو د آثارو اخيستلو د مخصوصو کاغذونو په واسطه هم په ورته شکل سره ترسره کيږي. د يادولو وړ ده چې د جرم په صحنه کې د محفي اثر د پيداکولو وروسته ټول هغه کسان چې د جرم په ساحه کې د قانوني ګډون حق لري په وروستيو څېړنو کې مستثنی کېږي. بنآء د امکان څخه لېرې نه ده چې د موندنې په محل کې د مظنونينو د ګوتو پر آثارو علاوه د فاميل د نورو اعضاوو، مستحدمينو، د پوليسو مامورينو او نورو رسمي مامورينو د ګوتو آثار چې امکان لري مخفي اثر لرونکي شيان يې لمس کړي وي اخيستل کېږي (فرهود، ۱۳٦٦ل، ص. ۳۳).

### ډيجيټل سکينر او لايو سکين ټکنالوجي

د لايو سکينر او يا ډيجيټل سکين وسيلو په مرسته د ژونديو يا تازه نښو سمدستي سکين اخيستل کيږي او سافټوېر ته انتقالېږي. دا ټکنالوجي د پرمختللتو هېوادونو پوليس ادارې کاروي (Jain et al., 2007, p. 39).

### د ګوتو نښو اتومات سيستم

دا يو ډيجيټل ډيټابس دی چې نښې ذخيره کوي او نښې د لاس اخيستو وروسته اتومات د پېژندنې لپاره پرتله کوي او کمپيوټري سيستم ته يې انتقالوي (Wayman et al., 2005, p. 14).

### د انسان د بدن پرمخ محفي آثار

د انسان د بدن پرمخ د کوتو آثار په اسانی سره نشو مشاهده کولی، ولې د نن ورځې په پرمختللي تخنيک سره خوشبختانه دغه امکان ميسر شوی دی. د نوي تخنيک د ميتودونو د جملې څخه يو هم د پرتوليزر ټکنالوجي ده چې د هغې په واسطه کولئ شو مخفي يا پټ آثار د انسان د بدن پرمخ ښکاره (مشاهده) کړو. هغه خوالې چې د ګوتو د خطونو څخه ترشخ کېږي په هغې کې زيات مقدار اوبه او يو کم مقدار په کې مالګې، شخميات او ويټامينونه موجود دي چې ويټامينونه د ځلېدلو سبب ګرځي. په عادي حالاتو کې نشو کولی چې ويټامينونو ته روښنايي ورکړو، مګر د ايکس (X) وړانګې او يا د پرتوليزر په واسطه چې په هغې کې د نور يوه روښنايي ځلېږي د ګوتې خطونه ښکاره کولی شو او د ګوتو خطونو د ښکاره کولو لپاره د هغې څخه عکاسي کېږي. د پرتوليزر دغه سيستم د ګوتو اثارو ته هېڅ ډول ضرر نه رسوي. په ۱۹۷۸م کال د امريکا متحده ايالاتو د فلوريدا په ايالت کې د قتل په ۳ درې واقعو کې د تحقيقاتو وروسته چې د مقتول په بدن اجرا شول د قاتل د ګوتو آثار د مقتول د جسد پرمخ ښکاره شول او د ښکاره شوو ګوتو په اساس د هغې قاتل وپېژندل شو او دستګير شو. د ګوتو د نښانونو د مقايسې په مورد د کمپيوټري سيستم د فعالېدلو څخه مخکې زيات مشکلات موجود وو. ولې نن ورځ

د جنايي صحنو څخه د يوې ګوتې د نښان پيدا کولو په صورت کې دغه کمپيوټرونه په خپله هغه آثر د ثبت شويو ګوتو د اثارو سره مقايسه کوي او مطلوبه نتيجه فوراً ارايه کوي (واصل، ۱۳۹٦ ل، ص. ٦٨ـ ٦٩).

**په افغانستان کې هغه موارد چې بايد د ګوتو د نښو څخه استفاده وشي**

د انسان د پېژندنې لپاره بېلابېل ميتودونه کارول شوي، خو د ګوتو کرښې ځانګړې نه تکرارېدونکې بڼې له امله د جنايي پېژندنې په ډګر کې ځانګړې اهميت لري (Henry, 2004, p. 112). د کرښو پېژندنه له شاوخوا يوه پېړۍ راهيسې د پوليسو او عدلي څېړنو د بنسټيزې وسيلې په توګه کارول کېږي (Cole, 2001, p. 61-61). په افغانستان کې د بايومتريکي سيستمونو د ودې سره سره، د ګوتو کرښو د سيستم پياوړتيا کولی شي د عدلي ارګانونو شفافيت او د جرمونو د کشف او تثبيت کچه لوړه کړي او په لاندې مهمو برخو کې ترې استفاده کېدلی شي.

۱ـ د تابعيت او هويت تثبيت: د هر افغان يوازينی او نه تکرار کېدونکي هويت جوړول، د سيستم تقويه کول (الکترونيکي تذکره او د جعلي تذکرو مخنيوی).

۲ـ د امنيتي ادارو ملاتړ

د مجرمينو، مشکوکو کسانو او ترهګرو تعقيب او پېژندنه د ګوتې د نښو په اساس.

۳ـ د ښوونې او روزنې تنظيم

د زده کوونکو او استادانو بايوميتريک ثبت، د خيالي معلمينو او زده کوونکو مخنيوی.

۴ـ د عامې روغتيا مديريت

د ناروغانو سابقه، واکسين او د درملنې دوام کنترول.

۵ـ د کارکوونکو مديريت

په شفاف ډول د معاش ورکول او ghost employees د حاضرۍ سيستم.

٦- د کډوالو او راستنېدونکو اتباعو مديريت

عادلانه مرستې، د جعلي ثبت بندول او خدماتو ته لاسرسی.

۷ـ د عدلي او قضايي نظام اصلاح

د توقيف شوو کسانو او محبوسينو ثبت او د دوسيو شفافيت.

۸ـ د ټولنيزو مرستو شفاف وېش

د مرستو د تقلب مخنيوی او د مستحقو کسانو پېژندنه.

۹ـ د ترافیکو او موټرو مدیریت

د موټر چلونې جواز ثبت، د سرغړونو پېژندنه او د موټرو کنټرول.

۱۰ـ د کارګرو ثبت او رجسټر

د ساختماني، کرنیزو او فابریکو کارګرانو بایومتریک ثبت.

۱۱ـ د محصلینو د ازموینو او داخلو شفافیت

د کانکور درغلۍ بندول او شفافې ازموینې.

۱۲ـ د کورني امنیت لپاره

د کرایه دارانو او اوسېدونکو بایومټریک ثبت او د پولیسو سره همکاري.

۱۳ـ د بانکي حسابونو امنیت

د حساب خلاصون یا پیسې اخیستل یوازې د ګوتې نښې له لارې.

۱۴ـ د ښځو او ماشومانو محافظت

د پناه ځایونو، واکسین او زده کړو لپاره بایومتریک تایید.

۱۵ـ د نشه یې موادو سره مبارزه

د معتادینو ثبت، درملنه او قاچاقبرانو پېژندنه.

۱٦ـ د پوځي تجهیراتو کنټرول

وسلې او تجهیزات یواځې د مجاز کسانو له خوا د ګوتې نښې سره.

۱۷ـ د کانونو مدیریت

د کارکوونکو ثبت او غیرقانوني استخراج بندول.

۱۸ـ د ځمکو او جایدادونو ثبت

د ملکیت د اسنادو سره د ګوتې د نښې نښلول.

۱۹ـ د فساد ضد مبارزه

د خیالي کارکوونکو، جعلي امتیازاتو او درغلیو بندول.

۲۰ـ د دیني مدارسو منظم ول

د زده کوونکو، استادانو او تمویل بایومتریک ثبت.

۲۱ـ د رسنیو امنیت

د ژورنالیستانو ثبت، جعلي هویت بندول.

۲۲ـ د خصوصي سکتور منظمول

د سوداګرو او شرکتونو بایومتریک، مالیې راټولول.

۲۳ـ د اقلیتونو حقوق

د بې اسناده خلکو بایومتریک ثبت، خدمتونو ته لاسرسی.

۲۴ـ د بشري حقونو څارنه

د بندیانو څارنه، نادرکه کسانو موندنه.

۲۵ـ د سفرونو مدیریت

د سرحدي کنترول نقطو کې ثبت، قاچاق بندول.

۲۶ـ د فرهنګي ځایونو خوندیتوب

کتابتونونو او ارشیفونو ته لاسرسی د ګوتې د نښې په اساس.

۲۶ـ د ماشومانو ساتنه

د ورکو ماشومانو پېژندنه، زده کړې او روغتیا ته شمولیت.

۲۷ـ د سمارټ ښارونو جوړښت

هوښیار ټرانسپورټ: ټریفیک لایټونه، د ګڼې ګونډ کمښت لپاره د سنسرونو له لارې د ټرانسپورټ او سرکونو کنټرول، د ښاري کېمرو او سنسرونو په واسطه څارنه، الکترونیکي انرژۍ، شمسي انرژۍ، سمارټ میټرونه او د انرژۍ سپمونکي سیستمونه، ډیجیټل خدمات او د کثفاتو سمارټ سیستم.

۲۸ـ د انلاین خدمتونو خوندیتوب

جعلي حسابونو مخنیوی، خوندي لاسرسی.

**پایله**

د ګوتو نښانونه یا خطونه د الله تعالی ج داسې خلقت دی، چې د خاصو استثناءاتو پرته د هر شخص د ګوتې نښان په همغه شخص پورې مربوط دی، د وخت او زمان په اساس تغییر نه قبلوي، د زیان لیدلو په صورت کې بېرته په همغه شکل التیام او ترمیم پیدا کوي او د اجسامو سره د تماس په صورت کې په اړوند اجسامو باندې انعکاس پیدا کوي. د همدغو اساساتو او ځانګړتیاوو په بنا په نړۍ د انساني هویت د تشخیص وسیله ګرځېدلې ده او د همدې وجې دولتونه هم په اکثریت برخو کې د انساني هویت د تثبیت لپاره د ګوتو د کرښو څخه د اتومات بایومټریک سیستمونو په پراخ استعمال سره ترې استفاده کوي او په خاص ډول په جنایي ساحه کې هغه وخت چې په جرمي پېښه کې د اړوند اشخاصو د ګوتو او ورغوي کرښې په سم ډول ترلاسه شي، نو د اړوندو اشخاصو هویت ترې تشخیص کېدی شي. په افغانستان کې په عام ډول او په خاص ډول په جنایي برخه کې د ګوتو د کرښو څخه د استفادې موارد کم رنګه دي او هغه وسایل او امکانات شتون نلري چې پرمختللي دولتونه په دې برخه کې ترې استفاده کوي.

**وړاندیزونه**

۱ـ په افغانستان کې د ګوتو کرښو په اساس د جرایمو او مجرمینو د تثبیت برخه نیمګړې ده، نو د دغې برخې د پیاوړتیا لپاره کشفي ارګانونو ته وړاندیز کوو، چې لازم او پرمختللي وسایل او د دغو وسایلو د استعمال لپاره متخصص کادرونه و روزل شي.

۲ـ د اداري سیستمونو په ټولو برخو کې د بایومټریک سیستونو فعال شي او په ملي کچه باید د ګوتو د نښو اتومات پېژندلو سیستم (Automatic Fingerprint Identification Systems) (AFIS) رامنځ ته او فعال شي.

۳ـ د مکاتبو، پوهنتونونو او رسنیو له لارې باید عامه پوهاوی لوړ شي ترڅو د معلوماتو ثبت او د امنیتي ادارو ملاتړ وشي.

# The Importance of Fingerprints in Identifying Criminals

Assistant Profissor: Irfan wazir, Political science and International Relation department, Law and Political science Facuty.

**Abstract**

Fingerprints are generally considered the most accepted and accurate method of human identity and identification, and criminal identity in particular. This characteristic does not change from birth to death, and the fingerprints or patterns of every person in the world are unique and do not resemble any other person at all. In addition, these lines are not subject to change except in very rare cases of partial disease, and in the event of temporary problems, they return to their original state and will transmit their pattern normally when in contact with objects. This article examines the importance of fingerprints, their uses and applications, and their applicability in Afghanistan. If fingerprints are used to verify identity in all cases, social order and justice will be further enhanced, the hope of peace will be strengthened, and society will live a comfortable life free from crime and criminals. The research methodology is based on a literature review and analysis of existing scientific sources. The results show that fingerprints have a very high accuracy in criminal identification and are a reliable, fast, and economical tool compared to other biometric methods.

**Key Words**: Biometrics, criminal investigation, line features, fingerprints, fingerprint artifacts.

**ماخذونه**

فرهود، داریوش. (۱۳٦٦ل). خطوط پوستی، جلد اول. تهران: موسسه خدمات فرهنگی زیبا.

مهدی کی پنا. (۱۳۴۵ل). علوم جنائی، جلد اول. تهران: سمت.

واصل، عبدالاقرار. (۱۳۹۲ل). کریمنالستیک. ناشر: نلري.

Ashbaugh, David R. (1999). Quantitiative-Qualitative Friction Ridge Analysis: An Introdcuction to Basic and Advanced Ridgeology. CRC Press. https://doi.org/10.1201/9781420040010.

Champod, Christophe. Lennard, Chris. Margot, Pierre & Milutin, Stoilovic. (2016). Fingerprints and other ridge skin impressions. CRC press. http:/www.viralsource.com/products/fingerprints-and-other-ridge-skin-impressions-chrsrophe-champod-v9781498728959.

Cole, Simon. (2001). Suspect Identities: A History of Fingerprnting and Criminal Identification. Harvard University Press. http://books.google,com/books/about/Supect_Udentities.html?=3cYqtVk6oI8C . ISBN 0-674-00455-8 (cloth).

Henry, E. R. (2004). Classification and Uses of Fingerprints. Digital edition prepared for http://golton.org by Gavan Tredoux.

Jackson, Andrew R. W. Jackson, Julie M. (2017). Forensic science. Pearson Education> http://www.viralsource.com/en-au/products/forensic-science-andrew-r-w-jackson-v97812920888235.

Jain, A. K., Ross, A., & Prabhakar, S. (2004). An Introductions to Biometric Recognition. IEEE Transaction on Circuits and Systems for Video Technology, 14(1), 4-20. (Vol.14, No, 1, January 2004).

Jain, Anil K. Flynn, Partrick & Ross, Arund A. (2007). Handbook of bioetrics. Springer. https://-www.nzdr.ru/data/media/biblio/kolxoz/cs/cslp/8564s%29cslp._:pdf

Lee, Henry C. m & Gaensslen, R. E. (2010). Advances in fingerprint technology (2nded.). CRC. Press. https://wwww.taylorfrancis.com/books/mono/10.1201/97814200413447/advances-fingerprint-technology-ashim-datta-henry-lee-robert-ramotowski-gaensslen.

Maltoni, Davide. Maio, Dario. Jain, A. k. Jain, Anil k & Prabhakar, Salil. (2019). Handbook of Fingerprint Recognition. Springer. http://springer.com/book/10.1007/978-3-030-83624-5.

Wayman, James. Anil, Jain A. Maltoni, D & Maio, D. (2005). Biometric systems: Technology, design and performance avaluation. Spinger. https://link.springer.com/book/10.1007/b138151.

# په اداره کې د عامه اړیکو مدیریت

پوهندوی اسدالله تنی، شیخ زاید پوهنتون، ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځی، د عامه اړیکو څانګه
برېښنالیک: assad.t.wj@gmail.com

**لنډیز**

د عامه اړیکو مدیریت د معاصرو ادارو له اساسي اړتیاوو څخه ګڼل کیږي. دغه مدیریت د ادارې او د هغې د داخلي او بهرني چاپیریال ترمنځ د اړیکو د تنظیم او همغږۍ یو علمي او عملي بهیر دی. موخه یې دا ده چې د ادارې مثبت انځور رامنځته او وساتل شي، د خلکو باور ترلاسه او د اړیکو له لارې د اداري ستراتیژیک اهداف پرمخ یووړل شي. عامه اړیکې نه یوازې د ادارې د شهرت او اعتبار د ټینګښت وسیله ده، بلکې د کړکیچونو د مدیریت، د ټولنیزو اړتیاوو  د درک او د شفافیت د تامین لپاره هم مهم رول لوبوي. د موثرو اړیکو، د باور جوړونې، د عامه ذهنیت د څارنې او د عصري رسنیزو وسایلو د کارونې له لارې، اداره کولی شي د خپلو کارکوونکو، مراجعینو او د ټولنې له غوښتنو سره سمه او اغیزمنه همغږي وساتي. په پایله کې دعامه اړیکو مدیریت د یوې ادارې د دوامدارۍ ودې، د خلکو د رضایت او د ټولنیز مسولیت د پلي کولو لپاره بنسټیز ارزښت لري، څکه چې نن ورځ له سازمان سره یو ځای د عامه اړیکو د مدیریت اصطلاح هم استعمالېږي، نو په ټوله کې ویلی شو، چې نن ورځ د عامه  اړیکو د مدیریت علم  نړیوال حیثیت د ځان لپاره  غوره  کړي او د نړۍ په هره اداره کې مدیر دېته اړ دی؛ چې د عامه اړیکو د مدیریت علم ترلاسه کړي، ترڅو په پایله کې یوه منظمه او پرمختللې اداره رامنځته کړي او سازمان خپلو اهدافو ته په اسانۍ سره لاسرسی پیدا کړي. په ټولنه کې د عامه اړیکو د بریا بنسټ، د باور او همکارۍ جوړونه، د کړکیچونو د مدیریت اسانتیا، ټولنیز مسولیت او اغیز او د ادارې ستراتیژیک اهمیت به ددې څېړنې عمده موندنې او لاسته راوړنې وي، چې په پای کې دې پایلې ته رسیږو چې له دې ټولو دلایلو څخه څرګندیږي، چې په اداره کې عامه اړیکې یوازې یو تشریفاتي فعالیت نه دی، بلکې د ادارې د ستراتېژیکو اهدافو د ترلاسه کولو یوه مهمه وسیله ده.

**کلیدي ټکي:** اداره، ستراتیژیک اهداف، شفافیت، عامه اړیکې، مدیریت

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**
د سرور کائنات حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) له خوا د اسلامي حکومت جوړول د داخلي او بهرنیو اړیکوتنظیم او داسې نور په خپله د اداري او د دغه ستر پیغمبر د پوهي او مدبرانه تدبیر ښه نظامونه او یو شمیر نور میراثي مسایل وړاندې کړي چې هر مسلمان ته اړینه ده، چې ورته درناوی ولري او په خپل ژوند کې یې پلي کړي.

د عامه اړیکو مدیریت یوازې یو عصري علمي مفهوم نه دی، بلکې په اسلامي ښوونو کې یې ریښې د صداقت، امانت، مشورې، عدالت او ښه اخلاقو په ارزښتونو کې موندل کیږي. هره اداره چې خپل فعالیتونه د اسلامي اصولو په رڼا کې پرمخ وړي، د خلکو باور، رضایت او ملاتړ حتمي ترلاسه کوي.

دا چې انسان یو ټولنیز مخلوق دی او مجبور دی، ترڅو په ټولنیز ډول د ټولنې د یوه غړي په حیث په دی نړۍ کې ژوند وکړي او نشي کولی چې په یواځې توګه خپل ژوند ته دوام ورکړي، د دې ډول ټولنیز ژوند د تیرولولپاره اړینه ده چې پخپلو کې اړیکې وساتي، نو معلومه شوه چې یو انسان هېڅکله هم خپلې ټولې ستونزې او ضرورتونه په یواځې ځان نشي سرته رسولی، نو له همدې کبله بل انسان ته په ځینو کارونو کې لاس اوږدوي او د هغه څخه مرسته غواړي، چې دا راکړه ورکړه یوې اداري او مدیریت ته ضرورت لري، ترڅو کارونه په سمه توګه پرمخ بوزي او یا یې په منظم ډول ترسره کړي، که یو سازمان یا اداره تجارتي وي اوکه غیرتجارتي، د هر سازمان او اداري لپاره مدیریت یامنیجمنټ ډیره مهم او ضروري دی. ځکه خلک په یوه سازمان یا اداره کې کارکوي او هر یوه وګړي ته څه ناڅه کارسپارل شوی وي؛ د دي لپاره لازمه ده چې انساني وسایل په منظم ډول داسي استعمال شي، چې تر لوړي کچي پوري خپلي موخې تر لاسه کړی شي.

د یوه سازمان یا اداري نظم او نسق، د کارګرانو استخدام او همدارنګه د اداري د کارونو څارل او لارښودنه په ښه مدیریت پورې اړه لري، چې په پایله کې د کاروبار کامیابي، هغې ته پراختیا، د خپل مقصد لوړ حد ته رسیدل، په انساني او غیر انساني وسایلوکې ربط، د روزګار موقع او د خلکو د ژوند کچي لوړېدل یوازې او یوازې د ښه او اغېزمن مدیریت په وسیله منځته راتلای شي.

د اداري د همدې ارزښت له مخې د عامه اړیکو مدیریت موضوع په زړه پورې او مهمه وه چې علمي مقاله مې پرې ولیکله.

په دې څېړنیزه علمي مقاله کې د عامه اړیکو د مدیریت تاریخچه او اهمیت، د عامه اړیکو مدیریت پېژندنه، مهارتونه، د عامه اړیکو او مدیریت ترمنځ توپیر او عامه اړیکې او د سازمان مدیریت باندې مې څېړنه کړې، تر څو په اداره کې د عامه اړیکو د مدیریت د تغیر تګلارې، د عامه اړیکو د مدیریت ځانګړنې، په سازمان کې د عامه اړیکو د مدیریت کړنلارې او سطحې د اړیکو خصلت او په سازمان کې د عامه اړیکو ارزښت، اصول، دندې او مدیریتي اخلاق او داسې نور موضوعات پرتله شي.

## موخې

ددې مقالې موخې عبارت دي:

- د ادارې په چاپېریال کې دعامه اړیکو د مدیریت مفهوم او بنسټیز اصول روښانه کول.
- د ادارې د مثبت انځور او شهرت په ټینګښت کې د عامه اړیکو د اهمیت څېړل.
- د کارکوونکو، مراجعینو او د ټولنې ترمنځ د باور او همکارۍ د ټینګښت لارې په ګوته کول.
- د کړکیچونو او ستونزو د حل په بهیر کې د عامه اړیکو د ونډې ارزول.
- د پیغام رسونې او د ادارې د سیاستونو په څرګندولو کې د عامه اړیکو رول څېړل.
- د اړیکو د پیاوړتیا لپاره د ټولنیزو رسنیو او نوې ټکنالوژۍ د اغېز ارزونه.
- له مدیریت سره د اسلامي اصولو ( صداقت، عدالت، مشورې او ښو اخلاقو) د تړاو څرګندول.
- د ادارې د ستراتیژیکو اهدافو په پلې کولو کې د عامه اړیکو عملي اهمیت روښانه کول.

## د کار میتود

د څېړنې میتود کتابتوني ده او د مختلفو علمي سرچینو په مرسته په اداره کې د عامه اړیکو مدیریت تحلیلوي. په دې څېړنه کې د علمي کتابونو، د مدیریت او عامه اړیکو په اړه څېړنیزو مقالو، ژورنالونو، د پوهانو لیکنې، اسلامي منابع او د اداري متخصصینو نظریات او راپورونه او اړوند اسناد مطالعه او څېړل شوي دي او ترڅنګ یې د مالوماتو د راټولولو لپاره هغه سرچینې انتخاب شوي دي، چې د ادارې او مدیریت او د عامه اړیکو په اړه د اعتبار لرونکو او پېژندل شویو څېړونکو او ماهرینو له لوري لیکل شوي.

## د څېړنې ارزښت

دغه څېړنه د ادارو په کچه د عامه اړیکو د مدیریت د اهمیت په اړه علمي او مدیریتي پوه غني کوي او د اداري چارو په اغېزمن ډول پلې کولو لپاره عملي لارښوونې وړاندې کوي.

دا څېړنه ادارو ته زمینه برابروي چې د کارکوونکوو، مراجعینو او ټولنې ترمنځ باور، همغږي او مثبت انځور ټینګ کړي، کړکیچونه په شفاف ډول مدیریت کړي او د ټولنیز رضایت فضا رامنځته کړي.

په علمي لحاظ دا څېړنه د عامه اړیکو د نظریاتو، میتودونو او علمي تجربو ترمنځ اړیکه روښانه کوي او د ادارو د مدیریت په برخه کې د نوي پوهې د ترلاسه کولو زمینه برابروي.

د اسلامي لیدلوري له مخې،څېړنه څرګندوي چې په ادارو کې د عامه اړیکو مدیریت باید د صداقت ، عدالت، مشورې او غوره اخلاقو پر بنسټ وي، ترڅو د ادارې او ټولنې ترمنځ شفاف، عادلانه او بااعتماده اړیکې رامنځته شي.

سربیره پردې دا څېړنه د ادارې د ستراتیژیکو اهدافو په ترلاسه کولو کې د عامه اړیکو د رول اهمیت هم روښانه کوي، چې په پایله کې د ادارې دومداره پرمختګ، د خلکو اعتماد او د ټولنیزې همغږۍ فضا تضمینوي.

**اداره**

اداره د انسان د ژوندانه یوه اساسي برخه ده، انسان نړۍ ته په یوه اداره (کورنۍ) کې منځ ته راځي، په اداره کې زده کړې کوي او د ژوند ډېره برخه په اداره کې د چارو پرمخ وړلو لپاره تیروي.

نو طبعيي ده هر څوک غواړي، چې د ادارې په مفهوم او ماهیت پوه شي او ځینې نورې پوښتنې یې ځواب شي لکه: اداره څه ته وایي؟ څنګه منځ ته راځي او په مدیریت ( Management ) کې څه رول لري؟ د ادارې عمومي اهداف او مقاصد څه وي یا ولې منځ ته راځي؟

اداره په عام ډول یوې موسسې ته نسبت ورکوي لکه: تعلیمي موسسه، شخصي نماینده ګي، دولتي نماینده ګي، تجارتي کمپني او داسې نور یې ډولونه دي. د منجمنټ او مدیریت له اړخه اداره په رسمي توګه تشکیل شوی بنسټ دی، چې په هغه کې وګړي د خوش باورۍ په فضاء کې د څرګندو مسولیتونو او صلاحیتونو په درلودلو سره د ادارې اهدافو تر لاسه کولو لپاره ګډ کار کوي او ټولنې ته خدمتونه وړاندې کوي.

**اداره څه ته وايي؟**

اداره په عمومي توګه د داسې یو منظم جوړښت ( Structure ) او بهیر ( Process ) نوم دی چې پکې یو شمیر کسان د ټاکلو موخو د تر لاسه کولو لپاره په ګډه کار کوي.

په بله وینا اداره د انسانانو هغه منظم او همغږی شوی سیستم دی چې د منابعو ( وخت، ځواک،بودیجه، مالومات او نور...) د سمې کارونې له لارې د ځانګړو موخو د ترلاسه کولو هڅه کوي.

خو په ننني عصر کې له ادارو سره د اداري مديريت اصطلاح هم استعمالیږي، دا دواړه يو دبل سره لږ توپير هم لري څکه اداره د چارو د تر سره کولو لپاره يو پراخ مفهوم دی. عامه چارې اجرا او تر سره کوي، چې دغو چارو د ترسره کولو لپاره سازمان او مديريت ته اړتيا لري ( دلته سازمان يا سازمان ډوله جوړښت اداري ته يو ضرورت دی) له بلې خوا د چارو د اجرا او عمل کولو لپاره مديريت ته اړتيا لري يانې دا درې واړه ضروري دي.

مديريت دغه سياستونه، لارښوونې او هدايات عملي کوي او سازمان بيا هغه مشين دی چې ترڅو د هغه په واسطه مديريت او اداري اهداف عملي کړي او د اړيکو مديريت بيا دا درې واړه همغږي کوي. (دوديال, ۱۳۹۴)

خو ښاغلی عنايت الله فضلي په خپل اثر ( اداره او مديريت ) کې اداره د يوې ټولنيزې يا سازماني جوړښت د فعاليتونو يو سيستم ګڼي، چې د ټاکلو موخو د ترلاسه کولو لپاره پلان، منابع، او چارې تنظيموي. اداره يوازې د کارونو د اجرا کولو وسيله نه ده، بلکې د موخو ټاکنه، د کارونو وېش، همغږي، او څارنه هم پکې شاملوي. (فضلي, ۱۳۹۴)

که اداره له اسلامي اړخه مطالعه کړو نو ويلی شو چې، اداره هغه بهير او نظام دی چې د الله ج د احکامو او شريعت په رڼا کې د خلکو د چارو سمبالښت، د حقونو ساتنه، د عدل ټينګښت او د ټولنې هوساينه يقيني کوي.

په اسلام کې اداره يوازې يو دنياوي منظم جوړښت نه دی، بلکې د انساني چارو د سمې رهبرۍ، عدالت او د خلکو د حقونو د ساتنې يو الهي مسوليت ګڼل کيږي.

نو د اسلام له نظره اداره د امانت، عدالت، خدمت او حساب ورکونې پر بنسټ ولاړ الهي نظام دی، چې موخه يې د خلکو د ديني او دنياوي چارو ښه سمبالښت دی. (فضلي, ۱۳۹۴)

خو د اداري د علم نامتو پوه ( Luther Gulik) له نظره اداره بيا داسې تعريف شوي ده : اداره هغه علم او هنر دی ، چې يو زيات شمير خلک د خپلې لارښوونې اوکنترول لاندې راولي او هغوي ټول د يوه ګډ هدف او مقصد په لورې په ډلييزه توګه سوق کوي. (Gulick l. H., 1937)

لوتر ګولېک دمعاصر مديريت له بنسټګرانو څخه دی، هغه د اداري تعريف د ( P.O.S.D.C.O.R.B ) فورمول په رڼا کې کړی دی:

1. P – Planning (پلان جوړونه)
2. O – Organizing (سازمان ورکونه)
3. S – Staffing (د کارکوونکو ټاکنه)

4. D – Directing (رهبري)
5. C – Coordinating (همغږي)
6. R – Reporting (راپور ورکونه)
7. B – Budgeting (بودجه جوړونه)

د ګولېک له نظره اداره یو تخنیکي او علمي بهیر دی، چې هدف یې د انساني او مادي منابعو منظمول دي، تر څو ټاکل شوې موخې په اغېزمن ډول ترلاسه شي. (Gulick, 1937)

که د اسلام لیدلورې او د ګولیک د ادارې نظریه سره یو ځای کړو، نو داسې تعریف رامنځته کېدای شي:

اداره هغه منظم بهیر دی چې د انساني، مالي او مادي منابعو د پلان جوړونې، تنظیم، همغږۍ او رهبرۍ له لارې د ټاکل شویو موخو د ترلاسه کولو لپاره کار کوي او په اسلامي لیدلوري کې دا بهیر د الهي امانت، عدالت، مشورې او خدمت له روحیې سره تړلی وي، ترڅو هم د ټولنې هوساینه او پرمختګ تامین کړي او هم د الله ج رضا ترلاسه کړي.

**د ادارې ډولونه**

**اداره پر دوه ډوله ده**

1 . رسمي اداره - Formal Administration

په رسمي اداره کې وګړي د یو لړ تعین شویو اصولو، لایحو، مقررو، پالیسیو، کړنلارو، پروګرامونو او پلانونو پر بنسټ کار کوي.

2 . غیر رسمي اداره - Informal administration

غیر رسمي اداره د وګړو له هغې اجتماع څخه عبارت ده، چې د اداري سلسله مراتبو په نظر کې نه نیولو سره د ټاکلو او مشخصو اهدافو لپاره کار کوي.

د ادارې اړین عنصر

1. موخې - Objectives
2. سرچینې - Resources
3. اغیزمنتوب - Effectiveness
4. ګټورتوب - Benefits
5. ګډ اړخونه – Shear aspects

## د ادارې ځینې مهمې ځانګړنې

- موخه لرل – هره اداره ځانګړي موخې او هدفونه لري.
- جوړښت – په اداره کې د کار ویش، دندو او صلاحیتونو ویش موجود وي.
- همغږي – د کارونو همغږي د ادارې یو مهم اصل دی.
- منابع کارول – اداره د بشري، مالي، تخنیکي او نورو منابعو په مرسته فعالیت کوي.
- رهبري او مدیریت – اداره پرته له مدیریت او رهبرۍ نه شي پرمخ تللی.

## مدیریت

مدیریت په لغت کي د ادارې سمبالول او د کار چلولو ته وایې او په اصطلاح کي د قانون مطابق د اداري کړنو سرته رسولو ته مدیریت وایې.

یا هم د ادارې د اساسي ارکانو لکه موخو ټاکل ، پلان جوړول دندو او سرچینو ته سازمان ورکونه مدیریت بلل کیږي . په بله اصطلاح مدیریت د مادي او انساني سرچینو په ګټوره توګه کارونه ، د هغې په لاره اچونه ، سازماندهي ، د سرچینو او آسانتیاوو راټولونه اود هغې لارښوونې او کنټرول ته وایې.

د مدیریت یوه بل کار پوه ( ماري پارکر فولیت ) مدیریت په ماهرنه توګه د نورو په مرسته د کارونو سرته رسول تعریف کړی.

پر مدیریت هم که د اسلام له نظره بحث وشي نو ویلی شو، چې اسلام مدیریت یوازې د دنیاوي چارو د سمون لپاره نه، بلکې د یو شرعي او اخلاقي مسولیت په توګه یادوي او د اسلام له نظره د مدیریت رول ته نظر کوو:

الف: د رول اړخ

- رهبري د امانت په توګه

رسول الله (ص) فرمایي: " **الاكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْؤولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ** " (بخاري، مسلم۸۹۳)
ژباړه: خبردار اوسئ هرڅوک د خپلې سیمې، د خپلې کورنۍ او د خپلې دندې په اړه مسولیت لري.

- عدالت ټینګول : اسلامي مدیر باید د ټولو ترمنځ عدل وکړي، لکه څنګه چې قران کریم وایي:

"إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ" (القران، النحل ایات. ۹۰).

ژباړه: بشکه الله تعالی تاسو مامور کړي یاست په عدل او احسان سره.

- شورا (مشوره) : په ټولنه کې د سم مدیریت بنسټ د مشورې په اصل ولاړ دی، الله ج فرمايي: "وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ" (القران، الشوری ایات. ۳۸). ژباړه: په په چارو کې مشوره کوئ.

**ب: د ارزښت اړخ**

- د الله ج رضا – اسلامي مدیریت د الله ج د امرونو پر بنسټ د خلکو خدمت ګڼل کیږي.
- د خلکو هوساینه – د عدالت، خدمت او د منابعو د عادلانه ویش له لارې ټولنې ته هوساینه ورکوي.
- اخلاقي پرمختګ – مدیریت یوازې موخه نه ده، بلکې د اخلاقي ارزښتونو د پلي کولو وسیله هم ده.
- حساب ورکونه – په اسلام کې یو مسلمان مدیر نه یوازې خلکو ته، بلکې د الله ج پر وړاندې هم مسولیت لري.

خلاصه دا چې مدیت په معاصر لیدلوري کې د موخو ترلاسه کولو لپاره یوه علمي اړتیا ده، خو په اسلام کې د دې ترڅنګ یو الهي امانت، اخلاقي مسولیت او د عدالیت د ټینګښت وسیله هم ده.

**د ادارې او مدیریت تاریخچه**

د ادارې او مدیریت تاریخچه د بشر له پیدایښت سره پیلیږي، څکه انسانان د خپلو لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره همکارۍ او د کار ویش ته اړ شول. د تاریخ په اوږدو کې د مدیریت بېلابېلې بیلګې تر سترګو کیږي؛ لکه د میلاد څخه شاوخوا (۵۰۰۰) کاله وړاندې د لیک اختراع او د اسنادو ساتنه، د میلاد څخه د (۴۰۰۰-۲۰۰۰) کلونو ترمنځ د مصریانو د اوبو لګولو پروژې او د (۳۶۵) ورځني تقویم تنظیم، د میلاد څخه شاوخوا (۱۵۰۰) کاله وړاندې د حضرت موسی (ع) لس فرمانونه او د سلسله مراتبو کارول او د میلاد څخه شاوخوا (۵۰۰) کاله وړاندې د فارس د امپراطورۍ پر مهال د امپراطورۍ ویش پر (۲۰) ایالتونو. (خلیقي، ۲۰۲۵).

دا ټول ښيي چې انسانانو له پخوا راهيسې خپلې چارې په جمعي توګه د پلان جوړوني، سازماندهۍ او مديريت له لارې تنظيمولې. له دغه ځايه معلوميږي، چې انسانانو ډير له وخته يو له بل سره اړيکې درلودلې او خپل ټول ضروريات يې په جمعي توګه حل او فصل کول.

**د مديريت تاريخي مخينه (History of management)**

دا چې د تاريخ په هر قد م کې د انسان سره اداري نظام موجود و، نو د نظم د ټينګولو لپاره يې په راس کې مشران هم درلودل، چې په تاريخ کې يې مثالونه روښانه دي لکه حضرت يوسف عليه السلام چې د مصر مالي ادارې يې (۱۵) کاله په بې مثاله اندازه کې سمبال کړې، چې په اړه يې الله تعالي په قران کريم کې وايي:

﴿وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي فَلَمَّا كَلَّمَهُ قَالَ إِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ﴾(۵۴) ﴿قَالَ اجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَائِنِ الْأَرْضِ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ﴾. (القران، يوسف ايات. سورت ۵۵).

ژباړه: (او پاد شاه وويل هغه ماته راولئ، چې زه يې د خپل خاصو کارونو لپاره مقرر کړم، نوکله يې چې د هغه سره خبرې اترې وکړې، نو ويې ويل: چې ته نن زما په وړاندې عزتمند او امانتدار يې (يوسف عليه السلام) وويل: ته ما د هېواد په خزانو مقرر کړه، زه ساتونکې اوپوه (هم) يم.) (عبدالباقي, ۱۳۲۵)

نو هماغه و، چې د مصر واکمن د خپلې پاچاهۍ د مالي چارو دنده ور تر غاړې کړه او کله چې د مصر په خلکو قحطي راغله نو يوسف ع مخکې له مخکې وکولای شول، چې د قحطي لپاره غنم ذخيره کړي، چې دغه د غنمو ذخيره کول او بيا په منظمه بڼه وېشل يو درونډ مسوليت ؤ، چې په قوي مديريت سره يوسف ع وکړای شول، چې ټول خلک دېته وهڅوي، چې خپل ټول غنم د ده په اختيارکې ورکړي، ترڅو په سالمه بڼه يې ورته وساتي او د اړتيا په وخت کې يې د استعمال په موخه او يايې د پلورلو لپاره ورکړي. (مصلح, ۱۳۹۳)

بله واقعه چې تاريخ راخيستي هغه د سبا ښار دی، چې ملکه يې بلقيس نومېده، د سبا ښار صفت (الله تعالی(جل جلاله) خپله په قرآن کريم کې ذکر کړی، پاک او د باغونو والا ښار يې ورته ويلی دی.

د سبا ښار د دوو لويو غرونو ترمنځ د هجرت څخه شاوخوا (۱۴۰۰) کاله وړاندې د سدالمارب د اوبو بند جوړ شوی و، چې نږدې (۱۵۰) فوټه لوړ او (۵۰) فوټه پلن و او خلکو ته به يې په منظم ډول اوبه برابرولې. د سبا ښار د خلکو کرنيز ژوند د دې بند منظم مديريت ته اړتيا لرله.

همدارنګه د مصر اهرامونه او د چین د یوال جوړښتونه څرګندوي، چې د زرګونو کارګرو له شتون سره سره دا ستړې ودانۍ د یوې منظمې ادارې او ځانګړو اداري اصولو له مخې جوړې شوې، چې نړۍ تر اوسه ورته حیرانه ده. (مصلح، ۱۳۹۳، پاڼه ۳۵)

خو کله چې اسلام مبارک دین ظهور وکړ، نو د منیجمنت په برخه کې لازیات پرمختګونه وشول او حضرت محمد (ص) داسې یو نظام نړۍ ته وړاندې کړ، چې نه یې په وړاندې تاریخ کې او نه به یې په وروسته تاریخ کې مثال رامنځته شي.

که څه هم د تاریخ په اوږدو کې د ادارې او مدیریت اصول موجود وو، خو په نننۍ بڼه او ځانګړو نومونو نه وو پېژندل شوي. د معاصر مدیریت په رامنځته کېدو کې دوه مهمې پېښې د یادولو وړ دي: لومړی دا چې ادم سمیټ په ۱۷۷۶م کال کې د «ملتونو دارایي» په کتاب کې د دندو د تخصص اصل مطرح کړ او ویې ویل چې د کار ښه والي او اقتصادي ګټو لپاره باید هر کارکوونکی ځانګړې دنده ولري، ځکه د دندو ناسم وېش د ناکامۍ لامل ګرځي (مصلح، ۱۳۹۳، پاڼه ۳۶).

دویمه پېښه د ۱۷۸۹م کال د فرانسې صنعتي انقلاب و، چې صنعت یې له کورونو کارخانو ته ولېږداوه، د لویې کچې تولید سبب شو او د کارونو د تنظیم لپاره یې د مدیر پوست او د مدیریت اصول رامنځته کړل.

**په افغانستان کې د عامه اړیکو د مدیریت تاریخچه**

زموږ په هېواد کې شیرشاه سوري، میرویس نیکه او احمد شاه بابا مدبر رهبران وو، چې احمد شاه بابا نږدې (۲۷۰) کاله مخکې په خپله امپراطورۍ کې یوه منظم، اصولي او قانونمحوره اداره جوړه کړه، خو د جګړو له امله اداري اصلاحاتو ته پوره پاملرنه ونه شوه او وروسته د افغانستان اداري نظام له رکود او فساد سره مخ شو. امیر شیرعلي خان هم د علامه سید جمال الدین افغاني د اصلاحي پلان له مخې د ادارې د سمون هڅه وکړه، خو د انګریزانو د تحرکاتو له امله بریالی نه شو. (نظري، ۱۳۹۰).

په لومړیو کې مطبوعات د اطلاع رسونې ترځنګ د ټولنیز ارتباط مهمه وسیله وه او د خلکو د افکارو د جلبولو لپاره د نولسمې پېړۍ له لومړیو لسیزو وروسته د مطبوعاتي دفترونو جوړېدو هڅې پیل شوې. د دې دفترونو بشپړېدو پروسه د عمومي اړیکو د رامنځته کېدو او سازماندهۍ لار هواره کړه، ځکه مطبوعات د ارتباطاتو د ډولونو د تنظیم مهم عامل وو. دا تجربې موږ ته ښیي چې پخوا انسانان په سازمانونو او ادارو کې خپلې اړیکې او مدیریت څنګه ترسره کول او دا زده کړې نن ورځ زموږ لپاره عملي درس ګرځېدلي دي. په پای کې ویلای شو

چې بدون له اړیکو مدیریت او بدون له مدیریت څخه اړیکې هېڅ ارزښت نه لري؛ دواړه یو د بل لازمي عناصر دي.

د یوه سازمان لپاره ښې عامه اړیکې هغه دي چې پراخې وي او د ټاکل شوو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره په سمه توکه کار وکړي.

**عامه اړیکې او مدیریت**

د عامه اړیکو مدیریت تعریف او مفهوم

د عامه اړیکو مدیریت هغه علمي او عملي بهیر ته ویل کیږي، چې د یوې ادارې او خلکو ترمنځ د متقابل تفاهم، باور او همغږۍ فضا رامنځته کوي. د ایډورډ برنیز ( Edward Bernays ) په وینا عامه اړیکې د خلکو د افکارو د پوهېدو، لارښوونې او بدلون پروسه ده، ترڅو د یوې ادارې او خلکو ترمنځ د اعتماد اړیکه ټینګه شي. (Bernays, 1952).

په اسلامي لیدلوري کې هم اړیکې د ټولنیز ژوند اساس ګڼل شوي، چیرې چې صداقت، امانت او شفافیت د اړیکو بنسټیز اصول بلل کیږي. نو عامه اړیکې نه یوازې تخنیکي مهارت، بلکې اخلاقي مسولیت هم دی.

**د عامه اړیکو مدیریت موخې**

د عامه اړیکو مدیریت اساسي موخه دا ده، چې د ادارې ښه انځور خلکو ته وړاندې کړي، د هغوی باور ترلاسه کړي او د موسسې فعالیتونه خلکو ته په شفاف ډول څرګند کړي.

- د ادارې او خلکو ترمنځ د اعتماد رامنځته کول.
- د موسسې د اهدافو د ملاتړ لپاره د عامه ذهنیت جوړول.
- د کړکیچونو پرمهال د دقت او مثبتې اړیکې ساتل.
- د کارکوونکو او خلکو ترمنځ د همغږۍ ټینګښت.
- د ادارې د پیغامونو د ورښتیا او صداقت یقیني کول. (Grunig J., & ۱۹۸۴)

**د عامه اړیکو مدیریت دندې او مسولیتونه**

د عامه اړیکو مدیریت د ادارې د داخلي او خارجي اړیکو تنظیم مسولیت لري. دا دنده د مطبوعاتي اړیکو، د خلکو پوهاوي، د راپورونو خپرولو او د رسنیو له لارې د موسسې د پیغام رسولو له لارې ترسره کیږي.

**په خلاص ډول مهمې دندې یې دا دي**

- د رسنیو سره اړیکې جوړول او د دقیقو مالوماتو خپرول.
- د خلکو د نظرونو څېړل او ادارې ته د هغې د پایلو رسول.
- د کړکیچ پر مهال د مناسبې اړیکې ساتل.
- د ادارې داخلي اړیکې پیاوړې کول.
- د خلکو دنظرونو په رڼا کې د مناسب او دقیق پلان جوړول او عملي کول.

څرنګه مو چې پورته د عامه اړیکو مدیریت د دندو او مسولیتونو په اړه یادونه وکړه، همدرانګه د عامه اړیکو مدیریت پر وړاندې ننګونې هم شته لکه:

- په معاصره دوره کې د ډیجیټلي رسنیو پراخوالی
- د جعلي خبرونو خپرېدل
- د خلکو د باور کمښت
- او د سیاسي فشارونو اغېز د عامه اړیکو لپاره جدي ننګونې دي.

د دې ترڅنګ، د رسنیو چټک بدلونونه د ادارې د پیغام کنټرول ستونزمن کړي دي؛ نو د عامه اړیکو مدیریت باید د ټکنالوژۍ د بدلونونو سره همغږی شي، د ډیجیټلي اړیکو مهارتونه ولري او د شفافیت اصل رعایت کړي. (Smith, 2017)

**د عامه اړیکو مدیریت اصول او ارزښتونه**

د عامه اړیکو مدیریت د اصولو او ارزښتونو پربنسټ ولاړې دی، چې مهم اصول یې عبارت دي له:

- صداقت : د دقیقو او رښتینو مالوماتو وړاندې کول.
- شفافیت : د ټولو مقاصدو پرځای د خلاصو اړیکو رامنځته کول.

- احترام او متقابل باور: د خلکو نظریاتو ته ارزښت ورکول.
- اخلاق : د دندو د ترسره کولو پر وخت د انساني او اسلامي ارزښتونو مراعات کول.

پورته ذکر شوي اخلاقي اصول ټول د اسلام په سپیڅلي دین کې ثابت او مسلمانان پرې مامور شوي دي، چې په خپلو چارو کې ورځخه کار واخلي.

**د عامه اړیکو مدیریت وسایل او تخنیکونه**

د عامه اړیکو مدیریت کارکوونکي د اړیکو د لا پیاوړتیا لپاره له مختلفو وسایلو کار اخلي لکه:

- ډلیزې رسنۍ (تلویزیون، راډیو او چاپي رسنۍ).
- سوشل میډیا یا ټولنیزې رسنۍ (فیسبوک، ټویټر، انستگرام او ...).
- د یوې ادارې داخلي رسنۍ لکه بلیټنونه، خبرپاڼې او غونډې.
- د مطبوعاتي کنفرانسونو اوعامه غونډو تنظیم. چې دغه وسایل د پیغام د موثر انتقال او دخلکو د ذهنیت د مثبت بدلون لپاره په کاریږي. (Theaker, 2017).

**په اداره کې د عامه اړیکو مدیریتي کچې**

مدیریت په مختلفو طریقو باندې طبقه بندي کیږي، چې دا تقسیم بندي د لیدلوري په تفاوت سره چې د مدیرانو د کار حوزو او سطحو ترمنځ ده صورت نیسي، بنًا مدیریت په دري برخو عملیاتي مدیریت، سرپرست مدیریت او عالي مدیریت تقسیم شویدي.

**۱- عملیاتي مدیریت**

عملیاتي یا اجرائیوي مدیران د سازمان د پروگرامونو د عملي کولو مسئولیت لري. دوی خپل وخت عمدتاً له خپل لاس لاندې کسانو، لږ تر لږه له همکارانو او څو ځلې د سازمان بهر خلکو سره تیروي. په ټوله کې عملیاتي مدیران لاندې وظایف لري:

- د سازمان د پروگرامونو اجرا کول.
- د کار له تکتیکونو سره بلد تیا.
- د سازمان دننه له کارکوونکو سره بلد تیا.

**۲- سرپرست (منځني مدیریت)**

منځني مدیران مستقیم راپور ورکوي او د لوړ رتبه مدیرانو لاندې کار کوي. د دوی منځنی حلقه رول د مالي او عملیاتي چارو ترمنځ دی. د دوی عمده کارونه د ورکړل شوو معلوماتو تحلیل او د تصمیم نیولو لپاره د معلوماتو چمتو کول دي. منځني مدیران د منځني وخت پروګرامونه جوړوي او د عالي مدیریت د لارښوونو د څرګندولو لپاره اوږدمهاله پروګرامونه تیاروي او په تهولیزه توګه د سازمان د لویو سیستمونو او پروګرامونو د اجرا مسؤلیت لري.

**۳- عالي مدیریت**

عالي مدیران د لویو سیستمونو جوړول او د لویو تصمیمونو نیول په غاړه لري، د کُلي موضوعاتو او مسایلو په باره کې له ټیټ رتبه مدیرانو سره د نظریاتو تبادله کوي او خپل زیات وخت له سازمان د خارج افرادو او همکارانو سره تیروي. (تسلیمي, ۱۳۹۳).

**د عامه اړیکو مدیریت او رهبرۍ اړیکه**

۱- عامه اړیکو مدیریت څه دی؟

عامه اړیکو مدیریت ( Public Relations Management ) هغه علمي او عملیاتي چارې دي، چې ادارې یې د خپلو داخلي او بهرنیو مخاطبینو سره د مثبتو اړیکو د جوړولو، ساتلو او پراخولو لپاره کاروي. هدف یې د ادارو اعتبار، باور او ملاتړ لوړول دي.

۲- رهبري ( Leadership ) څه ده؟

رهبري د افرادو، ټیمونو او ادارو د هڅونې، لارښوونې او اغیزمنې همغږۍ هنر او مهارت دی. رهبر د سازمان یا ادارې هدفونو ته د رسیدو لپاره خلک هڅوي، هغوي ته الهام ورکوي او د ستونزو پر حل تمرکز کوي.

**۳- اړیکه او همغږي**

- رهبري د عامه اړیکو مدیریت ملاتړ کوي:

یو اغیزمن رهبر کولی شي د سازمان داخلي او خارجي اړیکې ښه مدیریت کړي، د اړیکو ستراتیژۍ تصویب او پلي کړي او د مثبت سازماني فرهنګ جوړولو کې مرسته وکړي.

- عامه اړیکې د رهبرۍ اغېز زیاتوي:

د ادارې غوره عامه اړیکې رهبر ته د اعتبار او باور سرچینه برابروي. کله چې خلک د ادارې پیغامونه او اهداف په روښانه ډول درک کړي نو د رهبرۍ ستراتیژۍ اغیزمنې کیږي.

- **دوه اړخیزه همکاري**

د رهبرۍ غوره مهارتونه لکه الهام ورکول، پریکړه نیول او مشوره ورکول د عامه اړیکو مدیریت لپاره مهم دي، ځکه دا رهبر ته د سمې پریکړې او د خلکو د باور جلبولو بنسټ برابروي. په همدې اساس، د عامه اړیکو مدیریت او رهبرۍ اړیکه دوه اړخیزه او سیستماتیکه ده او بریالی رهبر تل د عامه اړیکو ځانګې سره نږدې اړیکه لري، څو د خلکو باور وساتي او د موسسې موخې په اغیزمنه توګه پلي کړي(Grunig J., 1992) .

۱) د یو داسي منظم سیستم رامنځته کول چې یوه اداره خپل مشکلات له نورو ادارو او ټولنو سره شریک کړلی شي.
۲) په رسمي او غیر ي رسمي ادارو او نورو نظامي، ملکې، خصوصي او فرهنګې ادارو او شرکتونو کې د عامه اړیکو د مسلکي مدیرانو ګومارل ترڅو د ټولنې د پرمختګ سبب وګرځي.
۳) په اداره کې د عامه اړیکو مدیران دې د خپلې دندې پرمهال د اسلامي مقدساتو، ملي ارزښتونو، ټولنیز امنیت او ملی ګټو ته احترام او درناوي په پام کې ونیسي.
٤) په اداره کې د عامه اړیکو مدیران دې د سیمي د کلتور، مذهب او دیني ارزښتونو ته احترام ولري او په استخدام کې بدون د کوم دیني او نژادي توپیر څخه باید کار اهل کار ته وسپارل شي.
٥) په ټولو دولتي او غیر دولتي ادارو کې د وړ کسانو ګمارنه، ترڅو د ادارو د پرمختګ سبب وګرځي.

**پایله**

انساني ټولنې، سازمانونه، شرکتونه او ګوندونه که سیاسي، تجارتي، فرهنګي، نظامي یا ټولنیز وي د پرمختګ اصلي عامل مدیریت (Management) دی. هره اداره د ټاکلو موخو د ترلاسه کولو لپاره منسجم جوړښت لري، چې غړي یې متقابلې اړیکې لري او داخلي اړیکې په سمه توګه تنظیم شوې وي. انسان د سازمان مهم غړی دی، چې له نورو سره اړیکې جوړوي، مفاهمه کوي او پیغامونه استوي. د ادارې د عامه اړیکو شهرت او کارکردګي د عامه اړیکو د مدیرانو د لیدلوري سره تړاو لري او د اصولو تطبیق زیاتره د ادارې د مدیرانو د عملکرد تابع دی.

په پایله کې ویلای شو چې اداره د ټولنې د پرمختګ او ثبات بنسټ جوړوي، ځکه دا د منابعو سمې استفادې، همغږۍ او موخو ته د رسېدو لپاره منظم سیستم برابروي. مدیریت د ادارې روح دی، چې د مدیر د تصمیم، پلان، رهبرۍ او کنترول له لارې اهداف ترلاسه کېږي.

د ادارې او مدیریت تاریخي بهیر ښیي چې انسان تل د تنظیم، مشرتابه او همکارۍ اړتیا درلوده، چې همدا د عصري ادارو او مدیریت بنسټ شو. په دې لړ کې عامه اړیکې د ادارې مهم رکن دی، چې د خلکو او ادارې ترمنځ باور، تفاهم او همکاري رامنځته کوي. په افغانستان کې د عامه اړیکو مدیریت ورو خو ثابت پرمختګ کړی او د ادارې روڼتیا، حساب ورکونې او مثبتو اړیکو لپاره مهم پړاو ګڼل کېږي.

نو ویلای شو چې د اغیزمنې ادارې لپاره نه یوازې ښه مدیریت، بلکې د عامه اړیکو قوي سیستم اړین دی، څو اداره د خلکو ملاتړ، باور او ګډون ترلاسه کړي او د ټولنې پرمختګ او ثبات ته لاره هواره کړي. د مقالې پایله دا شوه چې اداره د ټولنیز نظم، د خلکو د اړتیاوو پوره کولو او د ګډو موخو د ترلاسه کولو بنسټیزه وسیله ده او مدیریت هغه علمي او عملي بهیر دی چې د ادارې فعالیتونه منظموي او اهدافو ته یې رسوي. عامه اړیکې د ادارې او خلکو ترمنځ باور، همکاري او مثبتې اړیکې ټینګوي او د پروګرامونو ښه تطبیق، ستونزو حل او د شفافیت د پیاوړتیا زمینه برابروي. په افغانستان کې د عامه اړیکو مدیریت ورو خو ثابت پرمختګ کړی او اوس د عصري مدیریت مهمه برخه ګڼل کېږي. په ټوله کې، د ادارې بریا د ښه مدیریت او د عامه اړیکو د اغیزمنو بهیرونو په پلي کولو پورې تړلې ده.

# Public Relations Management in the Organization

Assistant Prof. Assadullah Tanay, School of Communication and Public Relations, Public Relations Department
**Email**: assad.t.wj@gmail.com

**Abstract**
Public relations management is one of the important members of contemporary administration. Management is the scientific and practical process of communication between independent local government bodies and local regions and regional. The government of national unity is that the positive position and positive aspects of the government gain the trust of the people and take a step towards the strategic goals of this administration through communication. Public relations is not only for the sake of showing the reputation and trust of the government, but also plays an important role in managing the procedures carried out, understanding the needs and ensuring transparency. Through effective communication, building trust, monitoring public opinion and using modern media tools, it can manage correctly and harmoniously from the perspective of its employees, clients and society. As a result, public relations management is of fundamental importance for the sustainable growth of an organization, public satisfaction, and the implementation of social responsibility. Because today the term public relations management is also used together with the organization, it can be said that today the science of public relations management has chosen an international status for itself and the manager in every organization in the world is required to acquire the knowledge of public relations management, so that as a result, an organized and developed organization can be established and the organization can easily achieve its goals. The foundation of public relations success in society, building trust and cooperation, facilitating crisis management, social responsibility and impact, and the strategic importance of the organization will be the main findings and achievements of this study. In the end, we can conclude that from all these reasons, public relations in the organization is not just a ceremonial activity, but an important tool for achieving the organization's strategic goals.

**Keywords:** public relations, management, governance, transparency and strategic goals.

**ماخذونه**

القران کريم
بخاري، مسلم
تسليمي,م. س. (۱۳۹۳). مديريت تغير سازماني. تهران: دانشگاه تهران.
حسرتو ,ض .ا) .۱۳۹۲ .(د ښوونيز مديرت اصول .ننګرهار :يار خپرندويه ټولنه.
خليق ,ص .ا. (2012, 10 30). Larawbar. Retrieved from www.larawbar.com: https://larawbar.net
دوديال ,م .ب) .۱۳۹۴ .(د سازماني اړيکو مديريت .ننګرهار :يار خپرندويه ټولنه.
سخي ,م) .۱۳۹۳ .(عامه اداره .جلال اباد :يار خپرندويه ټولنه.
عبدالباقي ,ح .ف) .۱۳۲۵ .(تفسير حقاني .پېښور :خقانيه .
فضلي ,ع .ا) .۱۳۹۴ .(اداره او مديريت .ننګرهار :يار خپرندويه ټولنه.
مصلح ,ن .ا) .۱۳۹۳ .(د مديريت بنسټونه .ننګرهار :ګودر کتاب پلورنځی.
ملکزی ,ق .ا) .۱۳۹۴ .(مديريت تيوري او عمل .پېښور :عنايت خپرندويه ټولنه.
نظری ,م .ا) .۱۳۹۰ .(*تاريخ اداره و مديريت در افغانستان*.کابل خپروندیه ټولنه.

Bernays, E. (1952). Publlic Relations . Oklahoma : Oklahoma Press.

Grunig, J. &. (1984). Managing Public Relations . Kansas: Winston.

Grunig, J. (1992). Excellent in Public Realtions and Communication Management. Kansas: Lawrence Erlbaum Associates .

Smith, R. (2017). Strategic Planning for Public Relations. New York, SUNY: Routledge.

Theaker, A. (2017). The Public Relations Handbook. Birmingham: Routledge.

Luther,H. (1937). Notes on the Theory of Organization. Papers on the Science of Administration.Ed.

# د اسلامي بانکدارۍ په ترویج کې د حنفي فقهې رول

پوهندوی دوکتور مفتي عزت نور د شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې استاد
**ایمیل ادرس:**shabzalmi@gmail.com

**لنډیز**
اسلامي بانګداري د معاصر اقتصاد یوه نوي او مهمه پدیده ده چې د اسلامي شریعت پر اصولو ولاړه ده. د اسلامي بانګدارۍ دا نظام د ربا، قمار، غرر او نورو ناروا معاملاتو څخه د اقتصاد د پاکولو هڅه کوي، څو مسلمان ملتونه وکولای شي چې د خپلې دیني عقیدې او حنفي مذهب مطابق اقتصادي فعالیتونه ترسره کړي. د اسلامي بانګدارۍ ترویج او پراختیا نه یوازې دا چې د متخصصینو، اقتصادپوهانو او د مالي ادارو د هڅو پایله ده، بلکې د حنفي فقه د قواعدو رول په کې بنسټیز اهمیت لري. د بیت المال اداره، د مالیاتو ټولونه، د زکات نظام، او د عامه شتمنیو مدیریت ټولې هغه برخې دي چې په مستقیم ډول د حنفي فقه څخه سرچینه اخلي. دا تجربه ښيي چې د اسلامي اقتصاد د هر ډول نظام په څانګړې توګه د اسلامي بانګدارۍ ترویج د حنفي فقې د قواعدو د عملي تطبیق پرته ممکن نه دی. مقاله کې پوره هڅه شوې چې د کتابتوني میتود په خپلو سره چې تحلیلي، مقایسوي او توصیفي بڼه لري، د قرآن کریم، سنت رسول او فقهي متونو پربنسټ د اسلامي بانکدارۍ په ترویج کې د حنفي فقهې رول، ارزښت په شرعي، تحلیلي او مقایسوي څېړنې سره بیان کړي. نتایج څرګندوي چې د بانګدارۍ نظام د اسلامي کېدلو لپاره حنفي فقه تطبیق، د متخصصینو ګمارل او د حنفي فقې د مفاهیمو عامه پوهاوی عامه ول ضروري دي چې په تطبیق سره یې ډېر په اسانۍ یاد اسلامي بانکي نظام ترویج او رامنځته کېږي. د څېړنې پایله څرګنده وي چې حنفي فقه د اسلامي بانکدارۍ بنسټ جوړوي، د نویو معاملاتو د منلو توان لري، د اقتصادي عدالت او سودي نظام لپاره ښه بدیلونه وړاندې کوي او د اسلامي اقتصاد د فلسفې عملي تفسیر وړاندې کوي.

**کلیدي ټکي:** اجاره، استصناع، بانکداري، سلم، شرکت، مرابحه، مضاربت

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

د انساني ټولنو د اقتصادي نظام بنسټ د مال او ملکیت د مشروع دوران، تبادلې او لګښت په عدالت ولاړ اصولو باندې راڅرخي. همدا عدالت د هر سالم اقتصادي نظام روح او محور ګڼل کېږي. په معاصر وخت کې چې د سود، احتکار، استغلال او مالي انحصار پربنسټ د ربوي بانکدارۍ نظام حاکم شوی، د بشریت اقتصادي او اخلاقي توازن له سختو بحرانونو سره مخ دی. د دې بحرانونو د مخنیوي او د بدیل سالم نظام د وړاندې کولو په لړ کې د اسلامي بانکدارۍ مفهوم د یوې حیاتي اړتیا په توګه راڅرګند شو. اسلامي بانکداري هڅه کوي چې د مالي معاملاتو، سرمایې او تمویل ټول جریان د شریعت د احکامو ترچتر لاندې تنظیم کړي، څو عدالت، صداقت، مشارکت او حلال عاید د اقتصادي فعالیتونو معیار وګرځي.

د اسلامي بانکدارۍ فکري، فقهي او نظري بنسټ یوازې د عصري اجتهاد محصول نه دی، بلکې ژورې فقهي ریښې لري چې د اسلامي فقه د سترو مذهبونو په ځانګړې ډول د حنفي فقې له اصولو او قواعدو څخه راټوکیدلې دي. حنفي فقه چې د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله او د ده د شاګردانو د اجتهادي بصیرت محصول دی، د اسلامي اقتصاد د ډېرو بنسټیزو مفاهیمو او فقهي اصولو سرچینه ده. د دې فقهې ځانګړتیا دا ده چې د عقودو، معاملاتو او مالیاتو په باب یې داسې تفصیلي قواعد وضع کړي چې د اسلامي بانګدارۍ لپاره د عملي تطبیق بنسټ جوړ وي.

امام ابوحنیفه رحمه الله او د هغه د فقهې مکتب د معاملاتو په باب د فقه المعاملات یو داسې متوازن نظام وړاندې کړی، چې په کې د تجارت، مضاربت، شرکت، مرابحه، سلم استصناع، اجاره، قرض، ضمان او وکالت ټول اصول د شریعت له مقاصدو سره په موازي توګه تشریح شوي دي. د همدې اصولو پربنسټ نن اسلامي بانکونه د خپلو مالي فعالیتونو لپاره بدیل قراردادونه جوړوي څو د ربوي معاملاتو ځای حلال بدیلونه ونیسي.

د حنفي فقهې د اصولو بله ځانګړنه داده چې د عرف، مصالح، مقاصد الشریعه او رفع الحرج اصولو ته پراخه زمینه برابره کړي، دا ځانګړتیا اسلامي بانکدارۍ ته دا فرصت ورکوي چې د عصري مالي نظام له بدلونونو سره په تعامل کې د شریعت له چوکاټ او وتلو پرته نوي مالي وسایل او قراردادونه رامنځته کړي. له همدې امله د حنفي فقهې د تطبیقي اصولو پربنسټ اسلامي بانکونه وتوانیدل چې د تمویل، سپما، مضاربت او مشارکت عصري میکانیزمونه په عملي بڼه تنظیم کړي.

د اسلامي بانکدارۍ په ترویج کې د حنفي فقه رول یوازې په فقهي مشروعیت نه رامحدودېږي، بلکې دا فقه د یوه اصولي منهج په توګه د اجتهاد، قیاس او استنباط د لارو خلاصون هم وړاندې کوي. د حنفي اصول فقه دا

توان لري چې د هر نوي مالي عقد به اړه د اصولو له مخې فقهي حکم استنباط کړي او همدارنګه د شريعت مقاصد د اقتصادي پرمختګ او ټولنيز عدالت لپاره وکاروي.

په همدې اساس، د اسلامي بانکدارۍ د پياوړتيا او نړيوال قبليدو ترشا د حنفي فقهې ژور اغېز له پامه نه شي غورځېدلای. د اسلامي بانکونو ډېری تمويلي ميکانيزمونه لکه مرابحه، مضاربت، مشارکت او اجاره د حنفي فقهې منابعو په رڼا کې منظم شوي دي. د دې فقهې دقت، اعتدال او واقع بينۍ له امله اسلامي بانکداري وتوانيده چې د معاصر مالي نظام په دننه کې خپل ځای ومومي او د سودي بانکدارۍ پرځای د يو عادلانه او انساني بديل حيثيت ترلاسه کړي.

نو ځکه د «اسلامي بانکدارۍ په ترويج کې د حنفي فقهې رول» موضوع نه يوازې د فقهي مطالعاتو لپاره مهمه ده، بلکې د اقتصادي بديل د تبيين لپاره هم حياتي ارزښت لري. دا موضوع د اسلامي اقتصاد د بنسټيزو مفاهيمو، فقهي اصولو او تطبيقي ميکانيزمونو ترمنځ هغه اړيکه څرګندوي چې د شريعت پربنسټ د معاصر مالي نظام د جوړيدو او ودې لپاره د علمي لارې نقشه برابروي.

که څه هم اسلامي بانکداري په زيات شمېر اسلامي هېوادونو کې رامنځته شوي ده، خو تر ډېره ځايه يې عملي توګه پلي کيدل د قوي شرعي قانوني چوکاټ نه شتون، د مناسب نظارتي طرزالعمل کمښت او د يو واحد فقهي معيار د نشتوالي له امله نيمګړي پاتې ده. له همدې امله ځينې اسلامي بانکونه په ظاهره اسلامي نوم لري، خو په عمل او حقيقت کې د سودي بانګداري سره يې هيڅ فرق نه کيږي. دا چې اسلامي بانکداري د دې عصر يو له مهمو اړتياوو څخه شميرل کيږي، چې د يو هېواد د اقتصادي ثبات او ودې لپاره د روح حيثيت لري، نو په دې اساس کوښښ کوو چې د حنفي فقې له نظره ياده موضوع په دقيق ډول سره وڅيړو.

**د څېړنې موخه**

عمده موخه د دې څېړنې دا ده چې سودي بانکداري نظام ختم او پرځای يې اسلامي بانکداري نظام حاکم شوی وي. د دې عمده موخې لاندې يو څو فرعي موخې شتون لري:

١ – بانکي نظام ته د سودي معاملو بديلونه وړاندې کول.

٢ – د شرعي بديلونو د معاصر تطبيق لارې په ګوته کول.

٣ - د بانکونو مسؤليت د شرعي بديلونو د تطبيق په برخه کې.

۴ – دسودي معاملو توانونه په ګوته کول.

دا چې دا څېړنه پراخه او ژورې رېښې لري او په دې څېړنه باندې زياتو څېړونکو مستقل کتابونه ليکلي دي، دا څېړنې زياتره د نورو هېوادونو څېړنکو د هغو هېوادو د بانکي نظام مطابق ليکلي دي، نو اړتيا ليدل کيده چې په پښتو ژبه په لنډ ډول يوه علمي مقاله وليکل شي.

### د څېړنې اهمیت او کړنلاره

دا چې هېواد مو تازه د غرب او نورو کفري هېوادو له استعمار او اشغال څخه ازاد شوی او اسلامي نظام په مکمل ډول حاکم دی، نو اړینه ده چې بانکي نظام مو هم د سودي او غربي نظامو پر ځای شرعي او د حنفي فقې د قواعدو ترچتر لاندې جوړ او په عملي ډول تطبیق شوی وي؛ حنفي فقه د سودي معاملو د بدیلونو لپاره یو جامع او پوره طرحه وړاندې کوي، ترڅو سودي بانکداري ختمه او حنفي فقې د بدیلونو په تطبیق سره په مکمل ډول اسلامي بانکداري نظام حاکم او رایج شوی وي. د سودي نظام د تردید او د هغې د بدیلو لارو وړاندې کولو لپاره په کتابتوني څېړنه باندې باسنه شوي چې تحلیلي، مقایسوي او توصیفي بڼه لري. په دې څېړنه کې هڅه شوې ترڅو د قرآن کریم، د معتبرو حدیثي او فقهي متونو څخه ګټه واخیستل شي. په دې هیله چې د لوستونکو تنده به تر یو حده ورباندې ماته شي.

### د سودي بانکي نظام د ګټې او تمویل لارې

د سودي بانکي نظام د ګټې او تمویل یواځېنی لار سود دی، هر څوک چې بانک ته د معاملې(اخېستلو او خرڅولو)، قرض ترلاسه کولو او یا هم یو څه امانت اېښودلو لپاره مراجعه کوي، نو په ټولو صورتونو کې بانک د خپل مشتري او ګاګ څخه مشخصه اندازه ګټه اخلي او یا معلومه اندازه ګټه ورکوي چې دا ډول اخیستنه او ورکونه له اوله معلومه شوې وي، چې په دواړو صورتونو کې هېڅ توازن او عدل په نظر کې نه نیول کیږي. که د بانګ څخه قرض اخیستونکی څومره توان وکړي، بیا هم د متعین شوې فیصدی ګټې په ورکړه مکلف دی او که په بانګ کې د مال اینبودونکی په مال باندې هر څومره زیاته ګټه راشي، بیا هم دی د هغه معلومې فیصدی ګټې مستحق دی اګر که ډیره اندازه هم وي، نو د قرض ورکونکي او اخیستونکي دواړو په حق کې بې عدالتي ده. نو د دې په خاطر چې د خلکو د مالو ساتنه او حفاظت شوی وي او ترڅنګ یې د عدل او انصاف په رڼا کې خپله ګټه هم ترلاسه کړې وي، د اسلامي شریعت په رڼا کې حنفي فقه د بانکداری د اسلامي کیدلو لپاره مناسب بدیلونه لري چې د هر طرف په ګټه تمامیږي او ورسره د اسلامي اقتصادي نظام ثبات هم رامنځته کیږي.

د دې لپاره چې موضوع ښه تشریح شوي وي، اول د سودي بانکدارۍ د معاملاتو اصل چې سود دی هغه تشریح کوو، وروسته د اسلامي بانکدارۍ لپاره اصول او بدیلونه وړاندې کوو.

### ربا: د ربا تعریف

لغوي تعریف: ربا عربي لفظ دی چې په مختلفو معناوو سره استعمالیږي، چې په یو څه کې د زیاتوالي معنا یې زیاته مشهوره ده. قرآن کریم کې الله تعالی فرمایي [وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ]، سورة البقرة: الآية:۲۷٦). ژباړه: برکت او

زیاتوالی راولي په صدقاتو کې. بل ځای الله تعالی فرمايي: [وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ رِبًا لِيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُو عِنْدَ اللَّهِ]، سورة الروم: الآية: ۳۹). ژباړه: او هغه څه چې تاسو يې ورکوئ، د دې په خاطر چې د خلکو په مالو کې زيات والی راشي، نو د الله تعالی په نزد په هغه کې هيڅ زياتوالی نه راځي.

د ربا اصطلاحي تعريف: زمونږ فقهاوو د ربا اصطلاحي تعريف داسې کړی دی «فَضْلٌ خَالٍ عَنْ الْعِوَضِ الْمَشْرُوطِ فِي الْبَيْعِ»، (السرخسي، المبسوط ج ۱۲ ص ۱۱۱، دچاپ کال ۱۴۱۴هـق، انواع الربا). العيني، البناية: ج ۸ ص ۲۶۰، دچاپ کال ۱۴۲۰هـق، تعريف الربا). ژباړه: زاتوالی چې خالي وي د هغه عوض څخه چې شرط دی په بيع کې.

**د ربا ډولونه:** حنفي علماوو ربا دوو ډولونو ته وېشلې ده: يو ته يې ربا الفضل وايي، بل ته يې ربا النسيئه وايي.

**۱ – ربا الفضل:** فضل عربي لفظ دی د زيادت او زياتوالی په معنا سره راځي، حنفي فقهاوو په نيز باندې ربال الفضل ديته ويل کيږي، چې په دوه بدلېدنکي اجناس چې د يو جنس څخه وي، يو يې زيات وي په بل باندې او زياتوالي په مقابل کې هيڅ عوض شتون وه نه لري. (الزيلعي، تبيين الحقائق ج۴ ص۸۵ دچاپ کال۱۳۱۳هـق).

نبي کريم - صلى الله عليه وسلم – فرمايي: « عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَالفِضَّةُ بِالفِضَّةِ مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَالبُرُّ بِالبُرِّ مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَالمِلْحُ بِالمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ مِثْلًا بِمِثْلٍ، فَمَنْ زَادَ أَوْ ازْدَادَ فَقَدْ أَرْبَى». (الترمذي، سنن الترمذي: ج ۳ ص۵۳۳ دچاپ کال ۱۳۹۵هـق، باب ماجاء أن الحنطة بالحنطة). ژباړه: عباده بن صامت – رضي الله عنه – روايت کوي چې نبي کريم – صلى الله عليه وسلم – اوفرمايل: سره زر په سرو زرو باندې يو برابر ، سپين زر په سپينو زرو باندې يو برابر ، کجورې په کجورو باندې يو برابر ، غنم په غنمو باندې يو برابر ، مالګه په مالګه باندې يو برابر ، اربشې په اربشو باندې يو برابر ، چاچې يو څه زيات کړل او يايې د زياتوالي غوښتنه وکړه نو دغه کس سود وکړ.

د مثال په ډول يو کيلوغنم په يو نيم کيلو يا يو څه باندې يو کيلو غنمو باندې ورکول سود ده؛ ځکه چې د دواړو بدلېنو جنس يو ده چې غنم دي.

**۲ – ربا النسيئة:** نسيئه هم عربي کلمه ده د تاخير او تاجيل په معنا سره راځي. ربا النسيئه هغه زيادت ته ويل کيږي چې، په يو د بدلينو کې د تاخير په مقابل کې واقع شوی وي. چې ديته ربا الديون هم ويل کيږي. او حرمت يې د قرآن کريم په صريح نص سره ثابت دی. [وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا], سورة البقرة: الآية: ۲۷۵). ژباړه: الله تعالی بيع (اخيستل او خرڅول) حلال ګرځولي دي، او ربا يې حرامه کړي ده.

د مثال په ډول يو کيلو غنم په يو کېلو غنمو باندې د يوې مياشتې په نيته ورکول سود ده، دلته اګر چې په وزن کې زياتوالی نشته ځکه دواړه طرف يو يو کېلو دي، مګر يو طرف ته يوه مياشت وخت راغی نو طرف د يوې مياشتې د نېټې څخه برخمن شو چې دا سود ده.

**د ربا حرمت**

د ربا تحريم د قرآن کريم په صريح نصوصو، د رسول الله – صلی الله عليه وسلم – په زياتو حديثونو او اجماع سره حرامه ده، د مسلمه امت په دې باندې اتفاق دی چې ربا حرامه ده، نو دلته د ربا د تحريم نصوص د زياتوالی او د مقالې د اختصار په بنياد نه راوړو.

**اسلامي بانکونه**

**د اسلامي بانک تعريف**

اسلامي بانک هغه مالي مؤسسه ده چې مالي خدماتونه او معاملې يې د اسلامي شريعت او فقهي قواعدو پر بنسټ تنظيم شوي وي. (الطيار: البنوک الاسلامية بين النظرية والتطبيق: ص ٧٦). څکه ورته اسلامي وايي چې يادو اداراتو په خپل ځان باندې د هر قسم مراجعينو سره(که د امانت ايښودونکي وي، قرض اخيستونکي وي او يا هم د معاملو کونکي وي) د اسلامي شريعت او د فقهي قواعدو په بنياد چلند کول لازمي کړي وي.

**د اسلامي بانکو تاسيس**

د بانک د تاسيس کوششونه له زيات وخت راهيسې دوام درلودلو، چې وروسته له زياتو هڅو لومړنی عملي اقدام په ۱۹٦۳ميلادي کال کې په مصر کې وشو چې وروسته دا لړی نورو هېوادو ته هم وغځېدله، چې د ۱۹۷۱ ميلادي کال څخه د ۱۹۷۸ کال پورې په يو شمېر اسلامي هېوادونو کې مشهور اسلامي بانکونه جوړ شول. لکه څنګه چې په لنډيز کې يادونه وشوه چې دا بانکونه د اسلامي شريعت او د فقهي قواعدو په مکمل ډول پابند نه وو او نه دي.

د حنفي فقه له نظره د اسلامي بانکو د تمويل او عايداتو لارې په لاندې ډول سره تشريح او بيانوو:

**۱ – مشارکه**

د مشارکت تعريف: مشارکه عربي کلمه ده چې د شريک کيدلو او حصه دار جوړېدلو په مانا سره راځي. شرکت د تجارت او کاروبار په لحاظ سره دېته ويل کېږي چې په يو کاروبار کې ټول حصه دار په ګټه او نقصان کې سره

شريک وي. د سودي معاملاتو لپاره يو بهترين بديل دی چې ټول حصه لرونکي د ګټې په ترلاسه کولو او د ګټې په تقسيم سره شريک دي. (السرخسي: المبسوط: ج ۱۱ ص۱۵۳، کتاب الشرکة).

نو مشارکه د سودي بانکدارۍ لپاره يو ښه بديل په دې کېدلی شي چې، په سودي بانکدارۍ کې چې کله قرض واخيستل شي يا ورکړل شي، نو له اوله يوڅه اندازه ګټه معلومه شي، وروسته که نقصان وي او که ګټه هماغه اندازه د ګټې مستحق جوړېږي، توان او نقصان په هېڅ صورت سره نه قبلوي. چې په اسلامي بانکدارۍ کې د مشارکې ټول حصه دار ګټه هم قبلوي او توان هم، چې د ټولو اړخونو ترمنځ تعادل رامنځته شي.

**د مشارکه ډولونه:** حنفي فقهاوو مشارکه دوه لويوډولونو ته ويشلې ده چې يو ته يې شرکت املاک وايي بل ته يې شرکت عقود وايي. صاحب د هدايي وايي: « الشركة ضربان: شركة أملاك، وشركة عقود» الهدايه:۵/۳، کتاب الشرکة). ژباړه: شرکت په دوه ډوله ده: شرکت املاک، شرکت عقود.

**اول: شركة الأملاک:** شرکت املاک ديته ويل کيږي چې، دوه يا زيات کسان په عين کې سره شريک شي خو بغير د کوم عقد څخه. يعني د کومې معاملې په بنياد دوی دا عين نه وي ترلاسه کړي، يا خو په ميراث کې ورته پاتې وي، يا په هبه باندې د کوم عين مالکان شوي وي، او يا د دواړو مالونه بغير له کومې معاملې سره ګډ شوي وي. (الهدايه: ۵/۳، کتاب الشرکة).

شرکت الأملاک بيا په دوه ډوله دی: اختياري: او بل يې غير اختياري دی. اختياري ديته ويل کيږي چې د شريکينو په فعل او قصد باندې دواړه سره شريک وګرځي، لکه هبه او يا د چا په وصيت سره دواړو ته څه ورکړل شوي وي او داوړو دا د وصيت شی قبول کړی وي. او غير اختياري ديته ويل کيږي چې بغير د شريکينو له قصد او فعل څخه د يو شي مالکان وګرځي او سره شريک شي لکه ميراث.(الکاساني، بدائع الصنائع: ج ٦ ص٥٦، دچاپ کال ۱۴۰٦هـق، کتاب الشرکة).

**دويم: شركة العقود:** شرکت عقود ديته ويل کيږي چې دوه يا زيات کسان د يوې معاملې په صورت کې په مال او د مال په ګټه کې سره شريک شي. شرکت عقود په درې قسمه دی: شرکت أموال، شرکت اعمال، شرکت وجوه. (الکاساني، بدائع الصنائع: ج ٦ ص٥٦، دچاپ کال ۱۴۰٦هـق، کتاب الشرکة).

**۱ – شركة الاموال:** شرکت اموال ديته ويل کيږي چې هر شريک خپل رأس المال (پيسې) سره شريکې کړي او په کار او ګټه دواړو کې سره شريک شي. (الکاساني، بدائع الصنائع: ج ٦ ص٥٦، دچاپ کال ۱۴۰٦هـق، کتاب الشرکة).

**۲ – شرکة الاعمال:** شرکت اعمال دیته ویل کیږي چې په یو ځای کې یو خدمت سره تیار کړي او سره اوایي چې د دې کار په بدل کې چې کومه ګټه راځي هغه به مو سره شریکه وي، لکه خیاطي، د شخصي تعلیمي ځایونو برابرول او داسې نور. شرکةالاموال ته شرکة التقبل، شرکة الصنائع او شرکة الابدان هم ویل کیږي. (الکاساني، بدائع الصنائع: ج ٦ ص٥٦، دچاپ کال ١۴٠٦هـق، کتاب الشرکة).

**۳ – شرکة الوجوه:** شرکت وجوه دیته ویل کیږي چې یو څو کسان چې د خلکو په منځ کې رسوخ ولري او سره ووایي چې په قسطو او قرض باندې به یو څه اخلو او په نغدو به یې خرڅه وو، کومه ګټه چې راځي په دومره اندازه به سره شریک وو. (الکاساني، بدائع الصنائع: ج ٦ ص٥٨، دچاپ کال ١۴٠٦هـق، کتاب الشرکة).
د شرکت نور تشریحات او وضاحتونه زیات بحث او تحقیق ته ضرورت لري، دلته مو په هم دومره بحث باندې بسنه کړي ده. د مشارکه د جواز صورتونه، د ګټې، نقصان او د سرمایې نوعیت تفصیلات مو د اختصار په بنیاد ذکر نه کړل.

**۲ – مضاربت:** مضاربت د شرکت یو خاص قسم دی چې یو کس خپلې پیسې د بل کس په واک کې ورکوي ترڅو هغه ورباندې کاروبار وکړي چې د پیسو واله شخص ته (رب المال) ویل کیږي، پسې ټولې د رب المال وي. او د کار واله شخص ته (مضارب) ویل کیږي چې د کاروبار ټول ترتیب، پرمختګ او عمل هرڅه د مضارب په ذمه باندې وي.

**د مضاربت او مشارکت ترمنځ په لاندې نقطو کې فرق واضح کیږي.**
۱ – په شرکت کې سرمایه د دواړو له طرفه وي او په مضارت کې سرمایه یواځې په رب المال باندې وي.

۲ – په شرکت کې ټول شریکان په ګډه د کاروبار لپاره کار کوي، او په مضاربت کې رب المال هیڅ عمل نکوي ټول د کار مسؤلیت د مضارب په ذمه باندې وي.

۳ – په شرکت کې هر شریک د خپلې سرمایې په اندازه په نقصان کې شریک وي او په مضاربت کې ټول توان په رب المال باندې وي. البته په دې شرط سره چې مضارب د تجارت ټول اصول مراعت کړي وي او که مضارب بې احتیاطي او غفلت کړی وي نو تاوان بیا په مضارب باندې لازم دی.

د مضاربت او شرکت دواړو لپاره ضروري ده چې د کار په پیل کې دواړه اړخونه د ګټې، نقصان او کاروبار اړوند توافقنامه سره جوړه کړي چې د دواړو طرفونو د حقوقو ساتنه په کې شوي وي. د مضاربت د جواز دلیلونه، د

مضاربت حکمتونه، د مضاربت رکنونه او د مضاربت د پای ته رسولو لاره، دا ټول اوږده بحثونه دي چې دلته يې راوړل ناشوني دي، بدائع الصنائع او نورو معتبرو کتابو په تفصیل سره بیان کړي دي هلته يې کتلی شي.(بدائع الصنائع:ج ٦ ص ٧٩، کتاب المضاربة).

**٣ – شرکت متناقصه:** د بانکونو د اسلامي کیدلو او د سودي بانکدارۍ د ختمولو لپاره یو بل بدیل شرکت چې په وروستیو وختو کې رایج شوی دی شرکت متناقصه دی ، متناقصه ځکه ورته وایي چې په تدریج سره د یو حصه کمیږي ترديږي چې مکمل ملکیت د بل کس شي.
شرکت متناقصه صورت داسې دی چې یو تمویل کوونکی کس د بل کس سره یوځای یوڅه واخلي، ځمکه وي او یا بل هرڅه چې وي، په دې ملکیت کې د تمویل کوونکي حصه مثلا د سلو څخه اتیا برخې(فیصده) وي، او د بل عمیل کس شل برخې(فیصده) وي، وروسته د تمویل کوونکي حصه په څو برخو تقسیم کړي، مثلا هره برخه به درې میاشتې وروسته د تمویل کوونکي څخه عمیل اخلي تردې چې ټول ملکیت په تدریج سره د تمویل کونکي ختم شي، او ټول ملکیت د عمیل وګرځي. دا شرکت متناقصه په مخلتفو معاملو کې په بیلا بېلو لارو سره کارول کیږي. (محمد تقي عثماني: اسلامي بینکاری کی بینادین:ص٨٥. دچاپ کال نه لري).

**شرکت متناقصه لاندې صورتونو سره روا دي**

١ – په جایداد کې مشترک ملکیت پیداکول.
د شرکت په اول کې دا بیان وشو چې شرکت الملک په مختلفو لارو سره کیدی شي چې یو له دغو لارو څخه په شریکه د یو څه اخیستل وو، چې د شریعت له نظره روا وو هیڅ مشکل يې نه درلودل(ابن عابدین، رد المحتار: ج٣ ص٣٦٤، ٣٦٥). نو ځکه دلته د شرکت متناقصه دا صورت جائز دی.
٢ – د تمویل کونکي برخه په کرایه کې ورکول.
د دې صورت داسې دی چې تمویل کونکی د مشترک کور یا ځمکې خپله حصه عمیل ته په اجاره باندې ورکړي او د کرایې په صورت کې خپل حق وصول کړي. د شرکت متناقصه د دې صورت په جواز کې هم هیڅ اختلاف ځکه نشته چې په شریک ملکیت کې وړاندې له ویشلو د خپلې حصې په اجاره ورکول روا دي.(ابن عابدین، رد المحتار: ج ٦ص٤٧، ٤٨).
٣ – د عمیل له طرفه تمویل کونکی د مشترک شي اخیستلو ته په دې وعده تیارول چې وروسته زه ستا برخه ستا څخه اخلم.

د شرکت متناقصه دریم د جواز صورت په دې ډول دی چې عمیل تمویل کونکي څخه د ده برخه مخکې له تقسیم څخه په مختلفو وختو او مختلفو برخو واخلي. د مشاع (شریک شی مخکې له تقسیمه) خرڅول په دریو صورتو سره راځي: یو داچې دواړه شریکین په بل چا باندې شریک شی خرڅ کړي. دویم داچې یو شریک په بل شریک باندې خپله برخه خرڅه کړي، د دې دواړو صورتو په جواز کې هیڅ اختلاف نشته. درسم صورت داسې دی چې یو شریک په بل دریم کس باندې خپل ملکیت خرڅوي، په دې کې د فقهاوو اختلاف دی.(ابن عابدین، رد المحتار: ج ۳ ص۳۶۵).

**۴ – مرابحه مؤجله:** مرابحه مؤجله د پانګونې لپاره د شرعی اصولو په رعایت کولو سره یوه روا لاره ده. د مرابحه مؤجله صورت داسې دی چې کله یو څوک بانک ته د پور اخیستلو لپاره ورځي، بانګ ترې معلومات غواړي چې پور د څه لپاره غواړې؟ نو بانګ د ده ضرورت ته په کتلو سره هغه شی د دې کس لپاره اخلي، او په دغه کس باندې یې بانګ د مرابحې مؤجله په صورت سره خرڅوي چې د غه شخص به بانک ته په ټاکلو قسطو سره قیمت ورکوي، چې د مساومې په صورت کې هرڅومره ګټه ټاکل کیدل مشکل نه لري.

په اوس وخت کې بانکونو په زیاته اندازه سره مرابحې ته مخ کړی دی او دا بیع ترسره کوي. چې اکثره یې د مرابحې شرطونو ته توجه نکوي. مرابحه ډیره نازکه معامله ده چې په ډیره کم غفلت سره معامله سودي ګرځیدلی شي. عموما نن سبا بانګونه د مرابحې په نامه یو څه د یو شخص څخه په کم قیمت اخلي بېرته یې په هماغه شخص باندې په زیات قیمت باندې خرڅوي چې دا معامله ناروا ده.

د مرابحې لپاره به عموم کې هغه شرطونه په نظر کې نیول ضروري دي چې کوم د عام اخیستلو او خرڅولو لپاره ضروري دي:لکه د عقد په وخت کې د مبیعي (کوم شی چې اخیستل کیږي) موجودیت، په مبیعې باندې ملکیت او د مبیعې قبض کول. او نور هغه مهم شرطونه رعایت کول اړین دي په کومو سره چې بیعه فاسده او یا باطله ګرځي.

د صحیح مرابحه لپاره یو څو مراحل په نظر کې نیول اړین او ضروري دي: اول داچې د بانک او د یوشي غوښتونکي ترمنځ یوه جامع توافقنامه ضروري ده چې د واړو خوا اړخونو د ګټې تعیین او نور اړین شیان په کې وجود ولري. دویمه مرحله دا ده چې د معین شي د نښو ورکولو وروسته دا شخص د بانک لطرفه وکیل مقرریږي او د دواړو طرفو څخه لاسلیک کیږي. دریمه مرحله داده چې مطلوب شی د وکیل په حیث د بانک لپاره اخلي او هغه قبض کوي. څلورمه مرحله دا ده چې دا وکیل بانک ته د دې مطلوب شي د اخیستلو خبر ورکوي او بانک ته د ایجاب لپاره د هغه د اخیستلو غوښتنه کوي. پنځمه مرحله داده چې بانک د هغه وکیل شخص ایجاب قبلوي

او معامله مکمله کیږي. که چېرته بانک په خپله له وکیل څخه پرته مطلوب شی اخلي نو ترټولو ښه خبره ده. (اسلامی بینکاری کی بنیادی: ص۱۱٦، محمد تقي عثماني).

**۵ – اجاره:** اجاره هم د پانګونې یوه شرعي لاره ده چې د دې په توسط سره د اوږدو قرضونو د روکړې پر ځای باندې د اجارې له لارې پانګونه کیږي. د اجارې تعریف زمونږ د حنفي مذهب علماوو داسې کړی دی «عقد علی منفعة معلومة بعوض معلوم إلی مدة معلومة» (العیني، البنایه: ج ۱۰ص ۲۲۱، تعریف الاجارة).

ژباړه: اجاره به یوه معلومه نفعه باندې عقد دی چې د معلوم عوض به مقابل کې د معلوم وخت لپاره ترسره کیږي.

په عمومي ډول د اجارې لپاره لکه چې په تعریف کې ذکر شول، د یو څو شرطونو لحاظ کول اړین دي: چې د نفع تعین دی، عوض تعین دی او وخت معلومول دي، او دې ترڅنګ هغه شی چې په اجاره ورکول کیږي ضروري ده چې قیمت لرونکی شی به وي، او د مالک په ملکیت کې به هم وي او د هغه منافع به قابل د استفادې هم وي.

**٦ – سلم:** د پانګونې لپاره یوه بله بدیله او مناسبه لاره هغه د سلم عقد دی ، چې بانکونه د سلم بیعې او استصناع عقد له لارې پانګونه کولی شي. د سلم او استصناع عقد لپاره فقها وو یو څو شرطونه بیان کړي دي چې د هغې رعایت کول اړین او ضروري دي.

د بیع سلم تعریف فقهاوو داسې کړی دی. «بیع آجل بعاجل» (ابن عابدین، رد المحتار: ج ۵ ص ۲۰۹، باب السلم).

ژباړه: اخېتسل د آجل دي په عاجل باندې. یعنې قیمت سمدستي ورکوي او مبیعه وروسته ورته تسلیمیږي.

په بیع سلم کې اخیستونکي ته «رب السلم» او خرڅونکي ته «مسلم الیه» او مبیعې خرڅېدونکی شی ته «مسلم فیه» وایي.

د سلم بیعې لپاره یو څو شرطونه فقاوو بیان کړي دي چې په لاندې ډول دي:

۱ – د بیع سلم د عقد په وخت کې به ضرروري اخیستونکی خپلې ټولې پیسې خرڅونکي ته ور کوي. که چرته قیمت د عقد په وخت کې ورنکړل شي یو څه اندازه پیسې پاتې شي نو دا بیع بالدین راځي چې صراحتا ورڅخه منع راغلي ده.

۲ – سلم یواځې په هغو شیانو کې روا ده چې د پیشکي پیسو لپاره یې مقدار تعیین کیدونکی وي.

۳ – د یو مشخص باغ د ونو او یا د مشخصې ژرندې په پیدا وار کې سلم نده روا، د مثال په توګه اوایي چې ماته به د پلانی ژرندې اوړه راکوې.

۴ – په کوم شي کې چې سلم کیږي ضرور ده چې نوعیت او معیار یې په داسې ډول معلوم کړي چې جګړې ته لار هواره نشي.

۵ - د سلم لپاره دا هم ضرور ده چې اخیستونکي شي مقدار متعین کړي، کوم شی چې د تجارانو په عرف کې وزن کیږي حتمي ده چې وزن یې معلوم وي، او کوم شی چې تول کیږي ضرور ده چې پیمانه یې معلومه وي.
٦ - د اخیستونکي شي د سپارلو او ورکولو ځای هم باید معلوم وي. حدیث شریف کې راځي: «مَنْ أَسْلَفَ فَلْيُسْلِفْ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ» (الترمذي، سنن الترمذي: ج ۳ ص۵۹۴، باب ماجاء السلف في الطعام والتمر). ژباړه: کوم کس چې سلم کوي، نو سلم دې په معلومه پیمانه، معلوم وزن او معلومې نیټې سره وکړي.( ابن الهمام، فتح القدير: ج ٦ ص۲۰۵).
۷ - بیع سلم په هغو شیانو کې نده روا چې د هغه ورکول په سمدستي ډول ضروري وي. د مثال په توګه سره زر د سپینو زرو په مقابل کې په سمدستي ډول یې ادا کول لازمي دي.
۸ - د کوم شی چې اخیستل کیږي ضرور ده چې د وخت د عقد څخه تر وخت د ورکړې پورې باید په مارکیټ کې شتون ولري. په دې اساس که د عقد په وخت کې وجود وه نه لري سلم روا نده. (الكاساني، بدائع الصنائع: ج ۵ ص۲۱۱).

**۷ - استصناع**

استصناع هم دا سې یو عقد دی چې اخیستونکی د یو شي د تیارولو لپاره د ورکړل شویو صفتو مطابق شی تیاریږي او سپارل کیږي.
په استصناع کې دا ضروري ده چې قیمت او د مقصودي شي صفتونه به د دواړو عاقدینو په رضامندی سره ترسره کیږي.
د سلم او استصناع ترمنځ یو څو فرقونه په لاندې ډول ذکر کوو:
۱ - استصناع په هغه شي کې کیږي چې د تیارولو او جوړولو ته ضرورت لري، او سلم په هر شي کې کیږي که جوړولو ته ضرورت لري او کنه.
۲ - په سلم کې دا ضروري ده چې قیمت به په اول کې په پیشکي ډول ورکول کیږي او په استصناع کې یې په اول کې قیمت ورکړه لازمي نه ده.
۳ - کله چې د سلم یوه مرحله ترسره شي نو د عقد یو طرفه ختمول نکېږي، او په استصناع کې د سامان د تیارولو څخه مخکې منسوخ کیدلی شي.
۴ - د سپارلو وخت د سلم لپاره تعیین کول ضروري دي او د استصناع لپاره د سپارلو د وخت تعین اړین نه دي. (اسلامی ینکاری کی بنیادی: ص ۲۱۱).

**پایله**

د بحث په ورستیو کې لاندې پایلو ته رسیدلي یو:

۱ – د حنفي فقهې د اسلامي بانکدارۍ فقهي بنسټ جوړوي:

د اسلامي بانکدارۍ او عموم کې مالي نظام لپاره د ډېرى تمويلي او معاملاتي عقدونو مشروع چوکاټ وړاندې کوي.

۲ – د حنفي فقه مکتب د نوازلو او نويو مالي تعاملاتو د منلو وړتيا لري، او د عقل، قیاس، عرف او مصالحو پربنسټ جوړ شوی منهج لري، له همدې امله دا فقه د عصري مالي اړتیاوو په رڼا کې د نوي فقهي حلول وړاندیز کولو توان لري.

۳ – حنفي فقه د شريعت مقاصدو او اقتصادي عدالت ترمنځ توازن ساتي: د حنفي فقې اصول د رفع الحرج، تحقيق العدالة او تحقيق المصلحة په روح ولاړ دي چې د اسلامي بانکدارۍ ته دا زمينه برابروي چې په خپلو معاملاتو کې د ټولنيز عدالت، ثبات او اخلاقي اقتصاد اصول مراعت کړي.

۴ – حنفي فقه د سودي نظام لپاره عملي بديل وړاندې کړی: په معاصرو بانکدارۍ کې چې سود د اصلي محور حيثيت لري، حنفي فقه د مشارکت، مضاربت او مرابحې په څېر بديلونه وړاندې کړي چې د خطر، گټې او زيان د شريکولو پر بنسټ ولاړ دي، نه دا استغلال پر بنسټ.

۵ – حنفي فقه د اسلامي اقتصاد د فلسفې عملي تفسير وړاندې کوي: حنفي فقه يوازې فقهي نصوص نه دي، بلکې د اسلامي اقتصاد د فلسفې عملي تطبيق دی، چې د عادلانه ويش، شفاف تجارت، او حلال عايد مفکوره په واقعي توگه پلي کوي.

۶ – حنفي فقه د اسلامي بانکدارۍ د دوام او باور سرچينه ده: د حنفي فقهې د عملي اعتبار، منځلاريتوب او ژور اجتهادي بنسټ له امله اسلامي بانکداري د مسلمانانو او حتی غير مسلمانانو تر منځ د باور وړ نظام گرځېدلی دی.

**وړاندیزونه**

۱ – د حنفي فقه د اصولو ژوره مطالعه او تدریس ته پاملرنه: په پوهنتونونو، ديني مدرسو او بانکي روزنيزو مرکزونو کې دې د حنفي فقهې، د حنفي فقه د اصولو په ځانګړي ډول د فقه المعاملات تدریس ته ځانګړي توجه وشي، څو د اسلامي بانکداری عملي او فقهي اړيکه لا پياوړې شي.

۲ – د اسلامي بانکونو لپاره دحنفي فقه پر بنسټ د څارنې او نظارت شرعي بورډونو پیاوړی کول: اسلامي بانکونه دې په شرعي بورډونو کې د حنفي فقه متخصصين ځای پرځای کړي، ترڅو د ټولو معاملاتو او تمويلي قراردادونو مشروعیت د د ژورې فقهي مطالعې پر بنسټ وڅارل شي.

۳ – د عصري مالي نظامونو سره د حنفي فقه تطبيق لپاره د علمي څېړنو ته دې وده ورکړل شي: اکاډميکو مرکزونو او څېړنيزو مؤسسوته پکار ده چې د حنفي فقه د قواعدو په رڼا کې د نوو مالي وسايلو لکه اسلامي بيمه، صکوک او ډيجټل تمويل په اړه څېړنې وکړي، څو د شريعت مطابق بدیلونه رامنځته شي.

۴ – د حنفي فقه پر بنسټ د اسلامي بانکداری قانوني چوکاټ جوړول: د اسلامي هېوادونو د طرز العملونو او طرحو جوړوونکو ادارو لپاره لازه ده چې د حنفي ققهې له اصولو الهام واخلي، او د اسلامي بانکداری لپاره داسې طرز العملونه او مقررات وضع کړي چې د شريعت د مقاصدو سره همغږي ولري.

۵ – د اسلامي بانکونو او ديني علماوو ترمنځ همکاري پياوي کول: د بانکي چارو متخصصين او فقهاء دې په ګډه علمي سمينارونه او ورکشاپونه جوړ کړي، څو د فقهي اجتهاد او بانکي واقعيت ترمنځ د علمي پله جوړونه وشي.

۶ – د اسلامي بانکدری لپاره د حنفي فقهې د مفاهيمو عامول: د عامو خلکو ترمنځ دې د اسلامي بانکداری په اړه د پوهاوي پروګرامونه ترسره شي، او وښودل شي چې د حنفي فقه پر بنسټ اسلامي بانکداری څنګه د ربوي نظام حلال بديل دی.

۷ – د حنفي فقه او اقتصاد ترمنځ د بين العلومو څېړنې ته وده ورکول: د فقهاوو او اقتصاد پوهانو ګډې څېړنې کولای شي اسلامي بانکداری ته د حنفي فقه تطبيقي او عصري حيثيت ورکړي، او د اقتصادي ستونزو لپاره شرعي حل لارې وړاندې کړي.

۸ – د اسلامي بانکداری د نړيوال ترويج لپاره د حنفي فقه استدلالي اسناد چمتو کول: د نړيوالو مالي ادارو د قناعت لپاره بايد د حنفي فقه د اصولو پر بنسټ مستدل فقهي اسناد، فتواوې او څېړنيز راپورونه خپاره شي، څو اسلامي بانکونه نړيوال اعتبار ترلاسه کړي.

# The Role of Hanafi Fiqh in the Promotion of Islamic Banking

Assistant. Professor Dr. Mufti Ezzat Noor, Faculty of Sharia, Department of Fiqh and Law, Shaikh Zayed University
**Email Address:** shabzalmi@gmail.com

**Abstract**
Islamic banking is a new and significant phenomenon in the contemporary economy, founded upon the principles of Islamic Sharia. This system seeks to purify economic activities from usury (riba), gambling (qimār), excessive uncertainty (gharar), and other unlawful transactions, enabling Muslim nations to conduct their economic affairs in accordance with their religious beliefs and the Hanafi school of jurisprudence. The promotion and development of Islamic banking is not merely the result of the efforts of specialists, economists, and financial institutions; rather, the principles of Hanafi fiqh play a foundational and indispensable role in this process. The administration of Bayt al-Māl, tax collection, the zakat system, and the management of public assets are all areas directly derived from Hanafi jurisprudence. This experience demonstrates that the advancement of any Islamic economic system—particularly Islamic banking—cannot be realized without the practical application of the principles of Hanafi fiqh. This article employs a documentary methodology combining analytical, comparative, and descriptive approaches to explain, based on the Qur'an, Prophetic Sunnah, and classical jurisprudential texts, the role and value of Hanafi fiqh in promoting Islamic banking. The findings indicate that, for a banking system to be genuinely Islamic, the application of Hanafi jurisprudence, the recruitment of qualified experts, and widespread public awareness of Hanafi legal concepts are essential. Through their implementation, the establishment and promotion of the Islamic banking model becomes significantly easier. The study concludes that Hanafi fiqh forms the foundational structure of Islamic banking, possesses the capacity to accommodate new financial transactions, offers strong alternatives to interest-based systems, and provides a practical interpretation of the philosophy of Islamic economics.

**Keywords:** Ijarah, Istisna‘, banking, Salam, partnership, Murābaḥah, Muḍārabah

**اخځلیکونه**

قرآن کریم

ابن الهمام، كمال الدين ابن الهمام، فتح القدير. دچاپ کال (نه لري)، بيروت: دارالفكر.

ابن عابدين، محمد بن امين، ابن عابدين الشامي، رد المحتار على درالمختار. دچاپ کال (نه لري) بيروت: دارالفكر.

الترمذي, محمد بن عيسى الترمذي، سنن الترمذي، چاپ کال (۱۳۹۵هـق)، مصر: مطبعه مصطفى البابي الحلبي.

الزيلعي، عثمان بن علي، فخرالدين، تبيين الحقائق. دچاپ کال(۱۳۱۳هـق)، القاهره: المطبعة الكبرى الأميرية.

السرخسي، محمد بن أحمد، شمس الأئمة السرخسي، المبسوط. دچاپ کال(۱۴۱۴هـق)، بيروت: دارالمعرفة.

عبد الله بن محمد بن أحمد الطيار. البنوک الاسلامية بين النظرية والتطبيق. دچاپ کال او نشر (نه لري).

العيني، ابومحمد محمود بن أحمد، بدرالدين العيني، البنايه شرح الهدايه. دچاپ کال(۱۴۲۰هـق)، بيروت: دارالكتب العلمية.

الكساني، علاء الدين، ابوبكر بن مسعود الكاساني، بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. دچاپ کال(۱۳۰٦هـق)، بيروت: دارالكتب.

محمد تقي عثماني. اسلامي بنکاری کی بنيادی. دچاپ کال او نشر(نه لري).

المرغناني، علي بن أبي بكر ، الهدايه شرح البدايه. دچاپ کال (نه لري) بيروت: دار الاحياء التراث العربي، لبنان.

# په اداري کلتور باندې د تضمین کیفیت اغېزې: د شیخ زاید پوهنتون مطالعه

پوهنمل رحمت الله منګل ۱* ، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد، مالي او بانکي، خوست – افغانستان.
نوماند پوهنیار خالد شاکر ۲، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد، اداره او تجارت، خوست، افغانستان.
**برېښنالیک:** rahmatmangal86@gmail.com

**لنډیز**

اداري کلتور یوې ادارې ته برانډ شخصیت وربښي او د دې تر څنګ اداري کلتور او د کیفیت تضمین پروسه یو له بل سره خورا نږدې اړیکې لري. موږ همدغو اړیکو او اهمیت ته په کتو څېړنه تر سره کړې. دا چې د کیفیت تضمین یوه مهمه پروسه ده او اداري کلتور باندې خورا ژورې اغېزې پرې باسي او تر اوسه په دې اړه په شیخ زاید پوهنتون کې څېړنه نه ده تر سره شوې او کیفیت تضمین ځینې داسې اغېزې هم رامنځ ته کړي، چې د ادارې په کړنو او کیفیت یې منفي اغېز کړی نو همدې ستونزې ته په کتو د دې څېړنې اصلي موخه همدا ده، چې کیفیت تضمین په اداري کلتور څه ډول اغېزې کولی شي. د دې موضوع څېړلو لپاره د با تجربه کسانو نظریات مهم دي نو په همدې اساس موږ څېړنه کیفي ده او د څېړلو لپاره یې موږ د با تجربه اشخاصو سره (semi-structure interviews) مرکې تر سره کړي. نمونه مو (purposive sampling) مېتود څخه په استفادې انتخاب کړې، چې ټوله راټوله شوې ډېټا مو (thematic analysis) په وسیله او د براون او کلارک(۲۰۱۰) مېتود څخه په استفادې تحلیل کړې ده. موږ موندلې، چې اداري کلتور د ادارې لپاره خورا مهم دی او تضمین کیفیت په اداري کلتور ژور اغېز لري او د دې تر څنګ په ځینو مواردو کې یې منفي عادتونه هم رامنځ ته کړي لکه د کیفیت پر ځای کاغذ پالنه، کال اخر کې کارونو کول او د لوړو نمرو تر لاسه کولو لپاره کار کول. دا چې په دې برخه کې د څېړنې لومړی ځل دی نو دغه څېړنه د نورو څېړنو لپاره لار پرانیزي او بل ګټورتوب یې دا دی، چې دغه ډول منفي اغېزو مخه به و نیول شي.

**کلیدي ټکي:** اداره، اغېزې، تضمین کیفیت، شیخ زاید، کلتور.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین**

اداري کلتور، چې زموږ په دوایرو کې يې بحث په نشت حساب دی يوې ادارې لپاره خورا مهمه موضوع ده. اداري کلتور د يوې ادارې اداري کلتور په دې معنا، چې یوه اداره څه ډول خپل کارونه مخکې وړي او څه ډول يې مديرت کوي( ایمبووا ۲۰۲۲). سیچین(۲۰۱۱) يې بیا داسې تعریفوي، چې اداري کلتور د اصولو، کړنو، اخلاقو او میتودونو یو سیټ دی، چې یوه اداره يې خپلوي. یو بل ځای کې ایبیډونا او ایګبولا(۲۰۱۳) وايي، چ که چېرته اداري کلتور د ادارې کړنې اغېزمنې کړې نو دا په دې معنی، چې لومړی يې کارمند اغېزمن کړی. آوپارناما (۲۰۱۵) وايي، چې اداري کلتور د يوې ادارې چلند، تجربې، باورونو او ارزښتونو څخه جوړ دی. ټولکاس et al (۲۰۲۴) بیا داسې وايي، چې اداري کلتور د يوې ادارې د اوږدمهاله اجرااتو لپاره خورا مهم دی. مثبت اداري کلتور کارمندانو مؤلدیت زیاتوي، مثبت اغېز پرې باسي او کارمندانو فعالیتونه با کیفیته کوي (اوډیامبو، ۲۰۱۶). د يوې ادارې کړنې د اداري داخلي کلتور په وسیله په شدت سره اغېزمنې کېږي (کریسټوفر او ایډوینا،۲۰۲۲). ویل کیږي، چې اداري کلتور کارمندان کار کولو ته هڅوي او د سازمان اهدافو ته وده ورکوي ( ایمبوا، ۲۰۲۲).

بریج et la (۲۰۱۱) لیکي، چې د تضمین کیفیت پروګرام داسې تعریف شوی دی، چې تضمین کیفیت د هغو فعالیتونو ټولګه ده، چې موخه يې د اړتیا وړ معیار تر لاسه کول دي. د لوړو زده کړو په برخه کې د کیفیت تضمین یوه دوامداره پروسه ده، چې تر څو په با کیفیته او معیاري توګه لوړې زده کړو ارزونه، تطبیق، تعین، کنټرول او بهبود د دې لپاره پکې راولي تر څو ستیک هولډران مطمئن کړي او همدا شان په لوړو زده کړو کې یو اغېزناک تضمین کیفیت سیستم کولی شي محصلین په مستقیم او غیر مستقیم ډول مستفید کړي (اوکټارینا et al، ۲۰۲۳). د خیالي (۲۰۲۳) په وینا د دې پخاطر، چې محصلینو ته یو مؤثر او لوړ کیفیت لرونکې تعلیم برابر کړو نو تضمین کیفیت په لوړو زده کړو کې خورا اړین دی. د داخلي کیفیت تضمین سیستم د کیفیت تضمین پروسه ده، چې تعلیمي اداري په خپلواکه توګه ترسره کوي. د داخلي تضمین کیفیت تعلیمي ادارو سره د بهرني تضمین کیفیت پروسې لپاره په چمتووالي کې مرسته کوي. (اوکټارینا et al، ۲۰۲۳).

اساسي ستونزه دا ده، چې که څه هم تر اوسه پۀ شیخ زاید پوهنتون کې پۀ مستقیم ډول دا اړیکه نه ده څېړل شوې، خو د لیکوال د مشاهدې، غیر رسمي خبرو اترو، او ورته دولتي تعلیمي ادارو د تجربې پر بنسټ داسې انګېرل کېږي، چې تضمین کیفیت په اداري کلتور باندې اغېز کولی شي. د دې تر څنګ سچین (۲۰۱۰) په وینا، چې

په ډېریو ادارو کې د بیان شویو ارزښتونو او د اساسې فرضیا تو تر څنګ بې ثباتي د کلتوري ناهم غږۍ لامل کېږي، چې دا په پایله کې د تصمیم نیولو پر بهیر، انسجام، او مدیریت اغېز کوي.

نو لکه څه ډول، چې هیڅ داسې څېړنه و نه موندل شوه، چې په افغانستان کې په اداري کلتور باندې د تضمین کیفیت اغېز یې څېړلی وي، نو همدې موخې ته په کتو دغه څېړنه غواړي دغه تشه ډکه کړي. او همدا شان په ځینو هېوادونو کې څېړنې ښیي، چې تضمین کیفیت په اداري کلتور باندې ژور اغېز کوي نو مهمه ده، چې د افغانستان د لوړو زده کړو ادارو کې هم په دې باندې څېړنه تر سره شي.

## څېړنې موخې

1 - په اداري کلتور باندې د تضمین کیفیت اغېزو څېړل.

2 - دا ارزول او تحلیلول، چې د تضمین کیفیت پلي کول څنګه د ادارې د کارکوونکو پر چلند، همکاریو، نظم او مسؤلیتونو مثبت او یا منفي اغېز کوي.

## د څېړنې پوښتنې

1 - تضمین کیفیت په اداري کلتور باندې څه ډول اغېز کوي؟

2 - ایا تضمین کیفیت پلي کول د ادارې کارکوونکو په چلند او نورو اړخونو باندې مثبت یا منفي اغېز کوي؟

لکه څه ډول، چې موږ د څېړنې ستونزې په پراګراف کې دا خبره ذکر کړه، چې اداري کلتور یوه ډېره مهمه موضوع ده او په دې اړه تر اوسه په شیخ زاید پوهنتون او د افغانستان په کوم دولتي یا شخصي پوهنتون کې کومه څېړنه نه تر سترګو کیږي. دا چې دلته زموږ موخه د شیخ زاید پوهنتون کې د اداري کلتور پېژندل او په هغې باندې د تضمین کیفیت اغېز معلومول دي خو دغه څېړنه نورو اکاډمیکو ادارو ته هم عمومیت پیدا کولی شي او د هغوی لپاره هم د څېړنې یوه مهمه ساحه ده.

## تېرو اثارو ته کتنه

کلتور اصلا د ادارې شخصیت در ښیي، څه ډول، چې د یو انسان لپاره د هغه کریکټر زیات اهمیت لري، یو شخصیت د هغه د کرکټر په اساس پېژندل کیږي نو اداري کلتور هم همداسې دی. که وکتل شي د ادارې د وېژن، ارزښتونه، نظم، پاکوالی او د کړنو سلیقه د همغې ادارې د پرمختګ لپاره خورا اړینه ده نو همدا د اداري کلتور مهمې برخې هم دي. د تولید او موثریت زیاتوالی هغه وخت ترلاسه کیږي کله، چې د سازمان په اصلي ارزښتونو

د سازمان د ډیری خلکو لخوا په کلکه باور وشي ځکه دوی د سازمان اهدافو ته ژمن دي، چې په هغه لاره او طریقه کې منعکس کېږي، چې دوی د سازمان د ځانګړو ځانګړتیاو په اړه خبرې کوي یا ویاړ کوي.

### ۱. د اداري کلتور پېژندنه

داسې ښکاري، چې سازماني کلتور اصلا یوه داسې شریک سیستم ته اشاره ده، چې یو سازمان د بل سازمان څخه د همدغو ځانګړتیاؤ په لرلو سره بیلوي. دا شریک سیستم د کلیدي ځانګړتیاؤ یوه ټولګه ده، چې د سازمان ارزښت ټاکي. څېړنه لیکي، چې نوښت، خطر اخیستل، تفصیل ته پاملرنه، د پایلو تمرکز، د ټیم تمرکز، سیالي کوونکی کارمندان، ثبات د کلتور جوهر دی ( اوپاراما، ۲۰۱۵).

### ۲. ویژن، ټیم ورک، چلند او اداري کلتور اهمیت

ویژن، چې د اداري کلتور یو مهم عنصر دی او یوه اداره یو مشخص اوږدمهاله لوري ته سوق کوي نو اداره د همدې ویژن په اساس خپل ټول پلانونه جوړوي نو دا په دې معنا، چې ویژن د ادارې اصلي او محوري موخه ده. ( لیګماټي، ۲۰۲۱). د اداري کلتور بنسټیزې مسلې ته د سوداګرۍ مدیران د سازماني کلتور څخه کار اخلي ترڅو خپل کاروبار د سیالانو څخه جلا کړي. که څه هم ایپل شرکت،د نړیوال سوداګریزو ماشینونو کارپوریشن IBM، او هیولټ پیکارډ کارپوریشن HP په ورته عملیاتي چاپیریال کې کار کوي او ورته ټیکنالوژي کاروي، دا سوداګرۍ جلا سازماني کلتورونه لري او د ساده، ښکلي او اختراعي توکو تولید د آپل شرکت د کلتور یوه برخه ده. د کار کولو لپاره د یو دوستانه محیط رامنځ ته کوي، مشران د لارښوونکو په توګه کار کوي، سازمان د وفادارۍ او دود سره یوځای ساتل کیږي، ژمنتیا لوړه ده، ټینګار د انفرادي پرمختګ اوږدمهاله ګټې، لوړ یووالي او مورال او یو پریمانه لیوالتیا باندې دی( السباغ او خلیل، ۲۰۱۷). د سازماني کلتور موخه د یووالي او یووالي هڅول او د کارمندانو لیوالتیا او نوښت هڅول دي ( بامایډیلي، ۲۰۲۲). ډیری لیکوالان استدلال کوي، چې یو پیاوړی اداري کلتور د سوداګرۍ لپاره ښه دی ځکه، چې دوی د واقعیتونو ګډ ذهني ماډلونه شریکوي د سازماني ژوند په جوړولو کې د کلتور ځواکمن، پراخه رول لوبوي، اټکلونو ته اعتبار ورکوي چې کلتوري عوامل ممکن د استثنایی فعالیت سره تړاو ولري( ایوینجیلاینat.el ، ۲۰۲۱). یو پیاوړی سازماني کلتور د ټیم لپاره یو روغ چاپیریال رامنځته کوي چیرې چې کارمندان به خوشحاله او ډېر تولیدوي او له همدې امله، کله چې کارمندان د تړاو احساس او یو ښه سازماني هویت ولري، نو دوی ځان ځواکمن احساسوي او د دوی د تولید کچه به لوړه شي(بایسر، ۲۰۲۲). د کیفیت کلتور اصلا هغوی وسایلو او مېکانیزم ته اشاره ده، چې د هغوی په وسیله، کیفیت، ارزول او لوړوالی اندازه کیږي(سیلیشو، ۲۰۱۴).

### ۳. تضمين کيفيت او د هغه اهميت

اوريګوفوري at.el (۲۰۱۸) په خپله څېړنه کې داسې ليکې، چې د کيفيت اصطلاح د ډېرى خلکو لخوا په مختلفو ډولونو تعريف شوې ده. هورن (۲۰۰۴)"د يو شي معيار کله،چې د دې په څير له نورو شيانو سره پرتله شي، که هغه ښه وي يا بد" بل ځاى کې بيا داسې تعريف شوى: يو شى، چې هرڅوک فکر کوي ښه دى او غواړي يې، چې بايد تر لاسه يې کړي.

د لوړو زده کړو په واحدونو کې د زده کړې د کيفيت ډاډ ورکول د لوړو زده کړو د مديريت د کيفيت معيارونو په دوامداره توګه ټاکلو، پلي کولو، ارزونې، کنټرول او ښه کولو پروسه ده ترڅو برخه اخيستونکي راضي شي. د لوړو زده کړو د کيفيت تضمين سيستم په پلان شوي او دوامداره ډول د لوړو زده کړو کيفيت ښه کولو لپاره يوه جامع هڅه ده( اوکټارينا .et al، ۲۰۲۳) .

### ۴. په لوړه زده کړو کې د اعتبار اخستل او ګټې يې

کومار(۲۰۲۱) داسې وايي، چې د کيفيت مفهوم د توليداتو له ستراتيژۍ څخه د خدماتو برخې ته ليږدول شوى دى يعنې په دې معنى، چې مخکې کيفيت يوازې د اجناسو توليد فابريکو کې د توليداتو د کيفيت معلومولو او ازمويلو لپاره کارول کېده وروسته کيفيت کتلو نظر په خدماتو سکتور کې هم مطرح شو نو په همدې اساس تضمين کيفيت خدماتو برخه کې مهم و ګڼل شو.

د 'اعتبار' اصطلاح د کيفيت شاخص په توګه کارول کيږي. اعتبار د يوې اداري يا پروګرام د حيثيت په توګه تعريف کړى، چې ټاکل شوي لږترلږه معيارونه پوره کوي. اعتبار د يوې پروسې او دواړو د حيثيت په توګه يې تعريف کړى دى. پدې شرايطو کې، پروسه د لوړو زده کړو موسسو او پروګرامونو بياکتنه ده، چې د دوى د تعليمي کيفيت د مخکينيو معيارونو پراساس ارزوي؛ او حيثيت د دې پروسې پايله ده.

### ۵. اداري کلتور او تضمين کيفيت

آپکو او ګيرټزي (۲۰۲۰) په خپله څېړنه کې داسې وايي، چې د کيفيت ښه والي ته ژمنتيا او تعهد د اداري کلتور او رهبرۍ عمده دنده او لومړيتوب دى. دې څېړنې دا فرضيه ازمولې ده چې بهرنۍ کيفيت تضمين په تنزانيا کې د لوړو زده کړو په موسسو کې د کيفيت کلتور باندې هيڅ اغيزه نلري. موندنو ښودلې چې په حقيقت کې بهرنۍ کيفيت تضمين په تنزانيا کې د لوړو زده کړو موسسو کې د کيفيت کلتور باندې د پام وړ اغيزه لري. هغه اصول، چې د کيفيت تضمين او کيفيت کلتور تمرکز کوي بايد په کار وي. له همدې امله مطالعې ثابته کړې چې په تنزانيا کې د لوړو زده کړو موسسو کې د کيفيت کلتور د مديريتي عناصرو او رواني عناصرو ترمنځ تعامل شتون لري.

د کلين (۲۰۱۳) خپله څېړنه کې داسې پايله تر لاسه کړې، چې کلتوري نورمونه کيفيت اغيزمنوي او د کلتور د اهميت ملاتړ کوي. څېړونکی وايي، چې په دې توګه دا فرضيه وشوه چې سازماني کلتور د سازماني فعاليت او د غړو د هويت په احساس باندې د پام وړ اغيزه لري (اوپاراما، ۲۰۱۵).

دلته ځينې ننګونې شته د بېلګې په توګه دلته لومړۍ ننګونه دا ده، چې يوه ننګونه د استادانو لخوا د کيفيت تضمين پروسو د مالکيت نشتوالی دی دويمه ننګونه، چې د کيفيت د کلتور د لوړولو په وړاندې مخ ده، په لوړو زده کړو کې د حساب ورکولو او د کيفيت د لوړولو ترمنځ د توازن نشتوالی دی. دربيمه ننګونه دا ده، چې د باکيفيته کلتور په اړه خورا مختلف تعبيرونه شتون لري (ليګماتيي، ۲۰۲۱). د کيفيت کلتور اصلاً هغوی وسايلو او ميکانيزم ته اشاره ده، چې د هغوی په وسيله، کيفيت، ارزول او لوړوالی اندازه کيږي (سيليشو، ۲۰۱۴).

## مېتودولوژي

### ۱. موخه

د دې څېړنې هدف دا دی، چې دا معلومه کړي، چې تضمين کيفيت په اداري کلتور باندې څه ډول اغېز کړی او دا ارزول او تحليلول، چې د تضمين کيفيت پلي کول څنګه د اداري د کارکوونکو پر چلند، همکاريو، نظم او مسؤليتونو مثبت او يا منفي اغېز کوي.

### ۲. د څېړنې ډيزاين

دا يوه کيفي څېړنه ده او په موضوعي تحليل کارولو باندې تمرکز کوي ترڅو د شيخ زايد پوهنتون په اړه د تضمين کيفيت ماهرينو، مسؤلينو او استادانو د ژوند تجربې وپلټي. د دې څېړنې لپاره يو موضوعي تحليل (thematic analysis) غوره شو ځکه، چې دا د يو خپلواک مېتود په توګه کارول کېدای شي دغه مېتود کې، چې ډيټا را ټوله شي نو تکراري مهم موضوعات، چې جامع وي او اهدافو ته نږدې وي غوره کيږي او د هغې مطابق تحليل کيږي، چې د دغې موضوع لپاره يوه غوره طريقه ده او هم د دې تر څنګ فينامينالوژۍ ميتودولوژي هم کارول شوې. د فينامينالوژۍ مېتود ځکه کارول شوی، چې تر څو د افرادو تجربې هم و څېړل شي، ځکه په دې څېړنه کې هم د هغو افرادو تجربو څخه استفاده شوې ، چې دې مرکو کې يې ګډون کړی او خپله د څېړنوکي خپلې لس کالنې تجربې هم شريکې کړې دي. د افرادو يا مرکه کې ګډون کوونکو د تجربو شريکول په دې معنې، چې د دغو ګډونکوونکو تجربو باندې پوه شو او دغه تجربې څنګه د څېړنې اهدافو سره اړيکه لري. لکه څنګه، چې مخکې ذکر شوې هم ده، تضمين کيفيت او اداري کالتور دواړه د يوې اداري لپاره زښت زيات مهم فکتورونه دي او همدا رنګه په اداري کلتور باندې بايد اداري کارکوونکې پوه شي، ځکه سره د دې چې تضمين کيفيت

زیات مثبت اغېز کوي خو د تضمین کیفیت له امله ځینې منفي کړنې هم په کلتور کې شاملې شوي، چې د هغې له امله اداره کې د ناوړه کلتور رامنځ ته کېدو امکان هم شته نو د همدې تجربه لرونکو کسانو په وسیله معلومېدای شي. داهم باید په پام کې ونیول شي، چې دغه څېړنه په داسې وخت کې تر سره شوې، چې د کارکوونکو تر منځ همداسې ګنګوسې دي، چې تضمین کیفیت سره د دې چې زیاتې ګټې لري، خو ځینې کړنې یې بې کیفیته کړې هم دي. نو دا مهم ده، چې تر څو د داسې کړنو مخه و نیول شي چې په کیفیت باندې ناوړه اغېز کوي.

**د نمونې انتخاب**

د یوې غوره او داسې نمونې ټاکنه، چې زموږ د څېړنې اهداف په سم او واقعي ډول تر لاسه او د خلکو د قناعت وړ وي له (Purposive Sampling) څخه کار اخیستل شوی، ځکه د څېړنې طبیعت دا ایجابوي، چې له هغو کسانو سره مرکې وشي، چې د اداري کلتور او تضمین کیفیت په برخو کې عملي پوهه او تجربه ولري. مثبت اړخ دا دی، چې څېړونکی خپله د همدې اداري غړی دی نو هغه خلک، چې په دې برخه کې ښه تجربه لري په ښه شان پېژندلی شي او د څېړنې پایله هم په ډېر ښه شان سره تر لاسه کېدای شي. کله، چې نمونه انتخاب شوه نو ځینو ګډونوالو سره حضوري مرکې تر سره شوې او ځینو، چې وخت نه درلود هغوی ته مرکو پوښتنپاڼې په لیکلي شکل ور ولېږل شوې او هغوی ته تر دریو ورځو وخت ورکړل شو، تر څو یې ځواب کړي نو دوی د ښه ځواب لپاره زیات وخت درلود.

**۳. د ډېټا راټولول**

د ګډونوالو سره د ډېټا راټولولو څخه تر مخه د واټساپ له لارې تماس ونیول شو، او د حضوري او غیرې حضوري مرکو لپاره له دوی څخه وخت واخستل شو څو ورځې وروسته له دوی سره مرکې تنظیم شوې نو دا په دې معنی، چې دوی په ذهني ډول دغې موضوع ته ښه تیار وو. یاده څېړنه یو کیفي تحقیق دی، چې پکې د معلوماتو راټولولو لپاره له ( Semi-structured Interviews) څخه استفاده شوې ده. دا ډول مرکې د کیفي څېړنو لپاره مناسبې ګڼل کیږي، ځکه ګډون کوونکي باید د څېړنې له موضوع سره ژوره آشنایي او عملي تجربه ولري. له همدې امله، دا میتود غوره وبلل شو تر څو له با تجربه کسانو څخه د هدفمند معلوماتو راټولولو زمینه برابره شي. دغه ډېټا د ۱۵ کسانو څخه را ټوله شوې، په دې معنی، چې ۱۵ کسانو سره مرکې شوي.

**مونديڼې**

**لومړی موضوع (Theme): اداري کلتور د سازمان د هويت او انسجام سرچينه ده**

ګډونوال د اداري کلتور د سازمان د شخصيت، اصولو، ارزښتونو، باورونو، او چلندونو مجموعه ګڼي .دا کلتور کارکوونکي متحد کوي، هغوی ته د پريکړو کولو، يو بل سره د چلند، او د ادارې د اهدافو د تعقيب لاره ښيي. اصلا اداري کلتور سازمان ته د يوه ښه شخصت چوکاټ ورکوي او دغه حقوقي شخصيت داسې جوړوي، چې بيا په دغه حقوقي شخصيت کې ټول غوره اشخاص يو ځای کيږي او هيڅ کله دغه کلتور منفي خوا ته حرکت نه ورکوي.

اداري کلتور د ادارې شخصيت دی، چې کارکوونکي څه ډول فکر کوي او عمل کوي په دې معنی، چې کله په فکري لحاظ کاروکوونکي داسې فکر وکړي، چې موږ د خپلې دندې سره څه ډول چلند وکړو او مشتريانو يا د اداري کارکوونکو سره نو چې څه ډول دوی فکر جوړ شو نو همغسې شخصيت ادارې ته هم ورکول کيږي. په هره اندازه، چې د يوې ادارې کارکوونکو شخصيتونو فکرونه لوړ وي په همغه کچه يې عملونو پايلې لوړې تر لاسه کېدای شي او په هره اندازه، چې يوه اداره کې باشخصيته اشخاص کار کوي په همغه کچه اداره لوړه معرفي کيږي نو دا مهمه ده، چې په اداره کې شخصيتونه ادارې ته هم يو ښه حقوقي شخصيت ورکوي( P8,P1,P3,P12,P6). بل ځای کې وايي، چې اداري کلتور هغه اصول او چلندونه دي، چې کارکوونکي يې مني، په دې معنی، په عقيدوي لحاظ په کوم فکر، چې کارکوونکي و روزل شول همغسې چلند تر سره کوي کوم ډول عقايد، چې جوړ شول همغه راتلونکي کارکوونکي يې هم مني، نو چې څه ډول لومړيو کې د ادارې په کلتور کې کومه عقيده رايجه شوه تل به همغه عقيده برقراره وي او نور به هم همدا کوي( P15,P1,P14,P7). اداري کلتور د کارکوونکو ترمنځ د باور، صداقت او همکارۍ فضا برابروي. کله، چې د يوې ادارې په کلتور کې د صداقت او همکارۍ عناصر شامل شول، نو دا په دې معنی، چې دغه اداره به هيڅ کله ناکامه نشي، ځکه صداقت هغه جوهر دی، چې د يوې ادارې کارکوونکي په هر ډګر کې بريالي ساتي، نعنې هيڅوک وړتيا، انرژي، توان، مهارت او د کار زغم نه پټوي او دا يو ډېر لوړ کلتور دی، چې د همدې له امله کمپنۍ يا ادارې لوړو پوړونو ته خيجي(P8,P9,P10,P5). د ګډونوالو له څرګندونو څخه څرګنديږي چې اداري کلتور د يوې ادارې بنسټيزه برخه ده .اداري کلتور د ادارې شخصيت، ارزښتونه، اصول، او رويې منعکسوي .کارکوونکي د ادارې له ارزښتونو، باورونو او دودونو سره ځان عياروي او د همدې فرهنګ له مخې خپل مسؤليتونه تر سره کوي .په ادارو کې مثبت اداري کلتور د همکارۍ، اعتماد، همغږۍ او موخې ته د رسېدو لپاره بنسټيز رول لري .د ښه

اداري کلتور نښې نښانې عبارت دي له :شفافيت، درناوی، صداقت، او ژمنتيا .د ځينې ګډونوالوتائيد او باور دی، چې اداري کلتور د ټولې ادارې د کاميابۍ لپاره لوری ټاکي.

**دويمه موضوع (Theme): تضمين کيفيت د ادارې په نظم، پلان جوړونه او رهبرۍ باندې اغېزې کوي.**

تضمين کيفيت پروسې څخه پخوا فايلنګ سيستم تقريبا د نشت سره حساب ؤ. په هره برخه کې کارونه کېدل خو منظم نه تر سره کېدل ځکه يو مشخص چوکاټ موجود نه ؤ. د تضمين کيفيت پروسې له تطبيق وروسته پوهنتونونه له بې نظمۍ، انفرادي کارونو او ناغېړيو څخه د ګډو پلانونو، مسؤليتونو، رهبرۍ، او هدفمند کار کولو خوا ته تللي دي .دا پروسه د ادارې دننه پياوړی چوکاټ رامنځته کوي. ګډونوال وايي، چې تضمين کيفيت يو انقلاب ؤ، پوهنتونونه له ساکن حالت څخه په متحرک حالت بدل شول تضمين کيفيت يو غټ بدلون راوست (P2,P6,P2,P11). همدا شان ځينې وايي، چې پلان جوړونه د تضمين کيفيت اساس دی. فايلينګ، راپوروونه، ارزونې، هر څه پياوړي شوي (P14,P1,P13,P9). بله ډله وايي، چې د تضمين کيفيت له برکته د تدريس او اداري چارو مهارتونه ډېر شول (P15,P3,P7). د تضمين کيفيت پلې کېدل د ادارو لپاره يو مشخص، هدفمند، او روښانه چوکاټ برابر کړی .مخکې له دې پروسې، پوهنتونونه منظم پلانونه نه لرل، مسؤليتونه نامشخص وو، او ارزونه يوازې سطحي او عمومي وه .خو د تضمين کيفيت له تطبيق وروسته هره اداره، پوهنځی او څانګه خپل پلانونه جوړوي، د فعاليتونو لپاره مشخص اهداف ټاکي، او وخت په وخت خپل پرمختګ ارزوي .دغه نظام د رهبرۍ په طرز کې هم تغيير راوستی دی؛ رهبران هڅه کوي شفاف، ګډون کوونکي، او د حساب ورکونې وړ وي .دا ټوله پروسه د ادارې فعاليتونه معياري کوي او د اوږدمهاله پرمختګ بنسټ ږدي.

**درېيمه موضوع (Theme): د ټيم ورک او ګډ مسؤليت کلتور ته وده ورکړل شوې**

د تضمين کيفيت څخه دمخه کله، چې دا پروسه موجوده نه وه، کمېټو وجود نه درلود يواځې علمي، شوراګانې د پوهنتون، پوهنځيو او څانګې وې او يو څو هغه غونډې، چې رسمي کارونو لپاره به تر سره کېدې خو د تضمين کيفيت په پيل سره د ګډ کار، د کميټو همغږي، ګډ تصميمونه، او د علمي/اداري کارکوونکو يووالي هغه عناصر دي، چې د تضمين کيفيت په بهير کې پراخ شوي دي .اداري اوس د يو فرد پر ځای د ټيم په بڼه کار کوي. ګډونوالو په ځوابونو کې ويلي، چې د تضمين کيفيت اهداف بدون له ټيم‌ورک نه شي تر لاسه کېدای (P7,P4,P9,P2,P8). ټول علمي او اداري کارکوونکي ونښلول شول، سالم رقابت منځ ته راغی (P15,P11,P3,P4). د کارکوونکو ترمنځ باور، همکاري، مسؤليت منل، ګډ تصميم نيول وده کړې (P5,P13,P6,P14). تضمين کيفيت د فردي کار پر ځای د ګډ کار فرهنګ ته پراخوالی ورکړی دی .د مختلفو کميټو له لارې کارکوونکي يو له بل سره همغږي کېږي، او د ادارې هدف ته د رسېدو لپاره په ګډه کار

کوي .همداراز، د هر کس مسؤلیتونه او صلاحیتونه روښانه شوي دي .دا ګډ مسؤلیت یو ډول سالم رقابت هم رامنځته کړی، چې له مخې یې هر څوک هڅه کوي تر نورو ښه فعالیت وکړي .د ټیم‌ورک پراخوالی د اعتماد، همکارۍ، او یووالي فضا زیاته کړې، او کارکوونکي نور یوازې د خپل کار پر ځای د ټولې ادارې بریا ته فکر کوي.

**څلورمه موضوع(Theme): د څېړنو، مطالعې او اسنادو تنظیم ته پراختیا ورکړل شوې**

تضمین کیفیت د څېړنو کمیت او کیفیت ته وده ورکړې، مطالعه یې لازمي کړې، اسناد او فایلینګ یې معیاري کړي .همدارنګه، د هر استاد، څانګې او پوهنځي مسؤلیتونه مشخص شوي دي. تضمین کیفیت د څېړنې او مطالعې ترویج کړی، خاص معیارونه لري(P1,P3,P9). د تضمین کیفیت له مخې استاد باید څېړنه وکړي، مطالعه وکړي، راپور ورکړي(P2,P7,P11,P4). د څېړنو کمیت زیات شوی او د کیفیت خوا ته هم هڅې روانې دي(P4,P6,P14).

د تضمین کیفیت د پروسې یوه مهمه لاسته‌راوړنه د علمي چارو معیاري کېدل دي .د ګډونوالو په وینا، اوس د هر استاد لپاره څېړنیز مکلفیت مشخص شوی، مطالعه لازمي شوې، او راپور جوړونه منظم سیستم لري .د فایلینګ سیستم هم له مخکې څخه پرمختللی شوی، چې له مخې یې د اسنادو ساتنه، ارزونه، او تحلیل اسانه شوی .د څېړنو کیفیت ته توجه زیاته شوې، او هر څانګه هڅه کوي چې د څېړنې له لارې خپله علمي رتبه لوړه کړي .همدارنګه، د مطالعې فرهنګ هم رامنځته شوی، او استادان هڅه کوي نوې علمي سرچینې ولولي.

**پنځمه موضوع(Theme): ننګونې او محدودیتونه**

موږ یوه داسې پوښتنه هم کړې وه، چې داسې منفي کړنې یا عادات شته، چې د تضمین کیفیت له امله رامنځ ته شوې وي. ځینې ګډونوال د تضمین کیفیت د پروسې ځینې ستونزې هم یادوي، لکه د اسنادو ځنډونې، تنظیم، غیر واقعي راپورونه، کاري فشار، د تشکیل کمښت، او د کاغذپالنې دود. استاد ټول کال کار نه کوي، خو آخر کې اسناد ژر ژر جوړوي(P3,P9,P14). کارونه ډېر دي، تشکیل کم دی، فشار زیات دی(P12,P4,P1). د تضمین کیفیت له امله ځینې مسؤلیتونه په علمي چارو منفي اغېز کوي(P8,P6). سره له دې چې د تضمین کیفیت پروسه مثبته ارزول شوې، خو ځینې ګډونوال یې له ستونزو هم یادونه کوي .د بېلګې په توګه، ځینې استادان یا کارکوونکي یوازې د کاغذي اسنادو جوړولو ته ترجیح ورکوي، نه د واقعي فعالیت ترسره کولو ته .همداراز، د کار حجم زیات شوی، خو د تشکیل کمښت شته، چې له امله یې فشار زیات شوی دی .په ځینو مواردو کې د

تضمين کيفيت له خوا ټاکل شوي کارونه د علمي مسؤليتونو پر کيفيت هم تاثير کوي .دغه ستونزې بايد د پاليسي جوړونکو له خوا په پام کې ونيول شي، ترڅو پروسه لا مؤثره شي.

**مناقشه**

د موندنو له مخې، اداري کلتور د سازمان د شخصيت، ارزښتونو، باورونو، او اصولو استازيتوب کوي. ګډونوال دا کلتور د يوې ناليدلې خو ژورې انرژۍ په څېر ګڼي، چې د کارکوونکو ترمنځ يووالي، همکارۍ، او متقابل باور ته زمينه برابروي. دا پايله د سيچين (۲۰۱۰) د کلتوري ماډل سره همغږې ده، چې کلتور د سازمان د عمل او چلند نهايي ټاکونکی ګڼي. همداراز، دا تمه ښيي چې اداري کلتور نه يوازې د تشخيص وړ ارزښتونه لري، بلکې د کيفيت لپاره يو بنسټيز چاپېريال هم رامنځته کوي. د څېړنې موندنې او د څېړونکي لس کلنه تجربه دواړه دا څرګندوي چې تضمين کيفيت د پوهنتوني ادارو پر اداري کلتور پراخ، ژور، او ساختاري اغېز کړی دی. دا اغېز يوازې ظاهري نه، بلکې د کلتور، نظم، رهبرۍ، مسؤليت‌پالنې، او ټيمورک په ټولو اړخونو کې انعکاس مومي. د څېړونکي د مشاهدې او تجربې له مخې، تضمين کيفيت هغه يوه منظمه پروسه ده، چې د پوهنتون ادارې له بې نظمۍ او تشريفاتي فضا څخه يوې معياري، منسجمې، او هدفمنې ادارې ته راوستلې ده. پخوا به د فايلنګ سيسټم اصلاً وجود نه درلود، د کارونو اسناد نه ثبتېدل، او د مسؤليت کرښې مشخصې نه وې. خو د تضمين کيفيت د تطبيق له پيل سره، د اسنادو ثبت، د کميټو رامنځته کېدل، د اهدافو ټاکنه، او د اجراآتو څارنه يوه لازمي برخه شوه. دا بدلونونه د اداري کلتور د داخلي جوړښت يوه ژوره او محسوسه نښه ده.

آپکو او ګيرټزي (۲۰۲۰) په خپله څېړنه کې داسې وايي، چې د کيفيت ښه والي ته ژمنتيا او تعهد د اداري کلتور او رهبرۍ عمده دنده او لومړيتوب دی. دې څېړنې دا فرضيه ازمويلې ده، چې بهرنۍ کيفيت تضمين په تنزانيا کې د لوړو زده کړو په موسسو کې د کيفيت کلتور باندې هيڅ اغيزه نلري. موندنو ښودلې چې په حقيقت کې بهرنۍ کيفيت تضمين په تنزانيا کې د لوړو زده کړو موسسو کې د کيفيت کلتور باندې د پام وړ اغيزه لري.

د کلين (۲۰۱۳) خپله څېړنه کې داسې پايله تر لاسه کړې، چې کلتوري نورمونه کيفيت اغيزمنوي او د کلتور د اهميت ملاتړ کوي. څېړونکی وايي، چې په دې توګه دا فرضيه ثابته شوه، چې سازماني کلتور د سازماني فعاليت او د غړو د هويت په احساس باندې د پام وړ اغيزه لري (اوپاراما، ۲۰۱۵). کومار (۲۰۲۱) داسې وايي، چې د کيفيت مفهوم د توليداتو له ستراتيژۍ څخه د خدماتو برخې ته ليږدول شوی دی.

موندنې څرګندوي، چې تضمين کيفيت د بې نظمۍ، انفرادي اقداماتو، او شخصي برداشتونو پر ځای سيستماتيک کار، هدفمنده پلان جوړونه، او فعاله رهبرۍ ته وده ورکړې. دا پايله د Total Quality

Management (TQM) نظريې سره سمون لري، چيرې چې پلان، ارزونه، او دوامداره پرمختګ د کيفيت د بنسټيزو اصولو په توګه مطرح دي (ډيمينګ، ۱۹۸۶). دا بدلون د "بيروکراتيکې ادارې" له دود څخه "کارنده او معياري ادارې" ته د تحول نښه ګڼل کېدای شي. همداراز، تضمين کيفيت د مشارکتي رهبرۍ، علمي او اداري همغږۍ، او ګډ مسؤليت فرهنګ ته پراخه وده ورکړې ده.

موندنې ښيي چې تضمين کيفيت د څېړنې او مطالعې فرهنګ ته نوی ژوند ورکړی، اسناد معياري شوي، او د استادانو دندې مشخصې شوې. دا د "Evidence-Based Management" اصولو ته ورته دي، چې په ادارو کې پرېکړې د اسنادو، راپورونو، او څېړنو پر اساس کېږي. ګډونوال وايي، چې اوس پوهنتونونه يوازې د تدريس ځای نه، بلکې د معياري توليداتو او علمي پرمختګ مرکزونه هم دي.

**ننګونې**

سره له دې چې تضمين کيفيت ګڼ مثبت بدلونونه رامنځته کړي، خو د څېړونکي له مشاهدې سره سم، يو شمېر ژورې او بنسټيزې ننګونې هم ورسره تړلې دي. په يوه بله څېړنه کې څېړونکی وای، چې دلته ځينې ننګونې شته د بېلګې په توګه دلته لومړۍ ننګونه دا ده، چې يوه ننګونه د استادانو لخوا د کيفيت تضمين پروسو د مالکيت نشتوالی دی دويمه ننګونه، چې د کيفيت د کلتور د لوړولو په وړاندې مخ ده، په لوړو زده کړو کې د حساب ورکولو او د کيفيت د لوړولو ترمنځ د توازن نشتوالی دی. دریيمه ننګونه دا ده، چې د باکيفيته کلتور په اړه خورا مختلف تعبيرونه شتون لري (ليګماټي، ۲۰۲۱). د کيفيت کلتور اصلا هغوی وسايلو او ميکانيزم ته اشاره ده، چې د هغوی په وسيله، کيفيت، ارزول او لوړوالی اندازه کيږي (سيليشو، ۲۰۱۴). ځينې ګډونوال د کاري فشار، غير واقعي راپورونو، د اسنادو ژر جوړونې، او د تشکيل کمښت يادونه کوي. دا ننګونې ښيي، چې د تضمين کيفيت پلي کېدل بايد يوازې پر "اسنادو" ونه تکيه کوي، بلکې بايد د واقعي فعاليت، مهارت، او دوامداره منابعو پر بنسټ وي.ځيني کارونه ظاهري ښه تر سه کيږي خو اصل هدف د لوړو نمرو تر لاسه کول، وي نه کيفيت. ډېرې مسؤلين هڅه کوي چې يوازې له وزارت څخه د کيفيت نمرې ترلاسه کړي، نه دا چې ريښتيني کيفيت ته وده ورکړي. دا چلند د کيفيت اصلي هدف له خطر سره مخ کوي. همدا شان ځيني کارکوونکي او مسؤلين په ځينو مواردو کې، ټول کال فعاليت نه کوي، خو په پای کې مصنوعي اسناد جوړوي تر څو د ارزونې په مهال ښه و ارزول شي. دا يوه سطحي او نمايشي کلتور ته لاره هواروي. بله ستونزه دا ده، چې د تضمين کيفيت تمرکز بايد د محتوا، اغېزمنتيا، او زده کړې پر کيفيت وي، خو ځينې ادارې دا پروسه يوازې د مکتوبونو جوړولو، چک‌ليستونو ډکولو، او د راپورونو د تصفيې يوه بڼه ګڼي.

## پایلې

لکه څه ډول، چې موږ د دې څېړنې موخې مخکې ذکر کړې دي لومړی موخه دا وه، چې موږ معلومه کړو، چې تضمین کیفیت په اداري کلتور باندې څه ډول اغېز کولی شي او د دې موخې لپاره موږ یو داسې مېتود څخه استفاده وکړه، چې دغه موخه په ښه شکل تر لاسه کېدای شي ځکه موږ داسې با تجربه کسان انتخاب کړل، چې په تضمین کیفیت کې تر لس گونه کاله تجربه لري او په شیخ زاید پوهنتون کې پاتې شوي دي او د دغې اداري له اداري کلتور سره ښه بلد دي. د څېړنیزې موخو او پوښتنو له مخې، موږ په کیفي ډول د سیمي-سټرکچر مرکې له لارې له باخبره گډونوالو معلومات راټول کړل. لومړی موخې ته په کتو موږ و موندل، چې تضمین کیفیت په اداري کلتور باندې خورا ژور اغېز پرې باسي، ځکه که وکتل شي اداري کلتور د کارکوونکو، له عقایدو، ارزښتونو او کړنو څخه جوړ شوی دی او د یوې ادارې شخصیت ټاکي، په دې معنی، چې اداري کلتور یوې ادارې ته ځانگړی شخصیت ورکوي او د تضمین کیفیت کارونه ټول داسې عیار شوي لکه تضمین کیفیت، چې د ادارې کلتور لپاره جوړ شوی وي. اداري کلتور د سازمان شخصیت او انسجام سرچینه ده گډونوالو څرگنده کړه چې اداري کلتور د اصولو، ارزښتونو، باورونو او چلندونو ترکیب دی چې کارکوونکي متحدوي او دوی ته تصمیم نیولو او د اهدافو د تعقیب لار ښیي. دا چار د سیچین (۲۰۱۰) د کلتوري ماډل سره همغږي لري. گډونوالو ځوابونو دا ثابته کړه، چې تضمین کیفیت نظم، پلان جوړونه او رهبري ته وده ورکړې د تضمین کیفیت پروسې پلي کېدو سره، پوهنتون له بې‌نظمۍ او انفرادي کارونو څخه یوې منظمې، هدفمندې، او با مسؤلیته ادارې لور ته وتلی دی. دا څېړنه ښیي چې تضمین کیفیت یوازې تخنیکي یا اداري پروسه نه ده، بلکې د ادارې د فرهنگي جوړښت کې یې بنسټیز بدلون راوستلی دی. د پوهنتون اداري کلتور په هره برخه کې ورسره بدل شوی له نظم، رهبري، مسؤلیت‌پالنې، تر گډ مسؤلیت او ټیم‌ورک پورې. دا بدلونونه د مؤسسې د حقوقي شخصیت جوړښت او د کارکوونکو د انسجام لپاره حیاتي دي، چې دا ټول د تضمین کیفیت په پیل سره تر لاسه شوي دي.

## وړاندیزونه

۱. اداري فرهنگ یو مهم فکتور دی د دې په اړه باید عامه پوهاوی تر سره شي او کارکوونکو ته سیمینارونه وړاندې شي.
۲. سم او ناسم اداري فرهنگ باید تعریف شي او کارکوونکي باید د ناسم اداري فرهنگ څخه منع شي.
۳. د کارکوونکو پلانونه باید واقعي راپورونه ولري نه خیالي.
۴. په کړنو کې د کمیت تر څنگ باید کیفیت ته لومړیتوب ورکړل شي.
۵. د اسنادو ثبت او فایلینگ سیستم باید آسان او ډیجیټلي شي ترڅو د ځنډ او کاغذ پالنې ستونزې هوارې شي.

# Impacts of Quality Assurance on orgnizational Culture: A Case Study of Shaikh Zayed University

Rahmatullah Mangal[1] (Shaikh Zayed University, faculty of Economics, Department of Banking and Finance, Khost, Afghanistan,
Khalid Shakir[2] Sheikh Zayed University, faculty of Economics, Department of BBA, Khost, Afghanistan.
Email: Rahmatmangal86@gmail.com

**Abstract**

Organizational culture gives an organization a brand personality, and in addition, organizational culture and quality assurance processes are closely related to each other. We conducted a study based on these relationships and importance. Since quality assurance is an important process and has a profound impact on organizational culture, no research has been conducted on this topic at Sheikh Zayed University, and quality assurance has also created some effects that have negatively affected organizational performance and quality. Therefore, the main purpose of this study is to determine how quality assurance can affect organizational culture. The opinions of experienced people are important to study this topic, so on this basis, our study is qualitative and we conducted semi-structured interviews with experienced people. We selected the sample using the purposive sampling method, and all the collected data was analyzed using thematic analysis and the method of Brown and Clark (2010). We have found that organizational culture is very important for management and quality assurance has a profound impact on organizational culture and, in some cases, it has also created negative habits such as instead of quality paper-pushing, doing work at the end of the year, and working to achieve high grades. Since this is the first study in this area, this study opens the way for further research and another usefulness is that such negative effects can be prevented.

**Keywords:** Culture, Impacts, Orgnization, Quality Assurance, Shaik Zayed University

## مآخذونه

Akpa, V. O., Asikhia, O. U., & Nneji, N. E. (2021). Organizational culture and organizational performance: A review of literature. International Journal of Advances in Engineering and Management, *3*(1), 361–372. https://doi.org/10.35629/5252-0301361372.

Akpo, S. E., & Gertze, F. E. (2020). Perceived impact of external quality assurance on public and private higher education institutions in Namibia. OIDA International Journal of Sustainable Development, 13(7), 1–10. Retrieved from

Alsabbagh, M., & Al Khalil, A. H. (2017). The impact of organizational culture on organizational learning (An empirical study on the education sector in Damascus City). *International Journal of Academic Research in Business and Social Sciences, 7*(4), 579–600.

Bamidele, R. (2022). Organizational culture. In Industrial Sociology, Industrial Relations and Human Resource Management (pp. 109–122). Fab Educational Books. ISBN 978-978-8554-05-9.

Bicer, C. (2022). Organizational culture. Karabük University, Safranbolu Şefik Yılmaz Dizdar Vocational School. Retrieved from https://smyo.karabuk.edu.tr/enSakarya University.

Christopher, O. A., & Edwinah, A. (2022, September–October). Organizational culture and corporate performance: A review. Global Academic Journal of Economics and Business, *4*(5), 152–162.

Ibidunni, M. A. (2013). Organizational culture: Creating, changing, measuring and consolidating for performance Samson. European Journal of Business and Management, 5(32).

Kayyali, M. (2023). An overview of quality assurance in higher education: Concepts and frameworks. International Journal of Management, Sciences, Innovation, and Technology, 4(2).

Kumar, P., Shukla, B., & Passey, D. (۲۰۲۴). Impact of accreditation on quality and excellence of higher education institutions. Journal of Further and Higher Education, *48*(Issue).

Legemaate, M., Grol, R., Huisman, J., Oolbekkink-Marchand, H., & Nieuwenhuis, L. (2022). Enhancing a quality culture in higher education from a socio-technical systems design perspective. Quality in Higher Education, 28(3), 345–359.

Li, H. (2024). Research on quality culture enhancement strategies of local application-oriented institutions. Adult and Higher Education, 6(4), Article 1716996793.

Mudaheranwa, G., Ngaruko, D., & Mtae, H. (2022). Effect of external quality assurance on quality culture in higher education institutions in Tanzania. International Journal of Business Management and Economic Review, 5(6), 52–66.

Nyamwesa, A. M., Magambo, E. F., & Onyango, D. O. (2020). Impact of external quality assurance practices on higher education institutions in Tanzania: A review paper. East African Journal of Education and Social Sciences, 1(3), 191–196. https://doi.org/10.46606/eajess2020v01i03.0059.

Oktarina, N., Rusdarti, R., Yulianto, A., & Wahyuni, K. (2023, November 2). The role of quality assurance in improving the quality of education. Contemporary Educational Researches Journal, 13(4), 264–275. https://doi.org/10.18844/cerj.v14i4.9119

Oparanma, A. O. (2015). Organizational culture: Creating the influence needed for strategic success in health care organizations in Nigeria. *Developing Country Studies, 5*(17), 15–19. Retrieved from https://www.iiste.org/Journals/index.php/DCS/article/view/25457IISTE+1IISTE+1.

Oza, C. (2020). A study on impact of quality assurance on higher education in India. *Contemporary Educational Researches Journal, 14*(3), 264–275.

Russell, R. J. (2000). Monitoring bathing waters: A practical guide to the design and implementation of assessments and monitoring programmes. World Health Organization. ISBN 0-419-24390-1.

Selesho, J. M. (2014). Enhancing the culture of quality assurance in higher education: Perspectives of managing institutional accountability. Mediterranean Journal of Social Sciences, 5(1), 405–414.

Tulokas, M., Haapasalo, H., & Tampio, K.-P. (2024). Formation and maintenance of organizational culture in collaborative hospital construction projects. Project Leadership and Society, 5, 100125.

Ubogu, R., & Orighofori, V. M. (2018, June–July). Quality assurance in Nigerian universities: Issues and challenges. International Journal of Humanities and Social Sciences, 7(4), 205–214.

# د ملګروملتونو سازمان له خوا د دولتونو په رسمیت پېژندل او پر سیاست یې اغېزه

پوهنمل محمد شاهد د شیخ زاید پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارتمنت

**برېښنالیک:** mohammadshahed792@gmail.com

**لنډیز**

رسمیت پېژندنه یوه تشریفاتي تګلاره ده، چې د اتلسمې میلادي پېړۍ را وروسته په نړیوالو اړیکو کې معمول شوه، چې د دې په سبب پخواني دولتونه او حکومتونه نوي ایجاد شوي دولتونه او حکومتونه په رسمیت پېژني. د ملګرو ملتونو له خوا د دولتونو په رسمیت پېژندل له هغو موضوعاتو څخه دي چې لوستونکي به تشویق کړي، چې د ملګرو ملتونو له خوا د رسمیت پېژندلو په اړه کافي معلومات لاسته راوړي. د دغې څېړنې موخه، د دولتونو د رسمیت پېژندلو شرایطو د روښانه معلوماتو وړاندې کول دي. د دغه معلوماتو په راټولو کې د کتابتونې مېتود څخه ګټه اخېستل شوې او د معتبرو او موثقو علمي سرچینوڅخه په کې ګټه اخیستل شوې ده. د دې مقالې پراساس به هغه نیمګړتیاوې رفع شي، چې لوستونکي د دولتونو او حکومتونو رسمیت پېژندندنې په هکله ورسره مخامخ کېږي. د څېړنې پایله به د ملګرو ملتونو له خوا د دولتونو د رسمیت پېژندنې څرنګوالی، د دولتونو او حکومتونو د رسمیت نه پېژندنې عوامل، د مشروعیت نشتوالی، د بشرـ حقوقو نه رعیت او د دولتونو او حکومتونو د رسمیت پېژندنې ترمنځ توپیرونو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې او عمده پوښتنو ته به ځواب ووایې او همدارنګه به د یوه هېواد پر داخلي او خارجي سیاست د رسمیت پېژندنې اغېزې ذکر کړي.

**کلیدي کلمې:** اغېزې، رسمیت پېژندنه، دولت، حکومت، سیاست

## سريزه

**بسم الله الرحمن الرحيم! الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدالمرسلين وعلى اله و اصحابه اجمعين.**

د دولتونو پيدايښت او د بشرې ټولنې د پرمختګ او سياسي نظامونو د جوړښت له پيل سره د دولتونو تر منځ اړيکې، د نړيوال نظم يوه مهمه برخه ګرځېدلې ده، د دې اړيکو بنسټيز اصل، چې د نړيوالو حقوقو او سياست په ډګر کې ځانګړې اهميت لري، د دولت يا د حکومت رسميت پېژندنه ده. د دولتونو تر منځ د نړيوالو هر اړخيزه اړيکو ټينګښت او تنظيم دې ته اړتيا لري، تر څو هېوادونه په خپلو کې تودې او نېکې اړيکې ولري، يو د بل سياسي حاکميت او ځمکنۍ بشپړتيا ته درناوی ولري، هېوادونه په خپلو منځونو کې يو د بل پر وړاندې وجايب او مکلفيتونه په ښه نيت سره تر سره کړي، يو له بل سره په بېلابېلو برخو کې همکاري او همغږي ولري او بالاخره، په ټوليز ډول هېوادونه په خپلو منځونو کې ډيپلوماتيکې، قونسلي، سوداګريزې، پوهنيزې، کلتوري او داسې نورې اړيکې ولري، نو له حقوقي پلوه هېوادونه بايد په خپلو منځونو کې د ښو اړيکو د لرلو، د تحقق په موخه د دغو اړيکو اعلان هم وکړي، چې دغه چاره په عمومي نړيوالو حقوقو کې د رسميت پېژندنې په بڼه تر سره کېږي او په هغې کې يو هېواد په يو اړخيزه توګه د يو بل هېواد شتون په يوه ځانګړې سيمه کې په رسميت پېژني. د دولتونو رسميت پېژندنه تر ډېره يو حقوقي بحث دی، کله چې يو نوی دولت رامنځته کېږي او نور دولتونه يې د رسميت پېژندنې لپاره اقدام کوي، دې ته د دولتونو رسميت پېژندنه وايي. په نړيوالو حقوقو کې د دولتونو د رسميت پېژندنې لپاره څرګند معيارونه او شرطونه شتون لري، خو دا معيارونه په نظر کې نه نيول کېږي. په لنډه توګه ويلی شو، چې رسميت پېژندنه هم حقوقي بڼه لري او هم سياسي. کله چې يو دولت په رسميت ونه پېژندل شي، د هغه د نړيوال اعتبار، مرستو او ديپلوماتيکو اړيکو مخه نيسي، له بله اړخه رسميت پېژندنه د يو دولت يا حکومت سياسي ثبات، اقتصاد او داخلي مشروعيت ته وده ورکوي. په پايله کې ويلی شو، چې د رسميت پېژندنې له لارې نه يوازې د دولتونو سياسي موقف پياوړی کېږي، بلکې د دولتونو پر داخلي او بهرني سياست هم ژورې اغېزې لري.

## د ليکنې موخې

دا چې د ملګرو ملتونو سازمان له خوا د دولتونو په رسميت پېژندل او  پر سياست باندې يې اغېزه يوه مهمه او د ارزښت څخه برخمنه  موضوع ده. د دې څېړنيزې مقالې اصلي موخه دا ده چې د دولتونو په رسميت پېژندنه او په سياست يې اغېزه به په واضح ډول بيان کړل شي.

## د ليکنې اهميت

رسميت پېژندنه په نړيوالو اړيکو کې ډېره مهم  موضوع ده. کله، چې دوه يا زيات هېوادونه غواړي، په نړيواله ټولنه کې په ښه توګه يو د بل سره اړيکه ولري، اړينه ده چې يو بل په رسميت وپېژني، چې پرته د رسميت پېژندنې

دوی نه شي کولی په ښه او اغېزمنه توګه اړیکې او همکاری ولري. له همدې امله، په نړیوالو حقوقو کې د رسمیت پېژندنې موضوع ډېره مهمه ګڼل کېږي.

## د لیکنې کړنلاره او میتود

دا مقاله د تحلیلي څېړنې له ډول څخه ده چې د اطلاعاتو په راټولولو کې د کتابتوني مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده. په دغه څېړنېزه مقاله کې د معتبرو موثقو علمي سرچینو څخه استفاده شوې ده او هم د څېړنې ټول اساسات په کې مراعات شوي دي.

## د دولت لغوي او اصطلاحي تعریف

دولت کلمه په، لغت کې شتمنی، ثروت، بخت، اقتدار، هېواد، قدرت او مال ته وایي. په وروستیو پېړیو کې د دولت اصطلاح په لاندې معناګانو سره کارول شوې ده: سلطنت، د وزیرانو شورا، حکومتي دستګاه او هغه ډله، چې پر یو هېواد حکومت کوي. د دولت کلمه د انګلیسې ژبې د ( State ) د فرانسوي ژبې د ( Etate ) سره مترادفه ده. د لاتینې کلیمې ( Status )څخه اخیستل شوې کلمه ده، چې د شان، مقام او موقعیت معنا لري. د دولت په اړه واحد اصطلاحي تعریف وجود نه لري، په ټولیزه توګه د دولت په اړه درې ډوله تعریفونه وجود لري، چې د هر یو څخه یې په لاندې توګه یادونه کوو ( ثاقب، ۱۳۹۸ ل، ص. ۵۶ )

دولت حقوقي تعریف: یو شمېر خلک، چې په ټاکلې جغرافیایې قلمرو کې په ثابت او دوامدار ډول اوسېږي او د یو مستقل سیاسي قدرت څخه پیروي کوي. عبارت د دولت څخه دی.
دولت فلسفي تعریف: د غوښتل شوي دولت، د ښه دولت او کامل دولت ځانګړنې بیانوي.
له فلسفي پلوه د دولت د تعریف په هکله دوه فکري مکتبونه وجود لري چې عبارت دې له :
۱ -افلاطون، ارسطو او اګوستین له نظره: دولت د بېلابېلو برخو د همغږۍ په اساس رامنځته شوی دی.
۲ -هابز، لاک او روسو له نظره: دولت د یو ټولنیز تړون پر بنسټ رامنځته شوی دی.

د دولت سیاسي تعریف: هغه سیاسي دستګاه ده، چې د زور او جبر څخه په استفادي په ټاکلې جغرافیایې سیمه باندې حکومت کوي (جان رورکي او مارک بویر(۱۳۹۰ ل، ص ۸۰ ،۸۱).

دولت اصطلاحي تعریف په هکله ځینو پوهانو خپل اندونه وړاندې کړي دي؛ د ماکس ویبر په اند ( دولت هغه انساني ټولنه ده، چې په ټاکلې قلمرو کې د مشروع موخو لپاره تر مشروع ځواک لاندې کنټرولېږي ). د بروکس په اند ( دولت د بشري ټولنې یوه ځانګه ده چې په یواځې او ځانګړې ډول یې جوړښت موندلی دی ). ویلسون

په اند ( دولت هغه وګړیز سازمان دی، چې په ټاکلي قلمرو کې د قانون پر بنسټ ترتیب شوی وي ( داوري، ۱۳۹۷ل، ص. ۷۵ – ۷۶ )

خو د یو جامع تعریف په توګه کولی شو دولت داسې وپېژنو: دولت د هغه حقوقي او سیاسي ارګان څخه عبارت دی، چې نفوس، قلمرو، حکومت او عالي قدرت ولري. یا دولت د خلکو هغې ټولګې ته ویل کېږي، چې په یوه ټاکلې جغرافیایي سیمه کې، چې د قلمرو په نوم یادېږي په ثابت او دایمي توګه استوګن وي او دوی د خپل ځان لپاره حکومت ولري او دا حکومت پوره حاکمیت او عالي قدرت ولري ( اخونزاده، ۱۳۹۸ل، ص. ۸۰ )

**د ملګرو ملتونو سازمان له لورې د دولتونو د رسمیت پېژندنې څرنګوالی**

له حقوقي پلوه په ملګرو ملتونو کې د یو دولت د غړیتوب منل پخپله د ملګرو ملتونو او یا د دغه سازمان د غړو هېوادونو لخوا د دغه دولت د رسمیت پېژندنې معنا نه لري، او هغه داسې چې که چېرې یو نوی دولت، چې لا هم د ملګرو ملتونو او د یاد سازمان د غړو لخوا په رسمیت نه وي پېژندل شوی، په ملګرو ملتونو کې د غړیتوب غوښتنه وکړي او د ملګرو ملتونو د تګلارې له مخې د دغه هېواد د غړیتوب موضوع د عمومي اسمبلۍ غونډې ته وړاندې شي، نو کله چې غړي هېوادونه د دغه نوي دولت غړیتوب ته رایه ورکړي، نو دا په د معنا چې غړو هېوادونو یواځې دغه نوی دولت په ملګرو ملتونو کې د غړې په توګه ومنو، په مجرد ډول د دغه غړیتوب منل د دې هېواد رسمیت پېژندنه نه ده، او اصولاً هم داسې کوم مفهوم نه ارایه کوي، ولې کولی شي د دغه نوي دولت د غړیتوب منل په ملګرو ملتونو کې د ځینې هېوادونو لخوا د ضمنې رسمیت پېژندنې په مفهوم ارایه شي، او هغه په دې ډول چې کېدای شي له دې وروسته ځینې پخواني هېوادونه له دغه نوي دولت سره په ځینو برخو کې اړیکې پیل کړي او یو له بل سره استازي تبادله کړي یا یو شمېر تړونونه لاسلیک کړي چې کېدای شي دا یې حکماً د ضمنې رسمیت پېژندنې معنا ولري (قاضي. ۱۳۹۴ ل. ص. ۸۱ )

باید یادونه وکړو، که چېرې پخواني هېوادونه د یو نوي دولت د غړیتوب په موضوع کې د رایې اچونې پرمهال ونه غواړي، چې د دغه دولت غړیتوب منل دې، د رسمیت پېژندنې په کچه مفهوم ولري، نو کولی شي، چې له مخکې اعلان وکړي، چې ګویا زمونږ لپاره په ملګرو ملتونو کې د دغه نوي هېواد غړیتوب منل د دغه هېواد د رسمیت پېژندنې په معنا نه ده او مونږ د دغه هېواد غړیتوب منو؛ خو نه غواړو چې له دې هېواد سره اړیکې ولرو. لکه: د اسرائیلو د غاصب رژیم د رامنځته کېدو وروسته په ۱۹۴۹ کال کې د نهه پنځوسم هېواد په توګه په ملګرو ملتونو کې د دغه هېواد د غړیتوب موضوع مطرح شوه، نو له همدې وېرې چې ګویا د دغه هېواد غړیتوب منل د رسمیت پېژندنې معنا ونه لري، نو ځینې هېوادونو او په ځانګړې ډول اسلامي هېوادونو ته اندېښنه پېدا شوه نو

له دې سره سم د ملګرو ملتونو د هغه وخت سرمنشي اعلان وکړ، چې په ملګرو ملتونو کې د اسرائیلو د غړیتوب منل هېڅکله هم د رسمیت پېژندنې مانا نه لري، چې بالاخره هغه هېوادونه چې له دې امله یې تشویش درلوده رفع او په دې توګه ځینې مخالفو هېوادونو د اسرائیلو غړیتوب ته رایه ورکړه. په دې برخه کې یو اصل، چې په نړیواله کچه منل شوی دی، هغه دا دی، چې که چېرې ملګري ملتونه د یو نوي هېواد د رسمیت پېژندنې څخه هېوادونه منع کړي، نو د منشور د اصولو سره سم باید هېوادونه د دغه هېواد د رسمیت پېژندنې څخه ډډه وکړي، چې دا موضوع په داخلې حقوقو باندې د بهرنیو حقوقو د برترۍ اصل سره سمون لري. په تاریخي الحاظ په ۱۹۷۰ میلادي کال کې دولتونو د همدې اصل له مخې د رودزیا د نژاد پال رژیم د رسمیت پېژندنې څخه ډډه وکړه؛ خو باید یادونه وکړو، چې دا به ستونزمنه وي، چې دغه اصل په ټولو هېوادونو باندې پلی شي او یا دې ټول هېوادونه ورته ژمن پاتې شي؛ ځکه ډېر غښتلي هېوادونه د رسمیت پېژندنې په برخه کې د سیاسي لاملونو تر اغېز لاندې عمل تر سره کوي او له بل هر څه نه وړاندې خپلې ملي ګټې په نظر کې نیسي .

دا پوښته راولاړیږي چې په ملګرو ملتونو کې دولت په رسمیت پېژندل کېږی او که حکومت؟ ددې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو، چې دولت د حکومت په نسبت لوی دی او حکومت د دولت د حصول یو ذریعه ده، په اوسني وخت کې  د دولت او حکومت رسمیت پېژندنې ته خاص اهمیت حاصل دی، که چېرې نوی دولت په رسمیت وپېژندل شي، نو دا خبره واضح کېږي، چې نوی دولت د بین المللي مسؤلیتونو د پوره کولو اهلیت لري، مګر د یو نوي حکومت په پېژندلو سره دا تصور نه پیدا کېږي؛ ځکه دولت په بین المللي سطحه له پخوا موجود وي او د حکومت تغیر د هغه په موجودیت څه اثر نه لري، له دې وجې د حکومت په رسمیت پېژندل د دولت په بین المللي شخصیت کوم اثر نه لري، په اخر کې به ووایو، چې حکومت د دولت جز دی او په ملګرو ملتونو کې دولت په رسمیت پېژندل کېږي (اخونزاده، ۱۳۹۸ ل، ص. ۱۲۲ ، ۱۲۳ ـ ۱۲۴).

### د دولتونو او حکومتونو د رسمیت نه پېژندنې عوامل

رسمیت پېژندنه پرحقوقي اړخونو سر بیره، سیاسي او دیپلوماتیک اړخونه هم لري. ځینې وختونه نړیواله ټولنه یا دولت دا پرېکړه کوي، چې بل نوی دولت یا حکومت په رسمیت ونه پېژني. دا پرېکړه پر ګڼو حقوقي او سیاسي دلایلو ولاړه وي، چې مهم عوامل یې په لاندې ډول دي.

#### ۱: د مشروعیت نشتوالی

د رسمیت پېژندنې یو له اصلي عواملو څخه دا دی، چې نوی حکومت یا دولت د مشروع سیاسي پروسې له لارې واک ته نه وي رسېدلی. که چېرې یو حکومت د زور، کودتا یا د یرغل له لارې منځته راغلی وي، نړیواله ټولنه

او حکومتونه اکثراً د دغې لارې رامنځته شوي دولتونه په رسمیت نه پېژني. د بېلګې په توګه، کله چې په ۱۹۷۹ میلادي کال کې شوروي اتحاد په افغانستان یرغل وکړ او هلته یې ببرک کارمل د واک په ګدۍ کېناوه، نو ډېری هېوادونو لخوا په رسمیت ونه پېژندل شو (Shaw, 2017, P. 33).

**۲: د بشر حقونو نه رعایت**

که یو حکومت د انسان حقونه، د بیان آزادي، د دین آزادي، یا د ښځو او اقلیتونو حقونه تر پښو لاندې کړي، نو دا هم د رسمیت نه پېژندنې ستر او اصلي لامل ګڼل کېږي (Shaw, 2017, P. 33).

**۳: د دیموکراتیکو اصولو نقض ( خلاف عمل)**

که چېرې یو حکومت د عادلانه، شفافو او سرتاسري ټاکنو له لارې واک ته نه وي رسېدلی او هم یې د خلکو رضایت نه وي ترلاسه کړی، نو همدا عوامل د دې سبب کېږي، چې حکومت په رسمیت ونه پېژندل شي (Lan, 2008, P. 88) .

د بېلګې په توګه، کله چې په ۲۰۲۱ میلادي کال کې د میانمار د کودتا په نتیجه کې د پوځ منتخب مشره آونګ سان سوچي بندي کړه او حکومت یې ونیو، ډېرو هېوادونو د کودتا په واسطه رامنځته شوی حکومت په رسمیت ونه پېژنده.

**۴: د زور له لارې د واک نیونه**

د زور، یرغل یا اشغال له لارې د خاوري نیول یا واک ته رسېدل د نړیوالو قوانینو خلاف عمل ګڼل کېږي، او همدا عامل د دې سبب کېږي، چې یو حکومت په رسمیت ونه پېژندل شي(Lan, 2008, P. 88) .

د بېلګې په توګه، کله چې په ۲۰۱۴ میلادي کال کې روسیې د کریمیا سیمه اشغال کړه او دا سیمه یې د اوکراین څخه جدا کړه او په خپل تصرف یا واک لاندې یې راوسته، نړدي ټولې غربي نړۍ دا عمل وغنده او کریمیا یې د روس د برخې په توګه په رسمیت ونه پېژنده.

**۵: د نړیوالو اصولو او تړونونو نه سرغړونه**

که یو دولت د نړیوالو تړونونو قطعنامو یا اصولو خلاف عمل وکړي، نو دا هم د رسمیت نه پېژندنې لامل کېدای شي. د بېلګې په توګه، که یو رژیم د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پرېکړو مخالفت وکړي، غړي هېوادونه یې په رسمیت نه پېژني ( Shaw ,2017 ,P .34).

**٦ : د داخلي مشروعیت نه شتون**

که خلک یو حکومت ونه مني، پر وړاندې یې پاڅونونه وشي یا یې پر وړاندې دوامداره مدني مخالفتونه موجود وي دا هم د رســمیت پېژندنې په وړاندې خنډ گرځي. د بېلگې په توگه، د وینزویلا د مادورو حکومت پر وړاندې د خلکو پراخ مخالفتونه، انتخاباتي درغلۍ او داخلي مشروعیت ته د خلکو نه قانع کېدل د دې لامل شو، چې ځینو هېوادونو د اپوزیسون مشرـخوان گویدو په رسمیت وپېژنده او د مادورو د رسمیت پېژندنې څخه لاس په سر شول (Shaw, 2017, P. 34).

**٧ : نړیوال فشار، سیاسي رقابت یا گټې**

ځینې وختونه د رسمیت نه پېژندنې تر شا د لویو قدرتونو سیاسي رقابت یا اقتصادي گټې وي؛ نه یوازې حقوقي دلایل، نو پر همدې اســاس د ځېنو هېوادونو گټې دا نه ایجابوي، چې نوی رامنځته شــوی حکومت دې په رســمیت وپېژني. د بېلگې په توگه، د تایوان دولت چې د امریکا دولت غیر رســمي ملاتړ لري او چین د دې خاوري ادعا کوي، چې دا خاوره د دوی د قلمرو یوه برخه ده، نو د چین هېواد د فشــار له امله ډېرو هېوادونو تایوان هېواد په رسمیت نه دی پېژندلی( Shaw, 2017, P. 33 ).

**٨: د دولت د دوام نشتوالی**

که یو دولت د خپلې خاورې په ټولو برخو کنټرول ونه لري او یا څو ډلې یې پر سر شخړه ولري، نو دا هم د رسمیت نه پېژندنې سبب گرځي. د بېلگې په توگه، لیبیا هېواد کې د قذافي له سقوط وروسته څو موازي حکومتونه منځته راغلل، نو دا چې هلته یو حکومت شتون نه درلود، نو په رسمیت هم نه وو پېژندل شوی ( Shaw, 2017, P. 33 ).

**٩: د تاریخي او جغرافیوي شخړو شتون**

ځینې وختونه د قلمرو او سرحدي اختلافونو له امله دولتونه یو بل ته رسمیت نه ورکوي. د بېلگې په توگه، د ناگورنو قرباغ پر سر د ارمنستان او آذربایجان هېوادونو تر منځ لانجه د دې سبب شوي، چې یو بل په رسمیت نه پېژني ( Shaw, 2017, P. 35 ).

**دریېم: د یو هېواد پر داخلي سیاست باندې د رسمیت پېژندنې اغېزې**

لکه چې مخکې هم یادونه وشوه، چې د دولتونو او حکومتونو رسمیت پېژندنه د نړیوالو اړیکو له مهمو، حقوقي او سیاسي موضوعاتو څخه شمېرل کېږي، نو کله چې یو نوی حکومت رامنځته شي او د نورو هېوادونو لخوا په رسمیت وپېژندل شي، نو همدا رسمیت پېژندنه د یاد حکومت داخلي اعتبار پیاوړی کوي او برعکس که په

رسمیت ونه پېژندل شي، نو د یاد حکومت داخلي اعتبار له منځه وړي. نو دلته د رسمیت پېژندنې اغېزې د یو هېواد پر داخلي سیاست باندې تر بحث لاندې نیسو، چې ځینې یې په لاندې ډول دي.

**۱ : سیاسي ثبات یا سیاسي ناثباتي**

په دې معنا، چې رسمیت پېژندنه کولی شي، د یو حکومت مشروعیت پیاوړی کړي او په پایله کې د یاد حکومت اقتدار زیات شي او پر اساس یې داخلي اختلافات کمېږي؛ ځکه خلک ځانونه د قانوني نظام برخه ګڼي. د بېلګې په توګه: په ۱۹۷۱ میلادي کال کې د بنګله دیش هېواد رسمیت پېژندنه وه، چې د حکومت مشر وعیت یې تثبیت کړ او د هغو خوځښتونو مخه یې ونیوله، چې د جلاوالي غوښتونکي و. له بلې خوا رسمیت پېژندنه کولی شي، د یو هېواد په داخل کې شخړې راوپاروي او دا په هغه وخت کې کېدای شي، چې د هېواد په دننه کې ځینې ډلې د منل شوي حکومت سره په مخالفت کې واقع وي. د بېلګې په توګه: کله چې په ۲۰۱۱ میلادي کال کې سویلي سوډان په رسمیت وپېژندل شو، او رسمیت پېژندنه یې ترلاسه کړه؛ خو د قومي مخالفتونو له امله یې داخلي جګړې دوام درلود.

**۲ : ملي هویت او یووالی**

په دې معنا، چې رسمیت پېژندنه کولی شي، د یو هېواد د اتباعو لپاره ملي هویت، ملي عزت او د یووالي احساس رامنځته کړي او هغوی ته دا باور ورکړي، چې دوی یو منل شوی، مستقل او مشروع دولت لري. د بېلګې په توګه: کله چې په ۲۰۰۸ میلادي کال کې کوسوو هېواد په رسمیت وپېژندل شو، نو دا رسمیت پېژندنه د هغه د البانوي اکثریت په منځ کې د ملي هویت احساس پیاوړی کړ. له بلې خوا رسمیت پېژندنه کولی شي، په ګڼ قومي هېوادونو کې د تشویش لامل وګرځي. د بېلګې په توګه: په ۱۹۴۸ میلادي کال کې د اسرائیلو رسمیت پېژندنه د فلسطیني ټولنو او ګاونډیو عربي هېوادونو د تشویش لامل وګرځېده او داسې فکر ورسره پیدا شو، چې د اسرائیلو رسمیت پېژندنه به د عربي هېوادونو ملي هویت او یووالی د خطر سره مخ کړي او یا به یې له منځه یوسي.

**۳ : د تجزیې غوښتونکو غورځنګونو کمزوري کول**

په دې معنا، هغه هېوادونه چې په رسمیت نه وي پېژندل شوي یا داخلي مشروعیت یې کمزوری وي، مختلف قومونه، مذهبي ډلې یا سیمې د خپلواکۍ یا تجزیې هڅې کوي؛ خو رسمیت پېژندنه دا ډول هڅې کمزوري کوي؛ ځکه نړیواله ټولنه یوازې موجود دولت په رسمیت پېژني نه موازي جوړښتونه.

**۴: د ملي افتخاراو غرور احساس پیاوړتیا**

په دې معنا، کله، چې یو هېواد په رسمیت پېژندل شوی وي، خلک یې د نړیوالو غونډو، سیاسي ناستو او نړیوالو فعالیتونو برخه وي، همدا مشارکت د هېواد د وګړو لپاره د ملي ویاړ او غرورو لامل کېږي، چې له امله یې هېواد سره مینه او وفاداري زیاتېږي.

**۵ : د حکومت او خلکو تر منځ د اعتماد رامنځته کېدل**

په دې معنا، هغه هېواد چې په رسمیت پېژندل شوی وي، د خلکو د نظره یاد دولت یا حکومت یو مشروع نظام وي، چې همدا مشروعیت د دې لامل کېږي، چې د خلکو او دولت یا حکومت تر منځ واټن کم کړي.

**٦ : مرستو او سوداګرۍ ته لاسرسی**

په دې معنا، کله چې یو حکومت په رسمیت وپېژندل شي، نو دا پېژندنه د نړیوالو مرستو او بازارونو ته د لاسرسۍ سبب ګرځي او د یو هېواد حکومت کولی شي، چې د دې مرستو پر اساس خپل داخلی اقتصاد پیاوړی کړي. د بېلګې په توګه: د سومالیلنډ هېواد چې په رسمیت نه دی پېژندل شوی، د اقتصادي انزوا سره مخ دی، په داسې حال کې چې رواندا هېواد چې په رسمیت پېژندل شوی دی د ۱۹۹۴ میلادي کال د نسل وژنې وروسته د نړیوال ملاتړ پر اساس خپل اقتصاد بیا ورغاوه.

**۷ : د مرستو پر وړاندې تکیه**

په دې معنا، کله چې یو هېواد پر رسمیت وپېژندل شي، نو باید یوازې په بهرنیو مرستو تکیه ونه کړي او د بهرنیو مرستو په وړاندې ډېره تکیه کولی شي د یو هېواد حاکمیت کمزوری کړي. د بېلګې په توګه: کله چې افغانستان حکومت د طالبانو د لومړي واکمنۍ څخه وروسته په ۲۰۰۱ میلادي کال کې په رسمیت وپېژندل شو، نو ټوله تکیه یې په پر نړیوالو مرستو کوله، چې همدا تکیه یې د دې سبب شوه، چې د ۲۰۰۱ میلادي کال د طالبانو د واکمنۍ وروسته یې اقتصادي سیستم ضعیف شو.

**۸ : نړیوالو پانګوالو ته باور ورکول**

په دې معنا، کله چې یو هېواد نړیوال رسمیت ولري، پانګوال او شرکتونه ډاډه وي، چې هلته پانګونه خوندي ده، همدا اعتماد د پانګونې زیاتوالي، کارموندنې او صنعتي پراختیا لامل کېږي .

**۹ :د غیر رسمي اقتصاد پراختیا**

په دې معنا، کله چې یو هېواد په رسمیت نه وې پېژندل شوی، قانوني اقتصاد یې له محدودیت سره مخ وي، نو خلک غیري رسمي یا تور اقتصاد ته مخه کوي( قاچاق، غیر قانوني پیسو لېږد، پټ تجارت)، چې دا کار د دولت عواید کموي او د فساد د زیاتوالي سبب ګرځي.

**۱۰ : عامه مورال زیاتوالی او یووالی**

په دې معنا، چې رسمیت پېژندنه د ملي وحدت سمبول ګرځي، هر کله چې یو دولت یا حکومت نړیوالو په رسمیت پېژندلی وي، نو خلک د قوم، ژبې، او سیاسي اړخونو پر ځای ځان د یوه ملت غړي ګڼي، دا چاره د داخلي تفرقو، شخړو او تبعیضونو مخه نیسي؛ ځکه چې خلک باور کوي، چې د دوی ملي جوړښت د نړۍ لخوا منل شوی دی. د بېلګې په توګه: کله چې د اریتریا هېواد په ۱۹۹۳ میلادي کال کې د ۳۰ کلنې خپلواکۍ جګړې وروسته په رسمیت وپېژندل شو، همدا رسمیت پېژندنه وه، چې هغې ټولنې ته یې یووالی ورکړ. همدارنګه رسمیت پېژندنه د عامه مورال د زیاتوالي سبب ګرځي او خلک دې پایلې ته رسېږي، چې د دوی هېواد د نړۍ لخوا په رسمیت پېژندل شوی دی او ملت ته دا پیغام ورکوي، چې تاسو موجود یاست او نړۍ مو موجودیت مني.

**۱۱ : د امیدونو او هیلو زیاتوالی**

په دې معنا چې رسمیت پېژندنه خلک راتلونکي ته هیله من کوي او دوی دا باور پیدا کوي، چې اوس دوی کولی شي له نورو هېوادونو سره تعامل وکړي، له نړیوالو مرستو برخمن شي، سفر وکړي، زده کړې وکړي، کاروبار او اړیکي پراخي کړي. برعکس نه رسمیت پېژندنه خلک ناهیلې کوي.

**۱۲ : د روحي فشارونو کمښت**

په دې معنا کله چې یو ملت په رسمیت پېژندل شوی وي همدا رسمیت پېژندنه د یو ملت نفسي فشارونه له منځه وړي او خلکو ته آرامي، ډاډ او خوشبیني بښي.برعکس هغه ملت چې رسمیت ونه لري، وګړي یې اکثره د بې اعتبارۍ، یتیموالي او نړیوالې بې پامۍ احساس کوي. د بېلګې په توګه، کوسوو د ۲۰۰۸ میلادي کال د فبرورۍ په ۱۷ مه نېټه د صربیا څخه حپلواکي اعلان کړه؛ خو تر نن ورځې پورې کوسوو یوازې د نړۍ شاوخوا سلو هېوادونو په رسمیت پېژندلی او لا هم د ملګرو ملتونو بشپړ غړی نه دی .

**۱۳ : اقلیتونو سره تبعیضي چلند**

په دې معنا، چې یو دولت یا حکومت رسمیت پېژندنه کولی شي، چې د اقلیتونو غړونه کمزوري کړي او د هغوی د څورونې لامل شي. د بېلګې په توګه: په میانمار هېواد کې د روګینګیا په اړه د رسمیت پېژندنې نشتوالی د هغې د وګړو څورونې لامل شو(Shaw, 2017, P. 271 – 275

**څلورم د یو هېواد پر بهرني سیاست باندې د رسمیت پېژندنې اغېزې**

رسمیت پېژندنه د دولتونو تر منځ د اړیکو پیل او پراختیا لپاره مهم اصل دی، همدا رسمیت پېژندنه ده، چې د یو هېواد پر بهرني سیاست مستقیمه اغېزه لري؛ ځکه د رسمیت پرته دولت نه شي کولی له نورو هېوادونو سره رسمي اړیکې، سیاسي تفاهم او نړیوال حضور ولري، نو دلته د رسمیت پېژندنې د ځینو اغېزو څخه بحث کوو، چې د یو هېواد پر بهرني سیاست تاثیر کوي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي .

**۱ : نړیوال مشروعیت ترلاسه کول**

د رسمیت پېژندنې له لارې، یو دولت د نورو دولتونو له لوري د قانوني شخصیت په توګه پېژندل کېږي او دولتونو ته دا حق ورکوي، چې په نړیواله سطحه د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره عمل وکړي. د بېلګې په توګه، کله چې په ۱۹۴۹ میلادي کال کې د اسرائیل دولت د متحده ایالاتو او شوروي اتحاد له لوري په رسمیت وپېژندل شو، چې دا کار د دې سبب شو، چې اسرائیل نړیوال مشروعیت ترلاسه کړ.

**۲ : د دیپلوماتیکو اړیکو پراختیا**

کله چې یو دولت د نورو دولتونو لخوا رسماً په رسمیت وپېژندل شي، نو همدا پېژندنه هغه ته دا قانوني صلاحیت ورکوي، چې له نورو دولتونو سره رسمي دیپلوماتیکي اړیکې ټینګې کړي، سفارتونه تبادله کړي او په نړیوالو ناستو کې د دولت په توګه ګډون وکړي. که چېرې کوم دولت یا حکومت رسماً په رسمیت ونه پېژندل شي، نو نه شي کولای چې د نورو دولتونو سره رسمي دیپلوماتیکي اړیکې ټینګې کړي او یا سفارتونه تبادله کړي. د بېلګې په توګه، په ۲۰۱۱ میلادي کال کې جنوبي سوډان د یوې ټولپوښتنې له لارې له سوډان څخه جلا او خپلواک دولت شو، د همدې کال د جولای په ۹ مه نېټه د امریکا، بریتانیا، فرانسه، چین او هند او ځینو نورو هېوادونو لخوا په رسمیت وپېژندل شو، له امریکا سره یې رسمي سفارتي اړیکې پیل کړې، همدارنګه د ډېرو افریقایي او اروپایي هېوادونو سره یې سفارتونه تبادله کړل .

**۳ : د نړیوالو تړونونو سره یو ځای کېدل ( امضاء کول )**

کله چې یو دولت د نورو دولتونو لخوا رسماً په رسمیت وپېژندل شي، نو همدا پېژندنه هغه ته دا قانوني صلاحیت ورکوي، چې د نړیوالو تړونونو ( Conventions, Charters, Treaties) برخه شي. د نړیوالو تړونونو لاسلیک او تصویب د رسمیت پېژندنې پرته ممکن نه دی؛ ځکه چې یوازې یو رسماً پېژندل شوی دولت کولی شي د نړیوال قانون له مخې په تړونونو کې غړیتوب واخلي، مسؤلیتونه یې ومني او د هغو له گټو برخمن شي. د بېلگې په توگه، کله چې جنوبي سوډان په رسمیت وپېژندل شو، نو مختلفو نړیوالو تړونونو غړیتوب یې ترلاسه کړ او په تصویب یې ورسول، لکه: ۲۰۱۱ میلادي کال د جولای په ۱۴ مه نیټه جنوبي سوډان د ملگرو ملتونو ۱۹۳ غړی شو، تر هغه وروسته یې د ماشومانو د حقونو نړیوال کنوانسیون ( CRC ) یې تصویب کړ، همدارنگه UNICEF, UNHCR, WHOاو نورو سازمانونو سره یې تړونونه لاسلیک کړل .

**۴ :د اقتصادي او سوداگریزو اړیکو پراختیا**

کله چې یو دولت د نورو دولتونو لخوا رسماً په رسمیت وپېژندل شي، نو همدا پېژندنه هغه ته دا قانوني صلاحیت ورکوي، چې له نورو هېوادونو، نړیوالو مالي بنسټونو او خصوصي کمپنیو سره رسمي اقتصادي او تجارتي اړیکې ټینگې کړي. په رسمیت پېژندل شوی دولت کولی شي، له نړیوالو مالي سازمانونو، لکه: نړیوال بانک ( World Bank )، نړیوال مالي صندوق ( IMF ) او د نړیوال تجارت سازمان ( WTO ) ) سره غړیتوب واخلي، همدارنگه د بهرنیو پانگوالو لپاره د قانوني مصؤنیت او باور فضاء برابروي، تر څو په یاد هېواد کې پانگونه وکړي. په رسمیت نه پېژندل شوي دولتونه نه شي کولی د نړیوال بانکي سیستم له لارې مالي معاملې تر سره کړي. د بېلگې په توگه. کله چې جنوبي سوډان په ۲۰۱۱ میلادي کال کې خپلواکي ترلاسه کړه او د ډېرو هېوادونو لخوا په رسمیت وپېژندل شو، نو د نړیوال بانک( World Bank ) ، نړیوال مالي صندوق ( IMF )او د African Development Bankغړیتوب یې ترلاسه کړ (Shaw, 2017, P. 195 - 197) .

**۵ : د نړیوالو سازمانونو غړیتوب ترلاسه کول**

کله چې یو نوی دولت رسماً د نورو دولتونو له خوا په رسمیت وپېژندل شي، نو کولی شي د نړیواالو سازمانونو، لکه: د ملگرو ملتونو سازمان( UN ) ، نړیوال مالي صندوق( IMF ) ، نړیوال بانک .( World bank ) افریقا اتحادیه، اروپایي ټولنه یا اسلامي کنفرانس غړی شي. نړیوال سازمانونه یوازې هغه سیاسي واحدونو ته غړیتوب ورکوي، چې نړیوال رسمیت ولري او یا لږ تر لږه د کافي شمېر دولتونو له خوا په رسمیت پېژندل شوی وي. که یو دولت د نړیوالې ټولنې له خوا رسماً په رسمیت ونه پېژندل شي، نو د نړیوالو سازمانونو دروازې ورته بند پاتې کېږي، یا به یې غړیتوب محدود وي. د بېلگې په توگه، کله چې جنوبي سوډان په ۲۰۱۱ میلادي کال د جولای

په ۹ مه نېټه خپله خپلواکي اعلان کړه، نو ډېر ژر په رسمیت وپېژندل شو او د رسمیت پېژندنې څخه ۵ ورځې وروسته یې د ملګرو ملتونو غړیتوب ترلاسه کړ، وروسته له هغې د افریقا اتحادیې، نړیوال مالي صندوق، نړیوال بانک او نورو سازمانونو غړیتوب هم ترلاسه کړ(Crawford, Bronlie, 2019, P. 147) .

له بل پلوه فلسطین سره له دې، چې د ډېرو هېوادونو له خوا په رسمیت پېژندل شوی، لا هم د ټولو سازمانونو بشپړ غړی نه دی؛ ځکه یو شمېر مهم دولتونه یې رسمیت نه مني. فلسطین د ملګرو ملتونو د ناظر دولت ( Observer State) په توګه پېژندل شوی.

### ٦ : پر نظامي او امنیتي همکاریو تاثیر

کله چې یو دولت د نورو دولتونو لخوا رسماً په رسمیت وپېژندل شي، نو همدا پېژندنه هغه ته دا قانوني او سیاسي فرصت ورکوي، چې له نورو هېوادونو یا نړیوالو امنیتي سازمانونو سره نظامي او امنیتي همکارۍ پیل کړي. په رسمیت پېژندل شوي دولتونه کولی شي له نورو هېوادونو سره د امنیتي همکاریو تړونونه وکړي، لکه: دفاعي تړونونه، د ترهګرۍ ضد عملیات، یا د وسلو برابرول. او هم کولی شي د نظامي سازمانونو، لکه: ناټو، ملګرو ملتونو د سولې ساتنې ځواک، یا د سیمه ییزو ایتلافونو برخه شي. د بېلګې په توګه، کله چې جنوبي سوډان په ۲۰۱۱ میلادي کال په رسمیت وپېژندل شو، نو د ملګرو ملتونو د سولې ساتونکو ځواکونو ملاتړ یې ترلاسه کړ او له یو شمېر هېوادونو، لکه: امریکا، ایتوپیا، اوګاندا سره د نظامي روزنې او تجهیز قراردادونه وکړل. له بله پلوه که څه هم تایوان د ډېرو هېوادونو له خوا رسماً په رسمیت نه دی پېژندل شوی، نو له همدې امله نه شي کولی رسمي امنیتي تړونونه ولري، لکه: د ناټو غړیتوب که څه هم امریکا یې غیر رسمي ملاتړ کوي؛ خو دا اړیکې یې قانوني بنسټ نه لري (Crawford, Bronlie, 2019, P. 148) .

### پایله

کومه څېړنه مو چې تر سره کړه، د هغې نه دا پایله تر لاسه کېږي، چې رسمیت پېژندنه د یو سازمان او دولت یو اړخیزه عمل دی، چې د هغې په ذریعه یو دولت د بل دولت خپلواکي په رسمیت پېژني او یا د هغې سره کاملې یا بشپړې دیپلوماتیکې اړیکې ټینګوي. د حقوقي پلوه د دولتونو د رسمیت پېژندنې لپاره ځینې حقوقي معیارونه شته، او کله چې دا معیارونه په یوه سیاسي ټولنه کې رامنځته شي، نو د دې نه وروسته بل دولت دا حق لري، چې دا ټولنه د دولت په توګه په رسمیت وپېژني، چې دا معیارونه د دولت متشکله عناصر دي. خو متاسفانه په عمل کې دغه حقوقي معیارونه د دولتونو په رســمیت پېژندنه کې په نظر کې نه نیول کېږي، بلکې د دې معیارونو پرځای د هېوادونو تر منځ سیاسي ملاحظات په نظر کې نیول کېږي.

که د یو دولت حکومت په قانوني ډول بدلون وکړي. د حکومت بدلون کولو سره رسمیت پېژندنې مو ضوع نه مطرح کېږي، بلکې د نوي قانوني حکومت لپاره د پخواني دولت او حکومت رسمیت پېژندنه بسنه کوي. که د یو دولت حکومت په قانوني ډول منځ ته نه وي راغلی، بلکې په غیرې قانوني ډول منځته راغلی وي. یوه ډله دا نظر لري، چې دا ډول حکومت چې په غیرې قانوني ډول منځته راغلی دی، ولو که یواځې د حکومت تغیر وي او که د رژیم او نظام، نو دا ډول حکومت د حقوقي نګاه څخه د اعتبار وړ نه دی او رسمیت پېژندنه یې هم نه مطرح کېږي. بله ډله وایي، که چېرې د حکومت تغیر په قانوني شکل وي او که په غیرې قانوي شکل، دا د هر دولت داخلي مو ضوع ده، که حکومت حقوقي معیارونه پوره کړې وي رسمیت پېژندنه یې مدار ده او باید مطرح شي. رسمیت پېژندنه د یو هېواد په سیاستونو هم پراخ اغېز لري. کله چې یو حکومت یا دولت د ملګرو ملتونو سازمان او یا د دولتونو له خوا په رسمیت ونه پېژندل شي د هغه د نړیوال اعتبار، مرستو او دیپلوماتیکو اړیکو مخه نیسي. له بله اړخه رسمیت پېژندنه د یو دولت سیاسي ثبات، اقتصاد او داخلي مشروعیت ته وده ورکوي. په پایله کې ویلی شو، چې د رسمیت پېژندنې له لارې نه یوازې د دولتونو سیاسي موقف پیاوړی کېږي، بلکې د دولتونو پر داخلي او بهرني سیاست هم ژورې اغېزې لري.

**وړاندیزونه**

۱- نړیوالې ټولنې ته په کار ده، چې د ناڅاپي کودتاوو، انقلابونو، یا ا ضطراري بدلونونو پر مهال د رسمیت پېژندنې یو مشخص پروتوکول جوړ کړي.

۲ - نړیوالې ټولنې ته په کار ده زور واکو ظالمانو او د دوی ملګرو او حمایه کوونکو په مقابل کې حق وینا او عکس العمل څخه ونه سپموی.

۳ - نړیوالې ټولنې ته په کار ده چې هغه پالیسی چې د شرعی نصوصو او حق پلې کېدو په مقابل کې خنډ او ځنډ جوړېږی زر تر زره بدلې کړي. او د حقیقی معبود ته تابع شي. اسلام، قران او د محمد (ص) رسالت ومني د الله (ج) امر ته د عدالت پر بنیاد په نړیوالو اصولو کې ځای ورکړی.

# Recognition of states by the United Nation and Its Impacton on politics

Senior Teaching Assistant: Mohammad shahed, Law and political science Faculty, Department International Realtions and Political Science, Shaikh Zayed University.
**Email:** mohammadshahed792@gmail.com.

**Abstract**
Recognition is a ceremonial procedure that became common in international relations after the eighteenth century, through which existing states and governments recognize newly established states and governments. The recognition of states by the United Nations is one of the topics that encourages readers to acquire sufficient information regarding the UN’s role in the recognition process. The purpose of this topic is to provide clear information about the conditions under which states are recognized. In collecting this information, the library research method has been used, drawing upon credible and authoritative academic sources. Based on this article, the shortcomings and ambiguities that readers often face regarding the recognition of states and governments will be addressed. The findings of the research will present comprehensive information on how the United Nations recognizes states, the factors leading to the non-recognition of states and governments, the absence of legitimacy, the violation of human rights, and the differences between the recognition of states and governments. In addition, the article will explain the impact of recognition on a country’s internal and foreign policy.

**Keywords**: Government, impacts , politics, Recognition ,state

**مأخذونه**

- اخونزاده، عبیدالله. ( ۱۳۹۸ هـ ش). عمومي نړیوال حقوق، کابل: اکسوس کتاب پلورنځي.

- ثاقب، نقیب الله.( ۱۳۸۹ ه ش). عمومي اساسي حقوق، جلال اباد، یارخپرندیه ټولنه.

- جان رورکي او مارک بویر. ( ۱۳۹۰ هـ ش ). بین المللي سیاست ته یوه کتنه، ژباړن: ډاکټر محمد صدیق ظهیر، کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

- داوري، فرهاد. ( ۱۳۹۷ هـ ش ). سیاست پوهنه، کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه.

- صافی، ودیر. ( ۲۰۰۸ م ). حقوق بین المللي عمومي، کابل: میوند خپرندویه ټولنه.

- قاضي، سید ابوالفضل. ( ۱۳۹۴ هـــ ش ). د اساسي حقوقو بنسټیز مسایلو، ژباړن: رحیم داد همزولی، ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

- Brownlie, lan. ( 2008 ). Principle of Public International law, Oxford University Press.

- James Crawford, Brownlie. ( 2019 ). Principle of Public International law, 9th Edition, Oxford University Press.

- Malcolm N. Shaw. ( 2017 ). International law, 8th Edition, Combridge University Press.

# درک چالش‌ها و بحران‌های انسانی از منظر انسان‌شناسی عرفانی و پاسُخ مولانا

پوهنمل عبدالبصیرحکیمی، پوهنتون شیخ زاید، پوهنحی زبان و ادبیات، دیپارتمنت زبان و ادبیات دری
**آدرس ایمیل**: abdulbasirh68@gmail.com

**چکیده**

اگر نیک دیده شود، انسان‌ها در اثر حاکمیت و قدرت برکره‌ی هستی و اندوخته‌های علمی و تکنالوجی، چنان در خودخواهی و برتربینی غرق شده اند که از معنویت، اندوخته‌های ذهن شان فرو ریخته است. بی‌تردید گرایش‌های پوچ‌فکری، خودخواهی، برتربینی، تعصبات نژادی و لسانی، ارزش قایل شدن بیش از حد به سود مادی، وقت‌کُشی، تقلیدهای بی‌جا و ... علت اصلی چالش‌ها و بحران‌ها است. بنابراین، یکی از اندیشمندان مسلمان و عارف شاعر که نقش بسیار مهم و برجسته را در راستای پخش و نشر فرهنگ زیبای اسلام و نشر آرمان‌های انسانی و فرهنگ بشری را داشته، مولانا جلال الدین محمد بلخی‌ست. او خود به دلیل رسیدن در یک فضای صلح و همزیستی پایدار و دوامدار، از کتاب وحی و تنزیل (قرآن) و نهاد و نهان آدمی، به ابعاد مختلف معرفت‌شناسی، همچون: هستی‌شناسی، جهان‌شناسی، خداشناسی و از همه مهم‌تر خودشناسی آشنایی و آگاهی کامل دارد. مقاله‌ای حاضر با نوع بنیادی و بر اساس شیوه‌ای تحلیلی –توصیفی و به روش کتابخانه‌ای به توصیف و تبیین چالش‌های انسانی از منظر انسان‌شناسی عرفانی و پاسخ‌های مولانا می‌پردازد. از نتایج تحقیق دانسته می‌شود که مهم‌ترین پاسُخ مولانا برای جهان امروز نسبت بروز و ظهور عوامل چون: خودناشناسی، نداشتن معرفت به من شخصی و واقعی، شیفتگی و احساسات‌گرایی، شکاکیت و وهم‌زدایی، بیگانگی و تنهایی، بی-معنایی، مصرف‌زدگی، تبعیت از اندیشه‌ها و افکار نادرست است که در مقاله‌ی حاضر به بررسی و نکته‌سنجی پرداخته شده است.

**کلیدواژه‌ها:** انسان‌شناسی، چالش‌ها، انسان، عرفان، پاسخ، مولانا.

**مقدمه**

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

اگر از حقیقت نگذریم باید گفت که انسان همواره در درازنای تاریخ، از افراط و تفریط‌ها دچار ضرر و زیان‌هایی قابل توجه شده است. روزگاری از نفی عقل و استدلال‌های عقلانی و در این دوران از مطلق انگاری عقلانیت. در نتیجه برای عبور از این چالش‌ها و نایل شدن به تعادل چه باید کرد؟ برای پاسخ به این پرسش، باید گفت که تنها می‌توان با مساعدت‌ها و همکاری‌های عمیق علمی و عملی، به راه اعتدال و تعادل بازگشت و به دست-آوردهایی مناسب نایل گردید. بی‌گمان، اندیشه‌های والا و گران‌سنگ «مولانا جلال الدین محمد بلخی» که در عرصه عقلانیت ظهور و بروز گسترده دارد، می‌تواند انسان معاصر و جهان امروز را راهنما باشد و آن‌ها را به سرمنزل مقصود رهنمون سازد.

در روزگار امروزی، تمام ویژگی‌های ناملاییم (خشونت‌ها، تعصب‌ها، برتری‌جویی‌ها، تقلیدهای ناروا و بیجا، قوم‌گرایی‌ها، نژادپرستی‌ها، بی‌علاقه‌گی‌ها و بی‌مهری‌ها) و صدها مسایل دیگر که انسان را از اصل هدف و جاده-ی انسانیت دور می‌سازد گریبان‌گیر شده است. باید گفت که مولانا یکی از اکابر عرفای امت مرحومه است و شک و تردید وجود ندارد و آنچه برخی از قاصران در باره‌ی او گفته و نوشته اند به کلی خارج از اعتبار است و مولانا نیز مانند بسیاری از ارباب عرفان در علم توحید و ولایت از تهمت و افترای ناشی از غرض و تنگ‌نظری و کوته‌بینی یا قصور ذاتی و بی‌ذوقان مصؤون نمانده است.

مولوی مردی پخته و عارف جامع و در عین شوریدگی دارای متانت و از لحاظ جامعیت و تبحر در علوم ادبی، عربی و فارسی و احاطه به آثار و نوشته‌های شعرا و تسلط به حدیث و قرآن و علم کلام و تحصیل عرفان و تصوف به نحو عمیق، و افزون بر همه فضایل دارای هوش و استعداد حیرت آور است. همه اهل تحقیق و ادب و اندیشه و عرفان اتفاق دارند که مولانا عارفی صد درصد مسلمان و پابند عقایید اسلامی بوده است. شخص مأنوس با افکار مولانا، هرگز به طرف الحاد نمی‌رود.

**بیان مسئله**

در نگاهی که مولانا به جهان و سرشت آن دارد، ظرفیت رهایی‌بخشی عظیمی نهفته است. فقط مشکل اینجاست که صِرف نظاره‌ی این جهان، رهایی‌بخش نیست و آنچه رهایی‌بخش است شرکت در ذوق‌ها و وجدها وحرکت-های اوست. باید گفت که در تجربه‌ی مولانا، جهان آکنده از گشایش و پُر از روزنه‌هاست. بنیاد جهان بر خیر

و خوبی استوار است و انسان با مرگ جسمانی، به پایان نمی‌رسد. در تجربه‌ی او، چیزی از جنس عشق در رگ و پیِ جهان جاری‌ست و از این‌رو هستی، بیگانه از ما و بی‌اعتنا به ما نیست.

به نظر می‌رسد پایان و غایت نزد مولانا توقف‌گاه نیست؛ نزد او هر انجامی، نقطه‌ی آغازی‌ست. اگر غایت به این معنا باشد که سر آخر جایی از حرکت باز می‌ایستیم، بعید است که نزد مولانا ارزشی داشته باشد. اگر «غایت» به معنی دلسپردن به سیری بالنده و شکوفاگر باشد، جان ما در هر مرحله از آن به افق‌های پهناورتری گام می‌نهد. مولانا ما را فرا می‌خواند مثل آب‌خواهنده‌ی که سیراب‌ناپذیر است، و در هیچ مقصدی متوقف نشویم. زیرا حقیقت وجود ما سرشت و اوصاف خدایی دارد، بی‌نهایت‌طلب و سیری‌ناپذیر است.

آنچه به نظر می‌رسد مولانا غایت انسان را پیدا کردن خویشتن حقیقی خود در عشق به خدا می‌داند. خالی شدن از خودهای بیگانه و یافتن خودِ واقعی از رهگذر دل سپردن به عشق است که یک فرآیندِ خالی و پُر شدن است؛ خالی از منِ فانی و پُر از منِ حقیقی‌ست. از این لحاظ، بیدار شدن از درک این نا بسندگی از مهم‌ترین اسباب و روی آوردن به پاسخ و جهان مولانا است.

## اهداف تحقیق

### الف) هدف اصلی

درک چالش‌ها و بحران‌های انسان از منظر انسان‌شناسی عرفانی و راه‌های بیرون‌رفت آن از دیدگاه مولانا.

### ب) هدف‌های فرعی

۱. پرداختن به دریافت بی‌اعتنایی‌ها و تمرکز بر احساسات زلال انسانی.

۲. بیدار شدن از درک نا بسندگی و روی آوردن به پاسخ‌ها و جهان مولانا.

۳. بررسی چالش‌ها و نگرانی‌های انسان‌ها و سنجش راه حل آن در اندیشه‌ی مولانا.

## اهمیت و ضرورت تحقیق

بی‌تردید انسان‌های معاصر با عقل مدرن خویش به اقتضای دست‌آوردهای گسترده‌ی خود، دارای نوعی احساس استغنا شده است. از این لحاظ لازم دانستم که جواب همچنین مشکلات و سردرگمی‌ها را از طریق اندیشه‌های والا و گران‌سنگ «مولانا جلال الدین محمد بلخی عارف بزرگ» که در عرصه‌ی عقلانیت ظهور و بروز گسترده

دارد، پیدا کرد. چون مولانا با اندیشه‌های والای خود می‌تواند انسان معاصر و جهان امروز را مددکار باشد و آن‌ها را به سرمنزل مقصود رهنمون سازد.

## روش تحقیق

روش تحقیق در مقاله‌ی حاضر، از نوع بنیادی‌ست که بر اساس شیوه‌ی تحلیلی- توصیفی و به روش کتابخانه‌ای انجام شده است. در این تحقیق بیش‌تر سعی بر آن است که به توصیف و تبیین چالش‌های انسانی از منظر انسان‌شناسی عرفانی و پاسخ مولانا برای رهنمونی همچنین مشکلات و سردرگمی‌ها به جهان امروز پرداخته شود.

## پیشینه‌ی تحقیق

هرچند محققان و ادبای معاصر نیز از پرداختن به این حوزه غفلت نکرده اند و تحقیق‌ها و مقالات در باره‌ی معرفت‌شناسی و حقیقت‌شناسی و خودشناسی که در مثنوی، موجود است پرداخته اند که به معرفی برخی آنان می‌پردازیم:

«قبادی»، در مقاله‌ی با عنوان «پیام‌های جهانی مولوی برای انسان امروز» (۱۳۸۷)؛ نویسنده در این مقاله بیشتر به غنا و گسترش فرهنگ اسلامی و آرمان‌های انسانی در مثنوی پرداخته است.

«حسین قریب» در مقاله‌ی با عنوان «پیام مولانا برای جهان امروز و انسان معاصر» بیشتر به کیفیت عقلانیت و نوع خردورزی در مثنوی پرداخته است.

«زهرا خاکباز، محمد رضا نجاریان» در مقاله‌ی با عنوان «شخصیت‌پردازی دنیا پرستان در مثنوی» (۱۳۹۵)؛ نویسندگان توجه شان در این مقاله بیشتر به معرفی شخصیت‌های دنیا دوست و دنیا پرست بوده که تا از جایگاه منفی آنان یاد آوری شود.

اما باید گفت که زاویه و نگاه مقاله‌های که به معرفی گرفته شد، با مقاله‌ی تحقیق شده و پیش رو متفاوت است.

## بحث اصلی روی مقاله

امروز بیش از هر زمانی بشر به ادبیات نیازمند است. در روزگار خشم و خشونت و رنگ باختن عاطفه، روزگاری که سرخط اخبار جهان کشتار و خون و جنون و بی‌رحمی‌ست و در این زمان جای خالی ادبیات بیش از هر زمانی خود را به چشم می کشد. مگر نه اینکه رسالت ادبیات نشان دادن حقیقت جاری زندگی انسانهاست؛ بلکه رسالتی برای اصلاح و بهبود زندگی بشر تا رسیدن به تعالی. بشر امروز بیش از هر زمان دیگری نیاز به یاری و

راهنمایی را دارد. انسان مدرن بیش از هر زمان دیگری به جان هم افتاده اند و حریصانه بر روی یکدیگر چنگ می‌اندازند. جهان مادی گرای امروز دچار توحشی دنیوی‌ست. در این لحظه‌ی حساس، در پهلوی راهکارها و رهنمونی‌های دیگر، یگانه چیزی که می‌تواند بهتر و مؤثرتر به یکی شدن انسانها کمک و راهنمایی کند ادبیات است.

بلی جلال الدین محمد بلخی معروف به مولوی اندیشمند و عارف و شاعر بزرگ قرن هفتم هجری را باید از جمع بزرگترین معلمان بشریت خواند چرا که پس از نُهصد سال هنوز هم آموزه هایش می تواند راهنمای انسان سرگردان و نجات‌بخش انسان تنهای معاصر باشد؛ زیرا مولوی با روح بشر آشناست. او با بسیاری از گروه‌ها و قشرهای مردم ارتباط پیوسته و نزدیک داشته است و چون بسا با او درد دل می کرده اند، از غم‌ها و کینه‌ها و حسدهایشان می گفته اند. مولانا در مکتب انسان‌ساز اسلام، مکتبی که به گفته‌ی قرآن مجید، دین رفق و مداراست و هیچگونه اکراه و اجباری در آن راه ندارد، دینی که به فرموده‌ی قرآن کریم، محبت و عشق و صلح خواهی، موعظه و باهم‌زیستی، و همدیگرپذیری در تمام ابعاد آن تبلیغ شده است و نفس کشیده است. به گفته‌ی «ابراهیمی دینانی» در آثار این عارف بزرگ وقتی مواجه می‌شویم می‌بینیم که چگونه با مسایل چون: بی‌اعتنایی به دایره‌ی تنگِ قوم‌اندیشی و تمرکز بر احساسات زلال انسانی که خود حاصل عبور از عواطف شخصی و اجتماعی اوست، بر فردیت‌گرایی افراطی و عصبیت‌های نژادی و مذهبی، خط بطلان کشیده است (ابراهیمی دینانی، ۱۳۸۳هـ.ش، ص. ۹۹).

نویسنده‌ی این مقاله با در نظرداشت به مجموعه‌ی از بحران‌ها و چالش‌هایی که انسان‌های امروز بیشتر با آن مواجه است به مهم‌ترین آن‌ها از منظر انسان‌شناسی عرفانی و پاسخ مولانا برای بیرون‌رفت آنها اشاره می‌کند:

**نبود خودآگاهی و نشناختن منِ واقعی**

اهل حقیقت بُعد جسمانی وجود انسان را بر گرفته از عالم مُلک یا خلق، و جنبه‌ی روحانی هستی او را متعلق به عالم مَلَکوت یا روح می‌دانند (نسفی، ۱۳۶۳هـ.ش، ص. ۳۴). یعنی به این معنا که انسان از لحاظ جسمانی و بُعد طبیعی و مادی، موجودی بسیار حقیر و ناتوان است؛ اما از جنبه‌ی باطنی و روحانی موجودی‌ست توانمند و قابل؛ زیرا روح انسان جوهری‌ست شریف و فاخر که «به کمند عقل‌ها، وصول بدان مُیَسّرنگردد. گوهری‌ست از قعر بحر عظمت برخاسته، به میزان قیاس تقدیر اوصاف او ممکن نبود... شریف‌تر موجودی و نزدیک‌تر مشهودی به حضرت عزت است که حق سبحانه و تعالی او را به خود اضافت کرده است به لفظ «من روحی» و

«من روحنا» مشیت قدیمه او را به خلافت خود در عالم خلق نصب کرده و مفاتیح خزاین اسرار وجود بدو تفویض نموده و او را به تصرف در آن مأذون گردانیده است» (کاشانی، ۱۳۲۵هـ.ش، ص. ۹۴).

اگر از دیدگاه تمام عرفای اسلام و انسان‌های به حقیقت پیوسته، در باره‌ی منِ انسانی و حرکت این خود، به منظور رجعت به اصل خویشتن نگاهی فراگیر بیندازیم؛ در می‌یابیم که آن‌ها به خودها و من‌های مختلفی قایل بود؛ اما انسان‌های معمولی، بر حسب معمول با منِ غیر واقعی خویش زیسته اند و زندگی می‌کنند. عارفانی همچون مولانا دریافته اند که انسان استعداد تعالی دارد و مقام خلیفه الهی و تبدیل شدن به جام جهان نمای خالق هستی، تنها زیبنده و شایسته‌ی اوست؛ اما چون اسیر تعلقات دنیوی گشته، در عالم محسوسات و توهُمات خویش محصور مانده است:

*صدهزاران فضل داند از علوم　　　جان خود را می‌نداند آن ظلوم*

*داند او خاصیت هر جوهـری　　　دربیان جوهر خود، چون خری*

*(مثنوی،۱۳۷۸هـ.ش، ج۲، بیت ۴۹ – ۲۶۴۸)*

عطار نیز در بیتی می‌فرماید:

*جهد آن کن تا در این راه دراز　　　تو به یک ذره نمانی بسته باز*

*(دیوان عطار،۱۳۷۴هـ.ش، ص.٦۴)*

می‌بینیم که عطار با بسیار زیرکی و هوشمندی خاص، آنچه را که برای حل مشکلات بشر امروز لازم است در جست‌وجوی او بوده و بیان می‌دارد که هر انسان باید مرکز توجه و اندیشه‌اش «شناخت خود، جهان و خداوند باشد» و به فکر وصل کردن و ارتباط دادن این سه اصل مهم باشد (ریتر، ۱۳۷۷هـ.ش، ج۱، ص. ۵).

سخن قابل تأمل این‌جاست که به چه روشی «خود» را بتوان شناخت و چرا شناخت؟ بدون شک، «خود» بسیار مهم بوده و به عنوان یک امر مهمی شناختنی، توجه نشده و در مواردی ناشناخته مانده و می‌ماند. این مسئله‌ای است که همه عارفان مسلمان از جمله خود مولانا، بیشترین توجه را به آن کرده است. بهتر است که به چند نکات آن اشاره شود:

۱ . خودشناسی ضرورتی‌ست برای هر فرد از جامعه در تمام فرهنگ‌ها و مذاهب.

۲ . خودشناسی مقدمه‌ی‌ست برای خداشناسی.

۳ . مهم‌ترین گوهری که باید در خودشناسی به آن توجه نمود، این است که انسان تنها نبوده و علی‌رغم غربت و تبعیدشدن؛ باید به اصل خود بازگردد.

۴ . آگاه شدن از خود، موجب اصلاح و رسیدن به کمال است.

۵ . کیستی، چیستی، چرایی و کجایی، مهم‌ترین مباحثی‌ست که در بحث خودشناسی باید بدان پرداخت.

از دیدگاه مولانا خودآگاهی برای درک زندگی بهتر و تعلیم و تربیه، آموزه‌ی بهتر بوده و در هیچ مبحثی از تعالیم او فراموش نشده است. او بسیاری از بیماری‌های روحی و روانی انسان را ناشی از ترک آن می‌داند:

صدهزاران فضل داند از علوم　　　جان خود را می‌نداند آن ظلـوم

(مثنوی، ۱۳۷۸هـ.ش، ج ۲، بیت ۴۹ – ۲۶۴۸)

توصیه‌ی مولانا برای انسان‌های که مدعی فناوری و تکنالوژی امروز را دارند این است که ضمن گره زدن‌های پیاپی در مباحث مختلف تکنولوژی، نخست لازم است گره هستی خویش و شناخت خودآگاهی را باز نماید؛ زیرا بدون توجه به خودشناسی، قدم گذاشتن به حوزه‌ی شناخت دیگر پدیده‌ها و عناصر، کاری عبث و بی-حاصل است:

در گــشاد عقــده‌ها گشتی تو پیر　　　عقـده چندی دگـر بگشوده گیر
عقده کان بر گلوی ماست، سخت　　　که بدانی که خسی یا نیک‌بخت
(همان: ج۵، بیت ٦٢ – ٥٦١)

تأکید مولانا بیشتر بر این است که خودشناسی را بر شناخت همه علوم دنیوی باید تقدم داشت؛ زیرا علم بسیاری از علم‌ها مایه‌ی نزاع و امری‌ست مادی و برای درک درست از زندگی. چون تمام هستی و معبود حقیقی در خود او موجود است. در جای دیگر در مثنوی به وضوح در رابطه به خودشناسی و لذت بردن از آن چنین اشاره دارد:

راه لذت از درون دان، نه برون　　　ابلهی دان جستن قصر و حصون
(مثنوی، ۱۳۷۸هـ.ش، ج٦، بیت ۲۰ – ۳۴۱۹)

توکل بر خداوند و توصیه بر توانایی‌های معنوی درون، مکرر در آثار مولانا گوشزد شده است. از نظر او پرداختن به خود و خودشناسی برای انسان احساس و درد معنوی ایجاد می‌نماید؛ دردی که درمان نیز به سوی آن در حرکت است. هدف مولانا بیان کردن این نکته است که انسان به ویژه انسانهای معاصر باید ابتدا از کشف توانمندی‌های ضمیر خود شروع کند تا به آرمان‌های بلندی نایل آید و به انتظارهای خود از بیرون پایان دهد.

**امنیت قایل شدن به دیگران**

از نگاه عرفان شناسی اگر درست دقت شود، همه عرفای جهان اسلام در این مورد به یک نظر هستند؛ چون اهمیت «امنیت» در زندگی جمعی تا حدی‌ست که برخی متفکران اجتماعی در تعریف‌های خویش واژه «امنیت» را مترادف با مفهوم «سلامتی» به کار گرفته اند و وجودی آن را ضامن بقا و پایداری جامعه‌ی سالم پنداشته اند. بدون شک، این مورد از نظر دین مبین اسلام پنهان نمانده و به صورت درست پرداخته شده است. دین مبین اسلام می‌خواهد در جامعه امنیت کامل حکم‌فرما باشد، و مردم به یکدیگر هجوم نبرند و از نظر زبان، اندیشه و فکر در امان باشند. مولانا نیز به حیث یک عارف مسلمان واقعی، امنیت بخشیدن به دیگران را شرط اساسی انسان آگاه می‌داند و از دید او این کار وقتی میسر می‌شود که خود گوینده به مرز آرامش و سکون و صلح جاویدان رسیده باشد؛ زیرا ریشه‌ی ایمان در احساس امنیت و زیستن در فضای امن حاصل از ایمان و یقین است. بنا براین، مولانا با توجه به تجربه‌های درونی و معنوی خویش به صراحت می‌گوید:

من که صلحم دائماً با این پدر — این جهان چون جنتم اندر نظر
هر کسی را عقل کُل کفران فزود — این جهان در پیش چشمش سگ نمود
(مثنوی، دفتر ۴ / بیت ۳۲۶۳ – ۳۲۶۴)

مولانا در باره‌ی این نکته، می‌گوید کسی که در حقیقت ، مشکلات او در درون اوست و نه درجهان بیرونی و در واقع، خود دشمن خویش است، به هرجا که بگریزد و پناه آورد، باز هم احساس ایمنی نخواهد کرد:

نه به هند است ایمن و نه در خُتَنَ — آن‌که خصم اوست، سایه‌ی خویشتن
گرگریزی بر امید راحتی — ز آن طرف هم پیشت آید آفتی
هیچ کُنجی، بی‌دد و بی‌دام نیست — جز به خِلوت‌گاه حق، آرام نیست
(مثنوی، دفتر۵/ بیت ۶۷۱- ۶۷۳)

بنا بر این، از دیدگاه مولانا سازگاری درست با محیط زندگی یکی از نشانه‌های ایمان است و موجب گوارا شدن زندگی به کام انسان می‌شود و در این صورت لازم است برای سازگاری با محیط، باید برای دیگران ارزش قایل شد و از خودبینی و خودمحوری به دور بود. توصیه‌ی مولانا به ابنای بشر و از جمله نسل معاصر این است که برای پرهیز از خودخواهی و خودپسندی‌ها، محبت و عشق را در خود نهادینه کنیم و به مدد این نوش‌داروی جان‌ها، ریشه‌ی همه روان‌پریشی‌های جامعه را بِخُشکانیم تا همواره نغمه‌ی روح بخش عشق، روح و روان ما را طراوت معنوی بخشد:

شادباش ای عشق خوش‌سودای من    ای طبیب جمله علت‌های من
ای دوای نخـــوت و نــاموس ما    ای تو افلاطون و جالینوس ما
(مثنوی، ۱۳۷۸هـ.ش، ج ۱، بیت ۴- ۲۳)

## تحمل و مدارا با دیگران

توجه و نگرش عرفان اسلامی به ویژه مولانا که در حقیقت نماینده‌ی عرفای اسلام محسوب می‌شود دیدگاهش در بُعد پسندها و ناپسندهای اجتماعی را می‌توان از دو منظر مورد بحث و تحلیل قرار داد:

نخست: مدینه‌ی فاضله یا آرمان شهری که ورای وضع موجود است، یعنی جامعه‌ی اثیری که از دنیای مثالی و با تکیه بر آیه‌ی کریمه «ان من شیءٍ إلا عندنا خزائنه و ما ننزله إلا بقدر معلوم» (حجر / آیت ۲۱) بازآفرینی شده است و این جامعه آراسته به تمام فضیلت‌ها و منزه از همه‌ی رذیلت‌هاست که انسان‌های آرمانی چون شیر خدا و رستم دستان در آن، مورد در خواست است (اشرف‌زاده و ناروئی،۱۳۹۵هـ.ش، ص. ۷).

دوم: جامعه‌ی واقع‌گرا، یعنی همین جامعه‌ی موجود که مولانا با حلقه‌ی اتصال عشق و حکمت؛ یعنی عشقی از دل جوشند و مرده را زنده کننده، و حکمتی از سر خیزنده و ریشه در اندیشه دارنده که هر کس باید به قدر وسعت وجودی خود از آن بهره ببرد تا زمینه‌ی یک هم‌زیستی معنوی و برادرانه فراهم گردد. تحمل و مدارا با دیگران از علل زیربنایی فرهنگ روابط انسانی در ثبات و آرامش جامعه و از ضرورت‌های روش‌شناسی عرفان اجتماعی مولانا می‌باشد که شالوده‌ی آن براساس نص صریح قرآن مجید در خطاب به پیامبر اسلام (صلی الله علیه و آله و سلم) بنا شده است، آن‌جا که حق سبحانه و تعالی می‌فرماید: «لو کنتَ فظاً غلیظ القلب لانفضوا مِن حولِک» یعنی «ای پیامبر اگر سخت‌گیر و نامهربان می‌بودی، مردم از دَور تو پراکنده می‌شدند.» (آل عمران/ آیت ۱۵۹)

مولانا درست گفتن را جزء اصول می‌داند و برای بیان و نحوه‌ی عملی ساختن این اصل، نرم‌گویی و مدارا در زبان و گفتار را توصیه می‌کند. او نرمش و تسامح را برپایه‌ی گفتار درست و صحیح – روش قابل تحقیق و اجرایی می‌داند و برای نهادینه کردن این ویژه‌گی مفید در خطاب به افراد جامعه‌ی امروز، تجربه‌ی رسالت حضرت موسی (علیه السلام) را شاهد مثال آورده و اساس دستور کار حضرت موسی (علیه السلام) را اعلام وحدانیت حق و گردن‌نهادن فرعون به حاکمیت خداوند می‌داند و لی شیوه‌ی ابلاغ و روش کار این پیام را از طریق گفت وگوی با صبر، سعه‌ی صدر و بردباری، روش‌شناختی اجرایی احکام می‌داند:

موسیا رو پیش فرعون زمن — نرم باید گفت قولاً لینا
آب اگر در روغن جوشان کنی — دیگدان و دیگ را ویران کنی
نرم گو؛ اما مگو غیر صواب — وسوسه مفروش در عین الخطاب

(مثنوی، ۱۳۷۸هـ.ش، ج۴، ۱۷ – ۳۸۱۵)

مولانا با زیرکی و هشیاری تمام، برای انسان‌های دیروز و امروز می‌فهماند که مدارا از مصادیق خوشخویی و ادب محسوب می‌شود و تحمل در مقابل بی‌ادبان، از جلوه‌های خوش‌خلقی انسان است، همان‌گونه که شکایت از ناسازگاری بداخلاقان، خود مصداق بدگویی‌ست و بدگویی از کسی، در حقیقت یکی از انواع بدخلقی‌ست که مولانا این فن و هنر اخلاقی را به انسان امروز و دایم شاکی از دیگر هم‌نوعان با بیانی شیوا، چنین آموزش می‌دهد:

ای مسلمان، خود ادب اندر طلب — نیست الا حمل از هر بی‌ادب
هرکه را بینی شکایت می‌کند — که فلان کس راست طبع و خوی بد
این شکایت‌گر، بدان که بد خو، است — که مران بدخو را او بدگو، است

(همان، ج۴، ۳ - ۷۷۱)

مولانا مدارا با نادانان و جاهلان را نشانه‌ی خوش‌خلقی و اصلاح جان و آرامش روان می‌داند و همین عملکرد انسانی و سلم و سازش وی با همگان بوده که او را از تعدی و عقوبت‌های افراد بی‌رحم، عالمان قشری و عوام نادان، باز می‌دارد:

چون بسازی با خسی این خسان — گردی اندر نور سنت‌ها رسان
کانبیا رنجِ خسان، بس دیده اند — از چنین ماران، بسی پیچانده اند

(مثنوی، دفتر۶ / بیت ۲۱۴۹-۲۱۵۰)

### شک و بی‌باوری

یکی از ناملایمی‌ها و رنج‌های بارز فرهنگی و اجتماعی عصر جدید و انسان‌های مدرن، پدیده‌ی ناباوری از یک سو و تنهایی انسان از سوی دیگر است. به این معنا که انسان‌های امروز اکثر دچار تنهایی و بی‌باوری و شک شده اند که خود حاصل پُشت کردن و توجه نکردن به مذهب و ... است. اما خوش‌بختانه باید گفت که در زندگی عارفی چون مولانا به عنوان یک انسان مربوط به عصر گذشته، حقیقیت بی‌باوری و شک جای نداشته و در نزد او شک و تردید به معنای دقیق کلمه مطرح نبوده و آنچه مورد عنایت اوست، بیشتر مربوط به مشتقات آن است (قبادی،۱۳۸۷هـ.ش، ص. ۱۲).

مولانا راهکارهایی را برای بیرون رفت از این بحران برای انسان‌های مطرح می‌کند:

- شک و تردید، عُقبه‌ی راه حق و عامل حبس و زندانی شدن جان انسان و زمینه‌ساز یأس و تنهایی‌ست. و تنها راه رهایی از آن مصاحبت با مردان متقی و پرهیزگار الهی می‌باشد (مثنوی، دفتر۳ / بیت ۴۸۸ – ۴۹۳).

- از آنجایی که صورت عینی شک در قالب سؤال و پرسیدن است، مولانا تنها راه رسیدن به یقین (کشف) را پرهیز از سؤال و پرسش می‌داند و از آنجا که انسان را موجود مکلف معرفی می‌کند، نه صاحب حق، پرسش‌گری او را موجب حجاب می‌داند، لذا اعتراض را شأن انسان الهی نمی‌داند (مثنوی، دفتر۳/ بیت ۱۸۴۷ – ۱۸۷۶).

بشنو اکنون قصه‌ی آن رهروان        که ندارند اعتراضی در جهان

(مثنوی، دفتر۳/ بیت ۱۸۷۸).

- از سوی دیگر، تنها زداینده شک و تردید و خیالات منبعث از آن، ایمان آوردن و یقین به امور انفسی‌ست (مثنوی، دفتر۳/ بیت۳۹-۴۵).

### فرا فِکنی

فرا فکنی در معنای تحت اللفظی‌اش بر پرتاب کردن رو به بیرون یا رو به جلو دلالت دارد و به فرایند یا اسلوبی اشاره دارد که افراد به مدد آن، ایده‌ها، تصویرها و آرزوهای خود را بر محیط بیرونی‌شان تحمیل می‌کنند (ربیع و همکاران، ۱۴۰۲هـ.ش، ص. ۳). نکته‌ی حائز اهمیت در این است که همه‌ی انسان‌ها فرافکنی می‌کنند و به طور ناخودآگاه تمایل‌ها و خواسته‌ها و افکار و احساسات خود را به دیگران نسبت می‌دهند و آن را به گردن دیگری می‌اندازند. چون همه‌ی ما آرزوها، تمایل‌ها و خاصیت‌های فردی و نقاط ضعف مربوط به خود داریم

که گاهی وجود آن‌ها برای مان ناراحت‌کننده است و قبول آن‌ها خالی از مشکلات نیست و به عبارت دیگر مایل به داشتن آن‌ها نیستیم و می‌کوشیم تمایل‌های ناپسند خود را به دیگران نسبت داده و خود را عاری از عیب و نقص بدانیم و گناهی را که از ما سر زده، به طور ناخود آگاه به گردن دیگری بیندازیم (همان، ص. ۴). در این مورد در قرآن کریم (سوره‌ی ابراهیم / آیت ۲۲) می‌خوانیم، در رابطه به انسان‌های که در روز رستاخیز گرفتار عذاب الهی می‌شوند، شیطان را عامل بدبختی و گمراهی خود معرفی می‌کنند؛ اما شیطان در بیانِ صریح، از «فرافکنی» آنان پرده بر می‌دارد و خود آنان را مقصر اصلی معرفی می‌کند: (ترجمه: همانا خداوند به شما وعده‌ی «حق» داد و من هم به شما وعده‌ی [باطل] دادم و تخلف کردم. و من بر شما تسلطی نداشتم، جز اینکه [تنها] دعوتتان کردم و شما پذیرفتید. بنا بر این، مرا سرزنش نکنید؛ بلکه خود را سرزنش کنید.) مولانا نیز با توجه به این حقیقت که آدمی باید ریشه‌ی اصلی گرفتاری‌ها و بدبختی‌ها و شکست‌های خود را در وجود خویش جست‌وجوکند، نه در عمل‌کرد دیگران:

چون بکاری جَو، نروید غیر جَو — قرض تو کردی، ز که خواهی گِرو
جُرم خود را برکسی دیگر مَنِه — هوش و گوش خود بدین پاداش ده
جُرم بر خود نِه، که تو خود کاشتی — با جزا و عدل حق کن آشتی
رنج را باشد سبب، بد کردنی — بد ز فعل خود شناس، از بخت، نی
متهم کن نفسِ خود را ای فتا — متهم کم کن جزای عدل را

(مثنوی، دفتر۶ / بیت ۴۲۵ – ۴۳۰)

## دل‌بستگی و شیفته بودن به قید و بندهای مادی

یکی از چالش‌ها و مشکلات انسان در هر زمان و مکان، دلبستگی و رضایت به لذت‌های آنی و لاجرم مقید شدن به اصولی‌ست که از آن می‌توان به ماده گِروی اخلاقی نیز تعبیر کرد. احساسات گرایی افراطی بی‌اصالت در عصر کنونی و جذابیت شبه فرهنگ‌های عوام‌فریبانه باعث شده که انسان به عنوان تنها موجود فرهنگی، گرفتار بحران‌هایی شود که به قول یکی از دانشمندان، آهسته آهسته به سمت فروپاشی و گسست از خود سوق داده می‌شود.

مولانا نیز به منزله‌ی یک «حکیم و عارف» به این آسیب‌ها و آفات وقوف دارد و سعی می‌کند هم از اصل مسئله سخن گوید و هم راهکارهای لازم را پیشنهاد کند. بر این اساس، مولانا تنها راه و نشانه‌ی سعادت بشری را ترک تعلقات مادی و علت العلل غفلت انسان از حقیقت را توجه به اسباب مادی می‌داند. (همان، دفتر۳ / بیت ۳۱۵۴)

یکی از سفارش‌های راهگشای مولوی برای گریز از احساس و تعلق به ماده‌گرایی، دل نبستن به تعلقات دنیایی و ماده‌گرایی‌ست. از این لحاظ او به کمک تمثیل‌های گوناگون از جمله آمدن غم، سبب شادی‌ست اشاره می‌کند. و در ضمن، به این مسئله می‌پردازد که انسان فطرتاً و بالقوه تمایل به فعالیت‌هایی دارد که به کار امور دنیوی او بیاید و باعث افزونی و دارایی‌هایی او و در نهایت، فربه شدن تن او شود:

پیـــشه‌هایی که مـــر او را در مـزید　　کاندرین سوراخ کار آید، گزید
زان که دل برکردن از بیرون شدن　　بســـته شـــد راه رمـیدن از بدن
(مثنوی، دفتر۳ / بیت ۳۹۸۲)

به نظر مولانا دلیل گرایش انسان به دیدار (دیدنی‌ها) بیش از دانش (فراتر از حواس خمسه) توجه دارد و چون آنچه مربوط به محسوسات (دنیا) می‌شود، نقد و آنچه مربوط به دانستنی‌ها (آینده) می‌شود قابل دیدن نیست؛ اما مولانا به نوع نخست توجه دارد (مثنوی، دفتر ۳ / بیت ۳۸۵۸ – ۳۸۵۹).

می‌گوید:

زانچه گشتی شاد، بس کس شاد شد　　آخر از وی جست و همچون باد شد
از تـــو هـــم بـجهـد تو دل بر وی منه　　پیش از آن کو از تو بـجهد، تو بجه
(مثنوی، دفتر۳ / بیت۳۶۹۸ – ۳۶۹۹)

**احساس درماندگی و بیگانگی از خود**

در عرفان اسلامی انسان باید مظاهری از اوج بلوغ فکری و اخلاقی، از جمله: علم، اعتقاد، سخا، شجاعت، عفت، علو همت، شفقت، حلم، عفو، حسن خلق، ایثار، کرم، توکل، تسلیم، رضای به قضا و قدر، وقار، سکونت، ثبات، هیبت را در خود جمع داشته باشد (رازی، ۱۳۷۱هـ.ش، ص. ۶۷ – ۷۲). اما متأسفانه انسان‌های امروز با ویژه‌گی‌های مطرح شده با خودخواهی‌ها و منیت روز به روز دور شده و احساس بیگانگی می‌کنند. اگر چه مولانا از یک تنهایی دیگر هم در جای صحبت دارد که این تنهایی با در ماندگی و بیگانگی از خود، جدا و فرق دارد. چون مولانا وقتی در جای صحبت و توصیف از تنهایی می‌کند که آن تنهایی را نیک می‌پسندد و تمام عالم برون را آفات و مانع تنهایی و حیات معنوی می‌داند و انسان را دعوت به تنها شدن و تنها بودن می‌کند (مثنوی، دفتر۳/بیت ۲۳۱- ۲۳۹). اما در مقابل از تنهایی و تنها شدنی سخن می‌گوید که حاصل از خودبیگانگی از خود است و به راه‌های برون‌رفت آن پاسخ می‌دهد:

- مصاحبت با کسانی که به تنهایی پسندیده و نوع نخست دست یافته اند (مثنوی، دفتر ۲ / بیت ۲۲-۲۳).

- شک نیست که تنهایی، عامل گمراهی و کژفهمی حقیقت است، و راه بیرون رفت از آن را دقت در انتخاب مشاور و همراه و دوراندیشی می‌داند (مثنوی، دفتر۳ / بیت ۲۱۶ – ۲۳۰).

- تنهایی، عامل محرومیت و شکستگی انسان می‌شود و راه برون رفت از آن و غرق نشدن در تنهایی مفرط – با وجود تنهایی مثبت و پسندیده – ارتباط با عالَم دیگر و اقبال به آن است که آدمی می‌تواند با تنهایی مثبت و پسندیده، احساس تنهایی منفی را بزداید (مثنوی، دفتر۳/ بیت ۱۹۸).

- تنهایی و بیگانگی از خود، نتیجه‌ی بی‌خودی و بی‌پناهی‌ست که در این صورت، پناه بردن به خویشتن خویش و یافتن پناهگاه راستین است (مثنوی، دفتر۳ / بیت ۳۶۸ – ۳۷۱).

**گُم‌گشتگی و بی‌معنایی**

این موضوع از منظر عرفان اسلامی به خوبی در اندیشه‌ی بزرگان عرفان انعکاس یافته است. مولانا، به درستی و با آگاهی «سرمنشأ همه‌ی بیماری‌ها را در یک اصل خلاصه می‌کند و آن بیگانگی انسان از خود، و بی‌خودی و مستی حاصل از دلبستگی به ماده است. از نظر مولوی چنین انسانی مضطرب است و زندگی سطحی و بی‌معنایی دارد» (شکری، حسنی جلیلیان و نوری، ۱۴۰۲هـ.ش، ص. ۷). از نگاه مولانا آرامش باید از درون بجوشد و شادی باید از وجود خود انسان پدید آید، وگرنه آرامش و شادی بیرونی‌ای که وابسته به عوامل دنیوی باشد، کاذب و فریبنده است. مولانا، نشانه‌ی خودخواهی را سَدِ راه خودشناسی می‌داند و هر انسانی که حقیقت خود را نشناسد، از نظر مولوی، خود را به بهای ناچیز و بی‌مقداری فروخته است:

خویشتن را آدمی ارزان فروخت　　　　بود اطلس، خویش بر دلقی بدوخت

(مثنوی، دفتر ۳ / بیت ۱۰۰۱)

**چالش و بحران مصرف‌گرایی**

این معضل برای انسان به دلیل غلبه و سیطره‌ی برخی از خصایل چون حرص، آز، طمع و ....، نگاه ابزاری به پدیده‌های عالم و مصرف‌گرایی بدون توجه به تلاش برای تولید است. مولانا با توجه به فزون‌خواهی انسان و افزون‌طلبی او و علت آن و تأکید بر اصل حرص که خود معلول غرور و خشم است و این عامل غفلت آدمی، مصرف‌زدگی و فزون‌خواهی در نعمت است، شرط لازم را اعتدال در مصرف سه چیز می‌داند. به عبارت دیگر،

مصرف زیاده از حدّ مال، نان و جان و افراط در بهره‌گیری بی‌حساب آن‌ها باعث سرمستی و بی‌خودی انسان می‌داند؛ مستی که با شهوت عجین شده است:

همچنین هر شهوتی اندر جهان　　خواه مال و خواه جان و خواه نان
هر یکی زین‌ها تو را مستی کند　　چون نیابی آن خُمارت می‌زند...
جز به اندازه ضرورت برمگیر　　تا نگردد غالب و بر تو امیر
(مثنوی، دفتر۳ / بیت ۲۲۵۷- ۲۲۷۸)

**قرار گرفتن طبعیت فرد، تحت اندیشه و افکار عمومی جامعه**

جای شک نیست که امروز بسا مردم تحت اندیشه‌ها و افکار عمومی قرار گرفته و قربانی جمع می‌شوند. با توجه به میزان تبعیت فرد از جامعه و افکار عمومی و در جهت دادن به افکار عمومی، مسئله‌یی‌ست که از آن به عنوان یکی از هفت گناه بشری یاد شده است (هفت گناه انسان متمدن، ص. ۱۲۱). از دید مولانا تمام اعمال و اقوال انسان‌ها جز انسان‌های به حقیقت پیوسته، که جدا از این مسئله اند؛ دیگران تحت تأثیر افکار جمعی و غالب جامعه است و انسان کامل را کسی می‌داند که:

گر همه عالم بگویندش تویی　　برره یزدان و دین مستوی
او نگردد گرم‌تر از گفتنشان　　جان طاق او نگردد جفتشان
ور همه گویند او را گمرهی　　کوه پنداری و تو برگ کهی
او نیفتد در گمان از طعنشان　　او نگردد دردمند از ظعنشان
بلکه گر دریا و کوه آید بگفت　　گویدش با گمرهی گشتی تو جفت
هیچ یک ذره نیفتد در خیال　　یا به طعن طاعنان رنجور حال
(مثنوی، دفتر۳ / بیت ۱۵۱۶ – ۱۵۲۱)

بر این اساس، در دستگاه عرفان به ویژه مولانا، ملاک درستی و محبویت عمل و قول باید از درون شخص هویدا شود و نه رغبت جامعه و گرایش گروه که خود شخص عامل است. از این لحاظ می‌گوید:

تو مرا پُردرد گو ای مُحتشم　　پیش تو پردرد و پیش خود خوشم
وای اگر بر عکس بودی این مطار　　پیش تو گلزار و پیش خویش زار
(مثنوی، دفتر۳ / بیت ۱۰۷۷ – ۱۰۷۸)

مولانا برای واضح ساختن سخن خویش، از اعتماد به نفس بودن پیامبران یاد می‌کند و اعتماد به نفس پیامبران را نیز، نه در اقبال گروه و پُشت‌گرمی آنان؛ بلکه به منبع والاتر و بالاتر می‌داند و بر این اساس حتا در مقابل گروه و مردم (جاهل) می‌ایستند (مثنوی، دفتر۳/بیت ۴۱۴۱ – ۴۱۴۴). مولانا در رابطه به این موضوع به انسان‌ها هشدار می‌دهد که شرط قبول عمل، نه رغبت و تمایل افکار عمومی‌ست؛ بلکه تأیید درون انسان است و حتا اقبال مردم را باعث کوری دل می‌داند (مثنوی، دفتر۳ / بیت ۲۲۴۰).

در بیتی می‌گوید:

لاف و غُرّه ژاژخا را کم شنو      با چنین‌ها در صف هیجا مرو
که گر ایشان با شما همره شوند      غازیان بی‌مغز همچون کَهْ شوند
(مثنوی، دفتر۳ / بیت ۴۰۲۰ – ۴۰۲۱)

**نتیجه‌گیری**

در جهان امروز که انسان از بحران‌ها و معضلات آشکار و پنهان رنج می‌برد و شاید دلیل آن هم فراموش کردن حلقه‌ی ارتباط خود با دنیای آرمانی خویش است و در نتیجه این تفکر و عمل، قدم به قدم از مدار اندیشه، زیبایی‌شناسی و میراث‌های معنوی خود دور شده است. بدون تردید گرایش‌های پوچ‌فکری، خودخواهی، برتربینی، تعصبات نژادی و لسانی، ارزش قایل شدن بیش از حد به سود مادی، وقت‌کُشی، تقلیدهای بی‌جا و ... علت اصلی چالش‌ها و بحران‌ها است. بنا بر آن، یکی از اندیشمندان مسلمان و عارف شاعر که نقش بسیار مهم و برجسته را در راستای پخش و نشر فرهنگ زیبای اسلام و نشر آرمان‌های انسانی و فرهنگ بشری را داشته، مولانا جلال الدین محمد بلخی‌ست. او خود به دلیل رسیدن در یک فضای صلح و همزیستی پایدار و دوامدار، از کتاب وحی و تنزیل (قرآن) و نهاد و نهان آدمی، به ابعاد مختلف معرفت‌شناسی، همچون: هستی‌شناسی، جهان‌شناسی، خداشناسی و از همه مهم‌تر خودشناسی آشنایی و آگاهی کامل دارد. مولانا از راه قرآن‌شناسی، معرفت‌شناسی و خودشناسی به تعالی روح و اهمیت آن می‌اندیشیده و برای رهانیدن انسان از حصارهای تنگ-نظری، جزم‌اندیشی، تعصبات نژادی و لسانی، خودبرتری و مَنِیَت مدد رسانده است.

# Understanding Human Challenges and Crises from the Perspective of Mystical Anthropology and Rumi's Responses

Senior Teaching Assistant Abdul Basir Hakimi, Shaikh Zayed University, Faculty of Languages and Literature, Department of Dari Persian
Email abdulbasirh68@gmail.com

**Abstract**
In today's modern world, due to the dominance of power over the realm of existence and the accumulation of scientific and technological knowledge, humans have become so immersed in selfishness, arrogance, and negligence that their spirituality has completely collapsed within their minds. Undoubtedly, tendencies towards nihilism, selfishness, superiority, racial and linguistic prejudices, excessive value placed on material gain, time-wasting, unwarranted imitation, and similar behaviors are the main causes of human challenges and crises. In this context, one of the prominent Muslim thinkers and mystic poets who has played a significant role in spreading the beautiful culture of Islam and promoting human values and culture is Jalal ad-Din Muhammad Balkhi, known as Rumi. Due to his attainment of a state of peace and sustainable coexistence, Rumi has profound knowledge of various aspects of epistemology, including ontology, cosmology, theology, and most importantly, self-knowledge, derived from the Quran and the innate nature of human beings. Through the study of the Quran, epistemology, and self-awareness, Rumi reflected on the elevation of the soul and its importance, aiming to free humanity from the narrow confines of dogmatism, racial and linguistic prejudice, self-superiority, and egocentrism. Thus, emphasizing spirituality, mysticism, religion, and human well-being, he actively confronted the challenges and concerns that inherently threaten the spirit and spirituality of humanity. present article.

**Keywords:** Mystical Anthropology, Understanding Challenges, Human Crises, Rumi

**فهرست منابع**

قرآن مجید.

ابراهیمی دینانی، غلام حسین. (۱۳۸۳هـ.ش). دفتر عقل و آیت عشق، سه جلدی.

اشراف‌زاده، رضا و ناروئی، مسعود. (۱۳۹۵هـ.ش). «پیام‌های انسان‌ساز عرفان عطار و مولانا برای بشر امروز» فصل‌نامه‌ی تخصصی زبان و ادبیات فارسی دانشگاه آزاد اسلامی مشهد، شماره ۵.

رازی، نجم الدین ابوبکر. (۱۳۷۱هـ.ش). مرصادالعباد، چاپ چهارم. تهران: انتشارات علمی و فرهنگی.

ریتر، هلموت. (۱۳۷۷هـ.ش). دریای جان، ترجمه‌ی عباس زریاب‌خویی و مهر آفاق بایبوردی، چاپ دوم، دوم جدی. تهران: انتشارات الهدی.

شکری، مرتضی، حسنی جلیلیان، محمدرضا و نوری علی. (۱۴۰۲هـ.ش). «مقایسه و تحلیل راه حل‌های مولوی و اکهارت تُله در باره‌ی بحرانِ معنا». زبان و ادب فارسی، دوره‌ی ۷۶، شماره ۲۴۸.

عطار نیشابوری، شیخ فریدالدین. (۱۳۵۴هـ.ش). دیوان، به اهتمام تفی تفضلی. تهران: انتشارات آگاه.

قبادی، حسین‌علی. (۱۳۷۸هـ.ش). «پیام‌های جهانی مولوی برای انسان امروز». نشریه‌ی مطالعات عرفانی، شماره۸.

کاشانی، عزالدین محمود. (۱۳۲۵هـ.ش). مصباح الهدایه و مفتاح الکفایه، مصحح: جلال الدین همایی، چاپ دوم. تهران: انتشارات سنایی.

کنزاد لورتنس، محمد بهزاد و فرامرز بهزاد. (۱۳۵۷هـ.ش). هفت گناه انسان متمدن؛ چ۱، زمان. تهران: انتشارات زمان.

مولوی، جلال الدین محمد. (۱۳۷۸هـ.ش). مثنوی معنوی، تصحیح نیکلسون، به اهتمام نصرالله پورجوادی. تهران: انتشارات امیرکبیر.

نسفی، عزیزالدین. (۱۳۶۳هـ.ش). الانسان الکامل، چاپ دوم. تهران: انتشارات زبان و فرهنگ ایران.

ربیع، فرشته و همکاران. (۱۴۰۲هـ.ش). «بررسی فرافکنی انسان نسبت به خداوند در آثار هنری و عرفانی عطار نیشابوری» فصل‌نامه‌ی علمی مطالعات هنر اسلامی دوره‌ی ۲۰، شماره ۵۰.

# د ګرځندوی صنعت په پرمختګ کې د کلتوري میراثونو ارزښت او ونډه

پوهنمل سیف الله غروال د شیخ زاید پوهنتون د ټولنیزو علومو پوهنځي، عمومي تاریخ څانګې استاد
محمداسماعیل محمدیار د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو پوهنځي، افغانستان پېژندنې ماسټرۍ برنامې محصل
**بریښنالیک:** gharwalsaifullah@gmail.com

**لنډیز**
کلتوري میراثونه د یوې ټولنې د تاریخي هویت او کلتوري ارزښتونو څرګندونه کوي. دغه میراثونه چې په مادي او معنوي ډولونو وېشل کېږي، نه یوازې د تاریخ او کلتور د ساتنې لپاره مهم دي، بلکې د ګرځندوی د صنعت په وده، د سیلانیانو په جلب او د کورنۍ ټولنې د اقتصاد په پیاوړتیا کې مهمه ونډه ترسره کوي. په هغو هېوادونو کې چې بډایه تاریخي او کلتوري تنوع لري، دا میراثونه د ګرځندویانو جلبولو لپاره د یوې بنسټیزې سرچینې په توګه پېژندل کېږي. دا څېړنه د سیستماتیک مروري میتود له لارې ترسره شوې ده، چې معلومات یې د کلتوري میراثونو او ګرځندوی صنعت اړوند علمي سرچینو څخه راټول، ارزول شوي او تحلیل شوي دي. د څېړنې موندنې څرګندوي، چې کلتوري میراثونه د ګرځندوی صنعت د پیاوړتیا لپاره حیاتي ارزښت لري. دغو میراثونو د سیلانیانو د جلبولو، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو، د عوایدو د زیاتوالي او د سیمه‌ییزو ټولنو د کلتوري پوهې د لوړولو په برخو کې اغېزمنه ونډه ترسره کوي او د کلتوري میراثونو په ساتنه او مسؤلانه مدیریت کې، د ګرځندوی صنعت پایداره پلانونو، روښانه تګلارو او پالیسیو شتون او د هغوی تطبیق ته اړتیا ده. همدا ډول د کلتوري میراثونو او ګرځندوی ترمنځ اغېزمنه همغږي کولای شي د ملي هویت د پیاوړتیا، اقتصادي ودې او په ټولنیز ثبات کې رغنده ونډه ترسره کړي.

**کلیدي ټکي**: کلتور، کلتوري میراثونه، کلتوري میراثونو ارزښت، کلتوري ګرځندوی، ګرځندوی صنعت.

## سریز

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

**اما بعد! قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ ثُمَّ انظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ[سُورَةُ الأنعَام : ۱۱].**

ژباړه: دوی ته ووایه: « د ځمکې پرمخ وګرځئ راوګرځئ، وګورئ چې درواغ ګڼونکي له کوم برخلیک سره مخامخ شوي دي.

په عصري نړۍ کې سیاحت د انساني ژوند یوه اړینه برخه ګرځېدلې ده او د دې اړتیا له مخې ډېری هېوادونو ګرځندوی ته ځانګړې پاملرنه کړې ده او غواړي، چې دې صنعت ته لا نوره پراختیا هم ورکړي( تولایي، ۱۳۵۸، ص ۱۵). د ملګرو ملتونو د نړیوال ګرځندوی سازمان (UNWTO) د احصایي او معلوماتو له مخې د نړۍ اوه دیرش سلنه ګرځندوی د کلتوري انګیزې له مخې ترسره کېږي او ورځ تر بلې په دې شمېرنه کې د پام وړ زیاتوالی رامنځ ته کېږي؛ له دې یې د پلان او پالیسۍ جوړونکو پام ځانته را اړولی. اوس مهال ګرځندوی د نړۍ له هغو سترو او چټکو صنعتونو څخه دی، چې د ټولنو په اقتصادي، ټولنیز او کلتوري ژوند یې ژورې اغیزې کړې دي. د ملګرو ملتونو د نړیوال ګرځندوی سازمان (UNWTO) د اټکل له مخې، نن ورځ ګرځندوی د عوایدو له مهمو سرچینو څخه ګڼل کېږي او د ډېرو هېوادونو د ناخالص ملي تولید مهمه برخه جوړوي. دا صنعت نه یوازې د بهرني عاید او کارموندنې په برخه کې بنسټیز رول لري؛ بلکې د ملتونو ترمنځ د تفاهم، د کلتوري تبادلاتو او د خپلې منځي همکاریو د پیاوړتیا یو اغېزمن لامل هم بلل کېږي.

د ګرځندوی له مهمو بنسټونو څخه یو هم د کلتوري میراثونه دي، چې د یو ملت د تاریخي هویت، فکري شتمنۍ او ټولنیزو ارزښتونو ژوندی تمثیل کوي. کلتوري میراثونه، لکه تاریخي ودانۍ، زاړه ښارونه، آثار، مزارونه او موزیمونه، دودونه، ژبه، فولکلور، هنرونه او عنعنات، د سیلانیانو لپاره د جلب او جذب بنسټیز فکتورونه دي. د همدې میراثونو د شتون له امله ګڼ شمېر هېوادونه توانېدلي، چې خپل کلتوري ارزښتونه د نړۍ والو ته معرفي کړي او له دې لارې نه یوازې خپل اقتصادي وضعیت ښه کړي، بلکې د خپل ملي هویت د پېژندنې او ساتنې په برخه کې هم پام وړ پرمختګونه وکړي.

د نړۍ ډېرو پرمختللو او مخ پر ودې هېوادونو کې د کلتوري ګرځندوی پراختیا ته ځانګړې پاملرنه کېږي، ځکه ګرځندوی نه یوازې د طبیعي جاذبو پر بنسټ ولاړ دی؛ بلکې د انسان د فکري او تمدني لاسته راوړنو د لېدلو او درک کولو یوه مهمه وسیله هم ګڼل کېږي. له بلې خوا، کلتوري میراثونه د سیمه‌ییزو ټولنو د عوایدو د سرچینو، د کلتوري پوهاوي د لوړېدو او د سیمو د پراختیا لپاره یوه دوامداره وسیله ګرځېدلې ده. د ګرځندوی او کلتوري

میراثونو ترمنځ اړیکه د سیمو د سولې، ثبات او د خلکو د خپل منځني تفاهم د پیاوړتیا لپاره ډېر اغېز لرونکي موارد ثابت شوي دي.

له همدې امله، د ګرځندوی صنعت په وده او پرمختګ کې د کلتوري میراثونو د ونډې څېړنه نه یوازې علمي؛ بلکې د پالیسۍ جوړونې او د فرهنګي ودې په برخه کې هم بنسټیز اهمیت لري. دا څېړنه هڅه کوي، ترڅو څرګنده کړي، چې کلتوري میراثونه څرنګه د ګرځندوی د ودې، د سیمه‌ییز اقتصاد د پیاوړتیا، د ټولنیز پوهاوي د لوړونې او د ملي هویت د ساتنې لپاره اغېزمنه ونډه ترسره کوي او څنګه کولای شو، چې د معاصر ګرځندوی د اصولو له مخې ګرځندوی صنعت مدیریت، کلتور پیاوړی او د کلتوري میراثونه په ښه ډول خوندي او وساتو.

### د څېړنې موخې

**اصلي موخه:** د ګرځندوی صنعت په پرمختګ کې د کلتوري میراثونو د ونډې او ارزښت څېړل.

### فرعي موخې

۱. د سیلانیانو په جلب کې د کلتوري میراثونو د رول ارزونه؛

۲. د ګرځندوی صنعت پر وده او پرمختګ باندې د کلتوري میراثونو د اغېزو څېړل؛

۳. د کوربه ټولنو په اقتصادي پیاوړتیا کې د کلتوري ګرځندوی د ونډې ارزول؛

۴. د کلتوري میراثونو د ساتنې او مدیریت د اهمیت تشریح تشریح کول؛

۵. د کلتوري میراثونو او ګرځندوی ترمنځ د همغږۍ رول ارزول؛

٦. د کلتوري میراثونو د ناسمې استفادې احتمالي منفي اغېزو پېژندنه؛

### د څېړنې پوښتنې

اصلي پوښتنه: کلتوري میراثونه د ګرځندوی صنعت په پرمختګ کې څه ډول ونډه او ارزښت لري؟

### فرعي پوښتنې

۱. کلتوري میراثونه د سیلانیانو په جلب کې څه رول لري؟

۲. د کلتوري میراثونه څنګه د ګرځندوی صنعت په وده اغېز کوي؟

۳. کلتوري گرځندوی څنګه د کوربه ټولنو په اقتصادي پیاوړتیا کې ونډه لري؟

۴. د کلتوري میراثونو ساتنه او مدیریت د ګرځندوی د دوامدار پرمختګ لپاره ولې مهم دي؟

۵. د کلتوري میراثونو او ګرځندوی ترمنځ همغږي څنګه د ملي هویت په پیاوړتیا کې اغېزمنه تمامېږي؟

٦. د کلتوري میراثونو د ناسمې استفادې احتمالي منفي اغېزې څه دي؟

### د څېړنې تګلاره

دا څېړنه د سیستماتیک مروري میتود له لارې ترسره شوې ده، چې معلومات یې د کلتوري میراثونو او ګرځندوی صنعت اړوند علمي سرچینو څخه راټول، ارزول شوي او تحلیل شوي دي.

### د کلتور تعریف او مفهوم

کلتور یا فرهنګ د لاتین کلمې ( Coltutre یا Coltura) څخه اخیستل شوی، چې د کرنې او کار مانا لري (ځدراڼ، ۱۴۰۴، ص ۲)، کلتور د یوه مفهوم په توګه ډېر اوږد تاریخي شالید لري. ډېری کسان د کلتور په اړه ضمني پوهه لري؛ خو په تعریف کې یې له ستونزو سره مخ کېږي. له دې امله پوهانو یې په اړه بېلابېل تعریفونه او نظرونه وړاندې کړي دي؛ خو په ټوله کې دا ټول تعریفونه ګډې ځانګړتیاوې لري(عسګریان،۱۳۸۸، ص ۱۰۳-۱۰۴).

د سر اډوارډ برنیټ ټایلور په باور کلتور یوه پېچلې ټولګه ده، چې پوهه، باورونه، قوانین، آداب او رسمونه او هر ډول انساني پوهه په هغې کې شامله ده. د هغه له نظره کلتور « د علومو، پوهو، هنرونو، فکرونو، عقایدو، اخلاقیاتو، مقرراتو او قوانینو، آدابو او رسمونو او عاداتو څخه عبارت دی چې انسان یې د ټولنې د یوه غړي په توګه زده کوي». د یوې ډلې متخصصانو په باور دا تعریف تر دې مهاله د کلتور په اړه یو له منل شوو تعریفونو څخه دی. د امریکایي ټولنپوه ویلیم ګراهام سامنر له نظره کلتور د آدابو او رسمونو او ارزښتونو او ټولنیزو بنسټونو له ټولګې څخه عبارت دی. ډې روبرټې کلتور د نظري او عملي پوهو یوه ټولګه بولي چې لرونکی یې یوازې انسان دی. د هاینریش ریکرټ له نظره ټولې هغه چارې او شیان چې له انساني ارزښتونو سره تړلي دي، له کلتور څخه عبارت دی (محسني، ۱۳۸۰، ص ۲۱۱- ۲۱۲).

هر هغه څه، چې موږ یې په یوه مشخصه ټولنه کې ترلاسه کوو، زده کوو او وکولای شو، چې هغه راتلونکي ته انتقال کړو له کلتور څخه عبارت دی (عارفي، ۱۴۰۲،ص ۵) یا د انسان ټولو مادي او معنوي لاسته راړونو ته کلتور ویل کیږي.( ځدراڼ، ۱۴۰۴،ص ۴).

**د کلتوري میراثونو پیژندنه**

د کلتوري میراثونو اصطلاح له دوو کلمو جوړه شوې ده، چې د یو ځانګړي مفهوم څرګندونه کوي. ددې ترکیب له مخې، کلتوري میراث د هغو مادي او معنوي اثارو ټولګې ته ویل کیږي، چې له پخوا څخه راپاتې وي او د یوې ټولنې د پیژندنې څرګندونه کوي(صمدي، ۱۳۸۲، ص ۱۵۰). په بل عبارت، د پخوانیو انسانانو ټول هغه پاتې شوي مادي او معنوي شیان، چې تاریخ او کلتوري ارزښت ولري کلتوري میراث بلل کیږي. کلتوري میراثونه د یو هېواد د تاریخ، تمدن او کلتور بیانوونکي او هغه اثار دي، چې د پېړیو په اوږدو کې رامنځ ته شوي وي. کلتوري میراث څو اړخیز ارزښت لري لکه هویتي، هنري،اقتصادي، زده کړه ایز، ټولنیز ارزښت او دې ته ورته نوري. په عمومي توګه کلتوري میراثونه په دوو ډولونو وېشل کیږي، چې عبارت دي، ملموس کلتوري میراثونه او نا‌ملموس کلتوري میراثونه. ملموس کلتوري میراثونه، له ودانیو، ابداتو، سیمو، تاریخي او هنري اثارو، لکه انځورګری، مجسمې[1]، مصنوعاتو...( مرادي، ۱۳۹۰، ص۶۳) او ناملموس کلتوري میراثونه د یو کلتور غیر فیزیکي اړخونو ته ویل کیږي، چې ډېری وخت په یوې زمانې دوره کې د یوې ټولنې اداب، رسمونه او رواجونه په ځان کې رانغاړي. په بل عبارت، معنوي میراثونه د یوې ټولنې د کلتور برخه ګڼل کیږي، چې په شفاهي توګه له یو نسل څخه بل ته انتقالیږي. په دې مواردو کې ټولنیز ارزښتونه، رواجونه، اداب، هنري بیانونه او د انساني کړنو نور

[1] . د اسلامي شریعت له نظره د زیروحو انځور ګري او مجسمه جوړونه، که هغه د انسان وي او یا د کوم حیوان وي، یو حرام عمل دی؛ ځکه چې په صحیح احادیثو کې له هغې نه منع رغلې او د هغه جوړونکی ته د دردناک غذاب خبرداریځ ورکړل شوی دی.
په پخوا زمانو کې د تصویر او مجسمو جوړول د شرک با الله موجب ؤ ( هغې ته تعظیم کول، د هغې پر وړاندې دانسانانو دریدل، د هغې تکریم او د هغې د تقرب تلاش کول)، چې دا ټول امور بغیر له الله تعالی بل چاته جایز نه دي. ځینې وختونه تصویرونه د فتنې سبب ګرځي له هغه جملې د ښځو لوڅ او نیمه لوڅ انځورونه، لکه اوس، چې له بده مرغه په اسلامې ټولنو کې رواج لري او په تجارتي نښو او لوحو باندې بې شرمه تصویرونه لګوي، چې هغه ته به هیڅ ضرورت هم نه وي.
هغه احادیث چې په دې باره کې راغلی انځور او مجسمه جوړول یې کبیره ګناه بللې ده، لکه ابن عمر وایي، چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایلي:
« إِنَّ الَّذِينَ يَصْنَعُونَ هَذِهِ الصُّوَرَ يُعَذَّبُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، يُقَالُ لَهُمْ: أَحْيُوا مَا خَلَقْتُمْ» [۱]. رواه البخاري او مسلم (د قیامت په ورځ هغو کسانو ته چې دا تصویرونه جوړوي عذاب ورکول کیږي، هغوی ته ویل کیږي ژوندي کړئ هغه څه کوم مو چې جوړ کړي وو).
عبدالله ابن مسعود وایي : له پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه مې وارویدل چې فرمایل یې: « إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ»[۲]. رواه البخاري او مسلم. ژباړه: د قیامت په ورځ له خلکو څخه سخترین عذاب د تصویر جوړونکو دی.

اړخونه شامل وي. یوه موضوع باید په یادو ولرو، چې د ملموسو په پرتله د ناملموسو میراثونو ساتنه مشکل کار دی(احمدي او اسفزاري، ۱۴۰۳، ص ۸۸- ۹۱).

**ګرځندوی تعریف**

په فرانسوي ژبه کې (Tour) د سفر او د هغې وروستاړی (Ism) د مکتب او میتود په معنی دی(پوپل، ۲۰۲۵، ص ۲) او یا هم (Tour) د لاتین د (Tornare) او د یوناني د (Tornos) څخه اخېستل شوی دی، چې (دایره یا محور ته حرکت) او (Ism) د ( عمل یا طرز عمل) معنی لري(Theobald, 2012, 9). ګرځندوی ته په عربي ژبه کې سیاحت وایي او سیاحت له سیح له کلمې څخه اخېستل شوی دی، چې د ځمکې پر مخ د اوبو جریان ته ویل کېږي. سیاحت د ځمکې پر مخ یو رهي کس تګ ته هم ویل کېږي؛ چې له همدې امله حضرت عیسی علیه السلام ته هم د مسیح نوم ورکړل شوی دی(خاکسار، ۲۰۲۴).

توریزم د تفریح هغه سفر ته ویل کیږي، چې انسان د یوې ځانګړې سیمې د لېدلو په نیت د خپل ټاټوبي څخه د سفر قصد وکړي. سیلانیتوب هغه سفر دی، چې یو څوک یې د خپل دایمي ټاټوبي څخه بل موقتي ټاټوبي ته د همیشنیو بوختیاو پرته تنظیموي (باوري، ۱۳۹٦،ص ۱۵- ۱٦). د "سیلانی" یا "ګرځندوی" ډېری تعریفونه د ګرځندوی د عمومي مفهوم پر بنسټ ولاړ دي. معمولاً دا تعریفونه دا شرط لري چې سیلانی باید لږ تر لږه یوه شپه په هغه ځای کې تېره کړي چې سفر یې ورته کړی وي. په همدې اساس، سیلانی له "ورځني لیدونکي" یا "سفر کوونکي" څخه توپیر لري، ځکه ورځني لېدونکي هغه څوک دي، چې یو ځای ته ورځي او هماغه ورځ بېرته راګرځي، پرته له دې چې هلته شپه وکړي (Mason, 2023, 7).

ګرځندوی یو څو بعدیز مفهوم دی، چې له همدې امله، د هغه په تعریف کې باید بېلابیل اړخونه، لکه اقتصادي، ټولنیز، سیاسي، جغرافیایي، مدیریتي او ... په پام کې ونېسو او نشو کولای، چې یو مشترک تعریف ورته په پام کې ونېسو. د ګرځندوی صنعت یو داسې منسجم نظام دی، چې د هغه رامنځ ته کولو کې بېلابېل عناصر شامل او د یو د بل په څنګ کې لازم او ملزوم دي او یو اړخ نشي کولای په یوازې، چې دا نظام وچلوي. د بېلګې په توګه د ګرځندوی جذب کوونکي نه شي کولای، چې په یوازې توګه د دې صنعت د پرمختګ لپاره زمینه برابره کړي؛ بلکې د یاد صنعت لپاره هغه ټول امکانات، لکه زیربناوې او د ګرځندوی لپاره استوګنې د شرایطو برابرول هم ډېر اړین دي. په دې اساس، هغه ټولې کړنې، چې ګرځندوی یې د سفر د یوې برخې په توګه ترسره کوي او ټولې هغه کړنې، چې د ګرځندوی د سفر پر مهال په مستقیم او غیر مستقیم ډول ترسره کیږي او یا رامنځ ته کېږي، کولای شو، هغه د ګرځندوی صنعت په نوم یاد کړو. په دې  توګه ویلای شو، چې ګرځندوی کې هغه ټول

فعالیتونه، لکه د سفر پلانول، د موخې په لور د سفر پیل، استوګنه، بېرته راتګ او داسې نور شامل دي، چې د یو سیلاني د سفر پر مهال رامنځ ته کېږي. په ګرځندوی کې د سیلانیانو تقاضا، د اتصال عناصر او د موخې په لور د ګرځندوی ترسره کېدل شامل دي(صادقي ده چشمه او هاوروني، ۱۳۹۹، ص ۲۵۹).

ګرځندوی یو تخصصي فعالیت دی، یوه مؤسسه یا حتی یو هېواد نه شي کولای د ګرځندوی په ټولو برخو کې فعالیت وکړي. د ګرځندوی ډولونه او پېژندنه د ګرځندوی صنعت یوه ډېره مهمه برخه ده او د بېلابېلو فکتورونو له مخې کولای شو، چې هغه په لاندې توګه طبقه بندي کړو:

تفریحي، روغتیایي، کلتوري، ټولنیز، ورزشي، مذهبي او زیارتي، تجارتي او سیاسي ګرځندوی. ګرځندوی یو نړیوال صنعت دی، چې میلیونونه خلک په کې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول دخیل دي. دا صنعت د عوایدو، پانګونې، د کاري زمینې برابرولو او د سیمه ییزو اقتصادونو په پیاوړتیا کې مهمه ونډه ترسره کوي. هوټلونه، رستورانتونه، د سفر ادارې، بازارونه، او د ترانسپورت شبکې، ټول د ګرځندوی له برکته وده کوي.

سیاحت د یوه هېواد لپاره ګټې لري، لکه د کار زمینې برابرول، عوایدو زیاتول، د زیربناوو پراختیا، او د فرهنګي تبادلې اسانتیا. سیاحت د پرمختګ لپاره یوه ستراتیژي ګڼل کېږي او دا یوه وده کونکی صنعت دی، چې بهرني اسعار هېواد ته راځي، د پانګونه جذبوي او په هېواد کې اقتصادي تنوع رامنځته کوي او د محلي ټولنو لپاره زیات ګټور بلل کېږي(Cole, 2007, 65). د ګرځندوی په صنعت کې پیاوړې او دوامداره پانګونه د دې صنعت د بریا لپاره حیاتي ارزښت لري. د بریالۍ پانګونې له امله، نه یوازې د انفرادي شرکتونو ظرفیت او ګټې زیاتېږي؛ بلکې د ټول سیاحت سکتور هم وده کوي. په ګرځندوی کې مناسبه پانګونه د ملي او سیمه ایزې ګټې لامل کېږي(Dwyer, 2011, 10).

د سیاحت تاریخچه زړه راښکونکې ده، چې مخینه یې د ۱۸مې پېړۍ په پای کې د "سیاح" کلمې د اختراع کولو نه وړاندې پیل شوی(https://www.unwto.org).

که څه هم سیاحت اوږده تاریخي سابقه لري، خو عصري سیاحت او هغه صنعت، چې د دې ملاتړ کوي، د دویمې نړیوالې جګړې وروسته پیل شوی. د ۱۹۵۰ کال راهیسې نړیوالو سیلانیانو شمېر له ۲۵ میلیونو څخه تر ۲۰۰۴ پورې ۷۶۰ میلیونو ته لوړ شوی. خو لا هم جغرافیوي نابرابري شته، او ډېری سیلانیان او د دوی لګښتونه د پرمختللو هېوادونو ترمنځ محدود دي (Henderson, 2007, 6).

تر ۱۹۶۰م کال پورې، گرځندوی یوه داسې فعالیت و، چې لږو خلکو پکې برخه اخېستله، او دا عمل تر ډېره یوازې اروپا، شمالي امریکا او څو محدودو ځایونو پورې محدود و. له دې مودې مخکې، نړیوال سفر یوازې د شتمنو خلکو لپاره ممکن و، هغو کسانو چې هم یې وخت درلود او هم مالي توان، څو اوږده سمندري یا هوایي سفرونه وکړي؛ خو د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې، لوی بدلونونه راغلل چې د "عصري گرځندوی" په نوم د یوې نوې پدیدې چټک او پراخ پرمختگ ته لاره هواره کړه(Mason, 2023, 6).

دا چې گرځندوی صنعت ورځ تربلې پرمختگ په حال کې و؛ نو د ۱۹۷۹ز کال ډسمبر په میاشت کې د ملگرو ملتونو د سیاحت عمومي غونډې پرېکړه وکړه، چې د گرځندوی نړیواله ورځ تأسیس کړي، ترڅو په دې اړه په نړیواله کچه هر کال عامه پوهونه وشي او په بېلابېلو هېوادونو کې ولمانځل شي. په همدې اساس د ملگرو ملتونو د گرځندوی په اساسنامه کې د (د سپتمبر ۲۷ ورځ) د گرځندوی د نړیوالې ورځې په توگه و ټاکل شوه، چې اوس هر کال همدا ورځ دنړۍ په مختلفو هېوادونو کې لمانځل کېږي. (https://www.untourism.int/world-tourism-day).

بېلابېل هڅوونکي لاملونه شته، چې سیمو او هېوادونو ته د گرځندویانو پاملرنه جلب کړي، په عمومي توگه هغه جاذبې او عوامل، چې د گرځندوی په پراختیا کې مرسته کوي په لاندې ډول ترې یادونه کوو:

اداب، رسوم، قومي تنوع او محلي موسیقي[۲]، لاسي صنایع، مروجې ژبې او لهجې، لباس او محلي غذاگانې، هنري نندارتونونه او موزیمونه(عارفي، ۱۴۰۲، ص ۱۱)، غوره طبیعي او تفریحي سیمې، لرغوني تاریخي اثار او ابدې، د عقیدتي او رواني ارامښت ځایونه(باوري، ۱۳۹۶، ص ۳۷- ۳۸).

---

[۲] . سندرې، نڅا او د موسیقي الاتو غږول د اسلامي شریعت له مخې یو ناروا عمل گڼل کېږي، په ځانگړې توگه د اوسنی زمانې مروجه موسیقي د جمهورو علماو په نزد حرام عمل دی. په دې اړه قرآن او نبوي احادیث شتون لري، چې مسلمانان یې د یاد عمل په نه کولو مکلف کړي دي. د بېلگې په توگه الله تعالی په خپل کلام قرآن پاک کې فرمایلي دي: «وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ»[ سُورَةُ لقمَان: ٦]، ژباړه: او له همدې انسانانو څخه داسې څوك هم شته چې چټي او بابېزه خبري پیري چي خلك د الله له لاري په بې علمۍ سره گمراه کړي او ددغي لاري په بلني پوري مسخرې وکړي، د دغسې خلکو لپاره سخت سپکوونکی عذاب دی.

نبوي احادیتو هم یاد عمل ناروا گڼي، لکه په لاندې یو حدیث شریف کې ورته اشاره شوې ده:

**وقال هشام بن عمار:** حدثنا صدقة بن خالد، حدثنا عبد الرحمن بن يزيد بن جابر، حدثنا عطية بن قيس الكلابي، حدثنا عبد الرحمن بن غنم الأشعري قال: حدثني أبو عامر، أو أبو مالك الأشعري: والله ما كذبني، سمع النبي صلى الله عليه وسلم يقول: ليكونن من أمتي أقوام يستحلون الحر، والحرير، والخمر، والمعازف، ولينزلن أقوام إلى جنب علم يروح عليهم بسارحة لهم يأتيهم – يعني الفقير – لحاجة، فيقولون: ارجع إلينا غدا فيبيتهم الله ويضع العلم، ويمسخ آخرين قردة وخنازير إلى يوم القيامة.( **رواه البخاري:۵۵۹۰**)

د اوسنۍ نړۍ ټول هېوادونه د اقتصادي ودې لپاره د بېلابېلو لارو پــه پلي کولــو غواړي د خپل هېواد اد اقتصادي بنسټ پیاوړی کړي. د هېوادونو زیات شمېر اقتصاد پوهان پدې اند دي، چې سیلانیــتوب د نورو اقتصادي هڅو په څېر ګټور صنعت او بوختیا ده. د نړۍ په یو شمېر هېوادونو کې د سیلانیتوب صنعت په خورا چټکه توګه پر مخ ځي او وده کوي(https://lomritob.com).

په لاندې ګراف کې د نړۍ لس غوره هېوادونه لېدل کېږي، چې په ۲۰۲۴ز کال کې د گرځندوی صنعت له لارې یې ملیاردونه ډالر ترلاسه کړي دي، چې په سر کې یې امریکا متحده ایالات او په ترتیب سره، اسپانیا، انګلستان، فرانسه، مکسیکو، ایټالیا، ترکیه، جاپان، جرمني او په اخر کې اسټرالیا قرار لري.

(https://wptravel.io/world-tourism-ranking-by-country/?utm).




**لومړی**(۱) ګڼه شکل: په ۲۰۲۴ز کال کې د گرځندوی صنعت لس غوره هېوادونه.

---

حضرت ابو عامر یا حضرت ابو مالک اشعري رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې یې وفرمایل: "زما په امت کې به داسې خلک وي چې زنا، وریښم، شراب او د موسیقۍ الات به حلال ګڼي. ځینې خلک به د یو لوړ غر په لمن کې خیمې وهي. ماښام به یو شپون د خپلو غواګانو سره د یو څه اړتیا لپاره راشي، خو هغوی به ووایي: (نن بیرته لاړ شئ) او سبا به راشئ. الله تعالی به هغوی له منځه یوسي او غر به پرې راښکته کړي، او نور به یې تر قیامت پورې په بیزوګانو او خنزیرانو بدل کړي.

ګرځندوی د پراخو اقتصادي ګټو سربېره ځینې منفي او مثبتې اغېزې هم لري، چې دلته يې له ځينو څخه يادونه اړينه بولو. د ګرځندوی په بهير کې دوه ډوله خلک ښکېل وي، چې عبارت دي له:

**سیلانیان**

هغوی له رخصتیو څخه خوند اخلي، خو همدا راز ځینې ستونزې هم تجربه کوي، لکه د سفر ستړيا، لګښتونه، يا کلتوري خنډونه.

**کوربه خلک**

هغوی له مختلفو زيانونو سره هم مخ کېږي، لکه د چاپېريال خرابوالی، د کلتور بدلون، یا د ژوند د طرز ګډوډي او داسې نور ( Theobald, 2012, 79- 80). کوربه ټولنه له دې لارې عواید ترلاسه کوي، چې د عوایدو په ډېروالي سره د سیما سلنه ډېرېږي، پانګونه ډېرېږي، نوې کمپنۍ رامنځته کېږي، تولیدات ډېرېږي او هېواد د اقتصادي پرمختګ په لور ځي ( نیازی، ۱۳۹۳، ص ۲۴).

د ګرځندوی لګښتونه د کوربه ټولنې اقتصاد ته عایدات راجمع کوي. هغه عایدات، چې هېواد يې له ګرځندوی څخه ترلاسه کوي، په نورو برخو کې په پانګونه او يا هم د ګرځندوی صنعت په وده او پراختيا کې لګوي او ځينې هېوادونه کېدای شي، دا لاسته راوړې پانګه په عامه خدمتونو، لکه ښوونه او روزنه او یا په روغتيا کې په مصرف ورسوي (https://allaboutvanuatu.com).

۲- ګرځندوی په نړۍ واله سوداګرۍ کې يوه مهمه برخه ګڼل کېږي، او له سترو اقتصادي توکو څخه شمېرل کېږي. له همدې امله، ګرځندوی کولای شي د يوه هېواد د تادياتو توازن (Balance of Payments) کې مهم رول ولوبوي. د ځينو هېوادونو لپاره ګرځندوی د وارداتو او صادراتو ترمنځ د سوداګرۍ د توازن ساتلو لپاره حياتي ارزښت لري. د اقتصادي محاسبې له مخې، ګرځندوی د صادراتو په توګه حسابېږي، ځکه چې بهرني سيلانيان د کورني خدماتو او محصولاتو لپاره پيسې مصرفوي او هغه پيسې، چې سيلانيان يې لګوي د کوربه هېوادونو اقتصاد ته ډېرې ګټې رسوي، چې دا مصارف د ځايي کاروبارونو، هوټلونو، رسټورانټونو، ټرانسپورټ، او نورو خدماتو لپاره عايد رامنځته کوي، چې د ملي اقتصاد د پياوړتيا سبب ګرځي (Mason, 2023, 10).

۴- د کار زمينې برابرول: د ګرځندوی صنعت چټکه پراختيا د کارموندنې په برخه کې زمينه برابروي. د نړۍ شاوخوا ۷٪ کارکوونکي د ګرځندوی په برخه کې کار کوي کوي(https://allaboutvanuatu.com).

۵- د زیربناوو پرمختګ: د ګرځندوی بله مثبته اغېزه د زیربناوو رامنځته کېدل او پراختیا ده. په دې کې د سړکونو، ریل پټلیو، د هوایی ډګرونو پراختیا، د اوبو رسولو او مخابراتو پراختیا شامل دي. د دې له لارې، ځایی خلک کولی شي له هغو رامنځ ته شویو اسانتیاوو څخه ګټه پورته کړي، چې سیلانیانو ته چمتو شوي دي (https://hwb.gov.wales/api).

د پورتنیو ګټو برسېره، که چیرته ګرځندوی صنعت په سم ډول مدیریت نه شي؛ نو ښایي لاندې ستونزې رامنځ ته شي:

۱- کوربه ټولنه له کلتوري یرغل سره مخ کېدل، بومي کلتور ته زیان رسېدل.

۲- د هنري کارونو او لاسي صنایعو اصلیت له منځه تلل؛

۳- د ملموسو کلتوري میراثونو تخریب؛

۴- د ترافیکو ډېرښت او د ناروغیو خپرید؛

۵- د جرمونو د سطحې لوړېدل؛

٦- د ګرځندوی د علاقې مطابق محصول جوړول او د بې کیفیته توکو تولیدول؛

۷- د ګرځندویانو په ډېرېدو سره د محلي خلکو ارام له منځه تلل؛ (صادقي ده چشمه او هاورونی، ۱۳۹۹، ص ۲۷۴).

## د ګرځندوی صنعت په پرمختګ کې د کلتوري میراثونو ونډه

کلتور د نړۍ وال ژوند لپاره تر ټولو مهم او اساسي عنصر دی، چې دا یوازې په پرمختللیو ټولنو پورې منحصر نه دی؛ بلکې په دې کې ټولې انساني ټولنې شاملې دي. وړاندې مو یادونه وکړه، چې کلتور د هغو باورونو، ارزښتونو او کړنو ټولګه ده، چې د یوې ټولنې د هویت څرګندونه کوي. د یو هېواد کلتور د هغه د وګړو د ژوند طریقه، د لباس د اغوستلو طریقه، د هغه د ټولو بنسټونو، د سړکونو او واټونو، بازارونو، ښارونو او کلیو د بڼې ننداره وړاندې کوي(داس ویل،ص ۱۳۷۹).

کلتور یوازې د ادبي او علمي اثار ټولګه نه ده، چې یوازې د ټولنې د پوهانو او علماو له لورې راټولیږي او بیا ټولنې ته وړاندې کیږي، کلتور یوازې د تېرو ټولنو غني میراثونه نه دي، چې د یوې بېلګې په توګه وړاندې کیږي،

کلتور یوازې په هنري او ادبي اثارو پورې نه محدودېږي؛ بلکې په ورته وخت کې د هغه زده کړه، د ژوندانه یوې ځانګړې طریقې او د خپل منځي ټولنیزو اړیکو ته هم اړتیا لري. کلتور یوه داسې ځمکه نه ده، چې فتح شي او یا مستعمره شي؛ بلکې له ځانه او د ټولنې له نورو وګړو سره د کړنو یو ځانګړې تګلاره ده. خپلواکې ټولنې کولای شي، چې نه یوازې خپل کلتور بډایه کړي؛ بلکې د یوې کوربه ټولنې په توګه د ګرځندوی له لارې خپل کلتور نړۍ والو ننداره کوي( تقوایي و صفر آبادي، ۱۳۹۱، ص ۸۴).

نن ورځ د ګرځندوی او کلتور ترمنځ اړیکي په ښه ډول پېژندل شوې او څېړل شوې دي او سیلانیان د بېلابېلو کلتورنو څخه د لېدنې لپاره جذب شوي او د نړۍ بېلابېلو سیمو او هېوادونو څخه د لېدنې په موخه یې سفرونه ترسره کړي دي. په اصل کې توریزم غواړي، چې د کلتوري تعاملاتو او تبادلاتو په موخه مېلمه او کوربه ټولنې له یو او بل سره نږدې کړي. ویلای شو، چې توریزم یوه داسې وسیله ده، چې د بومي کلتور بېلابېلو عناصرو د معرفي کولو او د هغوی د ژوندي ساتلو زمېنه برابروي(قبادي، ۱۳۸۸، ص ۱).

څېړنې ښيي، چې د کلتوري میراثونو ظرفیت، د ګرځندویانو په جذب کې تر ټولو مهم لامل دی؛ ځکه کله چې سفر کوونکي کوم ځای ته لاړ شي، د لومړي ځل لپاره د هغه ځای او خلکو له کلتور سره مخ کېږي. د ملموسو میراثونو برسیره د کوربه ټولنې دودونه، اداب، ژبه، دین او نور غیر ملموس کلتوري عناصر پر میلمنو ژوره اغېزه کوي( کاظمي، ۱۳۸۲، ص ۴۳).

د جشنونو او د یوې سیمې د دودېزو او هنري نندارتونونو ترسره کول، کولای شي، چې ګرځندویان د ځان په لوري جذب کړي؛ ځکه له دې لارې ځایي دودونه او کلتوري تجربې د نړۍ نورو کسانو ته معرفي کېږي. په دې معنی چې کلتوري میراثونه د ګرځندویانو لپاره د یوې نوې زده کړې یوه ښه سرچینه ده او له دې لارې ګرځندویان کولای شي، چې د یوې سیمې له تاریخ او کلتور څخه ژوره پوهه ترلاسه کړي. د کلتوري میراثونو ساتنه او له هغوی څخه اقتصادي ګټه اخیستنه کولای شي، چې د ګرځندوی صنعت د دوامدار پرمختګ، د کاري فرصتونو د رامنځ ته کېدلو او د ځايي وګړو د عوایدو د زیاتوالي لامل شي. په لنډه توګه ویلای شو، چې کلتوري میراثونه، نه یوازې د یوې ټولنې د کلتوري هویت د ساتنې لامل کېږي؛ بلکې همدا میراثونه د ګرځندویانو په جذب کې تر ټولو زیاته ونډه ترسره کوي( نعیمي، ۱۴۰۳).

دې ډول ګرځندوی ته په علمي ډول د کلتوري میراثونو ګرځندوی ویل کیږي، ګرځندویان له همدې لارې د یوې ټولنې له تیر تاریخ، روایاتو او خاطراتو او ژوندي کلتور سره اشنا کېږي او په مستقیم ډول د ګرځندویانو د تاریخي پوهې د لوړېدلو لامل کېږي. دا چې له دې لارې ګرځندویان د یوې ټولنې له تاریخ سره اشنا کیږي؛ نو

ویلای شو، چې د کلتوري میراثونو ګرځندوی صنعت د یوې ټولنې د تاریخ په بیا ژوندي کولو کې رغنده ونډه ترسره کړي(بذر افشان، ۱۳۹۴).

**پایله**

له پورته بحث څخه دې پایلې ته رسېږو، چې ګرځندوی، یوازې د اقتصاد له اړخه ارزښت نه لري، بلکې یو څو اړخیزه پدیده ده، چې د انساني ژوند پر کلتوري، ټولنیز او معنوي اړخونو ژوره اغېز کوي. دا د افرادو د فکري ودې، روحي ارامښت، د ملي هویت د پیاوړتیا، د تاریخي ارزښتونو د درک، او د علمي او فرهنګي تبادلو د پراختیا لپاره مهمه وسیله بلل کېږي. د تاریخي اثارو، دودونو، لاسي صنایعو، ژبو، لهجو، محلي خوړو او هنري مراسمو شتون د ګرځندویانو د جلب او جذب له پاره د پام وړ انګېزه برابروي.

ګرځندوی د دوامدار اقتصادي پرمختګ، ټولنیزو او چاپېریالي اړتیاوو ترمنځ د توازن رامنځته کول دي، چې له دې لارې له سیمه بیزو سرچېنو څخه ګټه اخېستنه، د محلي کاروبارونو ملاتړ، او د ځایي ټولنې لپاره د کاري فرصتونو برابرول شامل دي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره اړینه ده چې د دولتي او خصوصي سکتور ترمنځ ګډ کار او پانګونه وشي. همدا ډول د نړۍوالو سازمانونو او نورو هېوادونو سره همکاري کولای شي د تجربو د تبادلې او  د کلتوري میراثونو د ساتنې او د ګرځندوی د پرمختګ په برخه کې مرسته وکړي. د ګرځندوی د اغېزو په اړه دوامدارې څېړنې او ارزونې د ستونزو او فرصتونو په پېژندنه کې مرسته کوي او د پرمختیایي ستراتیژیو د ښه کولو لامل ګرځي. بناً د دې ستراتیژیو په عملي کولو سره، کولای شو، چې د کلتوري میراثونو ښه ساتنه وکړو او هم د دومداره ګرځندوی صنعت رامنځ ته کولو او پیاوړي کولو لپاره زمینه برابره کړو.

د تاریخي او کلتوري آثارو ساتنه باید د ګرځندوی د پرمختګ یو بنسټیز لومړیتوب وي، چې پکې د تاریخي ودانیو، موزیمونو او نورو فرهنګي جاذبو ترمیم او ساتنه شامله ده، څو د تخریب او زیان مخه یې ونیول شي. د ګرځندویانو او ځایي ټولنې د پوهاوي لوړول، د کلتوري میراث د ارزښت او د ګرځندوی د مثبتو او منفي اغېزو په اړه، د دې ډول میراثونو په ساتنه او پالنه کې مرسته کوي.

په دې برخه کې د روزنېزو پروګرامونو او سمینارونو جوړول د عامه پوهاوي د لوړوالي لامل ګرځي. د مناسبو زیربناوو رامنځته کول، لکه ترانسپورت، استوګنځایونه او د ګرځندوی خدمتونه، د ګرځندویانو د جذب او د فرهنګي جاذبو د لاسرسي د اسانتیا لامل کېږي. البته دا زیربناوې باید د چاپېریال ساتنې او د کلتوري میراثونو د ساتنې له اصولو سره سمې ترسره شي. ددې ترڅنګ د کلتوري پروګرامونو، جشنونو، فستیوالونو او نندارتونونو په

جوړولو سره کولای شو، چې ګرځندویان جذب کړو، خپل سیمه ییز کلتور، ترویج، پیاوړی او غني کړو، د ترویج او بالاخره خپل کلتوري او هنري میراثونه نړۍ والو ته په ښه ډول معرفي کړو.

په پایله کې ویلای شو چې د ګرځندوی صنعت متوازن او علمي مدیریت نه یوازې د اقتصادي ودې لامل ګرځي، بلکې د ملي هویت، فرهنګي ارزښتونو او تاریخي میراثونو د دوامدار ساتنې لپاره هم یو بنسټیز عامل بلل کېږي

**وړاندیزونه**

۱. د او اړوندو بنسټونو له خوا باید داسې ملي پالیسۍ او تګلارې جوړې شي، چې د ګرځندوی د ودې تر څنګ د فرهنګي او تاریخي میراث د ساتنې ضمانت وکړي.

۲. خصوصي سکتور ته دې د پانګونې فرصتونه ورکړل شي، څو د ګرځندوی او فرهنګي پروژو په پیاوړتیا کې فعاله ونډه واخلي.

۳. د مسلکي کسانو او کادرونو روزنه ډېره اړینه ده، څو هغوی وکولای شي د فرهنګي ارزښتونو د معرفي کولو او د ګرځندویانو د پوهاوي په برخه کې اغېزمن رول ولوبوي.

۴. د رسنیو، تعلیمي ادارو او ټولنیزو کمپاینونو له لارې دې د خلکو پوهاوی لوړ شي، څو د خپلو کلتوري او تاریخي ارزښتونو د ساتنې ارزښت درک کړي.

۵. د ګرځندوی لپاره دې مناسبو سیمو کې د لارې، استوګنځایونه، روغتیایي خدمتونه او د ټرانسپورټ اسانتیاووې رامنځ ته شي.

٦. د جشنونو، هنري نندارتونونو، او محلي فستیوالونو ملاتړ دې وشي، څو د سیمه‌ییزو دودونو او هنرونو د ژوندۍ ساتنې او د ګرځندوی د جذب لامل وګرځي.

۷. په عملي مرکزونو کې دې په دې اړه پراخې څېړنې ترسره شي.

۸. د هغو هېوادونو له بریالیو تجربو دې ګټه واخېستل شي، چې د ګرځندوی په برخه کې پرمختللي دي.

۹. د ګرځندوی د منفي اغېزو لکه د کلتوري یرغل، ارزښتونو د کمزورې کېدلو او د طبیعي سیمو د زیان مخنیوي لپاره باید د کنټرول او مدیریت ځانګړې ستراتیژي رامنځته شي.

# The Value and Contribution of Cultural Heritage to the Development of the Tourism Industry

Senior Teaching Assistant, Saifullah Gharwal Sheikh Zayed University, Faculty of Social Science History and geography Department.

Muhammad Ismail Muhammadyar, a student in the Master's Program in Afghanistan Studies, Faculty of Social Sciences, Kabul University.

**Abstract**

Cultural heritage represents the historical identity, cultural values, and social characteristics of a society. These heritages, which are categorized into tangible and intangible forms, are not only significant for the preservation of history and culture but also play a crucial role in the development of the tourism industry, the attraction of tourists, and the strengthening of the host community’s economy. In countries endowed with rich historical and cultural diversity, cultural heritage is recognized as a fundamental resource for attracting tourists. This study was conducted using a systematic review method, in which data were collected, evaluated, and analyzed from scholarly sources related to cultural heritage and the tourism industry. The findings of the study indicate that cultural heritage holds vital importance for strengthening the tourism sector. It contributes effectively to attracting tourists, creating employment opportunities, increasing revenues, and enhancing cultural awareness within local communities. The study emphasizes the strong need for sustainable tourism planning, clear strategies and policies, and their effective implementation in the conservation and responsible management of cultural heritage. Moreover, effective coordination between cultural heritage and tourism can play a constructive role in strengthening national identity, promoting economic growth, and fostering social stability.

**Keywords:** Culture; Cultural Heritage; Value of Cultural Heritage; Cultural Tourism; Tourism Industry.

**منابع**

احمدي، احمدفضل؛ اسفزاري، عاصم. (۱۴۰۳). ثبت میراث فرهنگی غیر ملموس (معنوي) و حمایت از آنها( مطالعه موردي افغانستان). مجله علمي – تحقیقي بهارستان، سال ۲، شماره ۲.

https://journals.jami.edu.af/index.php/bsrqj/article/download/۲۲۳/۷۵/۱۰۱

باوري،محمد رسول.(۱۳۹۶). د توریزم بنسټونه او په افغانستان کې توریستي امکانات. د بیهقي کتاب خپرولو ریاست. ازادی( دولتي) مطبعه.

بذرافشان، شیما.(۱۳۹۴). تاثیر گردشگري میراث فرهنگي بر هویت ملي. همایش ملي فرهنگ گردشگري و هویت شهري. https://sid.ir/paper/826350/fa.SID

پوپل، کریم .(۲۰۲۵). توریزم در افغانستان. جرمني: افغان جرمن انلاین.

https://www.afghangerman.net/upload/Tahlilha_PDF/Popal_k_turism_dar_afg1.pdf

تولایي، سیمین (۱۳۵۸). جهاني شدن ابزاري در راستایي توسعه گردشگري در ایران. فصلنامه تحقیقات جغارفیایي، سال بیست ویکم.

https://ensani.ir/fa/article/87337/%D8%AC%D9%87%D8%A7%D9%86%DB%8C-%D8%B4%D8%AF%D9%86

تقوایي، مسعود؛ صفرآبادي، اعظم. (۱۳۹۰). بررسي گردشگري فرهنگي با تاکید بر جاذبه های تاریخي( مطالعه موردي شهر اصفهان). فصلنانه برنامه ریزي رفاه و توسعه اجتماعیي، شماره ۱۲.

https://journals.atu.ac.ir/article_3499.html

خاکسار، سلطان جان. (۲۰۲۴، اکتوبر ۱۰). د ګرځندوی/ توریزم معنوي ګټې. شریعت ورځپاڼه .

https://shariatdaily.com/%D8%AF-%DA%AB%D8%B1%DA%81%D9%86%D8%AF%D9%88%DB%8C

نعیمی، حمیده. (۱۴۰۳ ). تحلیلی بر نقش میراث فرهنگی بر جذب گردشگر،اولین همایش بین المللی صنعت گردشگری،تهران.

https://civilica.com/doc/ ۲۱۵۵۵۵۲

څېړان،محمد شریف.(۱۴۰۴). د افغانستان لرغوني مدنیتونه. اکادمی علوم. سحر مطبعه- کابل.

Retrieved from د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارکان.

https://shariatdaily.com/%D٨٪AF%DA%AB%D٨٪B١٪DA%٨١٪D٩٪٨٦٪D٨٪AF%

داس ويل، راجر. (۱۳۷۹). مدیریت جهانگردي- مباني و راهبردها و آثار. ترجمه: محمد اعرابي و داؤد ایزدي. تهران: دفتر پژوهشهای فرهنگي.

https://www.gisoom.com/book/1155999/%DA%A9%D8%AA%D8%A7%D8%A8

صـمدي، یونس. (۱۳۸۲). میراث فرهنگي د حقوق داخلي و بین الملي. تهران: انتشارات سازمان میراث فرهنگي.

صادقي ده چشمه، مهر داد؛ هاروني، عباس قائدامیني. ( ۱۳۹۹). شناسایي اثرات منفي فرهنگي، گردشگري بر جامعه میزبان( مورد مطالعه: روستایي ده چشمه)، فصلنامه علمي مدیرت گردشگري، سال پانزدهم، شماره ۵۲ زمستان ۱۳۹۹.

https://tms.atu.ac.ir/article_12264.html

عارفي، مجتبی.(۱۴۰۲). میراث فرهنگي افغانستان( درسی چپټر) . کابل: کابل پوهنتون.

عسگریان، محمد.(۱۳۸۸). مفهوم شناسی فرهنگ سازماني. دو ماهنامه توسعه ی انسانی پلیس، سال ششم، شماره ی ۲۴ ص ص ۱۰۱-۱۲۴.

کاظمي، مهدي. (۱۳۸۲). تاثیرات فرهنگي گردشگري بر توسعه جوامع. فصلنامه مطالعات جهانگردي، شماره ۱۰.

قبادي، امین. (۱۳۸۸). بررسي نقش فرهنگ در توسعه اقتصادي. qobadi.blogfa.com

محسني، منوچهر.(۱۳۸۰). جامعه شناسي عمومي. چاپ هفده هم ،تهران: انتشارات طهوری.

مرادي، علي رضا. (۱۳۹۰). نقش میراث فرهنگي در تقویت هویت فرهنگی. نشریه مهندسي فرهنگی، شماره ۵۳ و ۵۴، صفحات ٦٠تا ٦٦.

https://ensani.ir/fa/article/245667/%D9%86%D9%82%D8%B4-%D9%85%DB%8C%D8%B1%D8%A7%D8%AB

نیازی، محمد داود .(۱۳۹۳). اقتصاد پېژندنه. د افغانستان ملي تحریک فرهنګي ځانګه

Cole, S. (2007). Tourism, culture and development: Hopes, dreams and realities in East Indonesia (Vol. 12). Channel View Publications.

https://books.google.com/books?hl=en&lr=&id=ahJ8PTyVwAAC&oi=fnd&pg=PR9&dq=).+Tourism,+culture+and+development:+Hopes,+dreams+and+realities+in+East+Indonesia&ots=JFw67OIig6&sig=MxK_cbYx0zcIlWjy3bVsycURmDc

Mason, P. (2023). Geography of tourism: image, impacts and issues. London: Published by Goodfellow Publishers Limited

https://www.torrossa.com/gs/resourceProxy?an=5825871&publisher=FZO374 a

Theobald, W. F. (Ed.). (2012). Global tourism. Routledge.

https://books.google.com/books?hl=en&lr=&id=SYssBgAAQBAJ&oi=fnd&pg=PR4&dq=Global+tourism&ots=4VJG5SEkgw&sig=dTbh97n2LujSX8EaquXVXCLsKG4

Dwyer, L., Papatheodorou, A., & Forsyth, P. (2011). Economics of tourism.

Henderson, J. C. (2007). Tourism crises: causes, consequences and management. Routledge.

https://books.google.com/books?hl=en&lr=&id=il2TcBLnBgMC&oi=fnd&pg=PR3&dq=Tourism+crises:+causes,+consequences+and+management.++&ots=aDDmwk6AIP&sig=SMsXBNrikgUUnR4uyrhG9mogrGU

# د حقوق جزای اسلام ځانګړتیاوې او بنسټیز اصول

پوهنمل فضل الرحمن ایوبي، شیخ زاید پوهنتون، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو دیپارتمنت

**برېښنالیک**: fazal.ayoubi@yahoo.com

**لنډیز**

د اسلام جزایي نظام تر ټولو یو منظم، جامع او بشپړ نظام دی، چې د عدالت د تامینولو، عمومي او ټولنیز نظم ساتلو، د انساني کرامت د ساتنې او ملاتړ او د مجرمینو د اصلاح او تربیې په موخه را منځ ته شوی دی. د اسلام جزایي حقوق د هغو قواعدو او ضوابطو څخه عبارت دي چې د هغې پر بنسټ جرمونه، جنایتونه او د ټولنیز نظم مخالفې کړنې تشخیص او د هغې اړوند متناسب مجازات ټاکل کېږي؛ د اسلام جزایي نظام د دنیوي او اخروي مصلحتونو په تامینولو سره د یوې سالمې ټولنې د جوړولو په لټه کې دی. د حقوق جزای اسلام موخې دي، چې د اسلامي شریعت د پنځو مصلحتونو( دین، نفس، عقل، نسل او مال) ساتنې څخه عبارت دي، چې په هره یوه باندې تېری، جرم او د جزا وړ عمل دی. حقوق جزای اسلام د منشاء، ثبات او انساني فطرت سره د تطابق له اړخه د وضعي قوانینو په پرتله غوره والی لري، د حقوق جزای اسلام بنسټیز اصول چې د برائت الذمه، په شبهاتو سره د حدودو دفع، د جرمونو او جزاګانو د قانونیت اصل، د جرم او جزاګانو د شخصي والي اصل او د جرم او جزا ترمنځ د تناسب اصل څخه عبارت دي. په دغه څېړنیزه کتابتوني مقاله کې د حقوق جزای اسلام ځانګړتیاوې او بنسټیز اصول څېړل شوي دي.

**کلیدي کلیمې:** اسلام، جزا ، جرم ، مصلحتونه، نظام

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحيم! الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدالمرسلين وعلى اله و اصحابه اجمعين.**

د اسلام سپېڅلی دین یو بشپړ او جامع نظام دی، چې د فردي او ټولنیز ژوند ټولو اړخونو د ترتیب او تنظیم لپاره احکام او لارښوونې لري، چې یوه مهمه برخه یې جزايي نظام دی. چې له وحي څخه منشاء اخلي او موخه یې په ټولنه کې د عدالت، نظم او امنیت تامینول او د جرمونو او مفاسدو له منځه وړل او یا حد اقل ته د هغې د کچې را ټیټول دي. د اسلام جزايي حقوق د یو لړ قواعدو او ضوابطو څخه عبارت دي، چې د هغې پر بنسټ جرمونه، جنایتونه او د ټولنیز نظم خلاف کړنې تشخیص او مجازات ټاکل کېږي. دغه نظام یوازې مجرمینو ته پر جزا ورکولو باندې تمرکز نه کوي؛ بلکې د مجرمینو بیا اصلاح او د جرمونو له ارتکاب څخه مخنیوی، د عدالت تامینول یې بنسټیزه موخه ده.

اسلامي شریعت د پنځو بنسټیزو مصلحتونو یا موخو (دین، نفس، عقل، نسل او مال) ساتنې ته ځانګړې پاملرنه کړې ده او د دغو مصلحتونو څخه په هر یوه باندې تیری د اسلامي شریعت له نظره جرم ګڼل کېږي او په مرتکب باندې یې متناسبه جزا پلي کېږي، چې د ځینو جرمونو لپاره جزاګانې د شارع له لورې ټاکل شوي دي او د ځینو جرمونو د اندازې او د ډول ټاکلو اختیار یې د وخت امام یا قاضي ته ورکړی دی. سربېره پر دې، دغه قوانین هم دنیوي او هم اخروي اجرایوي ضمانت لري، چې دا په ټولنه کې د جرمونو په مخنیوي کې یو پیاوړی عامل دی .

په دغه کتابتوني څېړنیزه مقاله کې به د حقوق جزای اسلام ځانګړتیاوې او نبسټیز اصول په لنډه توګه و څېړل شي.

## موخې

۱ – د اسلام جزايي نظام په مفهوم باندې پوهېدل .

۲ – د اسلام جزايي نظام د بنسټیزو قواعدو پېژندل

۳ – د حقوق جزای اسلام ځانګړتیاو باندې پوهېدل .

## کړنلاره او کار توکي

دا څېړنیزه مقاله د څېړنې د توصیفي ډول څخه ده، چې د معلوماتو په را ټولولو کې د کتابتوني میتود څخه ګټه اخېستل شوې ده. لومړی د موضوع اړوند مواد د بېلابېلو معتبرو کتابونو، مقالو او انټرنیټي پاڼو څخه را ټول د تحلیل او تجزیې وروسته د مقالې په بڼه ترتیب او لیکل شوي دي.

**لومړی- د حقوق جزای اسلام تعریف**

حقوق جزای اسلام د یو لړ قواعدو او ضوابطو څخه عبارت دي، چې د هغې په بنسټ یې جرمونه، جنایتونه، کبیره ګناهونه او د ټولنیز نظم، امنیت او عدالت مخالفې کړنې تشخیص کېږي او د هغې د مجازاتو اندازه او ډول هم ټاکل کېږي، چې په ځینې مواردو د هغې د اندازې او ډول ټاکل د حاکم او یا د هغې د نایب یعنی قاضي په غاړه دي (نذیر، ۱۳۸۸، ۸۱).

**دویم - په اسلامي شریعت کې د جزا موخې**

د بېلابېلو شرعي احکامو له پلټنې او څېړنې څخه دا خبره جوتېږي، چې له احکامو څخه موخه د بندګانو ښېګڼې پوره کول، د دغو ښېګڼو ساتنه او له دوی څخه د زیانونو لرې کول دي، خو له ښېګڼو څخه موخه د انسان په خپل خواهش د ښېګڼې او زیان خیال کول نه؛ بلکې هغه ښېګڼې دي، چې شریعت یې تصور کوي؛ ځکه انسان کله نا کله د نفس لاسبري له امله یو زیانمن کار ته هم د خپلې ښېګڼې په سترګه ګوري سره له دې، چې په اصل کې به دغه کار یا دغه شی د ده لپاره بد او زیانمن وي او کله د نفس د لاسبری له امله یو د ګټې کار د ځان لپاره زیان بولي، نو له شرعي احکامو څخه موخه د بنده ګانو ښېګڼه ده، خو ریښتیني ښېګڼه، چې شریعت یې ښېګڼه ګڼي که بندګانو ته په ظاهر کې زیان ښکاري او که ګټه او په اصل کې ګټه او ښېګڼه د اخرت ښېګڼه ده، چې دنیاوي عارضي وي. فقها په دې اند دي، چې د انسان ښېګڼې یا مصلحتونه په پنځو (۵) شیانو کې منحصرې دي، د اسلامي قانونګذارۍ موخه د دغو پنځو مصلحتونو له ساتنې او ملاتړ څخه پرته بل څه نه دي. نوموړي مصلحتونه عبارت دي له: د دین ساتنه، د نفس ساتنه، د عقل ساتنه، د نسل ساتنه او د مال (شتمنی) ساتنه (زیدان،۱۳۸۹، ۲ټوک، ۲۰۹).

د اسلام ټول احکام او قوانین د دغه پنځه ګونو مصلحتونو د ساتنې او ملاتړ لپاره راغلي دي، د همدې امله د دغو مصلحتونو څخه په هر یوه باندې تېری او تجاوز د اسلامي شریعت له نظره جرم ګڼل کېږي او متناسبه جزا ورته پیشبیني شوې ده؛ ویلی شو چې د عدالت او ټولنیز امنیت په رڼا کې د اسلام جزایي حقوقو پلي کول د ټولنې د عمومي مصلحتونو د ساتنې لپاره دي. او دا دوې مهمې چارې هغه مهال په ټولنه کې مستقر کېږي چې ټول په خپل حق باندې قانع او د نورو په حقوقو باندې له تېري څخه ډډه وکړي او دا په هغه صورت کې شوني ده چې ټول د اسلامي شریعت احکامو ته تسلیم او د زړه له کومې یې ملاتړ وکړي (نذیر، ۱۳۸۹، ص.۴۶۰).

**دریم - د وضعي جزايي قوانينو په پرتله د اسلامي شريعت غوره والی:**

**۱ - د اسلامي شريعت منشاء او منبع الهي ده:** د اسلامي شريعت مصدر، منبع او منشأ یوازې او یوازې الهي ذات دی، یعنې د اسلام ټول مذهبونه په دې اتفاق لري، چې د اسلامي قوانينو مبدأ الله جَلَّ جَلاَلُهُ دی او د ټولو احکامو او مقرراتو اصل او بنیاد الهي وحي ده؛ نو له همدې مخې په اسلامي شريعت کې د جرايمو او عقوباتو یوازینی مصدر کتاب الله او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سنت دي، نور تشريعي مصادر (اجماع او قياس) هم له همدغو دوو مصدرونو سره د سلسله مراتبو پر بنسټ تړلي دي. هر ډول حکم او قانون که د الله جَلَّ جَلاَلُهُ له خوا څخه نه وي، د مسلمانانو له نظره هېڅ اعتبار او ارزښت نه لري. دا یوه کلي او نه انکارېدونکې قاعده ده، چې ټول مسلمانان پرې باور لري. (سلطاني، ۱۳۶۹، ص.۳۷). الله جَلَّ جَلاَلُهُ فرمايي : ﴿... إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ﴾. (لانعام:۵۷).

**ژباړه** : [ د حکم (نازلولو فيصله) نه شته، مگر خاص الله جَلَّ جَلاَلُهُ لره ده (او بس، چې الله جَلَّ جَلاَلُهُ حق بیانوي (څه چې وايي هغه ټول حق دي) او الله جَلَّ جَلاَلُهُ د ټولو فيصله کوونکو بهتر فيصله کوونکی دی ].

همدارنګه په بل ځای کې الله جَلَّ جَلاَلُهُ داسې فرمایلي دي: ﴿...أَلَا لَهُ الْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ الْحَاسِبِينَ ﴾ (الانعام:۶۲).

**ژباړه** : [...خبردار اوسئ! د حکم (فيصلې) ټول واک د هماغه جَلَّ جَلاَلُهُ په لاس کې دی او هغه په حساب اخيستلو کې ډېر چټک دی)].

**۲ – ثبات او دوام**

دا چې وضعي قانون بشر وضع کړی او د بشري فکر محصول دی او اسلامي شريعت د الله جَلَّ جَلاَلُهُ له لورې راغلی او الله جَلَّ جَلاَلُهُ را استولی دی. نو په هر یو کې د خپل صانع یعنی په اسلامي شريعت کې خدایي جلوه او په قانون کې بشري صفتونه په ښکاره توګه منعکس کېږي. د بشر کمزوري، نقصان، عجز او نېمګړتيا په قانون کې هم انعکاس کېږي. پس ويلی شو دا چې د قانون وضع کوونکی (بشري فکر) نېمګړی دی؛ نو قانون هم نېمګړی دی. مگر اسلامي شريعت چې صانع یې الله جَلَّ جَلاَلُهُ دی ، الله جَلَّ جَلاَلُهُ چې په ماضي، حال، راتلوونکې او هر څه باندې پوره پوه او عالم دی ، نو ځکه یې مصنوع هم په ماضي، حال، راتلوونکې او هر څه باندې پوره احتوا لري، که حالات هر ډول بدلون وکړي په ځمکه او ټولنو باندې هر راز تحولات راشي، نو څرنګه چې پیشبیني یې شوي ده؛ نو ځکه یې تغيير او بدلون ته اړتيا نه پيدا کېږي او بدلون نه په کې راځي (عوده،۱۳۸۴هـ.ش.ص.۱۷). الله جَلَّ جَلاَلُهُ فرمايي: ﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلاً لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَاتِهِ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ﴾ (الانعام:۱۱۵).

**ژباړه:** [او (ای پیغمبره) ستا د رب جَلَّ جَلاَلُهُ خبره د ریښتنتوب او د انصاف له حیثه پوره ده، د ده جَلَّ جَلاَلُهُ د خبرې لپاره هېڅ تبدیلونکی هم نه شته، اوهمدی جَلَّ جَلاَلُهُ اورېدونکی او پوه دی]. همدارنګه یوه ورځ جناب عمر بن عبدالعزیز د مسلمانونو یوې ډلې خلکو ته داسې وویل: { ...**فَمَا أَحَلَّ اللَّهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ فَهُوَ حَلَالٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَا حَرَّمَ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ فَهُوَ حَرَامٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ**}. (درامي،۱۴۴۳، لومړی ټوک، ۴۰۲.

**ژباړه:** ( هغه څه چې الله جَلَّ جَلاَلُهُ د خپل نبي په ژبه حلال کړي دي، هغه به د قیامت تر ورځې پورې حلال وي او هغه څه چې الله جَلَّ جَلاَلُهُ د خپل نبي په ژبه حرام کړي دي، هغه به د قیامت تر ورځې پورې حرام وي).

### ۳ - دانساني فطرت سره تطابق

د اسلام جزایي نظام تر دې حده د انساني فطرت سره همغږی او هماهنګ دی، چې په بل هېڅ نظام کې یې مثال او نظیر نه لېدل کېږي، دلیل یې دا دی، چې د اسلام جزایي نظام د الله جَلَّ جَلاَلُهُ له جانبه نازل شوی دی، همدارنګه انسان د الله جَلَّ جَلاَلُهُ مخلوق دی او د انسان په ټولو فطري خصوصیاتو تر هر چا الله جَلَّ جَلاَلُهُ ښه پوهېږي، ځکه هغه پکې ځای پرځای کړي دي؛ نو په دې هم ښه پوهېږي، چې کوم ډول مجازات د انساني ټولنې لپاره وضع کړي، تر څو دوی د ګناهونو له ارتکاب څخه منع شي (سلطاني، ۱۳۶۹،ص.۴۲).

### ۴ – دنیوي او اخروي عقوبات

د اسلامي شریعت بل امتیاز دا دی چې په اسلامي شریعت کې کوم عقوبات ذکر شوي هغه د دنیا او اخرت دواړو لپاره دي، مګر د انسانانو په واسطه جوړ شوی قانون دا امتیاز نه لري. یعنی په وضعي قوانینو کې جزاګانې یوازې دنیوي اړخ لري (واثق،۱۳۹۲، ص.۵،۶). په دې اړه الله جَلَّ جَلاَلُهُ داسې ارشاد فرمايي: ﴿ أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾ (المُلک:۱۴). ژباړه: [( په دې باندې علاوه) ایا هغه څوک (په پټو او ښکاره وو باندې) نه پوهېږي چا چې (مخلوقات) پیدا کړي دي؟ ای خلکو ایا هغه اقدس ذات چې ټول مخلوقات یې د حکمتونو په بنیاد پیدا کړي دي په پټو او څرګندو خبرو باندې نه پوهېږي؟ حال دا دی چې همدا اقدس ذات په ډېرو باریکو شیانو خبردار دی، نو هېڅ شی د ده د علم څخه نه شي وتلی او په هر شي باندې یې د علم او قدرت د لحاظه احاطه کړې ده].

### ۵ – اسلامي شریعت ایجابي او سلبي دواړو عملونو ته شاملېږي

په دې معنی چې بنده ته په نیکو کارونو باندې امر کوي او خلک د مکافاتو په وعدو ورکولو سره نیکو کارونو ته تشویقوي او له بدیو او هر ډول زیان رسوونکو کارونو څخه یې منع کوي او متخلفینو ته شدید وعید بیانوي؛

نو اسلامي شريعت په لومړۍ مرحله کې په نيکو اعمالو باندې امر کوي او له بدو او قبيحو اعمالو څخه منع کوي، په داسې حال کې چې وضعي قوانين په لومړۍ مرحله کې له بدو اعمالو څخه منع کوي او که نيکو اعمالو ته خلک دعوتوي هم هغه يې لومړنۍ موخه نه وي؛ بلکې د بدو اعمالو څخه د مخنيوي په خاطر په نيکو اعمالو باندې امر کوي (دريز،۱۳۸۷، ص.۴۰).

## څلورم - د حقوق جزای اسلام بنسټيز اصول

### الف - د برائت الذمه اصل

هر کس تر هغې برى الذمه دى تر څو چې د نوموړي جرم ثابت شي. دا اصل په اسلامي شريعت کې ثابت دى تر څو چې د يوه کس جرم په قطعي دلايلو سره ثابت شوى نه وي، نوموړى بري الذمه ده او مجرم نه ګڼل کېږي. لېدل کېږي چې له نوموړې قاعدې څخه دوه نورې قاعدې را منځ ته کېږي.

### ۱ – په عفو کې خطا په جزا ورکولو کې له خطا څخه بهتره ده

نوموړې قاعده د نبي کريم صلى الله عليه وسلم له دې حديث شريف څخه اخېستل شوي چې فرمايي : { فإنَّ الإمامَ أن يخطئَ في العفوِ خيرٌ من أن يخطئَ في العقوبةِ} (ترمذي، درېيم ټوک، ص. ۹۴).

**ژباړه** ( په تحقيق سره که امام (قاضي) له خوا په عفو يا بخښنه کې تېروتنه، په جزا ورکولو کې له تېروتنې څخه غوره ده). د دې قاعدې مفهوم دا دى چې د يو کس محکومول او مجازات کول په هغه صورت کې سم دي، چې جرم يې په قاطع دلايلو سره ثابت شي، او د ياد عمل په جرم والي باندې شرعي نص هم منطبق وي، که چېرې د تورن په واسطه د جرم د ارتکاب په تړاو او يا په جرم باندې د نص د تطبيق په هکله شک موجود وي، نو د تورن په عفو (برائت الذمه) باندې حکم واجب دى، ځکه د شک د موجوديت په صورت کې د تورن بري ګڼل به د ټولنې په خير وي او له هغې څخه به بهتر وي چې يو بې ګناه کس د شبهې سره سره مجازات شي.

دا په دې خاطر ده چې د اسلام موخه د عامه مصلحت تامينول دي او د جرم له تر سره کولو پرته د انسان مجازات کولو په صورت کې به نوموړى مصلحت تحقق و نه مومي (نذير، ۱۳۸۹، ص.۴۵۳).

### ۲– حدود په شبهاتو سره دفع کېږي

نوموړې قاعده د رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې حديث شريف څخه اخېستل شوي چې فرمايي: { ادْرَءُوا الحُدودَ بِالشُّبُهَاتِ}. د دغې قاعدې په پلي کولو کې د حضرت عمر (رض) څخه روايت دى چې فرمايي: {لئن أعطل الحدود بالشبهات أحب إلي من أن أقيمهابالشبهات}.(العيني، ۱۴۲۰ق. شپږم ټوک، ص. ۲۹۵).

**ژباړه** : (که چېرې په شبهاتو سره حدود معطل کړم له هغې ښه ده چې د شبهاتو له موجودیت سره یې اقامه کړم).

**ب – له شرعي نص پرته نه جرم شته او نه جزا (د جزاګانو او جرمونو د قانونیت پرنسیپ):**

له شرعي نص پرته نه جرم شته او نه جزا اصل په حقوق جزای اسلام کې یو ډېر مهم اصل دی، د شریعت او قانون څخه تخلف د انسانانو په آزادۍ او حتی ژوند باندې اغېز کوي. د جزاګانو او جرمونو د قانونیت پرنسیپ څخه موخه دا ده چې هر هغه فعل او ترک فعل چې جرم ګڼل کېږي او په هغې باندې مقرره شوي جزا باید له پخوا څخه تصریح شوي وي. ښايي ځېنې پوهانو د دې اصل نسبت بیکاریا ته ورکړی، په داسې حال کې چې نوموړی اصل څوارلس پېړۍ پخوا او د بیکاریا له پېدایښت څخه یوولس پېړۍ پخوا د اسلامي شریعت په واسطه را منځ ته شوی دی، د اسلامي شریعت په واسطه د جزاګانو او جرمونو د قانونیت اصل د وضع کولو دلیل په قرآن مجید کې په یوه آیت کې نه، بلکې په ګڼو آیتونو کې بیان شوی دی. (سالم دخل الله، کُل العرب، https://shorturl.at/j6CzX). الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿ وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرَى حَتَّى يَبْعَثَ فِي أُمِّهَا رَسُولًا يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي الْقُرَى إِلَّا وَأَهْلُهَا ظَالِمُونَ ﴾(القصص:۵۹).

**ژباړه:** (ای پیغمبره) ستا رب تر هغه د کلیو هلاک کونکی نه دی، ترڅو چې د هغوی مرکزي ښار ته داسې پیغمبر واستوي، چې هغوی ته زمونږ ایتونه قرائت کړي (او توحید ته یې دعوت کړي). او مونږ د ښارونو هلاکوونکي نه یاستو مګر په داسې حال کې چې اهل یې ظالمان وي(او د پیغمبر دعوت قبول نه کړي).

او همدانګه الله جَلَّ جَلَالُهُ په سورة الإسراء کې فرمايي:﴿ مَنِ اهْتَدَى فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ وَمَنْ ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولًا ﴾ (الاسرا:۱۵). ژباړه : څوک چې سمه لار غوره کړي، نو یقینا د هغه سم تګ په خپله د همغه لپاره ګټور دی او څوک چې ګمراه وي، نو یقینا ګمراهي وبال د هماغه په غاړه دی، هېڅ پېټی اخستونکی به د بل پېټی (بار) نه په شا کوي او مونږ تر هغې پورې (هیچا ته) عذاب ورکوونکي نه یو، ترڅو چې پیغمبر ورته مبعوث کړو(ور ولېږوچې دعوت یې کړي).

همدارنګه په دې هکله په سورة النساء کې فرمايي:﴿ رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴾(النساء: ۱۶۵). ( ژباړه : دا ټول پیغمبران زېري ورکونکي او وېروونکي لېږل شوي دي، ترڅو د هغوی د استولو نه وروسته د خلکو لپاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ په مقابله کې څه سند پاتې نه شي او الله جَلَّ جَلَالُهُ په هر حال غالب او حکیم دی.

**ج - د جرم او جزا د شخصي والي اصل:** په دې معنی چې جرم شخصي عمل دی او په جرم پورې تړولې مربوطه پايلې، عواقب او جزا له مرتکب څخه پرته بل شخص ته سرايت نه کوي؛ نو د اسلام مبارک دين د مجازاتو د شخصي والي د اصل د قبلولو سره جزايي احکام تر يوې خاصې قاعدې لاندې راوستل، د دې اصل پر بنسټ يوازې هغه شخص چې د جرم مرتکب دی، مجازات کېږي او بل شخص ته جزا سرايت نه کوي، چې د دې اصل د اثبات لپاره لاندې دلايل وړاندې کوو.

الله جَلَّ جَلالُهُ فرمايي : ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى وَإِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلَى حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى إِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَمَنْ تَزَكَّى فَإِنَّمَا يَتَزَكَّى لِنَفْسِهِ وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ ﴾ (**فاطر:۱۸**). ژباړه: [او (داسې ورځ را روانه ده چې) هېڅ د پېټي پورته کوونکی به د بل کوم نفس پېټی پورته نه کړي ( که څه هم دا د هغه خپلوان وي) او که چېرې دروند بار شوی نفس خپل پېټي (بل څوک) ورڅخه (چې د بار يو څه برخه ترې په خپلو اوږو واخلي) نو د ده له بار څخه به هيڅ شی پورته نه کړي ( او بلنه به يې و نه مني) که څه هم هغه يې ډېر نږدې خپلوان هم وي، (اې پيغمبره!) يقينا ته هغه کسان ډاروې( ګټه ورته رسولی شې) کوم چې له خپل رب څخه په غيبه وېرېږي او د همدې کبله د خپل رب د رضامندی له پاره لمونځونه قايموي، او هر څوک چې په ارشاداتو سره خپل ځان) پاک کړي نو يقينا هغه د خپل ځان له پاره پاکوالی حاصل کړ، يعنې ګټه ده ته راجع ده او که څوک ذکر شوي تزکيه و نه کړي نو خاص الله جَلَّ جَلالُهُ ته ورګرځېدل دي (او خپله سزا به هلته وګوري].

همدارنګه په بل ايت کې الله جَلَّ جَلالُهُ داسې فرمايلي دي: ﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيدِ ﴾ (فصلت:۴۶). ژباړه: [بيا هم ته غمجن کېږه مه ) ځکه څوک چې صالح عمل وکړي، نو د خپل ځان لپاره يې ګټه ده او هر څوک چې بد عمل وکړي، نو فقط په خپل ځان باندې يې (بدي) بار کړه. (او ای پيغمبره) او ستا رب جَلَّ جَلالُهُ د خپلو بندګانو په حق کې هېڅ ظلم کوونکی نه دی(چې نيک عمل ته يې اجر ورنه کړي او يا د بد عمل سزا د استحقاق څخه زياته ورکړي)].

**د – د جرم او جزا تر منځ د تناسب اصل:** د اسلام جزايي نظام یو بل اصل د جرم او مجازاتو تر منځ د مساواتو تامینول دي او له هغه چوکاټ څخه تېری جواز نه لري چې اسلامي شریعت د جزا حقوقو په ډګر کې ټاکلی دی، څکه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمايي: {مَنْ بَلَغَ حَدًّا فِي غَيْرِ حَدٍّ فَهُوَ مِنْ الْمُعْتَدِينَ} (البیهقي،۱۴۲۴ق. اتم ټوک، ص. ۵۶۷). ژباړه: (څوک چې تعزیر د حدودو تر کچې جزا ته رسوي، پس نوموړی د تېري کوونکو له جملې څخه دی). پورتنی حدیث شریف په دې باندې دلالت کوي، چې د اسلام په جزايي نظام کې باید مجازات او د هغې تطبیقول باید د جرم په اندازه وي، او هیڅ څواک نه شي کولی یو څوک له جرم پرته مجازات کړي، یا مجرم ته د ترسره کړي جرم له جزا څخه بدله او یا زیاته جزا ورکړي (نذیر،۱۳۸۹، ص.۱۵۰).

**پایله**

حقوق جزای اسلام د اسلامي شریعت خورا مهمه برخه ده. د عدالت، ټولنیز نظم او امنیت ساتلو، د مجرمینو د اصلاح او تربیې په موخه را منځ ته شوی دی. د اسلام جزايي نظام د اسلامي شریعت د پنځو مصلحتونو (د دین، نفس، عقل، نسل او مال) په ساتنه باندې تمرکز کوي. اسلامي شریعت چې جزا حقوق یې یوه مهمه برخه جوړوي د منشاء، ثبات او دوام او د انساني فطرت سره د تطابق له پلوه د وضعي قوانینو په پرتله غوره والی لري، د اسلامي شریعت منشاء الهي ده په داسې حال چې کې چې وضعي قوانین د انسان په واسطه جوړ شوي دي، د اسلامي شریعت احکام غیر قابل تغییر دي. د وخت او ځای تغییر او د ټولنو تحول په هغې باندې اغېز نه لري.
د اسلام جزايي نظام تر دې حده د انساني فطرت سره همغږی او هماهنګ دی، چې په بل هېڅ نظام کې یې مثال او نظیر نه لیدل کېږي، انسان د الله جَلَّ جَلالُهُ مخلوق دی او د انسان په ټولو فطري خصوصیاتو تر هر چا الله جَلَّ جَلالُهُ ښه پوهېږي. او همدارنګه په اسلامي شریعت کې کوم عقوبات ذکر شوي هغه د دنیا او اخرت دواړو لپاره دي، مګر د انسانانو په واسطه جوړ شوی قانون دا امتیاز نه لري. یعنی په وضعي قوانینو کې جزاګانې یوازې دنیوي اړخ لري. د حقوق جزای اسلام بنسټیز قواعد چې څه باندې څوارلس سوه کاله پخوا وضع شوي دي لکه د برائت الذمه اصل، د جزاګانو د شخصي والي اصل، د جرمونو او جزاګانو د قانونیت اصل او د جرم او جزا ترمنځ

د تناسب اصل په وضعي قوانینو کې په اولسمه میلادي پېړۍ کې پاملرنه ورته وشوه. په پایله کې ویلی شو چې د اسلام جزایي نظام یو بشپړ او جامع نظام دی، چې د جرمي کړنو د تشخیص او د هغې لپاره د متناسبو جزاګانو ټاکلو لپاره را منځ ته شوی دی، مجرمین اصلاح، عدالت او ټولنیز نظم را منځ ته شي.

**وړاندیزونه**

۱ – د حقوق جزای اسلام مضمون د تدریس پر مهال دې د اسلامي شریعت او په ځانګړې توګه د حقوق جزای اسلام فلسفه او حکمت باندې دې تمرکز وشي.

۲ – د پوهنتونونو استادان او محصلین دې د حقوق جزای اسلام په باره کې لا زیاتې څېړنې تر سره کړي.

۳ – د پوهنتونونو، دیني جامعاتو او رسنیو له لارې دې د اسلام جزایي نظام په باره کې عامه پوهاوی وشي.

۴ – مدافع وکیلانو او نور ذیدخلو کسانو ته دې د حقوق جزای اسلام په باره کې روزنیز ورکشاپونه دایر شي.

# Characteristics and Fundamental Principles of Islamic Criminal Law

Senior Teaching Assistant Fazal Rahman Ayoubi, Shaikh Zayed University, Faculty of Law and Political Science, Political Science and International Relations Department

**Email:** fazal.ayoubi@yahoo.com

**Abstract**

The Islamic criminal law is considered one of the most cohesive, comprehensive, and complete systems, established with the aim of ensuring justice, maintaining public and social order, safeguarding and supporting human dignity, and reforming and rehabilitating offenders. Islamic criminal law comprises a series of rules and regulations through which crimes, felonies, and actions violating social order are identified, and corresponding proportionate punishments are determined. The Islamic criminal justice system endeavors to build a sound society by securing both worldly and afterlife interests. The primary objectives of Islamic Criminal Law are the protection of the five essential interests (Religion, Life, Intellect, Lineage, and Property). Any violation of these five essentials is considered a crime and a punishable act. Islamic Criminal Law holds superiority over positive laws in terms of its origin, stability, and alignment with human nature. The fundamental principles of Islamic criminal law include the presumption of innocence, the warding off of Hudud punishments by doubts, the principle of legality of crimes and punishments, the principle of personal responsibility for crimes and punishments, and the principle of proportionality between crime and punishment. This library-based research will analyze the characteristics and fundamental principles of Islamic Criminal Law.

**Keywords**: Crime, Interests, Islam, Penalty, Systems

## ماخذونه

القرآن الكريم

۱ - البيهقي، ابو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي. (۱۴۲۴هـ ق.) .السنن الكبرى.درېيم چاپ. اتم ټوک. نشر: دار الكتب العلمية، لبنان، بيروت.

۲ - الترمذی، ابوعيسى محمد بن عيسى بن سبوره. (-). السنن ترمذي. حققه وخرج أحاديثه وعلق عليه: بشار عواد معروف، درېيم ټوک. الناشر: دارالغرب الاسلامي، بيروت.

۳- العينى، بدرالدين. (۱۴۲۰هـ ق.). شرح البناية الهداية.اووم ټوک. الناشر: دارلكتب العلمية. بيروت. لبنان.

۴- دارمي، عبدالله بن عبدالرحمن. (۱۴۴۳هـ . ق.). سنن الدارمي. لومړی ټوک. نشر دار المعني للنشر و التوزيع، المملكة العربية السعودية.

۵- درانی واثق، احمدګل. (۱۳۹۲هـ . ش.). د اسلام جزايي حقوق.ننګرهار: مومند خپرندويه ټولنه.

٦ - درېز. غلام محی الدين.(۱۳۸۷هـ .ش.).اساسات حقوق اسلام. کابل: انتشارات فيضي.

۷- زيدان، عبدالكريم. (۱۳۸۹هـ . ش.). الوجيز في اصول الفقه. دويم ټوک. ژباړن فريد احمد هلال. ننګرهار مسلم خپرندويه ټولنه.

۸- سالم دخل الله سليمان عبد الحميد. مبدأ الشرعية الجنائية بين التشريع الإسلامي والقانون الوضعي.كُل العرب ويب پاڼه .https://shorturl.at/j6CzX

۹ - سلطاني، سلطان شاه. (۱۳۶۹هـ .ش.). حقوق جزای اسلام.کابل: انتشارات ثقافت.

۱۰- عوده، عبدالقادر. (۱۳۸۴ هـ .ش.). التشريع الجنايي الاسلامي مقارنا بالقانون الوضعي. ژباړن عبدالهادي هدايت. پېښاور: د پيغام نشراتي مرکز.

۱۱ - نذير، داد محمد. (۱۳۸۹هـ ش.). اساسات حقوق اسلام. چاپ سوم. کابل: انتشارات نعماني.

۱۲ - نذير، دادمحمد. (۱۳۸۸هـ .ش.). حقوق جزای عمومي اسلام. کابل: انتشارات رسالت

# د فقر عواملو پیژندنه او حل لارې - د خوست ولایت قلندر ولسوالي

پوهنمل مامورالدین منگل، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، ملي اقتصاد څانګه
**برېښنالیک:** mamormangal2019@gmail.com

**لنډیز**

فقر د ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي ستونزو یوه جدي ستونزه ده چې د خلکو پر ژوند، عاید، زده‌کړو، روغتیا او ټولنیزو فرصتونو مستقیم اغېز لري. په افغانستان کې د جګړو، ناامنۍ، اداري فساد او د زیربناوو نیمګړتیاوې د فقر د پراختیا اصلي عوامل ګڼل کېږي. دغه څېړنه د خوست ولایت د قلندرولسوالۍ د فقر د عواملو پېژندنه او حل لارې د تحلیل لپاره ترسره شوې ده.دغه څېړنه یوه کیفي څېړنه ده ، چې د څېړنې لپاره معلومات د پوښتنلیک په واسطه راټول شوي دي د څېړنې پایلې ښیي چې د سیمې د بېوزلۍ عمده عوامل عبارت دي له: د کاري فرصتونو محدودوالی، د کرنې وروسته پاتې وضعیت، د ښوونې او روزنې ټیټه کچه، ځوانانو اقتصادي ونډې نشتوالی، د دولت لخوا بې وزلو ته د توجه کموالی، د زیربناوو نیمګړتیاوې، ناوړه رواجونه او د طبیعي افتونو پرله‌پسې پېښې. څېړنه وړاندیز کوي چې د فقر د کموالو لپاره باید د کاري فرصتونو رامنځته کول، د کرنې عصري کول، د پوهنې پراختیا، د روغتیایي خدماتو ښه والی، ځوانانود اقتصادي ونډې زیاتول، د ناوړه رواجونو د مخنیوي په پار عامه پوهاوی، د کاري نیرو د مهارتونو د لوړولو لپاره د علمي سمینارونو په کار اچول او نورو په اړوند د عملي اقدامات ونیول شي. د دې څېړنې پایلې د سیمه‌ییزو پالیسیو د جوړولو، د پرمختیایي پروژو د تطبیق او د بېوزلو خلکو د ژوند د کیفیت د لوړولو لپاره مهمې لارښوونې وړاندې کوي .

**کلیدي ټکي :** صنعت ، عوامل، فقر، قلندر ولسوالي، ناوړه رواجونه.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

نوموړی تحقیق د خوست ولایت د قلندرولسوالی اړوند ساحه کې تر سره شوی دی ، خوست د افغانستان د څلوردیرش ولایتونو څخه یو ولایت دی چې د هیواد په جنوب ختیځ کې موقعیت لري نوموړی ولایت څوارلس لس ولسوالي او دری اداري واحدونه لري، خوست ولایت د افغانستان په جنوب ختیځ کې پروت دی چې د پاکستان له کرمې ایجنسی او شمالي وزیرستان سره پوله لري .د قلندر ولسوالي د خوست په شمال لویدیځه برخه کې موقعیت لري .د سیمې خلک یې زیاتره د کرنې او مالدارۍ پر عوایدو تکیه کوي .خو د اوبو رسولو محدود سیستمونه، د کرنې عصري وسایلو نشتوالی او د بازار موندنې نیمګړتیاوې د دې لامل شوي چې سیمه د اقتصادي پرمختګ له سترو فرصتونو بې برخې پاتې شي. نوما هم و غوښتل چې هغه عوامل چې د فقر په رامنځته کېدو کې رول لري وڅیړم او نتیجه یي راوباسم. فقر یوازې د عاید ټیټوالی نه دی، بلکې د زده‌کړو، روغتیا، ټولنیزو فرصتونو، سیاسي ګډون او د ژوند د اساسي اړتیاوو د نه پوره کېدو ګډ حالت ته ویل کېږي .په نړیواله کچه د نړیوال بانک پر بنسټ هغه کسان چې د ورځې له ۲.۱۵ ډالرو څخه کم عاید لري، د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي .په افغانستان کې بیا د اوږدو جګړو، د نړیوالو مرستو د کمښت او نورو له امله د فقر کچه په خورا لوړ ردیف کې قرار لري. د فقر د عواملو پېژندنه او د هغوی حل لارې ځکه مهم دي چې د یوه ملت اقتصادي پرمختګ او ټولنیز ثبات یوازې هغه وخت تضمین کېدای شي، کله چې وګړي له فقر څخه خلاص شي .کله چې خلک له بېوزلۍ سره مخ وي، نو د ښوونې او روزنې، روغتیا، او ټولنیزو اړیکو فرصتونه له منځه ځي، چې دا خپله د یوې ټولنې د اوږدمهاله پرمختګ مخه نیسي.

نو کوم پوښتنلیک چې په دې اړوند ترتیب شوی دی پدې کې (۱۲) پوښتنې د د فقر اړوند عواملو باندې راځرخي مطرح شوي دي . نوموړی پوښتنلیک په اړونده ولسوالی کې د نمونې په ډول (۱۲۰) کسانو ته د هر کلی د نفوسو په تناسب باندې توزیع شوی دی، ترڅو د پورته ذکر شویو عواملو په اړوند معلومات را ټول کړم.

## د څېړنې اهمیت

د فقر د عواملو پېژندنه او د هغوی حل لارې ځکه مهمه ده چې د یوه ملت اقتصادي پرمختګ او ټولنیز ثبات یوازې هغه وخت تضمین کېدای شي، کله چې وګړي له فقر څخه خلاص شي. کله چې خلک له بېوزلۍ سره مخ وي، نو د ښوونې او روزنې، روغتیا، او ټولنیزو اړیکو فرصتونه له منځه ځي، چې دا خپله د یوې ټولنې د اوږدمهاله پرمختګ مخه نیسي

### د څېړنې پوښتنې

۱. کوم عوامل دي چې د قلندرولسوالۍ خلکو د فقر سبب شوي دي؟
۲. د فقر د کمولو لپاره کومې اغېزمنې ستراتیژۍ او حل لارې شته؟

### د څېړنې موخې

#### اصلي موخه

۱. د خوست ولایت قلندرولسوالۍ کې د فقر د عواملو پېژندل او د هغې د کمولو لپاره د حل لارو وړاندې کول.

#### فرعي موخې

۱. د کاري فرصتونو د نشتوالي اغېزو تحلیل.
۲. د کرنې او مالدارۍ د ستونزو ارزونه.
۳. په نوموړي ولسوالۍ کې د مختلفو ځایونو د عایداتي توپیرونو او د دوی د غوښتنو تثبیت کول او هغوی ته د حل لارې پیدا کول ترڅو د اړوند ولسوالۍ خلک یو متوازن ژوند خوا ته سوق او اداره کړو.

### د فقر تعریف

فقر هغه حالت دی چې انسان د ژوند د اساسي اړتیاوو د پوره کولو وس نه لري، د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام(UNDP,2023,p.17). له مخې، فقر د مادي محرومیت ترڅنګ، د انساني حقونو، عزت او فرصتونو د نشتوالي معنا هم لري.

فقر د بشري تاریخ له لومړیو پړاوونو سره مل پاتې شوی دی(Todaro & Smith, 2020,p.132). په اسلامي تمدن کې د فقر د له منځه وړلو لپاره ځانګړې لارې چارې رامنځته شوې وې، لکه زکات، وقف،صدقات او بیت المال چې د ټولنې بې وزله طبقه یې پوښله په معاصرو ټولنو کې، اقتصادي، سیاسي، او ټولنیز عوامل د فقر دوام سبب کیږي( Al-Qaradawi, 1999, p.83 ).

### د فقر ډولونه

د فقر د څېړنې لپاره اقتصادپوهان او ټولنپوهان بېلابېل ډولونه ټاکي، چې تر ټولو مهم یې دا دي:

**الف. مطلق فقر** . دا هغه حالت دی چې انسان حتی د بقا لپاره اړین توکي نه‌شي پیرلی، لکه کافي خواړه، پاکې اوبه او جامې. د نړیوال بانک د ۲۰۲۲ راپور له مخې، هغه څوک چې هره ورځ له 2.15 ډالرو کم عاید لري، په مطلق فقر کې ژوند کوي(عادل او ورین،۱۳۹۴،ص.۳۲۲).

**ب. نسبي فقر**. دا هغه حالت دی چې یو کس یا کورنۍ د خپلې ټولنې د منځنۍ کچې له معیار څخه ښکته ژوند کوي، که څه هم د ژوند بنسټيزې اړتیاوې يې پوره دي(نورعباد،حمیدالله،۱۳۹۳،ص.۹۴).

**ج. ذهني فقر**. اسلامي علماو یادونه کړې چې فقر یوازې مادي نه دی، بلکې کله کله د قناعت نشتوالی، حرص او حسادت هم د «ذهني فقر» لامل ګرځي( دودیال،۱۳۹۶، ص.۴۷). رسول الله ﷺ فرمایي: «لیس الغنی عن کثرة العرض، و لکن الغنی غنی النفس» ژباړه : شتمني د مال په ډېروالي نه ده، بلکې د زړه شتمني ده.

**د فقر کرښه**. د عاید هغه اندازه چې یوه کورنۍ یا یو شخص یي تر لاسه کوي که د هغه څخه لږ کم شي په فقر یا بې وزلۍ کې وګڼل شي یا د یوې کورنۍ د حداقل ژوندې پاتې کېدو عاید عبارت د فقر له کرښې څخه ده(دودیال، ۱۴۰۲،ص. ۳۳۱).

### د څېړنې میتودولوجي

دغه څېړنه یوه ساحوي کیفي څېړنه ده، چې لومړني او دويمي لاس معلوماتو پّ اساس چمتو شوي ده، چې لومړني لاس معلومات مې د پوښتنلیک له لارې راټول کړي او وروسته تحلیل کړي دي او همدارنګه دویمي لاس معلومات مې د مختلفو معتبرو علمي کتابونو ، مقالو ، مجالو او انټرنیټي سایټونو څخه راټول کړي دي. نوموړي څېړنه د خوست ولایت اړوند قلندر ولسوالۍ کې د (فقر عواملو د پېژندلو او هغوی ته د حل لارو په موندل) په موخه ترسره شوي ده، داچې نوموړي ولسوالي د خوست په سطحه یوه کوچنۍ او د کم نفسو لرونکي ولسوالي نو په دې اساس ۱۲۰ کسان د نمونې په ډول انتخاب شوي دي. اوس هغه معلومات چې په نوموړي ولسوالۍ کې د اړوند موضوع په اړه د پوښتنلیک په ذریعه را ټول شوي دي په لاندې ډول په تفصیل سره تحلیل شوي دي: کله مو چې معلومات راټول کړل، نو خامخا په معلوماتو کې یو څه اندازه نواقص موجود وي څکه چې خلک په ساحه کې اول ددې ډول څېړنوسره اشنايي نه لري او بل داچې په هغه قسم چې لازمه ده نه پوهیږي ،اول به نوموړي عوامل یو یو ورته تشریح کوي او وروسته ځوابونه ورکوي چې ما هم همداسې وکړل. د نوموړي څېرنې لپاره چې کوم پوښتنلیک ترتیب شوی په هغه کې ۱۲ پوښتنې مطرح شوي چې د ځوابونو مکمله تشریح په لاندې ډول حلاصه شوي ده:

۱. پوښتنه: د کار نشتوالی د فقر په رامنځته کېدو کې څومره رول لري؟

د پورته پوښتنې په اړه چې د خلکو څخه معلومات وغوښتل شول جمله ۱۲۰ کسانو ځواب ورته ویلی دی چې د هغوی نتیجه په لاندې جدول کې خلاصه شوې ده

**۱ جدول** : د ۱ پوښتنې په اړه د ځوابوونکو نظر او د هغوی د فیصدی اندازه

| شماره | د کسانو تعداد |  | درجه | فیصدي |
|---|---|---|---|---|
|  | نارینه | ښځینه |  |  |
| ۱ | ۲۵ | ۰ | ډیرزیات | ۲۱٪ |
| ۲ | ۵۰ | ۰ | زیات | ۴۱.۵٪ |
| ۳ | ۰ | ۰ | نه پوهیږم | ۰ |
| ۴ | ۴۵ | ۰ | کم | ۳۷.۵٪ |
| ۵ | ۰ | ۰ | ډیرکم | ۰ |
| ټول | ۱۲۰ | ۰ |  | ۱۰۰٪ |

پنځه ویشت کسان وایې چې ډیر زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۲۱٪ ده ، پنځوس کسان وايي چې زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۴۱.۵٪ ده، پنځه څلویښت کسان وايي چې کم تاثیر لري، چې فیصدي یې ۳۷.۵٪ ده .

۲. پوښتنه: محتاجو او ضرورت لرونکو خلکو ته د دولت لخوا توجه نه کول د فقر په رامنځته کېدو کې څومره رول لري ؟

د پورته پوښتنې په اړه چې د خلکو څخه معلومات وغوښتل شول د هغوی نتیجه یا د ذکر شوي عامل تاثیر په فقر باندې په لاندې جدول کې خلاصه شوی ده

۲ . **جدول** : د ۲ پوښتنې په اړه د ځوابوونکو نظر او د هغوی د فیصدۍ اندازه

| شماره | د کسانو تعداد | | درجه | فیصدي |
|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | | |
| ۱ | ۲۵ | ۰ | ډیرزیات | ۲۱٪ |
| ۲ | ۸۹ | ۰ | زیات | ۷۴٪ |
| ۳ | ۱ | ۰ | نه پوهیږم | ۱٪ |
| ۴ | ۵ | ۰ | کم | ۴٪ |
| ۵ | ۰ | ۰ | ډیرکم | ۰ |
| ټول | ۱۲۰ | ۰ | | ۱۰۰٪ |

پنځه ویشت کسان وایې چې ډیر زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۲۱٪ ده، نهه اتیا کسان وایي چې زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۷۴٪ ده، یو نفر وایي نه پوهیږم او پنځه نفر وایې چې کم تاثیر لري چې فیصدي یې ۵٪ ده. نو کله چې د دولت لخوا فقراوو ته توجه زیاتوالی کوي د هغوی فقر کموالی کوي ،

۳. پوښتنه: د فقرا وو تنبلي ، سعیې او کوښش نه کول د فقر په رامنځته کېدو کې څومره رول لري؟
د پورته پوښتنې په اړه چې د خلکو څخه معلومات وغوښتل شول د هغوی نتیجه یا د ذکر شوي عامل تاثیر په فقر باندې په لاندې جدول کې حلاصه شوی ده.

۳ . **جدول** : د ۳ پوښتنې په اړه د ځوابوونکو نظر او د هغوی د فیصدۍ اندازه

| شماره | د کسانو تعداد | | درجه | فیصدي |
|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | | |
| ۱ | ۴۸ | ۰ | ډیرزیات | ۴۰٪ |
| ۲ | ۷۱ | ۰ | زیات | ۵۹٪ |
| ۳ | ۱ | ۰ | نه پوهیږم | ۱٪ |
| ۴ | ۰ | ۰ | کم | ۰ |
| ۵ | ۰ | ۰ | ډیر | ۰ |
| ټول | ۱۲۰ | ۰ | | ۱۰۰٪ |

اته څلویښت کسان وایی چې ډیر زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۴۰٪ ده، یواویا کسان وایي چې زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۵۹٪ ده، یو نفر وایي نه پوهیږم چې فیصدي یې ۱٪ ده.

۴ پوښتنه: ناوړه رواجونه د فقر په زیاتولو کې څومره تاثیرلري ؟

د پورته پوښتنې په اړه چې د خلکو څخه معلومات وغوښتل شول د هغوی نتیجه یا د ذکر شوي عامل تاثیر په فقر باندې په لاندې جدول کې حلاصه شوی ده

۴ . جدول : د ۴ پوښتنې په اړه د ځوابوونکو نظر او د هغوی د فیصدی اندازه

| شماره | د کسانو تعداد | | درجه | فیصدي |
|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | | |
| ۱ | ۸۰ | ۰ | ډیرزیات | ٦٦.٧٪ |
| ۲ | ۲۰ | ۰ | زیات | ١٦.٦٪ |
| ۳ | ۰ | ۰ | نه پوهیږم | ۰ |
| ۴ | ۱۲ | ۰ | کم | ۱۰٪ |
| ۵ | ۸ | ۰ | ډیرکم | ٦.٧٪ |
| ټول | ۱۲۰ | ۰ | | ۱۰۰٪ |

اتیا کسان وایی چې ډیر زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۷۵٪ ده، شل کسان وایي چې زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۱۵٪ ده، دوولس کسان وایي چې کم تاثیر لري او اته کسان وایي چې ډیر کم تاثیر لري، چې د دوی دواړو فیصدي ۱۰٪ ده.

۵ پوښتنه: د فقیر تولد کېدل د فقر په رامنځته کېدو کې څومره رول لري ؟

د پورته پوښتنې په اړه چې د خلکو څخه معلومات وغوښتل شول د هغوی نتیجه یا د ذکر شوي عامل تاثیر په فقر باندې په لاندې جدول کې حلاصه شوی ده

۵ . **جدول** : د ۵ پوښتني په اړه د ځوابوونکو نظر او د هغوی د فیصدۍ اندازه

| شماره | د کسانو تعداد |  | درجه | فیصدي |
|---|---|---|---|---|
|  | نارینه | ښځینه |  |  |
| ۱ | ۲ ۰ | ۰ | ډیرزیات | ۱٦.۷٪ |
| ۲ | ۱ | ۰ | زیات | ۰.۸٪ |
| ۳ | ۳۵ | ۰ | نه پوهیږم | ۲۹.۲٪ |
| ۴ | ۵۸ | ۰ | کم | ۴۸.۳٪ |
| ۵ | ۲۴ | ۰ | ډیرکم | ۲۰٪ |
| ټول | ۱۲۰ | ۰ |  | ۱۰۰٪ |

شل کسان وايی چې ډیر زیات تاثیر لري، چې فیصدي يې ۱٦.۷٪ ده، یو کس وايي چې زيات تاثير لري، چې فیصدي يې ۱٪ ده، پنځه دیرش کسان وايې چې نه پوهیږم ، اته پنځوس کسان وايې چې کم تاثیر لري او ځلورویشت کسان وايي چې ډیر کم تاثیر لري، چې د دوی فیصدۍ په ترتیب سره ۲۹.۲ ، ۴۸.۳ او ۲۰٪ ده .

٦ پوښتنه: د صنعت د سکتور کمزورتیا د فقر په رامنځته کېدو کې څومره رول لري ؟

د پورته پوښتني په اړه چې د خلکو څخه معلومات وغوښتل شول د هغوی نتیجه یا د ذکر شوي عامل تاثیر په فقر باندې په لاندې جدول کې حلاصه شوی ده

٦ . **جدول** : د ٦ پوښتني په اړه د ځوابوونکو نظر او د هغوی د فیصدۍ اندازه

| شماره | د کسانو تعداد |  | درجه | فیصدي |
|---|---|---|---|---|
|  | نارینه | ښځینه |  |  |
| ۱ | ۱ | ۰ | ډیرزیات | ۰.۸٪ |
| ۲ | ۱۳ | ۰ | زیات | ۱۰.۸٪ |
| ۳ | ۰ | ۰ | نه پوهیږم | ۰ |
| ۴ | ۷۰ | ۰ | کم | ۵۸.۴٪ |
| ۵ | ۳٦ | ۰ | ډیرکم | ۳۰٪ |
| ټول | ۱۲۰ | ۰ |  | ۱۰۰٪ |

یو کس وایی چې ډیر زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۰.۸٪ ده، دیارلس کسان وایې چې زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۱۰.۸٪ ده، اویا کسان وایې کم تاثیر لري او شپږدیرش کسان وایې چې ډیر کم تاثیر لري، چې د دوی فیصدی په ترتیب سره ۵۸.۴ او ۳۰٪ ده .

۷. پوښتنخه: د پیسو د مدیریت او صرفه جویې نه شتون د فقر په رامنځته کېدو کې خومره رول لري ؟

د یادې پوښتنې په اړه چې د خلکو څخه معلومات وغوښتل شول د هغوی نتیجه یا د ذکر شوي عامل تاثیر په فقر باندې په لاندې جدول کې خلاصه شوی ده

**۷ . جدول :** د ۷ پوښتنې په اړه د ځوابوونکو نظر او د هغوی د فیصدی اندازه

| شماره | د کسانو تعداد | | درجه | فیصدي |
|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | | |
| ۱ | ۳۵ | ۰ | ډیرزیات | ۲۹.۲٪ |
| ۲ | ۷۸ | ۰ | زیات | ٦۵٪ |
| ۳ | ۱ | ۰ | نه پوهیږم | ۰.۸٪ |
| ۴ | ٦ | ۰ | کم | ۵٪ |
| ۵ | ۰ | ۰ | ډیرکم | ۰ |
| ټول | ۱۲۰ | ۰ | | ۱۰۰٪ |

پنځه دیرش کسان وایی چې ډیر زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۲۹.۲٪ ده، اته اویا کسان وایې چې زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ٦۵٪ ده، او شپږ کسان وایې کم تاثیر لري چې فیصدي یې ۵٪ ده .

۸. پوښتنه: د رفاه د ایجاد لپاره د انګیزې نشتوالی د فقر په رامنځته کېدو کې خومره رول لري ؟

د یادې پوښتنې په اړه چې د خلکو څخه معلومات وغوښتل شول د هغوی نتیجه یا د ذکر شوي عامل تاثیر په فقر باندې په لاندې جدول کې خلاصه شوی ده

**۸. جدول** : د۸ پوښتنې په اړه د ځوابوونکو نظر او د هغوی د فیصدۍ اندازه

| شماره | د کسانو تعداد | | درجه | فیصدي |
|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | | |
| ۱ | ۰ | ۰ | ډیرزیات | ۰ |
| ۲ | ۳ | ۰ | زیات | ۳٪ |
| ۳ | ۰ | ۰ | نه پوهیږم | ۰ |
| ۴ | ۵۹ | ۰ | کم | ۴۹٪ |
| ۵ | ۵۸ | ۰ | ډیرکم | ۴۸٪ |
| ټول | ۱۲۰ | ۰ | | ۱۰۰٪ |

درې کسان وايي چې زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۲.۵٪ ده، نهه پنځوس کسان وايي چې کم تاثیر لري، چې فیصدي یې ۴۹٪ ده، او اته پنځوس کسان وايي ډېر کم تاثیر لري چې فیصدي یې ۴۸٪ ده .

۹. پوښتنه: په مخدره موادو اخته کیدل د فقر په رامنځته کیدو کې څومره رول لري ؟

د پورته پوښتنې په اړه چې د خلکو څخه معلومات وغوښتل شول د هغوی نتیجه یا د ذکر شوي عامل تاثیر په فقر باندې په لاندې جدول کې حلاصه شوی ده

**۹. جدول** : د۹ پوښتنې په اړه د ځوابوونکو نظر او د هغوی د فیصدۍ اندازه

| شماره | د کسانو تعداد | | درجه | فیصدي |
|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | | |
| ۱ | ۴۱ | ۰ | ډیرزیات | ۳۴.۲٪ |
| ۲ | ۵۵ | ۰ | زیات | ۴۵.۸٪ |
| ۳ | ۰ | ۰ | نه پوهیږم | ۰ |
| ۴ | ۱۷ | ۰ | کم | ۱۴٪ |
| ۵ | ۷ | ۰ | ډیرکم | ٦٪ |
| ټول | ۱۲۰ | ۰ | | ۱۰۰٪ |

يو څلويښت کسان وايي چې ډير زيات تاثير لري، چې فيصدي يې ۳۴.۲٪ ده، پنځه پنځوس کسان وايي چې زيات تاثير لري، چې فيصدي يې ۴۵.۸٪ ده، اوه لس کسان وايي کم تاثير لري چې فيصدي يې ۱۴٪ ده او اوه کسان وايې چې ډير کم تاثير لري، چې فيصدي يې ٦٪ ده.

۱۰. پوښتنه: د هغو کارونو چې فقيران د هغې د اجرآ کولومهارت او توانايي لري مزدونه يي ټيټ او کم دي د فقر په رامنځته کېدو کې څومره رول لري ؟

د پورته پوښتني په اړه چې د خلکو څخه معلومات وغوښتل شول د هغوی نتيجه يا د ذکر شوي عامل تاثير په فقر باندي په لاندې جدول کې خلاصه شوې ده .

**۱۰. جدول** : د ۱۰ پوښتني په اړه د ځوابوونکو نظر او د هغوی د فيصدی اندازه

| شماره | د کسانو تعداد | | درجه | فيصدي |
|---|---|---|---|---|
| | نارينه | ښځينه | | |
| ۱ | ۴۲ | ۰ | ډيرزيات | ۳۵٪ |
| ۲ | ۷٦ | ۰ | زيات | ٦۴٪ |
| ۳ | ۰ | ۰ | نه پوهيږم | ۰ |
| ۴ | ۲ | ۰ | کم | ۱٪ |
| ۵ | ۰ | ۰ | ډيرکم | ۰ |
| ټول | ۱۲۰ | ۰ | | ۱۰۰٪ |

دوه څلويښت کسان وايي چې ډير زيات تاثير لري، چې فيصدي يې ۳۵٪ ده، شپږاويا کسان وايي چې زيات تاثير لري، چې فيصدي يې ٦۴٪ ده، او دوه کسان وايې کم تاثير لري چې فيصدي يې ۱٪ ده

۱۱. پوښتنه: د کورنۍ په منځ کې بې اتفاقي د فقر په رامنځته کېدو کې څومره رول لري ؟

د ذکر شوي پوښتني په اړه چې د خلکو څخه معلومات وغوښتل شول د هغوی نتيجه يا د ذکر شوي عامل تاثير په فقر باندې په لاندې جدول کې خلاصه شوی دی.

**۱۱. جدول** : د ۱۱ پوښتني په اړه د ځوابوونکو نظر او د هغوی د فیصدۍ اندازه

| شماره | د کسانو تعداد | | درجه | فیصدي |
|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | | |
| ۱ | ۵۲ | ۰ | ډیرزیات | ۴۳.۳٪ |
| ۲ | ٦٦ | ۰ | زیات | ۵۵٪ |
| ۳ | ۰ | ۰ | نه پوهیږم | ۰ |
| ۴ | ۲ | ۰ | کم | ۱.۷٪ |
| ۵ | ۰ | ۰ | ډیرکم | ۰ |
| ټول | ۱۲۰ | ۰ | | ۱۰۰٪ |

دوه پنځوس کسان وایی چې ډیر زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۴۳.۳٪ ده، شپږشپته کسان وایي چې زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۵۵٪ ده، او دوه کسان وایي کم تاثیر لري چې فیصدي یې ۱.۷٪ ده

۱۲ پوښتنه: د کاري نیرو د مهارتونو کموالی د فقر په رامنځته کېدو کې خومره رول لري ؟

د پورته ذکر شوي پوښتني په اړه چې د خلکو څخه معلومات وغوښتل شول د هغوی نتیجه یا د ذکر شوي عامل تاثیر په فقر باندې په لاندې جدول کې حلاصه شوی ده

**۱۲. جدول** : د ۱۲ پوښتني په اړه د ځوابوونکو نظر او د هغوی د فیصدۍ اندازه

| شماره | د کسانو تعداد | | درجه | فیصدي |
|---|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | | |
| ۱ | ۳۵ | ۰ | ډیرزیات | ۲۹.۲٪ |
| ۲ | ٦۱ | ۰ | زیات | ۵۰.۸٪ |
| ۳ | ۰ | ۰ | نه پوهیږم | ۰ |
| ۴ | ۱۸ | ۰ | کم | ۱۵٪ |
| ۵ | ٦ | ۰ | ډیرکم | ۵٪ |
| ټول | ۱۲۰ | ۰ | | ۱۰۰٪ |

پنځه دیرش کسان وایې چې ډیر زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۲۹.۲٪ ده، یوشپېته کسان وایي چې زیات تاثیر لري، چې فیصدي یې ۵۰.۸٪ ده،اته لس کسان وایې کم تاثیر لري چې فیصدي یې ۱۵٪ ده او شپږ کسان وایې چې ډیر کم تاثیر لري، چې فیصدي یې ۵٪ ده

**موندنې**

د نوموړي څېړنې په اړه چې کوم عوامل د فقر په اړوند په پوهنتلیک مطرح شوي وو، ټول د فقر په رامنځته کېدو کې رول لري، اما د تاثیر درجه یې یو او بل ته فرق کوي چې ځینې یې ډیر زیات تاثیر لري او ځینې کم. چې د یادو عواملو له جملې څخه ناوړه رواجونه ، د کورنۍ د غړو په منځ کې بې اتفاقي، د فقراوو تنبلي، د مهارت کموالی ، په مخدره موادو اخته کېدل او او د مزد ټیټوالی د فقر په رامنځته کېدو کې ډیر زیات تاثیر لري او په دویمه کتګورۍ کې بیا د صنعت سکتور کمزورتیا، د کاري فرصتونو کموالی او د دولت لخوا فقراوو ته توجه نه کول شامل دي

**نتیجه ګیري**

د دې تحقیقي مقالې له لیکلو ، ترتیب او تحلیل څخه دې نتیجې ته رسېږم چې ټول هغه عوامل چې د پوهنتلیک په دوولسو پوښتنو کې مطرح شوي وو د فقر په رامنځته کېدو کې رول لري، اما د تاثیر درجه یې یو او بل ته فرق کوي چې ځینې یې ډیر زیات تاثیر لري او ځینې کم. چې د یادو عواملو له جملې څخه ناوړه رواجونه ، د کورنۍ د غړو په منځ کې بې اتفاقي، د فقراوو تنبلي، د مهارت کموالی ، په مخدره موادو اخته کېدل او او د مزد ټیټوالی د فقر په رامنځته کېدو کې ډیر زیات تاثیر لري.

په دویمه کتګورۍ کې بیا د صنعت سکتور کمزورتیا، د کاري فرصتونو کموالی او د دولت لخوا فقراوو ته توجه نه کول شامل دي. نو په دې ارتباط ویلای شو، که چیرې پورته ذکر شویو عواملو ته د حل په موخه د خپل اړوند سکتور لخوا رسیدګي وشي، په نوموړي ولسوالۍ کې د فقر سطحه راټیټدای شي او په مقابل کې د اقتصادي رشد کچه لوړیدای شي چې دا بیا مستقیم د هیواد په اقتصادي وده باندې مثبت تاثیر لري، چې دې سره جوخت د خلکو د ژوند سطحه هم لوړیږي .

**وړاندیزونه**

۱. د ناوړه رواجونو د مخنیوي په پار په اسلامي او اقتصاد لحاظ د عامه پوهاوي سمینارونو دائرول.

۲. د علمي رشد لپاره په نوموړي ساحه کې د نویو علمي برنامو ایجاد او د موجوده برنامو په کیفي او کیمي لحاظ لوړول.

۳. د سیمه‌ییزو تولیدي فابریکو او پروسس مرکزونو جوړول (لکه د لبنیاتو، میوو او غنمو پروسس) تر څو د خلکو د عاید سرچینه پراخه شي

٤. د مسلکي او حرفوي زده‌کړو مرکزونو جوړول (نجاري، ټکنالوژي، خیاطي او نور) تر څو ځوانان د عاید د دوامدارو فرصتونو سره بلد شي.

۵. د روغتیایي مرکزونو پراختیا او تجهیز، څو خلکو ته اسانه او ارزانه روغتیایي خدمتونه برابر شي.

٦. د اوبو د ذخیره کولو او زېرمه کولو سیستمونه جوړول، څو وچکالي او طبیعي ستونزې د کرنې او خلکو پر ژوند لږ اغېز وکړي.

۷. د ملي پروژو په تطبیق کې ځانګړې پاملرنه او د دولت لخوا په مستقیم او غیر مستقیم ډول د بېوزلو لاسنیوی او مرستې ورسره کول.

# Identification of the Causes of Poverty and Proposed Solutions – Qalandar District, Khost Province

Senior teaching assistant Mamordin mangal, Shaikh Zayed university, faculty of economic, deportment of national economics
**Email**: mamormangal2019@gmail.com

**Abstract**
Poverty is a serious social, economic, and political problem that directly affects people's lives, income, education, health, and social opportunities. In Afghanistan, war, insecurity, administrative corruption, and lack of infrastructure are considered the main factors contributing to the spread of poverty. This research was conducted to identify and analyze the causes of poverty and possible solutions in Qalandar District of Khost Province. This study is a qualitative research, and the data were collected through a questionnaire. The findings show that the major causes of poverty in the area include: limited job opportunities, underdeveloped agricultural conditions, low level of education, lack of youth participation in the economy, insufficient government attention to the poor, infrastructural deficiencies, harmful cultural practices, and repeated natural disasters. The research recommends that in order to reduce poverty, practical measures should be taken such as creating employment opportunities, modernizing agriculture, expanding education, improving health services, increasing youth economic participation, raising public awareness to prevent harmful traditions, and organizing academic seminars to enhance workforce skills. The results of this study provide important guidance for formulating local policies, implementing development projects, and improving the quality of life of impoverished communities.

**Keywords:** Factors، Harmful Traditions، Industry, Poverty, Qalandar District.

**ماخذونه**

دودیال، محمدبشیر. (۱۳۹٦). د اقتصادي پرمختیا تیوري. جلال اباد: گودر کتاب خپرنځی .

دودیال، محمدبشیر. (۱۴۰۲). د اقتصاد تشریحي قاموس. ننگرهار: ننگرهار پوهنتون.

عادل، عبدالله او ورین، امان الله. (۱۳۹۴). اقتصادي اصطلاحات. جلال اباد: کتاب خپرندویه اداره.

نورعباد، حمیدالله .(۱۳۹۳). اقتصادماکرو پیشرفته. کابل: کتب فروشي الهدی.

Al-Qaradawi, Yusuf. (1999). Fiqh al-Zakat. Dar al-Tawhid.

Todaro, Michael P., and Smith, Stephen C(2020). Economic Development. 13th Edition, Pearson.

UNDP. Human Development Report.( 2023). United Nations, New York.

World Bank. World Development Report .(2022). Poverty and Inequality. Washington, D.C.

# په خوست ولایت کې د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ په وړاندې خنډونه

پوهنمل حفیظ الله مین امین، شیخ زاید پوهنتون، اقتصادپوهنځی، منجمنت او اداره تشبثات څانګه
**برېښنالیک:** hafizullahmeenamin@szu.edu.af

**لنډیز**

دا چې افغانستان یو مخ پر ودې هېواد دی او په اوسنیو شرایطو کې د دې امکانات نه لري، چې لوی او ثقیله صنایع چې اتومات، الکترونیزه او پوره میکانیزه وي، شروع کړي نو ډېری کاروبارونه کوچني کاروبارونه دي او د دا ډول کاروبارونو ایجاد ورته مناسب او مهم دی او په همدې اساس کاروباریان هم د دغه ډول کاروبارونو د پرمختګ په فکر بازار ته راوړاندې شي او کله چې په کاروبار کې له ستونزو او خنډونو سره مخامخ شي پرته لدې چې ستونزې درک کړي او فرصتونه ولټوي ډېر ژر کاروباري نړۍ ته شا کړي او یا هم خپل فعالیتونه محدود کړي او د پرمختګ هیلې قطعه کړي. دا یوه کیفي څېړنه ده چې لومړني معلومات یې د پوښتنلیکونو (Questionnaire) په واسطه تر لاسه شوي. د دې څېړنې د تحلیل لپاره د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ پر وړاندې د خنډونو مربوطه د مختلفو متحولینو څخه استفاده شوي ده.

دا څېړنه په خوست ولایت کې ترسره شوي، هغه ننګونې او خنډونه چې د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ مخه ډب کړي د هغی له جملې څخه د بازارموندنې لوړ مصارف، د خطراتو د مدیریت مسلکېتوب نشتون، د نورو هېوادونو توکو سره د رقابت توانایي نشتون او داسې نورو څخه یادونه کولای شو. د یادې څېړنې څخه کوچني کاروباریان او دولت دواړه استفاده کولای شي.

**کلیدي ټکي:** بازار پرمختګ، خنډونه، رقابت، فرصتونه، کوچني کاروبارونه.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

**ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ(۱)، مَآ أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ(۲) وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ(۳).**

ژباړه (نون؛ قسم دی په قلم او په هغه څه چې لیکونکی یې لیکي، ته د خپل رب په پېرزوینې سره لیونی نه یې او په یقیني ډول ستا لپاره داسې اجر دی چې لړی یې هیڅکله پای ته رسېدونکي نه ده) (سورة القلم ۱-۳ ایات).

کوچني کاروبارونه هغه کاروبارونه دي چې د محدودو کاروکوونکو، محدودې پانګې او محدود عاید درلودونکې وي او یا هم که لږ یې نور هم مشخص کړو کوچني کاروبارونه هغه کاروبارونه دي چې د کارمندانو شمیر یې ( ۱-۴۹) کسانو پورې وي. دغه ډول کاروبار لږې سرمایې ته اړتیا لري او عایدات یې هم د ثقیله او درنو صنایعو او غټې پانګونې په پرتله لږ وي. په کوچنیو کاروبارونو کې د ګڼ کتلوي صنعت په پرتله کم شمیر کسان په کار بوخت وي. کله چې په اقتصاد کې د نویو کاروبارونو په اړه خبرې کېږي، نو ډېر وخت د کاروبار له نوم سره د ډېرې پانګونې، د کاروبار لپاره د پراخ ځای، او ډېر امکانات معنا او مفهوم ذهن ته راځي. حال دا چې هر عاید لرونکی کار او فعالیت په خپله یوه پانګونه او کاروبار دی. توپیر په دې کې دی چې پرمختللي هېوادونه له کوچنیو کاروبارونو پیل کوي او بیا ستونزو او خنډونو سره د مقابلې وروسته ثقیله صنعت او لویې پانګونې ته رسېږي خو په وروسته پاتې هېوادونو کې بیا کاروبارونو ډېر کم وخت د پرمختګ هېلې ته د رسیدو لپاره په ځان ستونزي مني او د خنډونو د له منځه وړلو هڅه کوي.

همدی ضرورت ته په کتو ما هم خپله څېړنه په دې برخه تر سره کړې چې راپور یې د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ په وړاندې د خنډونو او کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ د فرصتونو تحلیل باندې څرخي چې نوموړې مقاله کې ټول موضوعات د څېړنې له هدفه شروع تر نتیجه ګیری پورې پکې ځای پرځای شوي دي.

## څېړنې اهمیت

د دې د څېړنې یو اهمیت دادی چې په راتلونکې کې استادان او زده کړیالان ترې د یو ماخذ په توګه ګټه واخلي. همدارنګه د دې څېړنې بل اهمیت دادی چې د دې څېړنې په اساس به د کوچنیو کاروبارونو خاوندان خصوصا زموږ د هېواد سوداګر به د کوچنیو کاروبارنو د پرمختګ په باره تحلیلی معلومات تر لاسه کړي چې ددوی د کاروبارنو په پرمختګ کې به رغنده رول ولري. د دې څېړنې بل اهمیت دادی چې د یادې څېړنې په مرسته به نور څېړونکې د کوچنیو کاروبارنو پر وړاندې د خنډونو د تحلیل په برخه کې نور متغیرات په اسانی سره تحلیل کړي.

### د څېړنې موخې

د دې څېړنې اصلي موخې په لاندې ډول دي:

### اصلي موخې

د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ پر وړاندې د خنډنو ارزونه .

### فرعی موخی

د کوچنیو کاروبارونو لپاره د فرصتونو تحلیل .

د کوچنیو کاروبارونو د ستونزو د حل لارو ارزونه .

### د څېړنې پوښتنې

پدې څېړنه کې لاندې پوښتنو ته ځواب ویل شوي:

### اصلي پوښتنې

د کوچنیو کاروباونو د پرمختګ پر وړاندې کوم خندونه موجود دي؟

### فرعې پوښتنې

د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ لپاره پیشنیهادي حل لارې کومې دي؟

کوچنی کاروبارونه د پرمختګ کوم فرصتونه لري؟

### د څېړنې میتودولوژی

دا څېړنه د لومړنیو معلوماتو په واسطه تر سره شوې څېړنه ده چې لومړني معلومات یې د پوښتنلیکونو په واسطه چې په مربوطه اجزاوو ویشل شوي تر لاسه شوي، او هم په دې څېړنه کې د ثانوي ارقامو ګټه اخیستل کېږي چې د غوره داخلي او نړیوالو سرچېنو څخه معلومات په لاس راوړل کېږي لکه د نړیوال بانک کلني راپورونه، د تجارت او صنعت او مالیې وزارتونو کلني راپورونه د پانګې اچوونې د ملاتړ اداره د مشهورو لیکوالانو کتابونه او داسې نور. د بلې خوا څنګه چې نوموړې څېړنه یوه تحلیلي څېړنه ده چې د ارقامو معلومات او د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ پر وړاندې خنډونو په تحلیل باندې ولاړه ده نو د دې څېړنې د تحلیل لپاره د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ پر وړاندې د خنډونو پورې مربوط د مختلفو متغیراتو څخه استفاده شوې.

دا چې د یادې څېړنې د لومړنی معلوماتو د راټولولو لپاره له پوښتنلیکونو استفاده شوي نو د دې پوښتنلیکونو ځینې مشخات په لاندې توګه ذکر کېږي: یادو پوښتنلیکونو کې ځینې اړینې پوښتنې ځای پر ځای شوي چې د کوچنیو کاروبارونو د خاوندانو په واسطه ورته ځوابونه ویل شوي، چې په خوست ولایت کې (۱۰۰) کوچنې کاروبارونه د نمونې په ډول انتخاب شوي وو.

یاد پوښتنلیکونه په خوست ولایت کې توزیع شوي او په اړونده ساحه کې معلومات ځینې راټول شوي.

له پوښتنلیکونو تر لاسه شوي معلومات د ګرافونو په واسطه توضیح کېږي.

## کوچني کاروبارونه

کله چې هم موږ د نویو تجارتونو په اړه خبرې کوو نو ډېر وخت مو د تجارت له نوم سره د ډېرې پانګونې، د کاروبار لپاره د پراخ ځای او ډېر امکانات فکر ته راځي. دا زموږ ستونزه ده چې کله مو هم د وړو تجارتونو فرصتونه نه دي پلټلي. د وړو کاروبارونو یو ښه والی دا دی ، چې په لږ وخت کې یې د جوړېدو او خدماتو د ارایه کېدو قابلیت پیدا کولی شو. کله چې هم یو څوک دنده له لاسه ورکړي نو لومړی ځل حس کوي چې اړتیا ده تر څو خپل یو وړوکې کارو بار را پیل کړي ډېری خلک به تاسې لیدلي وي چې د دندې له لاسه ورکولو وروسته ځان ته د تسلی په پار وایي چې، که نور نه شو یو وړوکې کارو بار به را پیل کړم یانې دا یوه تکیه ګاه غوندې ګڼلی شو نوره نړۍ کې د وړو کاروبارونو لپاره په دولتي او خصوصي کچه اداري کارکوې او د ملاتړ او پایښت په پار ورسره مرستې کوي څکه هغوي په دې پوهېږي چې کوچني تجارتونه باالاخره په سترو تولیدي او خدماتي کمپنیو بدلیږي. همدې اهمیت ته په کتلو د ملګرو ملتونو اداري د وړو او متوسطو کاروبارونو د ملاتړ په موخه د جون (۲۷) نیټه نړیواله ورځ اعلان کړیده (نیازی ۱۳۹۷ل، ص. ۳۴).

## په افغانستان کې د وړو او منځنی کچې کاروبارونو اهمیت

افغانستان غوندې په وروسته پاتې هېوادونو کې د وړو کاروبارونو ایجاد بیخي زیات مهم او د پلي کېدو وړ دی، څکه د داسې هېوادونو وګړي د سترو کمپنیو د جوړلو وس نه لري، په افغانستان کې د وړو کاروبارونو د ایجاد اړتیا له دېهم قیاسولی شوچې، ډېر افغانان بې روزګاره ګرځي او کلونه کلونه د دندې پلټنه کوي خو خپله د دې فکر نه کوي چې یو عادي کار وبار را پیل کړي، همدارنګه په نوره نړۍ کې د دولتي دندو سربیره شخصي کمپنۍ او اداري هم په زیات حجم سره کارمندان استخداموي چې په افغانستان کې دا برخه هم بیخي په نشت حساب ده نو د بې روزګارۍ کچې کمولو لپاره لازمه ده چې کوچني کاروبارونه رامنځته شي. له بل پلوه، که وکتل شي افغانستان یو مصرفي هېواد دی چې خلک یې زیاتو خوړو، پوښاک، روغتیایي خدماتو، څېړنې او باالاخره یو عادي تولیدي او خدماتي برخې ته هم اړتیا لري نو د داسې یوه هېواد لپاره ضرور ده چې کوچني کاروبارونه یې

ایجاد، تقویه او باالاخره په سترو تولیدي او خدماتي کمپنیو بدلې شي. تاسې به لیدلي وي چې د ماشومانو د لوبو پلاستیکي سامان آلات، د ماشومانو لپاره پاپړ، چپس او چنړه چوړ غونډې عادي توکې هم موږ نه لرو نو د دې اړتیا له مخې باید چې دولت او عام خلک کوچنیو کاروباري فرصتونه ولټوي هم به اوزګار خلک په کار شوي وي او هم به مو تولیدات خپل وي (دودیال ۱۳۸۲ل، ص. ۸۷).

د تجارتي نړۍ اوسنی فکر دادی چې کوچني کاروبارونه همداسې کوچني نه پاتې کېږي د سترو کمپنیو لومړنی پل له همداسې وړو او له کمې پانګونې څخه اخیستل شوي دی. د نړۍ سترې کمپنۍ چې اوس په نړۍ باندې راج چلوي یو وخت کې د همداسې کوچنۍ سرمایې، کارمندانو او کم ځای څخه راپیل شوي دي چې اوس د نړۍ په هر کونج کې خپل تولیدات او خدمات خلکو ته رسوي، څکه خو ورته د ایجاد لپاره اسانه قواعدو، خام مواد، ځای او په کم سود قرضه ورکوي او کوچني کاروبارونه تقویه کوي (دودیال ۱۳۹۶ل، ص. ۹۴).

**۳. ۱. ۲ په افغانستان کې د کوچني کاروبارونو د پیل لپاره فرصتونه**

۱. د تصفیه شوو اوبو خرڅلاو: اوس وخت کې نږدې د هر کور او هر کارځای اړتیا ده چې تصفیه شوې اوبه وپیري، نو د دې لپاره کولای شو چې حتا بیخي په کمو امکاناتو هم دغه ډول خدمات عرضه کړو که چېرته د اوبو د تصفیې، بسته بندۍ او نورو وړاندې کوونکو وسایلو کارولو سره هم کار پیل کړو نو لږې پانګونې ته اړتیا لري چې تاسې به په ښارونو کې د تصفیه شوو اوبو وړاندې کوونکې او رسوونکې لیدلي وي چې په عادي کراچېو کې اوبه تر پلورنځیو، کورونو او کارځایونو پورې رسوي.

۲. د لبنیاتو خدمات : تاسې به د شیدو، مستو، پنیرو او نورو لبني موادو پلورونکې لیدلي وي چې یوازې یوه وړه غرفه یې د ښارپه یوه څنډه کې ودرولي وي او خپل کار وبار به کوي پدې ډول موږ بیخي کمې سرمایې او عادي یوې کراچۍ او وړوکې میز ته ضرورت لرو ترڅو کار پرې را پیل کړو.

۳. پلاستیکې محصولات : پلاستیکې محصولات کار وبار یو له هغو کاروبارونو څخه دی چې کمې سرمایې او کمو کارمندانو ته ضرورت لري نو یې شروع کېدا اسانه او تقریبا د ډېرو خلکو د وسې کار دی په اوس وخت کې یې تقاضا هم زیاته ده د ماشومانو د لوبو له سامان را نیولې آن د کور د لومړنیو ضروري وسایلو پورې ټول پدې کټګورۍ کې راځي.

۴. فلز کاري : کولای شو چې په ډېرو کمو امکاناتو د فلزکارۍ خدمات پیل کړو. فلز کاري هم د زیاتې تقاضا په ردیف کې راځي چې په ټولنه کې ورته زیاته اړتیا ده او تقریباً د هر کور اړتیا یې ګڼلی شو.

۵. ژر تیار کېدونکې خواړه ( fast food): فاسټ فوډ هم د کمو امکاناتو پر مټ کولای شو چې را پیل یې کړو، کافي شاپ، چایخانه، برګر، سوپ، چپس، چول، سیخ کباب، شیریخ، ژاله، پیکوړې، سمبوسې او داسې نور پکې شامل دي.

۶. د پاپړو، چپسو، خوږو، ژاولو، گلشالي، څټوونکو، او ځینو چوړ تولیدي یاهم خدماتي کار وبار: کله مو چې هم ماشومان په ژړا شي موږ ټول یې د غلي کولوکوشش کوو ټول کور پدې هڅه کې وي چې څنگه د ماشوم د پخلاینې لپاره ورته یو څه ورکړي او پدې هم پوهیږو چې ماشوم په ډېرو کمو شیانو هم غلی کېږي نو پورته ذکر شوي توکې د هر کور اړتیا ده کارو بار یې هم بیخي اسانه او کمې سرمایې او امکاناتو ته ضرورت لري. که یې تولید نه شو کولای نو یې په سترو او وړو پلورنځیو د وېش او خرڅلا خدمات خو یې بیخي اسانه او ارزانه طریقه ده.

۷. مشورتي خدمات: مشورتي خدمات هم کولای شو په اسانۍ او کمو امکاناتو سره پیل کړو د کمپنیو لپاره د ستراتیژیو، پالیسیو او طرحو په برخه کې مشورتي او فکري خدمات ترسره کړو داهم بیخي کمو امکاناتو خو ډېرو ماغزو ته ضرورت لري، نوره نړۍ کې د دې برخې کاروبارونو تله درنه او د ډېر عاید لرونکې کارو وبار دی.

۸. رهنماي معاملات دفتر: په رهنمایي معاملاتو کې هم موږ کولای شو د نورو خلکو له ځمکو، کورنو، وسایلو، امکاناتو او سرمایې څخه استفاده وکړو او خپل بزنس پرې مخته یوسو په دې کې د پارکېنگ او کمیشن کارۍ لپاره زمینه برابریږي چې لږ ویښتیا او بازار پیژندلو ته اړتیا لري.

۹. تازه گلانو پلورل: د تازه گلانو خرڅلاو یو له هغو کاروبارونو څخه دی چې کمې سرمایې او وړوکې ځای ته ضرورت لري. د خوشحالیو په ورځو کې د تازه گلانو اړتیا لیدل کېږي همدارنگه د خوښیو په مراسمو، ډالیو او د مراسمو په ډیکوریشن کې هم په کار وړل کېږي. په خوست کې د تازه گلانو هېڅ پلورنځی نشته، دا کار ساده او بیخي کمې سرمایې ته ضرورت لري اما د گلانو پالوونکې او گل پیژندونکې باید دا کار وکړي.

۱۰. د کور، کارځای او محافلو ډیکوریشن زده کړه : موږ اړتیا لرو چې د کور او کار ځای ښه ډیکوریشن وکړو نو که یو څوک پدې برخه کې ښه وړتیا لري او یو څه اندازه وسایل ولري نو کولای شو چې لدې لارې خپله کورنۍ تمویل کړو. او په سلگونه نور کوچني او متوسط کاروبارونه شته دی چې، زموږ د ټولنې اړتیا ته په کتو یې را پیلولی شو خو دا هر څه جرآت، حوصله او تر ټولو مهمه خبره داده چې د دولت له لورې ملاتړ لپاره باید د دې برخې لپاره ځانگړې بودیجه، ځای او حتا بې سوده قرضې زمینه برابره کړي (گزارش وزارت تجارت وصنعت ۲۰۱۴).

د هغه نړیوالو تجارتونو نومونه چې په لومړي سر کې یې له ډېرو کمو امکاناتو پیل کړي دی.

۱. (HP Computers Hewlett Packard): د HP کمپیوټرونو او بریښنایي تخنیکې وسایلو کمپني چې په (۱۳۳۹) م کال کې د (Bill Hewlett او David Packard) له لورې د (۵۳۸) ډالرو پانگونې څخه پیل کړي و. دوی په لومړي سر کې د یوه گراج څخه کار اخیسته چې اوس په پرمختللې ټیکنالوژۍ کې یو ځلانده نوم دی، له درې لکه زیات کارمندان لري چې په ۲۰۱۰ م میلادي کال کې یې ټولټال عواید یې ۱۲۶ ملیارده ډالره وه.

۲. Starbucks: سټار باکس د کافي څښلو یوه نوښت کوونکې کمپني ده چې په ۱۹۷۱ میلادي کال کې دوه استادانو او یو لیکوال سره را یو ځای شول او په کار یې پیل وکړ، اوس یوه ستره کمپني ده چې کلنی عاید یې له ملیاردونو ډالرو اوړي د نړۍ په (۵۵) هېوادونو کې (۱۷۰۰۰) د خرڅلاو څانګې لري.

۳. Subway: سب وې د رستورانت یوه شبکه ده چې په ۱۹۶۵ میلادي کال کې دوه ملګرو په ګډه په (۱۰۰۰) ډالروپانګونې سره پیل کړې وه، دوی په لومړنیو لسو کلونو کې ځان ته ټارګیټ ټاکلی وو چې ۳۲ څانګې به پرانیزو اوس په (۹۸) هېوادونو کې (۳۴۰۰۰) څانګې لري او په (۲۰۱۰) م میلادي کال کې یې ۲,۱۵ ملیارده ډالره عاید لرل.

۴. Mattel: میټل د ماشومانو د لوبو سامان جوړوونکې کمپني ده چې په (۱۹۴۵) م میلادي کال کې یې په کارپیل وکړ په لومړیو کې یې د لرګیو له پاتې شوونو څخه ماشومانولپاره د لوبو سامان او ماشومانو د ګوډیانو لپاره کوچني کورونه جوړول او بیا به یې خرڅول اوس د نړۍ په اکثره هېوادونو کې د خرڅلاو څانګې لري چې د لوبو د سامان جوړولو تر ټولوستره کمپني ده په (۲۰۱۰) م میلادي کال کې یې (۹,۵) میلیارده ډالره عاید لرل (Frank 2010, p. 110).

**د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ فرصتونه**

هېواد مو د ډېرو غنی زخایرو درلودونکې ده خو متاسفانه دغه غنی زخایر منظم شکل نه دی استفاده شوي چې تر اوسه یې د هېواد په اقتصاد کې کوم رغنده رول هم نه ده لوبولی په هغه اندازه او رقم چې پکار وه. د دې زخایرو تر څنګ کاروبارونه هم له ډېرو لویو ننګونو سره مخ دی. خو په دې اواخیرو کې د ځینې پرمختګونو پر مټ اوس د کوچنیو کاروبارونو لپاره ځینې فرصتونه ایجاد شوي چې په لاندې توګی تری یادونه کوو:

د منظم بانکې سیستم شتون: منظم بانکې سیستم د هر ډول کاروبار لپاره په اوسنی عصر کې یوه تر ټوله لومړنی او اړینه غوښتنه دی، خو خوشبختانه په اوسنی دور په هېواد کې د تقریباً منظم او پرمختللی بانکې سیستم شاهدان یو چې همدا منظم بانکې سیستم د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ سبب شوي.

ارزانه کاری قوه:دا چې هېواد کې مو د بی کاری زیاته او له بل پلوه د هېواد په مارکېټونو د رقابت کم ده نو کوچنیو کاروبارونو ته دا فرصت ښه برابر ده چې وکولای شي ډېر په ارزانه توګی کاری قوه تر لاسه کړي. ددغی کاری قوي استخدام له یو طرف کولای شي چې د هېواد داخلي اقتصاد تقویه کړي او له بل پلوه هم کولای شي کاروبارونه خپله د ضرورت وړ کاری قوه تر لاسه کړي.

امنیت: امنیت په اقتصاد کې د کاروبارونو د پرمختګ تر ټولو لوي او اوین ضرورت ده چې یو هېواد یې باید له ځان سره ولري. بدبختانه په تیرو دوو لسیزو کې لدی ستر نعمته تقریباً بی برخی وو. خو اوس حالاتو ته په کتو امنیت کې ستر بدلون لیدل کېږي چې ویلای شي کوچنیو کاروبارونو ته یو ښه فرصت برابروي (Symeonidis 2011, p. 87).

ارزانه داخلي خام مواد او توکې: په هېواد کې مو په لویه پیمانه ارزانه توکې او مواد شتون لري چې کوچنی کاروبارونه تری ډېر په اسانی استفاده کولای شي. همدا خام توکې کوچنیو کاروبارونو ته د پانګې په بچت کولو کې لویه مرسته کوي او کولای شي کوچنیو کاروبارونو ته یو فرصت ایجاد کړي.

د لوړی سطحې رقابت نشتون: رقابت شتون که له یو طرف د کاروبارونو د پرمختګ لپاره یو فرصت ده خو له بل پلوه هغه کاروبارونه چې نشي کوالی رقابت وکړي او یا یې پانګه په هغه اندازه نه وي چې رقابت وشي کړای نو بیا دوی له جدی خطر سره مخامخ کېږي چې حتا کېدای شي له منځه ولاړ شي. خو دا چې د هېواد په داخل کې تولید ډېر نه ده نو داخلي کاروبارونو او خصوصاً کوچنیو کاروبارونو ته دا فرصت ده چې وکړای شي خپل کاروبارونه لوی کړي.

اجناسو ته د تقاضا شتون: هېواد کې مو داخلي تولید ته ډېر زیات ضرورت شتون لري نو په همدی اساس ویلای شو چې کوچنی کاروبارونه اوس یو لوی فرصت لري چې خپل توکې په ډېر اسانی سره بازار ته وړاندې کړي.

د تولید ارزانه عوامل: په هېواد کې مو ارزانه داخلي تولید عوامل شتون لري چې کوچني کاروبارونه کولای شي چې ترې استفاده وکړي چې له هغی جملې له ځمکې او بشري قوې څخه یادونه کولای شو (Stewart 1978, p.63).

## د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ په وړاندې خنډونو تحلیل

د ځوابونکو دیموګرافیکې خصوصیات

په دې څېړنه کې (٦٠) تنه چې (٦٠%) کېږي عمده فروشان، (۴) تنه چې (۴%) کېږي د صابون جوړلو شرکتونه، (۸) تنه چې (۸%) خوراکې توکو تولید شرکتونه، (۱۲) تنه چې (۱۲%) کېږي د اوبو تصفیې شرکتونه، (۴) تنه چې (۴%) کېږي المونیم سامان جوړلو شرکتونه او (۱۲) تنه چې (۱۲%) کېږي درزیان(خیاطان) چې ټول (۱۰۰) تنه چې (100%) کېږي شامل دي.

په دې څېړنه کې (۱۰۰) سل تنه چې (۱۰۰%) کېږي نارینه او (۰) تنو چې ( ۰% ) کېږي میرمنو ګډون درلود.

په دغه سروې کې د ښځو کم رنګه ګډون دا معنی نه لرې چې دا سروې یواځې د نارینه په اړه ترسره شوي، بلکه دخوست ولایت کاروبارنو خاوندانو ته په کتو او هغه کاروبارونو نه چې موږ معلومات تر لاسه کړي (۱۰۰%) سلنه نارینه دی نو له همدې کبله ده چې په دغه سروې کې د نارینه ځوابونکو تعداد زیات دي.

په دې څېړنه کې مختلفو عمر لرونکو لخوا پوښتنلیکونه ځواب شوي دي، چې د هغوي له جملې څخه (۲۶) شپږویشت تنه د (۲۵) کلونو څخه د ښکته عمر، (۳۹) نهه دیرش تنه د (۳۰-۴۰) کلونو پورې عمر، (۱٦) شپاړلس تنه د (۴۱-۵۰) کلونو پورې عمر او (۱۹) تنه یې د (۵۰) کلونو څخه د پورته عمر درلودونکې وو.

په دې څېړنه کې (۱۰) تنو چې د جمعیت د نمونې (% ۱۰) کېږي دولسم پاسانو، (۹) تنو چې د جمعیت د نمونې (%۹) کېږي څوارلسم پاسانو، (۷۳) تنو چې د جمعیت د نمونې (%۷۳) کېږي لسانس، (۰) تنو چې د جمعیت د نمونې (%۰) کېږي ماسترانو، (۰) تنو چې د جمعیت د نمونې (%۰) کېږي دوکتورانو او (۸) تنه چې د جمعیت د نمونې (%۸) کېږي د مدرسې فارغ وو، ګډون کړي دی.

دا په دې معنی چې په دې څېړنه کې ټولو ګډون کوونکو ښه د تعلیم او تحصیل کچه درلوده چې د پوښتنلیک د ځوابولو لپاره وړ او مناسب خلک وو او همدارنګه د څېړنې په ارزښت هم ښه پوهیدل.

د پورته څېړنې څخه مالومیږي چې (۳٦) تنو کارکونکو چې د جمعیت د نمونې (36%) کېږي د پنځو کالونو څخه کم، (۳۱) تنو کارکونکو چې د جمعیت د نمونې (31%) کېږي د (٦-۱۰) کالو پورې او (۳۳) تنو چې د جمعیت د نمونې (33%) کېږي د (۱۰) کالو څخه زیاته کارې تجربه درلوده.

د کوچنیو کاروبارونو په وړاندې خنډونه

لاندې جدول د کوچنیو کاروبارونو لپاره د بازار موندنې لوړ مصارف په ګوته کوي.

| | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| هو | 77 | 77. 0 | 77. 0 | 77. 0 |
| نه | 7 | 0.07 | 0.07 | 7.0 |
| بعضې وخت | 16 | 16. 0 | 16. 0 | 16.0 |
| Total | 100 | 100. 0 | 100. 0 | 100. 0 |

منبع: د څېړونکې لخوا ترسره شوې سروې

پورته جدول دا تشریح کوي چې ایا د بازارموندنې لوړ مصارف د ددوی کاروبارونو لپاره خنډ ده، چې په دې اړوند (۷۷) اوه اویا تنو چې د جمعیت د نمونې (77%) سلنه کېږي ویلي دي چې (هو) د بازارموندنې لوړ مصارف د کوچنیو کاروبارونو په وړاندې یو خنډ ده، په داسې حال کې چې (۷) اووه تنو چې د جمعیت د نمونې (7%) سلنه کېږي ویلي دي چې (نه) بازارموندنې لوړ مصارف ددوی د کاروبارونو لپاره خنډ نه ده

او همدارنگه (۱٦) شپاړلس تنو چې د جمعیت د نمونې (16%) سلنه کېږي ويلي دي چې بازارموندنې لوړ مصارف (بعضی وخت)ددوی کاروبارونو په وړاندې خنډ ده.
پورته پوښتنې ته په لوړه سلنه (77%) ځواب په (هو) ورکړل شوي دی، نو له دې څخه څېړونکې دا نتیجه ترلاسه کوي چې د بازارموندنې لوړ مصارف د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ په وړاندې یو خنډ ده ځکه بازار ته د دې کاروبارونو د اجناسو په رسولو کې بازارموندنه ډېره لویه ونډه لري.

په همدې ډول لاندې جدول د وارداتی توکو سره رقابت ښايي.

| | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| هو | 83 | 83. 0 | 83. 0 | 83. 0 |
| نه | 17 | 17. 0 | 17. 0 | 100. 0 |
| Total | 100 | 100. 0 | 100. 0 | |

**پورته جدول** دا تشریح کوي چې وارداتی توکې د کوچنیو کاروبارونو په وړاندې خنډ ده.
چې د دې پوښتنې په ځواب کې (۸۳) تنو چې د جمعیت د نمونې (83%) سلنه کېږي چې (هو) وارداتی توکو سره د رقابت نو برابروالی ددوی لپاره یو خنډ ده او همدارنگه (۱۷) تنو چې د جمعیت د نمونې (17%) سلنه کېږي ويلي دي چې (نه) ددوی کاروبارونو په وړاندې وارداتی توکو سره رقابت کوم خنډ نه ده.
چې څېړونکې د ځوابونو له سلنې دې نتیجې ته رسیږي چې وارداتی توکو سره د رقابت نه برابروالی د کوچنیو کاروبارونو په وړاندې خنډ ده.

په لاندې جدول کې د کاروباری خطراتو مدیریت مهارت نشتون په گوته شوی دی.

| | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| هو | 79 | 79. 0 | 79. 0 | 79. 0 |
| نه | 21 | 21. 0 | 21. 0 | 100. 0 |
| Total | 100 | 100. 0 | 100. 0 | |

**یاد جدول** دا تشریح کوي چې کاروباری خطراتو د مدیریت مهارت نشتون د کوچنیو کاروبارونو لپاره خنډ ده او که نه.
چې په دې اړه (۷۹) تنو ځواب ویونکو چې د جمعیت د نمونې (79%) کېږي، ويلي دي چې (هو) کاروباری خطراتو د مدیریت مهارت نشتون ددوی لپاره یو خنډ ده، په داسې حال کې چې (۲۱) تنو ځواب ویونکو چې د جمعیت د نمونې (21%) کېږي، ويلي دي چې (نه) کاروباری خطراتو د مدیریت مهارت نشتون ددوی لپاره یو خنډ نه ده.

ځرنګه چې د ځواب ویونکو زیاتې سلنې پورته سوال ته د (هو) ځواب ورکړي دی نو په همدې اساس څېړونکې دې نتیجې ته رسیږي چې د کاروباری خطراتو د مدیریت مهارت نشتون د کوچنیو کاروبارنو وړاندې یو خنډ ده.

همدا شان په داخل د مارکېټ کې د رقابت نشتون لپاره لاندې جدول کې اشاره شوي ده.

| | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| هو | 84 | 84. 0 | 84. 0 | 84. 0 |
| نه | 16 | 16. 0 | 16. 0 | 0.16 |
| Total | 100 | 100. 0 | 100. 0 | 100. 0 |

**پورته جدول** دا تشریح کوي چې د کوچنیو کاروبارونو لپاره په داخل د مارکېټ کې د رقابت نشتون یو خنډ ده او که نه.

ځرنګه چې د پورته سوال په اړه (۸۴) تنو ځواب ویونکو چې د جمعیت د نمونې (84%) سلنه جوړوي د (هو) ځواب ویلي، چې هو د مارکېټ په داخل کې د رقابت نشتون ددوی لپاره یو خنډ ده، په داسې حال کې چې (۱۶) تنو ځواب ویونکو چې د جمعیت د نمونې (16%) سلنه جوړوي د (نه) ځواب ویلي، د مارکېټ په داخل کې د رقابت نشتون ددوی لپاره یو خنډ نه ده.

ځرنګه چې د پورته سوال په ځواب کې د ځواب ویونکو زیاتي سلنې د (هو) ځواب انتخاب کړي دی، نو څېړونکې دې نتیجې ته رسیږي په داخل د هېواد کې په مارکېټ کې د رقابت نشتو ددوی لپاره یو خنډ ده ځکه دوی نشي کولای نوي لاسته راوړنی په تیزی تر لاسه کړي.

د کوچنیو کاروبارونو پراخوالی لپاره د پانګې کموالی په لاندې جدول کې روښانه شوی دی.

| | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| هو | 95 | 0.95 | 0.95 | 0.95 |
| نه | 5 | 0.05 | 0.05 | 0.05 |
| Total | 100 | 100. 0 | 100. 0 | 100. 0 |

**پورته جدول** دا تشریح کوي چې د کوچنیو کاروبارونو د پراخوالی لپاره د پانګې کموالی خنډ ده او کنه.

چې د پورته سوال په ځواب کې (۹۵) تنو چې د جمعیت د نمونې (95%) سلنه جوړوي ویلي دي چې (هو) د پانګېکموالی د دوی د کاروبارونو په وړاندې خنډ ده، (۵) تنو چې د جمعیت د نمونې (5%) سلنه جوړوي ویلي دي چې د پانګېکموالی ددوی د کاروبارونو د پراخوالی لپاره خنډ نه ده.

د پورته ځوابونو د ترلاسه کولو څخه څېړونکې دا نتیجه اخلي چې په هېواد کې د پانګېکموالی د کوچنیو کاروبارونو د پراخوالی لپاره یو ستر خنډ ده.

د کاروبار د خاوندانو (مالکېنو) انحصاری مفکوره په لاندې جدول کې روښانه شوي ده.

| | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| هو | 68 | 68. 0 | 68. 0 | 68. 0 |
| نه | 32 | 32. 0 | 32. 0 | 100. 0 |
| Total | 100 | 100. 0 | 100. 0 | |

**پورته جدول** مونږ ته دا تشریح کوي چې ایا د کاروبارونو د مالکېنو انحصاری مفکوره د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ په وړاندې خنډ ده او که نه.

چې په دې اړه (٦٨) تنو چې د جمعیت د نمونې (68%) سلنه جوړوي ویلي دي چې (هو) د مالکېنو انحصاری مفکوره ددوی کاروبارونو د پرمختګ په وړاندې خنډ ده، او همدارنګه (۳۲) تنو چې د جمعیت د نمونې (32%) سلنه جوړوي ویلي دي چې (نه) مالکېنو انحصاری مفکوره ددوی د کاروبارونو د پرمختګ په وړاندې خنډ نه ده.

د پورته ځوابونو د ترلاسه کولو څخه وروسته چې ډېره سلنه ځوابونکو د (هو) ځواب انتخاب کړي دی، څېړونکې دې نتیجې ته رسیږي چې د کاروبارونو د مالکېنو انحصاری مفکوره چې نه غواړی د کاروبار د پرمختګ لپاره بل چاته وخت ورکړي یو ستر خنډ ده.

په دې معنا چې د کاروبار خاوندان تر ډېره حده نه غواړی چې د خپل کاروبار معلومات او تجروبی له خپلو کارمندانو سره شریکې کړي نو له همدی امله هم ټیټی سطحې مدیریت په پریکړو کې له ستونزو سره مخ کېږي.

**د کوچنیو کاروبارونو او د هغوي د پرمختګ په وړاندې خنډونو تر منځ اړیکه**

ایا د کوچنیو کاروبارونو لپاره د بازار موندنی لوړ مصارف په کومه اندازه یو خنډ ده ؟

| | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| ډېر لوړ | 5 | 5. 0 |
| لوړ | 12 | 12. 0 |
| لږ | 33 | 33. 0 |
| نه متاثره کوي | 50 | 50. 0 |
| Total | 100 | 100. 0 |

څېړونکی غواړي چې د کوچنیو کاروبارونو او هغوي په وړاندې خنډنونو د اړیکو قوت پیدا کړي نو د (Correlation coefficint) څخه په استفادې سره یې د اړیکې قوت معلوموي.

Computation of correlation coefficient

| ځوابونه | X | Y | X2 | Y2 | XY |
|---|---|---|---|---|---|
| ډېر لوړ | 1 | 5 | 1 | 25 | 5 |
| لوړ | 2 | 12 | 4 | 144 | 24 |
| لږ | 3 | 33 | 9 | 1089 | 99 |
| نه متاثره کوي | 4 | 50 | 16 | 2500 | 200 |
| جمله | 10 | 100 | 30 | 3758 | 328 |

$$r = \frac{n(\sum xy) - (\sum x)(\sum y)}{\sqrt{[\mathrm{n}(\sum x^2) - (\sum x)^2][\mathrm{n}(\sum y^2) - (\sum y)^2]}}$$

R= 0. 9836

څرنګه چې ګورو چې د (R) قیمت یو ته ډېر نیږدی ده نو ویلای شو چې د کاروبارونو د پرمختګ سره د بازارموندنې لوړ مصارف قوي اړیکه لري چې دا اړیکه موږ ته دا توضیح کوي چې د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ په وړاندې د بازارموندنې لوړ مصارف یو ستر خنډ ده.

| ځوابونه | X | Y | X2 | Y2 | XY |
|---|---|---|---|---|---|
| ډېر زيات | 1 | 8 | 1 | 64 | 8 |
| زيات | 2 | 3 | 4 | 9 | 6 |
| لږ | 3 | 36 | 9 | 1296 | 108 |
| نه متاثره کوي | 4 | 53 | 16 | 2809 | 212 |
| جمله | 10 | 100 | 30 | 4178 | 334 |

| | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| ډېر لوړ | 8 | 8. 0 |
| لوړ | 3 | 3. 0 |
| لږ | 36 | 36. 0 |
| نه متاثره کوي | 53 | 53. 0 |
| Total | 100 | 100. 0 |

د وارداتی توکو سره رقابت لپاره لاندې جدول ته پاملرنه کوو.

څېړونکی غواړي چې د کوچنیو کاروبارونو په وړاندې د وارداتی توکو د خنډ د اړیکو قوت پیدا کړي نو د (Correlation coefficint) څخه په استفادې سره یې د اړیکې قوت معلوموي.

Computation of correlation coefficient

R= 0. 998

څرنګه چې د (R) د قیمت څخه څرګندیږي چې وارداتی توکې او د کوچنیو کاروبارونو پرمختګ یوه قوي اړیکه لري.

چې دا مونږ ته ښایي چې وارداتی توکې د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ په وړاندې یو ستر خنډ چې په اساس یې کوچنی کاروبارونه نشي کولای له هغوي سره رقابت وکړي.

آیا د کوچنیو کاروبارونو پراخوالی لپاره د پانګې کموالی د دې کاروبارونو په وړاندې یو خنډ ده؟

| | Frequency | Percent |
|---|---|---|
| ډېر لوړ | 10 | 10. 0 |
| لوړ | 3 | 3. 0 |
| لږ | 53 | 53. 0 |
| اړیکه نه لري | 34 | 34. 0 |
| Total | 100 | 100. 0 |

**منبع: د څېړونکې لخوا ترسره شوې سروې**

څېړونکی غواړي چې د کوچنیو کاروبارونو د پراخوالی سره د پانګې اړیکه معلومه کړي، نو د (Correlationcoefficint) څخه په استفادې سره یې د اړیکې قوت معلوموي.

Computation of correlation coefficient

| ځوابونه | X | Y | X2 | Y2 | XY |
|---|---|---|---|---|---|
| ډېر زیات | 1 | 10 | 1 | 100 | 10 |
| زیات | 2 | 3 | 4 | 9 | 6 |
| لږ | 3 | 53 | 9 | 2809 | 159 |
| ارزښت نه ورکوي | 4 | 34 | 16 | 1156 | 136 |
| جمله | 10 | 100 | 30 | 4074 | 311 |

R= 0. 6876

څرنګه چې لیدل کیږي چې د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ سره پانګې قوي اړیکه شتون لري، کوم چې د دې څرګندونه کوي چې د کوچنیو کاروبارونو په پرمختګ کې پانګه مهم او ارزښتناکه رول لوبوي.

**پایله**

تیر ته په کتو ښکاره ده چې کوچني کاروبارونه د پرمختیایي هېوادونو اقتصاد او کاري فرصتونو د پیداکولو په برخه کې ډېر مهمه ونډه لري. بدبختانه چې زمونږ ګران هېواد افغانستان هم د نړۍ د نورو پرمخیایي هېوادونو په

ځیر د امکاناتو د کمبود له کبله د لویو لویو فابریکو او کاروبارونو د پیل وړتیا نه لري، ځکه خو زمونږ د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره د وړو کاروبارونو پیل او شتون ډېر زیات مهم دی. د وړو کاروبارونو له جملې څخه د وړی اوبدلو، معدن او زرګري صنعت زمونږ د هېواد اقتصادي پرمختګ لپاره د نورو کاروبارونو په پرتله زیات د اهمیت وړ بلل کېږي. څېړنو ښودلې ده چې د پرمختیایي هېوادونو د اقتصادي پرمختګ لپاره کوچني کاروبارونه له لویو کاروبارونو څخه ځکه زیات د اهمیت وړ دي چې پانګوال یې کم امکانات لري نو ځکه ښو دوی نشي کولای چې لوی کاروبارونه پیل کړي.

داچې نن سبا زمونږ په هېواد کې د بیکاري کچه لوړه شویده او دولت هم دومره امکانات په لاس کې نه لري چې ټول بیکاره وګړي په کارونو وګماري، ځکه حو اړینه ده چې حکومت باید پانګوالو ته په وړو کاروبارونو کې د پانګونې اړین سهولتونه برابر کړي تر څو له دغه لارې کاري فرصتونه برابر شي. داچې زمونږ د هېواد معدنیات او د وړی اوبدلو صنعت نړیوال شهرت لري، ځکه خو لازمه ده چې د مسولو ارګانونو له لارې په یادو صنعتونو کې د پانګونې لپاره اړین سهولتونه پانګوالو ته برابر شي.

څېړنې وښودله چې د کوچنیو کاروبارونو په وړاندې ځینې ننګونې او خنډونه موجود وه چې دغی ننګونو او خنډونو د کوچنیو کاروبارونو د پرمختګ مخه ډب کړي وه چې د هغی جملې د بازارموندنې لوړ مصارف، د خطراتو د مدیریت مسلکېتوب نشتون، د نورو هېوادونو توکو سره د رقابت توانایي نشتون او داسې نورو څخه یادونه کولای شو چې په څېړنه کې هم په ډاګه شوه.

**وړاندیزونه**

د خپلې کړي څېړنې د موندنو په اساس لاندې وړاندیزونه ارایه کوم.

کوچنی کاروبارونه زمونږ د پرمختیایي هېواد لپاره د راتلونکې اقتصادي پرمختګ اساس جوړوي، په کار ده چې د یو شمیر مهارت لرونکو حرفوي او مسلکې متشبثینو د روزنې لپاره حرفوي ښوونځي جوړ او دوی به له حرفوي زده کړو وروسته کوچني کاروبارونه شروع کړي چې د خپل ځان او هېواد لپاره به ګټور تمام شي.

ټولنیزې رسنۍ د کورنیو تولیداتو لپاره اشتهارات وکړي او دوی سره د بازار موندنې برخه کې مرسته وکړي.

# Obstacles to the development of small Businesses in Khost Province

Senior Teaching Assistant: Hafizullahmeen Amin, Sheikh Zayed University, Faculty of Economics, Department of Business Administration
**Email:** hafizullahmeenamin@szu.edu.af

**Abstract**

Since Afghanistan is a developing country and currently does not have the capacity to establish large and heavy industries that are automated, electronic, and fully mechanized, most businesses are small enterprises. Establishing such businesses is therefore suitable and important. On this basis, entrepreneurs are encouraged to develop these small businesses and bring them to the market. However, when they encounter problems and barriers in their businesses, without understanding the issues and seeking opportunities, they often turn away from the business world quickly or limit their activities, thereby halting hopes for growth. This research was conducted in Khost province, identifying the challenges and barriers that hinder the growth of small businesses. This research a qualitative study, and the primary data was obtained through questionnaires. For the analysis of this research, various variables related to the barriers to the development of small businesses were used. The finding shows that the key factors of the barriers of development of small businesses in khost are high marketing costs, lack of expertise in risk management, inability to compete with products from other countries, and similar issues. Both small entrepreneurs and the government can benefit from the findings of this study.

**Keywords**: Competition, Market development, Obstacles, Opportunities, Small businesses

## ماخذونه

آریانا دایرةالمعارف (۱۳۹٦) .دایرةالمعارف آریانا: د ص حرف (جلد ٦) .د افغانستان د علومو اکاډمي؛ د نبراسکا مطبعه.

دودیال، م. ب.( ۱۳۸۲) . افغانستان کې صنایع او په ملي اقتصاد کې د هغو ونډه .د کابل پوهنتون د معلومساتو مرکز، د اریک ګرځنده کتابونو خپرونې.

دودیال، م. ب .(۱۳۹٦). صنعتي اقتصاد. یار خپرندویه ټولنه.

وزارت تجارت او صنایع.( ۱۳۹۴). فرصت‌های سرمایه‌گذاری در افغانستان. راپور ۲۰۱۴م.

نیازي، م. د .(۱۳۹۷). کاروبار. ګودر خپرندویه ټولنه.

Frank, R. H. (2010). Principles of economics. McGraw-Hill Irwin.

Mankiw, N. G. (2005). Principles of economics (6th ed.). Harvard University Press.

Stewart, W. H. (1978). What is industrial economics? Macmillan Education.

Symeonidis, G. (2011). Industrial economics (Course code EC3099). London School of Economics and Political Science.

# د چاپېریال ساتنې اغېزې پر انساني حقوقو باندې

پوهنمل محمدساقي عادل، شیخ زاید پوهنتون، حقوق او سیاسي علومو پوهنځی، د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه

**برېښنالیک:** mohammadsaqi1@yahoo.com

**لنډیز**

چاپېریال د انساني ژوند، روغتیا او کرامت بنسټیز عنصر دی او ساتنه یې د معاصرې نړۍ له مهمو حقوقي، ټولنیزو او دیني مسئلو څخه ګڼل کېږي. د چاپېریال تخریب، لکه د هوا او اوبو ککړتیا، د الهي سرچینو بې‌رویه استفاده او د ځنګلونو له منځه تلل، په مستقیم ډول د انسان پر بنسټیزو حقونو اغېز کوي، په ځانګړي ډول د ژوند حق، د روغتیا حق او د سالم ژوند حق تر جدي ګواښ لاندې راولي. اسلامي شریعت د انسان د خلافت اصل ته په کتو، د ځمکې ساتنه یو شرعي او اخلاقي مسوولیت ګڼي او د فساد، اسراف او تخریب څخه په کلکه منع کوي. همدارنګه، نړیوال حقوقي اسناد او د افغانستان اسلامي امارت نافذه قوانین د سالم چاپېریال پر حق ټینګار کوي او دولتونه د چاپېریال پر ساتنې باندې مکلف ګڼي. دا مقاله د کتابتوني او تحلیلي مېتود پر بنسټ، د چاپېریال ساتنې اغېزې پر انساني حقوقو باندې او د دوی ترمنځ اړیکه څېړي، همدارنګه د چاپېریال د تخریب حقوقي، اسلامي او ټولنیزې پایلې تحلیلوي، چې په پایله کې، مقاله دا څرګندوي، چې د چاپېریال ساتنه یوازې یو تخنیکي یا اداري مسئله نه ده، بلکې د انساني حقوقو د تحقق یو اساسي شرط دی، او د دې موخې لپاره د حقوقي قوانینو تطبیق، دیني پوهاوی او ټولنیز مسوولیت حیاتي ارزښت لري او ان شاءالله ددې مقالې په لوستلو سره به ټول دیني، حقوقي، اداري نهادونه او افراد متوجه شي، چې د چاپېریال په برخه کې خپل مسؤلیت په ښه شان ترسره کړي او په راتلونکي له الهي نعمتونو او سرچېنو څخه بې رویه استفاده ونه کړي.

**کلیدي کلیمې:** اغېزې، انساني، حقوق، چاپېریال، ساتنه

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

کله چې د چاپېریال کلمه زموږ په ژبه باندې جاري کېږي، نو یوې داسې نړۍ ته متوجه کېږو چې په هغه کې ډېر زیات اسرار او رازونه نغښتي دي. زموږ چاپېریال د هغه نعموتونو څخه ډک دی، چې الله (جل جلاله) د انسان لپاره جوړ کړي دي. انسانان، بوټي، ونې، ژوي، الوتونکې، اوبه، باد او شمال، خاورې، هوا، لمر او زموږ شاوخوا چې څه شیان موجود دي، د چاپېریال د یوې برخې په توګه پېژندل کېږي. دا زموږ دنده ده، چې هغه الهي نعمتونه چې الله (جل جلاله) په چاپېریال کې موږ ته راکړي، وساتو او د هغه څخه سمه ګټه واخلو. چاپېریال د انساني ژوند له پیل سره تړلی یو حیاتي حقیقت دی، چې د انسان بقا، روغتیا، امنیت او ټولنیز ثبات تر ډېره حده ترې اغېزمن کېږي. د الهي سرچینو دوامدار شتون، پاکه هوا، سالمې اوبه او متوازنه الهي فضا د انساني ژوند د دوام اساسي شرطونه دي. له همدې امله، د چاپېریال ساتنه یوازې یو الهي (طبیعي) یا تخنیکي بحث نه دی، بلکې د حقوقي، اخلاقي، دیني او ټولنیزو ارزښتونو سره ژوره اړیکه لري. په معاصره نړۍ کې د صنعتي پرمختګ، ښاري پراختیا، نفوسو زیاتوالی او د الهي سرچینو بې‌رویه استعمال د چاپېریال د تخریب لامل شوی دی. دغه تخریب نه یوازې الهي توازن ګډوډ کړی، بلکې د انسان پر بنسټیزو حقونو یې هم ژور منفي اغېز کړی دی. د هوا ککړتیا د تنفسي ناروغیو سبب ګرځي، د اوبو ککړتیا د روغتیایي ستونزو لامل کېږي، او د الهي سرچینو له منځه تلل د اوسني او راتلونکو نسلونو د ژوند حق تر پوښتنې لاندې راولي. همدا حالت د دې موضوع علمي او حقوقي ارزښت لا زیاتوي. اسلامي شریعت د انسان او چاپېریال ترمنځ اړیکه د «خلافت» او «امانت» پر بنسټ تنظیم کړې ده. انسان د ځمکې ساتونکی ټاکل شوی، نه مطلق مالک، او مکلف دی چې له فساد، اسراف او تخریب څخه ځان وساتي. له بلې خوا، نړیوال انساني حقوقي اسناد لکه د انساني حقونو نړیواله اعلامیه، د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو میثاق، او همدارنګه د افغانستان اسلامي امارت نافذه قوانین، په ځانګړي ډول د چاپېریال ساتنې اداره، د سالم چاپېریال پر حق باندې ټینګار کوي او د دولت او وګړو مسوولیتونه روښانه کوي. د دې مقالې اصلي مسئله دا ده چې د چاپېریال تخریب تر کومه حده د انساني حقوقو د نقض سبب ګرځي او څنګه کولی شو د حقوقي، دیني او ټولنیزو میکانیزمونو له لارې د سالم چاپېریال ساتنه تضمین کړو. د مقالې موخه دا ده چې د چاپېریال ساتنې ارزښت د انساني حقوقو په رڼا کې وڅېړي، د اسلامي شریعت او نافذه قوانینو دریځ تشریح کړي، او د چاپېریال د ساتنې لپاره عملي او علمي لارې چارې وړاندې کړي. دا څېړنه د کتابتوني او تحلیلي مېتود پر بنسټ ترسره شوې ده، چې په کې د اسلامي فقهي سرچینو، نړیوالو حقوقي اسنادو، ملي قوانینو او علمي څېړنو څخه استفاده شوې ده. مقاله هڅه کوي چې د چاپېریال ساتنې موضوع د یوې جامع حقوقي او اسلامي مسئلې په توګه

وړاندې کړي او وښيي چې د سالم چاپېريال تأمين د انساني حقوقو د بشپړ تحقق لپاره یو نه جلا کېدونکی شرط دی.

### د څېړنې موخې

عمومي موخه: د چاپېریال ساتنې او انساني حقوقو ترمنځ د اړیکې علمي تحلیل او د سالم چاپېریال د ارزښت څرګندول.

### ځانګړې موخې

۱. د چاپېریال د تخریب اغېزې پر بنسټیزو انساني حقوقو تشریح کول.

۲. د اسلامي شریعت له نظره د چاپېریال ساتنې اصول او ارزښتونه بیانول.

۳. د نړیوالو انساني حقوقي اسنادو او د افغانستان د نافذه قوانینو دریځ روښانه کول.

۴. د چاپېریال ساتنې په برخه کې د دولت، ټولنې او فرد مسوولیتونه مشخص کول.

۵. د چاپېریال د ساتنې لپاره علمي، حقوقي او عملي وړاندیزونه وړاندې کول.

### د څېړنې مېتودولوژي

دا څېړنه د کتابتوني (Library-Based) او تحلیلي مېتود پر بنسټ ترسره شوې ده. په دې برخه کې د اسلامي فقهي سرچینو، قرآنکریم، نبوي احادیثو، نړیوالو بشري اسنادو، د افغانستان نافذه قوانینو او معتبرو علمي مقالو څخه استفاده شوې ده. د معلوماتو د تحلیل لپاره مقایسوي او توصیفي مېتود کارول شوی، تر څو د چاپېریال ساتنې موضوع د انساني حقوقو په رڼا کې په جامع او منظم ډول وڅېړل شي.

### لومړی مبحث: چاپېریال ساتنه او انساني حقوق

### لومړی مطلب: د چاپېریال مفهوم او اهمیت

چاپېریال (Environment) زموږ شاوخوا ټولو موجوداتو ته چاپېریال ویل کېږي، یا چاپېریال د محیط یوه احاطه ده چې یو سازمان یا تشکېل په کې فعالیت کوي. یا چاپېریال هغه الهي او ټولنیزه فضا ده، چې انسان په کې ژوند کوي او د هغه د بقا، ودې او پرمختګ لپاره حیاتي ارزښت لري. هوا، اوبه، خاوره، نباتات، ژوي او نور طبیعي سرچینې د چاپېریال اساسي عناصر ګڼل کېږي، چې د یو بل سره ژورې متقابلې اړیکې لري. د دغو عناصرو هر ډول تخریب نه یوازې طبیعي توازن ګډوډوي، بلکې د انساني ژوند پر کیفیت هم مستقیم اغېز کوي.

د چاپېریال اهمیت له دې امله زیات دی چې د انسان بنسټیز حقوق، لکه د ژوند حق، د روغتیا حق او د سالم ژوند حق، له سالم چاپېریال پرته نه شي تحقق موندلی. که هوا ککړه وي، اوبه ناولې وي او طبیعي سرچینې له منځه ولاړې شي، نو د انساني ژوند دوام له جدي خطر سره مخ کېږي. له همدې امله، معاصرو حقوقي نظامونو د چاپېریال ساتنه د دولتونو او ټولنو له اساسي مکلفیتونو څخه ګڼلې ده (شرافت، ۱۳۹۵، ۳۵).

**دویم مطلب: د چاپېریال تخریب او پر انساني حقوقو یې اغېزې**

د چاپېریال تخریب د هغو کړنو پایله ده چې د طبیعي سرچینو توازن له منځه وړي. صنعتي ککړتیا، ښاري بې‌نظم پراختیا، د ځنګلونو پرېکول، د اوبو سرچینو ناسم استعمال او د کثافاتو غیرمعیاري مدیریت د چاپېریال د تخریب مهم عوامل دي. دغه تخریب د انساني حقوقو پر بېلابېلو برخو ژور منفي اغېز لري. (د چاپېریال ساتنې ملي اداره، ۱۳۸۷، دویمه ربع، ګڼه ٦).

**لومړی جزء: د ژوند پر حق اغېز**

د ژوند حق د ټولو انساني حقوقو بنسټ دی. د هوا ککړتیا د تنفسي ناروغیو، د زړه د ناروغیو او د مړینې د کچې د لوړوالي سبب ګرځي. همدارنګه، د اوبو ککړتیا د وژونکو ناروغیو د خپرېدو لامل کېږي. دا ټول عوامل د ژوند حق په مستقیم ډول تر پوښتنې لاندې راولي (نیازی، ۱۳۹۴، ۴۲).

**دویم جزء: د روغتیا پر حق اغېز**

روغتیایي ستونزې، چې د چاپېریال د ککړتیا له امله رامنځته کېږي، د انسان د فزیکي او رواني سلامتیا پر حق منفي اغېز لري. ماشومان، زاړه کسان او کمزوري قشرونه تر ټولو زیات له دې وضعیت څخه اغېزمن کېږي، چې دا حالت د ټولنیز عدالت مسئله هم راپورته کوي. (نیازی، ۱۳۹۴، ۳۲).

**دریم جزء: د سالم چاپېریال پر حق اغېز**

په معاصر حقوقي فکر کې د سالم چاپېریال حق د یو خپلواک بشري حق په توګه پېژندل شوی دی. د چاپېریال تخریب دا حق نقضوي او د اوسني نسل تر څنګ د راتلونکو نسلونو حقوق هم تر ګواښ لاندې راولي (هاشمي، ۱۳۹٦، ٦٦).

**دویم مبحث: د اسلام له نظره د چاپېریال ساتنه**

د اسلام مبارک دین چاپېریال ساتنه د انسان د خلافت او امانت پر اصل ولاړه ګڼي. قرآنکریم انسان ته د ځمکې د آبادولو امر کوي او د فساد له رامنځته کولو څخه یې منع کوي. د «ولا تفسدوا في الارض» اصل دا څرګندوي چې هر ډول تخریب، ککړتیا او اسراف له اسلامي لارښوونو سره په ټکر کې دی (القرآن کریم، البقرة: ۱۱).

**لومړی مطلب: هغه آیتونه، چې چاپېریال د ټولو حق ګڼي:** دغه آیتونه دا بیانوي چې الله (جل جلاله) چاپېریال او طبیعت د انسانانو لپاره پیدا کړی او حق لري، چې له هغه څخه ګټه واخلی. لکه د سورت البقره **۲۹** آیت داسې حکم کوي: ﴿**هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ**﴾

**ژباړه:** الله هغه ذات دی، چې ستاسو لپاره یې هغه ټول څه پیدا کړل چې په ځمکه کې دي، بیا یې د آسمان په لور توجه وکړه او هغه یې اوه آسمانونه برابر کړل او هغه پر هر څه ښه پوه دی (القرآن الکریم، البقرة: ۲۹؛ تفسیر قرآن کریم [کابلي تفسیر]، بې کاله).

د سورت الرحمن په ۱۰ آیت کې راغلي: ﴿**وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ**﴾.

ژباړه: او ځمکه یې د ټولو مخلوقاتو لپاره هواره او برابره وګرځوله". (القرآن الکریم، الرحمن: ۱۰؛ تفسیر قرآن کریم [کابلي تفسیر]، بې کاله).

**لنډه توضیح:** الله تعالی ځمکه داسې هواره او برابره پیدا کړي، چې "ټول مخلوقات" ترې ګټه واخلي، دا د الهي رحمت، عدل او عمومي نعمت څرګندونه کوي. په دې آیت کې د «الأنام» کلمه د "ټولو ژوندیو موجوداتو" لپاره عامه ده. دا څرګندوي چې ځمکه د الله تعالی له لوري د انسان په انحصار کې نه ده، بلکې د ټول مخلوق لپاره یو ګډ نعمت دی، او انسان د هغې د ساتنې او عادلانه استفادې مسؤلیت لري (ابن کثیر، ۲۰۰۰، ج ۷، ص ۴۸۷).

**دویم مطلب: هغه آیتونه، چې د چاپېریال پیدایښت د انسان لپاره بیانوي:** د سورت النحل په ۵ آیت کې الله (جل جلاله) فرمایي: ﴿**وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا ۗ لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ**﴾.

ژباړه: او څاروي یې پیدا کړل؛ په هغو کې ستاسو لپاره ګرم (کالي او پوښاک) او ډېرې نورې ګټې دي، او له همدغو څخه تاسو خوراک هم کوئ (ابن کثیر، ۲۰۰۰، ج ۴، ص ۵۶۹؛[کابلي تفسیر]).

**لنډه علمي توضیح:** دا آیت د الله تعالی د نعمتونو بیان دی، چې څاروي یې د انسان د اړتیاوو لپاره پیدا کړي دي "دفء" د وړی، پوستکي او ویښتانو له لارې د یخنۍ او ګرمۍ څخه ساتنه. "منافع": سورلۍ، شیدې، تجارت او نورې ګټې. "تأکلون": د حلال خوراک سرچینه (القرآن الکریم، النحل 5 :ابن کثیر،2000 ، ج4، ص569).

همدارنګه نور ډېر زیات آیتونه په قرآن کریم کې شته، چې د خرما، انګور، زیتون، انار، او داسې نورو یادونه یې کړي او د انسانانو حق یي بللی او څوګ نشي کولی، چې غیر له الله (جل جلاله) څخه انسانان یو تر بله د دغه حقوقو څخه محروم کړي.

اوس مهم ټکی دا دی، چې هر حق یو مسؤولیت رامنځ ته کوي، همغه ډول، چې انسان حق لري سالم چاپېریال ولري، نو مسؤولیت هم لري، چې د نورو حقوق وپیژني او د هر هغه عمل څخه ډډه وکړي، چې نور د سالم چاپېریال څخه محروموي.

**درېیم مطلب:** همدارنګه نبوي احادیث هم چاپېریال ساتنې ته ځانګړې پاملرنه کړي، لکه د اوبو د اسراف منع، د ونو کېنولو هڅونه او د عامه لارو د پاک ساتلو توصیه. دا ټول د دې ښکارندویي کوي چې اسلام چاپېریال د انساني حقوقو او ټولنیز عدالت یوه مهمه برخه ګڼي (ابن ماجه، ۲۰۰۹، حدیث ۳۶۸).

**درېیم مبحث: د نړیوالو انساني حقوقو له نظره د چاپېریال ساتنه**

که څه هم د بشري حقونو په لومړنیو اسنادو کې د چاپېریال حق په صراحت نه و یاد شوی، خو وروسته نړیوالو پرمختګونو دا روښانه کړه چې د انساني حقوقو بشپړ تحقق له سالم چاپېریال پرته ناشونی دی. د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال میثاق د روغتیا د حق له لارې د چاپېریال د ساتنې پر اهمیت ټینګار کوي.

همدارنګه، د چاپېریال په اړه نړیوالو کنفرانسونو او اعلامیو دولتونه مکلف کړي چې د چاپېریال د ساتنې لپاره قانوني او عملي ګامونه پورته کړي، تر څو د انسانانو د ژوند او کرامت خوندیتوب تضمین شي (محمد صدیق، ۱۳۹۵، ۲۳- ۳۸).

**څلورم مبحث: د افغانستان د نافذه قوانینو له نظره د چاپېریال ساتنې ارزښت**

اوس مهال اسلامي امارت ځانګړي چاپېریال ساتنې ملي اداره لري، چې چاپېریالي چارو پلي کولو ته ژمنه اداره ده، د چاپېریال اړوند قوانین هغه که پخواني وي یا اوسني د شریعت په چوکاټ کې یې تطبیق او رسیدګي ورته کوي.

**لومړی مطلب: اوسني عملي مقررات / اجراات:** اسلامي امارت د وحشي ژوو، مرغانو، او کبانو ښکار؛ په ټول هېواد کې د منع اعلان کړی او د سرغړونې په صورت کې قانوني اقدامات ترسره کېږي. د چاپېریال ساتنې ملي اداره اقلیمي بدلون، چاپېریال ساتنې پالیسي، همغږي او نړیوالو همکاریو ته ژمنه ښیي. د چاپېریال ساتنې ملي ادارې په رسمي وېب پاڼه کې ګڼ؛ مقررات او طرزالعملونه؛ خپاره شوي، لکه:

- د چاپېریال قانون

- د هوا ککړتيا راکمولو مقرره
- د خځلو مديريت مقرره
- د چاپېريالي اغېزو ارزونې مقرره
- د اوبو کېفيت د کنټرول مقرره
- د اوزون طبقه مقرره
- د صوتي ککړتيا د راکمولو مقرره

د اسلامي امارت په چوکاټ کې د چاپېريال ساتنې ادارې عملي چارې لکه وحشي ژوو ساتنه او د چاپېريالي مقرراتو پلي کول، خو د نوي رسمي قانون ټول جزئيات علني شوي نه دي او تر ډېره د پخواني قانون د تطبيق پر بنسټ عملي کېږي (همدرد، مسؤل پروګرام، اوزون افغانستان).

**پنځم مبحث: د چاپېريال ساتني لارې چارې يا ميتودونه:** دا چې څنګه چاپېريال وساتو په اړه يې په دريو موضوعاتو لنډ بحث کوو

۱- د چاپېريال د ککړتيا لاملونه

۲- د چاپېريال ساتنې لارې چارې يا مېتودونه

۳- د چاپېريال ساتنې په اړه د پوليسو ونډه

**لومړی مطلب:** دا ښکاره ده چې د لاملونو په پيژندلو سره کولی شو په اسانۍ سره د هغه مبارزه وکړو او خپل چاپېريال پاک وساتو. نو هغه لاملونه چې د چاپېريال د ککړتيا سبب کېږي په دوو برخو ويشل کېږي.

**لومړی جزء: الهي يا طبيعي لاملونه:** لکه د ځمکې د تودوخې د درجې ګرموالی او داسې نور

**دويم جزء: انساني لاملونه:** دا هغه کړنې دي چې انسانان يې د چاپېريال په حق کې ترسره کوي. لکه تر حده زيات د موټرونو يو ځای کېدل، د سړکونو خاموالی، د غيرقانوني سونګ توکو څخه ګټه اخيستل، د جنراتورونو څخه ګټه اخېستل، د موټرونو بې کېفيته سونګ توکي، په ښار کې د شنو سيمو نشتون، په ښار کې د کافي کثافت دانيو نشتون، د ښاروالیو سره د خلکو ضعيفه همکاري، د معياري بيت الخلاؤ نشتون او داسې نور (حقيار، ۱۳۹۲، ۲۳).

**دويم مطلب: هغه لارې چارې، چې د چاپېريال ساتنې لپاره يې دولت ترسره کولی شي**

۱- په ښارونو کې د ترفيکو په وسيله د زړو او دود توليدونکو موټرونو مخنيوی.

۲- د عمومي ليږد راليږد توکو لکه ملي بسونو زياتوالی

۳- Planting Cooperation

Enough Electricity -۴

۵- د هوا د ککړتیا څخه د مخنیوي د چاپېریال ساتنې قانون ۲۹ مادې پر اساس د مخابراتي او معلوماتي ټیکنالوژي د وزارت لخوا د هوا د ککړتیا څخه مخنیوی.

٦- د ښاروالیو او ښار بیا جوړونې د وزارت لخوا د سړکونو جوړولو ته دوام ورکول.

۷- د پولیسو لخوا د قانون مطابق هر هغه څوګ مجازات کول، چې چاپېریال ککړوي.

۸- د ځنګلونو او ونو د پرې کولو مخنیوی آن که د دولتي چارواکو لخوا هم وي.

۹- د بې کېفیته سونګ توکو او نورو ناکاره توکو د واردولو څخه په کلکه مخنیوی.

۱۰- د اوبو سرچېنو ته د ککړو او ناولو اوبو د ورګډولو څخه مخنیوی (د ملي پولیسو ښوونیز لارښو، ۲۰۱٦، ۴۵)

**دریم مطلب: هغه لارې چارې، چې د چاپېریال ساتنې لپاره یې خلک ترسره کولی شي**

۱- په ټاکل شوو سیمو کې د ناکاره او کثافاتو اچول.

۲- د سربسته او څښاک اوبو څخه په لیري سیمو کې د جوړو شوو بیت الخلاو څخه کار اخیستل او د هغوی لپاره د ځاګانو داسې جوړول چې د هغه ناکاره اوبه لاندې جذب نشي.

۳- په کاري محیط کې له چاپېریال څخه ساتنه لکه د لرګیو د بخاري پر ځای د برقې یا ګازي بخاري استعمال.

۴- د اوبو څخه سالمه استفاده. یعنې د اسراف مخنیوی.

۵- د هغه پاکوونکو توکو څخه ګټه اخیستل چې چاپېریال ته یې زیان کم وي.

٦- د باران خیز ځنګلونو څخه ساتنه.

۷- د ونو او ځنګلونو لاندې د اور لګولو څخه مخنیوی.

۸- د رود خانو په لړ کې د موجودو ونو نه قطع کول. (د ملي پولیسو ښوونیز لارښو، ۲۰۱٦، ۴۲)

**څلورم مطلب: هغه لارې چارې چې د چاپېریال ساتنې په برخه کې یې پولیس ترسره کولی شي:** پولیس د قانون پلي کوونکي او ساتونکي په توګه د چاپېریال ساتنې په برخه کې لاندې کړنې ترسره کولی شي:

۱- پولیس مکلف دي، چې د چاپېریال ساتنې اصولو او مقرراتو د تطبیق په برخه کې د اړوند ادارو سره پوره همکاري وکړي.

۲- پولیس کولی شي د ښاروالۍ اړوند کارکوونکو سره یو ځای د لاسي پیرودونکو، سړک غاړې خرڅوونکو او هتیوالو لخوا د چاپېریال ککړتیا څخه مخه ونیسي او د اړتیا په صورت کې د هغوی په کاروبار کې محدودیت رامنځ ته کړي.

۳- د زاړو موټرو مخنیوی.

۴- د بټیو، حمامونو او نانوایانو ملکانو ته اخطاریه ورکول، ترڅو د مبلایلو، ټایرونو او له داسي نورو توکو سوځولو څخه ډډه وکړي، چې چاپېريال زيات زيان رسوي.

۵- په خپل کار ځای کې دچاپېريال ساتنه وکړي او نه ستړي کېدونکې هڅي وکړي.

٦- خپل ملګري، کورنی او شاوخوا خلک د چاپېريال له ناوړه اغیزو څخه خبر کړي.

۷- پولیس کولی شي، چې عامه سیمې لکه پارکونه او میله ځایونه د پاک ساتلو په موخه تر خپل کنټرول لاندې راولي.

۸- باید ځايي پولیس د عامه خلکو د ذهنونو روښانه کولو په موخه د جوماتونو امامانو، ښوونکو او چاپېريال سره چاروکو سره په ګډه، په جوماتونو، مدرسو، ښوونځیو او اړوندو اداراتو کې پراخ تبلیغاتي برنامې په لار واچوي.

۹- د ځنګلونو د غیرقانوني قطع کولو مخنیوی وکړي

۱۰- د ښاروالیو په مرسته پراخ او ستر حشرونه په لاره واچوي. (د ملي پولیسو ښوونیز لارښو، ۲۰۱٦، ۵۱)

**پایله (Conclusion)**

د دې څېړنې له علمي تحلیل څخه څرګندیږي چې چاپېريال ساتنه د انساني حقوقو د تحقق لپاره یو بنسټیز او نه جلا کېدونکی شرط دی. سالم چاپېريال د انسان د ژوند، روغتیا، امنیت او کرامت د خوندیتوب اساسي زمینه برابروي، او هر ډول چاپېريالي تخریب په مستقیم یا غیرمستقیم ډول د دغو حقوقو د نقض سبب ګرځي. د هوا، اوبو او خاورې ککړتیا، د طبیعي سرچینو بې‌رویه استعمال او د اکوسیستم له منځه تګ نه یوازې د اوسني نسل پر ژوند منفي اغېز لري، بلکې د راتلونکو نسلونو حقوق هم تر جدي ګواښ لاندې راولي.

اسلامي شریعت د انسان د خلافت او امانت اصل ته په کتو، د چاپېريال ساتنه یو شرعي، اخلاقي او ټولنیز مسوولیت ګڼي او د فساد، اسراف او تخریب څخه په کلکه منع کوي. همدارنګه، نړیوال بشري حقوقي اسناد او د افغانستان نافذه قوانین د سالم چاپېريال پر حق ټینګار کوي او دولتونه او وګړي د چاپېريال د ساتنې مکلف ګڼي.

خو سره له دې حقوقي او دیني چوکاټ څخه، د عملي تطبیق په برخه کې لا هم جدي ستونزې موجودې دي. دا څېړنه دې پایلې ته رسېږي چې تر هغه وخته چې د چاپېريال ساتنې اصول په اغېزمنه توګه تطبیق نه شي، د انساني حقوقو بشپړ تحقق ناشونی دی. له همدې امله، اړینه ده چې چاپېريال ساتنه د یوې فرعي موضوع پر ځای د انساني حقوقو د اساسي محور په توګه وپېژندل شي.

**وړاندیزونه**

د څېړنې د پایلو پر بنسټ، لاندې وړاندیزونه وړاندې کېږي:

۱. حقوقي پیاوړتیا: د چاپېریال ساتنې قوانین باید لا روښانه او عملي شي، او د سرغړونو پر وړاندې مؤثر جزایي او اداري میکانیزمونه وضع او تطبیق شي.

۲. د قوانینو تطبیق: اړوند امارتي اداري باید د چاپېریال ساتنې قوانین په جدي توګه تطبیق کړي او د نظارت او حساب ورکونې سیستم پیاوړی کړي.

۳. دیني او ټولنیز پوهاوی: دیني عالمان، تعلیمي بنسټونه او رسنۍ باید د اسلامي ارزښتونو په رڼا کې د چاپېریال ساتنې پوهاوی عام کړي، تر څو خلک دا موضوع د یو شرعي مسوولیت په توګه درک کړي.

۴. ښوونه او روزنه: د چاپېریال ساتنې مفاهیم باید د تعلیمي نصاب برخه وګرځول شي، څو راتلونکي نسلونه له ماشومتوبه د چاپېریال د ارزښتونو سره بلد شي.

۵. ټولنیز مشارکت: چاپېریال ساتنه باید یوازې د دولت مسوولیت ونه ګڼل شي، بلکې د ټولنې د هر فرد فعال ګډون په کې یقیني شي.

۶. راتلونکې څېړنې: سپارښتنه کېږي چې راتلونکې علمي څېړنې د چاپېریال ساتنې او انساني حقوقو ترمنځ اړیکه په عملي قضیو او میداني څېړنو ولاړې وڅېړل شي.

# The Impacts of Environmental Protection on Human Rights

Senior Teaching Assistant: Mohammad Saqi Adel, Sheikh Zayed University, Faculty of Law and Political Science, Department of Political Science and International Relations
**Email:** mohammadsaqi1@yahoo.com

**Abstract**
The environment is a fundamental element of human life, health, and dignity, and its protection is considered one of the most important legal, social, and religious issues of the contemporary world. Environmental degradation—such as air and water pollution, the indiscriminate use of natural resources, and deforestation—directly affects fundamental human rights, particularly placing the right to life, the right to health, and the right to a healthy life under serious threat. From the perspective of the principle of human stewardship (khilāfah), Islamic Sharia regards the protection of the Earth as a religious and moral responsibility and strictly prohibits corruption, extravagance, and destruction. Likewise, international legal instruments and the enforceable laws of the Islamic Emirate of Afghanistan emphasize the right to a healthy environment and obligate states to protect and preserve the environment. Based on a library-based and analytical methodology, this article examines the impacts of environmental protection on human rights and the relationship between them. It also analyzes the legal, Islamic, and social consequences of environmental degradation. The article ultimately demonstrates that environmental protection is not merely a technical or administrative issue, but rather a fundamental prerequisite for the realization of human rights. For this purpose, the implementation of legal regulations, religious awareness, and social responsibility are of vital importance. God willing, through reading this article, all religious, legal, and administrative institutions, as well as individuals, will become more attentive to fulfilling their responsibilities toward the environment and will refrain in the future from the indiscriminate exploitation of divine blessings and natural resources.

**Keywords** :Environment ،Human ،Impacts ،Protection ،Rights

**مآخذونه**

القرآن کریم.

ابن کثیر، اسماعیل بن عمر. (۲۰۰۰م). تفسیر القرآن العظیم، (جلدونه ۱-۴). ریاض: دار طیبة.

ابن ماجه، محمد بن یزید. (۲۰۰۹م). سنن ابن ماجه. قاهره: دار الحدیث.

حقیار، عبدالمنان. (۱۳۹۲). تأثیر خشونت بالای آموزش، پوهنتون تعلیم و تربیه کابل، مرکز تحصیلات ماستري.

د ژوند د چاپېریال ساتنې ملي اداره. (۱۳۸۷). نشریه، ربع دوم، گڼه ٦.

د ملي پولیسو لپاره د روغتیاپالنې شوونیز لارښود. (۲۰۱٦). کابل – افغانستان.

شرافت، محمد شریف؛ فیضي، عبدالمالک. (۱۳۹۵). د چاپېریال ساتنې شوونیز لارښود د ملي پولیسو لپاره GIZ.

محمد صدیق. (۱۳۹۵). اسلام او چاپېریال ساتنه. کابل: د علومو اکاډمي، د اسلامي علومو مرکز.

مسلم، بن حجاج. (۲۰۰٦م). صحیح مسلم. ریاض: دار السلام.

نیازی، سیف الرحمن. (۱۳۹۴). انساني حقوق. ننگرهار: زیار خپرندویه ټولنه.

هاشمي، سیداکرم؛ جواد، خوشحال. (۱۳۹٦). انساني حقوق. یار خپرندویه ټولنه.

همدرد، زاهدالله. (بې نېټې). مسؤل پروگرام، اوزون افغانستان، NEPA.

کوچی، خدایداد. (۱۳۹۴). چاپېریال ساتنه. جلال اباد: سلام خپرندویه ټولنه.

قرضاوي، یوسف. (۲۰۰۱م). په اسلام کې د چاپېریال ساتنه (Ri'ayat al-Bi'ah fi Shari'at al-Islam). قاهره: دار الشروق.

# ماشومانو ته په مورنۍ ژبې د زده کړې اهمیت

پوهنمل میرزاخان نیکزوی، د شیخ زاید پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګه استاد
برېښنالیک:mirzakhan.nikzoy@gmail.com

**لنډیز**

دا مقاله د مورنۍ ژبې په زده کړه کې د هغې حیاتي رول ته کتنه کوي او پر ماشومانو یې د فکري، عاطفي او ټولنیز پرمختګ اغېز څېړي. څېړنې ښیي چې د ماشومانو په زده کړه کې د مورنۍ ژبې اهمیت یوه جدي موضوع ده چې د علمي بریا او د فرهنګ خوندیتوب لپاره مهمې اغیزې لري، کله ماشومان په خپله مورنۍ ژبه زده کړه کوي، د دوی وړتیاوې د پېچلو مفاهیمو په درک، د اطلاعاتو په حفظ او ژبني مهارتونو په توسعه کې پیاوړتیا مومي. بر سیره پر دې، په مورنۍ ژبه زده کړه د فرهنګي هویت د ساتنې ملاتړ کوي او د ماشومانو او ټولنې تر منځ یوه پیاوړې اړیکه ټینګوي. دغه مقاله د بېلو بېلو ترسره شوو علمي څېړنو له لارې د مورنۍ ژبې د زده کړې ګټې په ځانګړې ډول علمي بریا، په ځان د باور لوړوالي او د اجتماعي یوالي په برخه کې ګټې روښانه کوي، همدارنګه ماشومانو ته په دویمه یا خارجي ژبه کې د زده کړو خنډونو ته هم اشاره کوي؛ په ځانګړې ډول ذهني فشار او فرهنګي ناهمغږي چې د زده کړو بهیر له خنډ سره مخ کوي. په دې مقاله کې په تعلیمي سیستمونو کې په مورنۍ ژبه پر تدریس باندې ټینګار کوي چې دا ډول تګلاره نه یوازې د زده کړې په پایلو کې ښه والی راولي، بلکې ژبني تنوع ته وده ورکوي او ټولنیز ګډون هڅوي. په پای کې، دا څېړنه د تعلیمي پالیسیو لپاره د مورنۍ ژبې په لومړنیو زده کړو کې د استعمال د ملاتړ اړتیا باندې ټینګار کوي، ترڅو د ماشومانو ټولیز پرمختګ او ژبني میراث خوندي شي. د دې څېړنې تګلاره کتابتوني ده او مېتود یې تشریحي دی؛ په دې څېړنه کې اړوند کتابونه، علمي مقالې او نور علمي منابع تر مطالعې لاندې نیول شوي او د موضوع اړوند نظریات په تشریحي بڼه وړاندې شوي دي.

**کلیدي ټکي:** زده کړه، ژبني مهارتونه، فرهنګي هویت، ماشومان، مورنۍ ژبه

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین.**

د ماشومانو په تعلیم کې د مورنۍ ژبې اهمیت ته ډېره کمه توجه کیږي، خو دا د هغوی په ذهني، عاطفي او ټولنیز پراختیا کې خورا لویه ونډه لري. ژبه یوازې د اړیکو یوه وسیله نه ده، بلکې د ماشوم د هویت او پر نړۍ باندې د پوهېدو یوه بنسټیزه برخه ده. مورنۍ ژبه چې لومړنۍ زده شوې ژبه ده، د ټولو نورو زده کړو لپاره بنسټ جوړوي. څېړنې ښيي چې ماشومانو ته په مورنۍ ژبه زده کړه خورا مثبت اغېز لري. مورنۍ ژبه د علومو په ترویج، د عامه ښوونې او روزنې په پراختیا او د فرهنګي میراثونو په ساتنه کې مهم رول لوبوي، نو ځکه په مورنۍ ژبه زده کړه د زیات اهمیت وړ بلل کیږي. د مورنۍ ژبې د دې ارزښت سره سره زموږ د ښوونې او روزنې په نظام کې ماشومانو ته په مورنۍ ژبه د زده کړې مسئلې ته کم ارزښت ورکول کیږي. ډیری ماشومان په نامورنۍ ژبه زده کړه کوي، چې دا د ماشومانو د زده کړې په مخ کې یو له عمده ښوونیزو خنډونو څخه شمیرل کیږي. پرته له مورنۍ ژبې ښوونه او روزنه ناوړه ښوونیزې، رواني او ټولنیزې اغېزې لري، لکه: د تحصیل پرېښودل، د تحصیل د پرمختګ راټیټېدنه، په خپل نفس باندې د اعتماد له لاسه ورکول او په پای کې د بېسوادۍ د پراختیا سبب کېږي. دغه ناوړه اغېزې د دې اړتیا رامنځ ته کوي چې د ماشومانو په زده کړه باندې د مورنۍ ژبې د اهمیت اغېزې وڅېړل شي، نو په دې توګه د مورنۍ ژبې اهمیت او اغېزمنتوب روښانه شوی او په نامورنۍ ژبه باندې د زده کړې ناوړه پایلې او له هغوی څخه د وتو د حل مناسبې لارې چارې په ګوته شوې دي.

## د څېړنې موخې

په دغه څېړنه کې لاندې موخې په نظر کې نیول شوې دي:

۱. په زده کړه کې د مورنۍ ژبې د اهمیت او اغېزو څرګندتیا
۲. د نامورنۍ ژبې د زده کړو پایلو پېژندنه
۳. پر نامورنۍ ژبې باندې ښوونه او روزنه او له هغې څخه د راپیداشوو ستونزو د حل لپاره د مناسبو لارو چارو پلټنه

## د څېړنې کړنلاره او میتود

د څېړنې تګلاره کتابتوني ده چې په تشریحي او تحلیلي ډول له هغې څخه ګټه اخیستل شوې.

**تېرو اثارو ته کتنه**

مورنۍ ژبه د انسان د فرهنګي هویت، ذهني ودې او ټولنیز ارتباطاتو لپاره یوه حیاتي وسیله ده. په مورنۍ ژبه کې د زده کړې اهمیت په ځو مهمو برخو کې څرګندیږي چې د شخصي او ټولنیزې پراختیا لپاره بنسټیز رول لري. څېړنې ښيي چې مورنۍ ژبه نه یوازې د ماشومانو د پوهې او پوهیدو وړتیا زیاتوي، بلکه د ټولنې د هویت او فرهنګ په ساتنه کې هم مهمه ونډه لري. په دې اړه د "ګراشه (Grasha, 2001) "په مطالعه کې ویل شوي چې هغه ماشومان چې په خپلې مورنۍ ژبې کې ښوونه او روزنه ترلاسه کوي، د ژبې مهارتونه یې لوړیږي او په راتلونکي کې د نورو ژبو د زده کړې وړتیا یې هم زیاتیږي. د دې څېړنې له مخې، مورنۍ ژبه د ماشوم د ذهني پراختیا او فکري وړتیاوو د ودې لپاره اړینه ده. د "کامینز (Cummins, 2000) " په یوې څېړنه کې هم دا پایله اخیستل شوې چې په مورنۍ ژبه کې د زده کړې د پرمختګ سره ماشوم د نورو ژبو په زده کړه کې هم بریالی کیږي. هغه وایي چې مورنۍ ژبه د هر ډول ژبې د زده کړې اساس دی، او که ماشومان په مورنۍ ژبه زده کړه کوي، نو وروسته به هغوی په نورو ژبو کې هم ښه پرمختګ وکړي.

د "ماهن (Mahen, 2015) "په څېړنه کې څرګندیږي چې په مورنۍ ژبه کې د زده کړو لاسته راوړنه نه یوازې د فردي پرمختګ لپاره ګټوره ده، بلکه د ټولنې د فرهنګي او ژبني تنوع د ساتنې لپاره هم اړینه ده. هغه د مختلفو ټولنیزو ډلو لپاره په مورنۍ ژبه کې د زده کړې پر اهمیت ټینګار کوي، په ځانګړې توګه په داسې ټولنو کې چې ګڼ شمېر ژبې او فرهنګونه لري. همدارنګه "بینسون، توماس او کولیر (Benson, 2004; Thomas & Collier, 2002) " په خپلو څېړنو کې د یونسکو د څېړنو یادونه کوي، دوی وایي چې ډېرو څېړنو د مورنۍ ژبې پر بنسټ د تعلیم اهمیت روښانه کړی دی. د ملګرو ملتونو د پوهنې، ساینس او کلتور سازمان (UNESCO) د څېړنې له مخې، ماشومان هغه وخت ښه زده کړه کولای شي چې کله د خپلې مورنۍ ژبې په وسیله تعلیم ترلاسه کوي او په ځانګړې توګه د زده کړې په لومړیو کلونو کې. څېړنې د هندوستان، فیلیپین او جنوبي افریقا په څیر هېوادونو کې ښيي؛ هغه ماشومان چې په مورنۍ ژبه زده کړې کوي، د خپلو ملګرو په پرتله چې په دویمه ژبه زده کړه کوي، غوره اکاډمیکې لاسته راوړنې لري، د معلوماتو ساتلو او لوستلو مهارتونه یې ښه کیږي.

میل (Mill, 2014) په خپله څېړنه کې وایي، یو له مهمو دلایلو څخه چې د مورنۍ ژبې په تعلیم کې ګټې لیدل کیږي؛ هغه دا دي چې ماشومانو ته پرته له ژبني خنډ څخه د زده کړې زمینه برابریږي. په اوګانډا کې د یوې څېړنې له مخې، هغه ماشومان چې په خپله مورنۍ ژبه تعلیم ترلاسه کوي، د ریاضیاتو او ساینس په برخو کې غوره پوهه ښيي نسبت هغو ماشومانوته چې په انګلیسي ژبه کې تعلیم ترلاسه کوي. سربیره پر دې، د مورنۍ ژبې

کارول د ذهني پراختیا ملاتړ کوي څکه چې دا ماشومانو ته اجازه ورکوي چې نوي مفاهیم د خپلو پخوانیو تجروبو او پوهې سره په تړاو کې درک کړي، چې ډیری وختونه دا پوهه په لومړنۍ ژبه کې وي.

## مورنۍ ژبه

مورنۍ ژبه هغه ژبه ده چې یو وګړي یې لومړۍ ځل په کوچنیوالي کې له مور، پلار، خور، نیا، نیکه یا بل هغه سرپرست څخه زده کوي چې پالنه او پاملرنه یې ور تر غاړې وي، یعنې ضرور نه ده چې ماشوم دې یوازې له هماغه خپلې بیالوجیکي مور څخه زده کړي. داچې له پخوا زمانو راهیسې د ژبې په زده کړه کې د اصلي مور ونډه ټاکنده راغلې، نو څکه یې په دغه نامه(مورنۍ ژبه) یادوي. نن سبا ژبپوهانو د ((مورنۍ)) ستاینوم پر ځای ((لومړنۍ)) ستاینوم ډیر کاروي.

د ژبې د فطري او اکتسابي والي طرحې مسئله ډیره رایجه ده او سطحي فکر مونږ په دې قانع کوي چې ژبه په انحصاري توګه فطري یا فقط اکتسابي کېدای نه شي، بلکې دا دواړه په عین حال کې کارنده دي(دادستان، ۱۳۸۵)، خو تر اوسه هم په خلکو کې دا باور شته چې ماشوم د والدینو، یا خپلو همځولو د تقلید له لارې خپله مورنۍ ژبه په محیط کې زده کوي. دغه نظریه تر ۱۹۵۷م کال پورې حتي د ژبپوهانو تر منځ هم رایجه وه خو دغه ټول عامیانه نظریات او فرضیې په ۱۹۵۷م کال کې د یوه ژبپوه له خوا چې چامسکي نومیده تغییر کړل شوه. چامسکي خپله نظریه په دې ډول اعلان کړه: مورنۍ ژبه د یوې خزانې په څیر د نوي زیږیدل شوي ماشوم په وجود کې له زیږیدو سره یو ځای شوې. نوی زیږیدل شوی ماشوم چې له ځانه سره یې ژوند راوړی، د مورنۍ ژبې په نوم یوې سرمایې د هغه په دننه کې ځای نیولی، دا سرمایه چې بالقوه، ذاتي، لومړی او همدارنګه پر تولد مقدمه ده. دغه ژبه د خپلو پیچلتیا وو سره سره د ماشوم په مغزي جوړښت کې د جوش خوړلو په حال کې ده. په بله وینا ماشوم په فطري یا ارثي ډول له ځانه سره یوه سرمایه لري او غواړي چې د هغې له ګټې څخه برخمن شي او په ژوند کې له دغې معنوي، ذاتي، فطري او د ځینو پوهانو په وینا ملکوتي سرمایې څخه ګټه واخلي(Chomsky, 1965).

مورنۍ ژبه یوازې په خبرو اترو پورې محدوده نه دی، بلکې په مختلفو برخو لکه ذهني فعالیت، ژبني هویت، تعلیمي پرمختګ او ټولنیز یووالي پورې هم تړاو لري. مورنۍ ژبه هغه بنسټ دی چې پر هغې باندې د یو شخص د نړۍ لید، حافظه، عاطفي څرګندونې او زده کړه جوړیږي، نو په همدې توګه مونږ د هغې اهمیت په لاندې برخو کې څرګندوو (UNESCO, 2008).

**په مورنۍ ژبه باندې په زده کړه کې عاطفي او ټولنیزې ګټې**

مورنۍ ژبه د انسان د ژبې او فرهنګ بنسټیزه برخه ده، او دا په ځانګړې توګه د ماشومانو د عاطفي او ټولنیزې ودې لپاره مهمه ده. ژبه د ماشوم د ځان څرګندولو او د احساساتو د مدیریت یوه اساسي وسیله ده. کله چې ماشومان په خپلې مورنۍ ژبې خبرې کوي، دوی د غوره ځواب ورکولو او د خپل احساساتو د څرګندولو توان لري، چې دا د رواني هوساینې لپاره اړینه ده، نو په دې توګه په مورنۍ ژبه کې زده کړه، یوازې د ژبې په پوهېدو پورې نه محدودېږي، بلکې د ماشومانو د رواني او ټولنیز پرمختګ په برخه کې هم ځانګړې ګټې لري (Cummins, 2000).

د نړیوال بانک په یوه څېړنه کې ویل شوي، هغه ماشومان چې په مورنۍ ژبه کې ښوونه او روزنه ترلاسه کوي، د خپل کلتوري هویت سره ډېر زیات تړاو احساسوي، چې دا د دوی د تعلق حس پیاوړی کوي او دغه کلتوري میراثي اړیکه د ماشومانو د فخر او ځان ارزښت جوړولو لپاره اړینه ده. برسېره پر دې، هغه ماشومان چې په خپله ژبه کې عاطفي امنیت احساس کړي، ډېر احتمال لري چې قوي ټولنیز مهارتونه یې وده وکړي او د خپلو همځولو او ښوونکو سره ښې اړیکې جوړې کړي.

په مورنۍ ژبه تعلیم د ټولنیز شمولیت او کلتوري تنوع ملاتړ رامنځ ته کوي، کله چې ماشومان په داسې ژبه تعلیم ترلاسه کوي چې دوی پرې پوهیږي او ارزښت ورته لري، نو دا د ټولګي فعالیتونو او بحثونو کې د فعال ګډون لامل کیږي او دا شمولیت د یوه مثبت او ملاتړ کوونکي تعلیمي چاپیریال د رامنځته کولو لپاره اړین دی چې په هغه کې ماشومان د درناوي او ارزښت احساس کو (World Bank, 2015).

په رواني ژبپوهنه کې مطالعې ښيي چې ماشومان په خپله لومړۍ ژبه کې معلومات په اغیزمنه توګه پروسس کوي، په ځانګړې توګه په هغو دندو کې چې مفکوروي استدلال ته اړتیا لري (Bialystok, 2001). سربیره پردې، په مورنۍ ژبه کې زده کړه عزت نفس (ځان ته درناوی) او هویت پیاوړی کوي، همدارنګه د پردیتوب هغه کچه راټیټوي چې ډېری وختونه په ژبني لحاظ په ناهمغږو ټولګیو کې تجربه کیږي (Heugh, 2011).

**د فرهنګي هویت په پیاوړتیا کې د مورنۍ ژبې رول**

مورنۍ ژبه یوازې د اړیکو وسیله نه ده، بلکې د ماشوم د فرهنګي هویت یوه مهمه برخه جوړوي. ژبه هغه اساسي وسیله ده چې له لارې یې ماشومان خپل کلتوري ارزښتونه، دودونه او تاریخ زده کوي. د مورنۍ ژبې په زده کړې سره، ماشومان د خپل فرهنګي میراث په اړه ژوره پوهه ترلاسه کوي، چې په دې سره د هغوی د فخر او خپلو

ریښنو سره تړاو احساس پیاوړی کیږي. دا فرهنګي اړیکه د ماشوم د عمومي پراختیا سره مرسته کوي او هغوی هڅوي چې په اعتماد سره خپل هویت ومني.

برسېره پر دې، هغه ماشومان چې په خپلې مورنۍ ژبه زده کړه کوي، د فرهنګي توپیرونو د لرې کولو لپاره ښه تیار شوي وي او کولی شي له هغو کسانو سره اړیکې ټینګې کړي چې د دوی د ژبې او فرهنګ سره ورته پیشینه لري. دا د ټولنې ټولنیز جوړښت پیاوړی کوي او ټولنیز یووالی هڅو(Cummins, 2000) .

**پایله**

ماشومانو ته په مورنۍ ژبه باندې د تعلیم رول نه شي کمزوری کېدی. دا یوازې د اړیکو وسیله نه ده، بلکې د ذهني، عاطفي، او ټولنیز پرمختګ لپاره یو مهم بنسټ دی. هغه ماشومان چې په خپله مورنۍ ژبه باندې زده کړې کوي، د بنسټیز سواد مهارتونو په ترلاسه کولو کې، قوي کیږی، چې په بدل کې یې د نورو ژبو د زده کړې وړتیاوې پیاوړې کوي. په لومړۍ ژبه کې د لوستلو او لیکلو مهارت ترلاسه کول، ماشومانو ته داسې ذهني چوکاټونه جوړوي چې د نورو موادو او د مضامینو زده کړې لپاره اسانتیا برابروي.

له دې پرته، د مورنۍ ژبې زده کړه د ماشومانو فرهنګي هویت په پراختیا کې خورا مهم رول لري. ژبه د فرهنګ، میراث او تاریخ سره ژور تړاو لري. کله چې ماشومان په خپلې مورنۍ ژبه کې زده کړې کوي، دوی د خپل فرهنګي میراث په اړه ژوره پوهه ترلاسه کوي، چې دې سره د هغوی د فخر، د ځان ارزښت او د خپلو ریښنو سره تړاو پیاوړی کیږي. دا اړیکه نه یوازې له دوی سره د ټولنیز چاپیریال په تعامل کولو کې مرسته کوي، بلکې د خپل فرهنګي میراث په اړه د اطمینان سره ښکېلتیا ته هم ځواک ورکوي. څېړنې په ژبپوهنه، ارواپوهنه، او پوهنه کې ښیي چې د مور په ژبه لومړنۍ زده کړه د سواد ودې ته لاره هواروي، کلتوري هویت پیاوړی کوي او د نورو ژبو د زده کړې بنسټ برابروي.

په ټوله کې، په مورنۍ ژبه باندې زده کړه د ماشومانو د ادراکي، ټولنیز او عاطفي پرمختګ لپاره بنسټ جوړوي. په مورنۍ ژبه زده کړه د عمومي پرمختګ لپاره اړینه ده او دا د علمي بریا ملاتړ رامنځ ته کوي، د کلتوري فخر ته وده ورکوي، او ټولنیزې اړیکې پیاوړې کوي. لکه څنګه چې موږ د راتلونکي په لوري روان یو، دا خورا مهمه ده چې د نړۍ ټول تعلیمي سیستمونه په مورنۍ ژبه کې د زده کړې اهمیت ومني او داسې پالیسۍ ترتیب کړي چې د هغې د ګډون ډاډ ترلاسه کړي. د دې سره موږ کولای شو د ټولو ماشومانو لپاره یو ډېر شمولیت لرونکی، کلتور لرونکی، او علمي بریالی راتلونکی جوړ کړو.

**وړاندیزونه**

۱. **د مورنۍ ژبې زده کړې ته لومړیتوب ورکول:** تعلیمي سیستمونه باید په مورنۍ ژبه باندې تدریس ته لومړیتوب ورکړي او د دې ژبې د تدریس لپاره مناسب منابع او ښوونیز مواد برابر کړي. دا به د ماشومانو د زده کړې وړتیاوې زیاتې کړي او د هغوی د کلتوري هویت پیاوړتیا کې به مرسته وکړي.

۲. **د معیاري ښوونکو روزنه:** ښوونکي باید په داسې طریقه وروزل شي چې د مورنۍ ژبې د تدریس لپاره اړین مهارتونه ولري. د ښوونکو روزنه باید کلتوري حساسیت، د ژبې د تدریس تخنیکونه، او د ماشومانو د ژبې پراختیا ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

۳. **د کلتوري تنوع په درک کې مرسته:** ښوونیز پروګرامونه باید د کلتوري تنوع ارزښتونه وښیي او ماشومانو ته د خپلو کلتوري ریښو سره د تړاو احساس ورکړي. د مختلفو کلتورونو په اړه زده کړې باید د هر ماشوم د ځانګړتیاوو سره سمون ولري.

٤. **د ژبې شمولیت په ټولګي کې:** ښوونکي باید هڅه وکړي چې په ټولګي کې د ژبې شمولیت رامنځته کړي، چې ماشومانو ته د خپلې مورنۍ ژبې څخه د زده کړې فرصت ورکول شي. دا نه یوازې د هغوی د پوهې پراختیا ته وده ورکوي، بلکې د هغوی د ځان ارزښت او کلتوري هویت ته هم پیاوړتیا ورکوي.

۵. **د ژبې د ازادۍ او انتخاب حق:** په ښوونځیو کې باید د ماشومانو لپاره داسې فضا رامنځته شي چې هغوی په خپله ژبه وټاکي او زده کړې کې یې انتخاب وکړي. د دې سره به ماشومان په خپله ژبه کې د زده کړې لپاره زیاته خوښي او هڅه احساس کړي.

# The Importance of Education in the Mother Tongue for Children

Senior Teaching Assistant: Mirza Khan Nikzai, Lecturer in the Pashto Department, Faculty of Languages and Literature
**Email:** mirzakhan.nikzoy@gmail.com

**Abstract**
This article examines the vital role of the mother tongue in learning and explores its impact on children's cognitive, emotional, and social development. Research shows that the importance of the mother tongue in children's education is a serious issue with significant effects on academic success and cultural preservation. When children learn in their mother tongue, their abilities in understanding complex concepts, retaining information, and developing linguistic skills are strengthened. Moreover, learning in the mother tongue supports the preservation of cultural identity and builds a stronger connection between children and society. The article highlights, through various scientific studies, the benefits of mother-tongue-based learning, particularly in academic achievement, self-confidence, and social cohesion. It also points out the challenges children face when taught in a second or foreign language, especially mental pressure and cultural misalignment, which hinder the learning process. The article emphasizes the importance of mother-tongue instruction in educational systems, arguing that such an approach not only improves learning outcomes but also promotes linguistic diversity and social participation. Finally, the study stresses the need for educational policies to support the use of the mother tongue in early education in order to ensure children's overall development and safeguard linguistic heritage.

**Keywords:** Children, Cultural identity, Learning, Linguistic skills, Mother tongue

**اخځلیکونه**

دادستان، پریرخ. (۱۳۸۵ل.ل). اختلالهای زبان روشهای تشخیص و باز پروري. تهران: دانشگاه سمت.

Benson, C. (2004). The importance of mother tongue-based schooling for educational quality. UNESCO.

Bialystok, E. (2001). Bilingualism in development: Language, literacy, and cognition. Cambridge University Press.

Chomsky, N. (1965). Aspects of the Theory of Syntax. MIT Press
Cummins, J. (2000). Language, power, and pedagogy: Bilingual children in the crossfire. Multilingual Matters.

Grasha, A. (2001). Language and Cognitive Development: A Psychological Perspective. Rout ledge.

Heugh, K. (2011). Theory and practice—Language education models in Africa: Research, design, decision-making, and outcomes. In A. Ouane & C. Glanz (Eds.), Optimising learning, education and publishing in Africa: The language factor (pp. 105–156). UNESCO.

Mills, D. (2014). Language and learning in Uganda: The role of the mother tongue. Uganda Journal of Education

National Literacy Trust. (2016). Literacy and language development: The impact of first language education. National Literacy Trust.

. Thomas, W. P., & Collier, V. (2002). A national study of school effectiveness for language minority students' long-term academic achievement. The Center for Research on Education, Diversity, and Excellence.

UNESCO. (2008). Mother tongue-based multilingual education. UNESCO.

World Bank. (2015). The impact of mother tongue education on academic and emotional development. World Bank Education Policy.

# په معاصرو مطبوعاتو کې د فیچر لیکنې ارزښت او اهمیت

پوهنمل اسمعیل عاطف، شیخ زاید پوهنتون، د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی، ژورنالېزم څانگه.
**برېښنا لیک:** Ismail.niazai2014@gmail.com

**لنډیز**

دغه علمي څېړنه په معاصرو چاپي مطبوعاتو کې د فیچر لیکنې ارزښت او اړتیا تر څېړنې لاندې نیسي. فیچر لیکنه د ژورنالیزم هغه ژانر دی، چې د خبرونو تر شا د موضوعاتو ژور او تحلیلي اړخونه بیانوي، د لوستونکو احساسات را پاروي او د هغوی د پوهې کچه لوړوي. څرنگه چې ټولې رسنۍ په دې هڅه کې دي، چې د هر اړخیزو پېښو، سیاسي، اقتصادي، فرهنگي، نظامي، ملي او نړیوالو موضوعاتو څخه په ادبي او ژورنالیستیکه بڼه خلک خبر کړي؛ نو په چاپي رسنیو کې فیچر لیکي، دوی په خپلو چاپي خپرونو کې غواړي، چې حکومت او ټولنې ته مهم حقایق په ادبي او ډراماتیکه بڼه ورسوي، ترخه حقایق په ادبي الفاظو کې بیانوي، په نرمه او خوږه ژبه یې پوهوي او متوجه کوي. په دې څېړنه کې د فیچر لیکنې مفهوم، ځانگړتیاوې، جوړښت، ډولونه او ټولنیز اهمیت په تفصیل سره څېړل شوي دي. همدارنگه د دې ډول لیکنو اصلي ننگونې او ستونزې هم په گوته شوې دي. د څېړنې پایلې ښیي، چې فیچر لیکنه د مطبوعاتو د کیفیت او د لوستونکو د باور د لوړولو له پاره حیاتي ارزښت لري. له همدې امله د ژورنالیستانو مسلکي روزنه او د سرچینو زیاتوالی اړین گڼل کیږي. د مقالې اساسي موخه د چاپي رسنیو بقاء، دوام او د ټولنې د مطبوعاتي لېوالتیا پیاوړتیا ده، نو په همدې اساس له فیچر لیکنو پرته د چاپي خپرونو دوام له گواښ سره مخ کیږي. دا چې په چاپي رسنیو کې د فیچر لیکنې موضوع یوه علمي، تیوریکي او مسلکي موضوع ده، نو له همدې کبله مې له کتابتوني مېتود څخه گټه اخیستې ده او د مختلفو عالمانو له علمي آثارو څخه مې استفاده کړې ده.

**کلیدي ټکي:** فیچر، د فیچر لیکنې ارزښت، د فیچر لیکنې اهمیت، معاصر مطبوعات

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام علی سيدالمرسلين وعلی آله واصحابه اجمعين!**

که اسلامي تاريخ ته وګورو، نو د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی د ټولنې د لارښوونې او دعوت له پاره ځومره خوږه ژبه، زغم او حکمت ورکړی ؤ، الله تعالی خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته فرمايي: چې اې پیغمبره! صلی الله علیه وسلم خلک د حق لارې ته په حکمت او نېکه موعظه سره را وبوله، همدارنګه الله ج فرمايي: {**ومن يؤة الحكمة، فقد اوتي خيراً كثيراً**} القرآن، بقره، ايه.۲۶۹}.

**ژباړه**: الله تعالی حکمت ورکوي (نافع علم له عمل سره) هر چاته چې اراده وکړي (د ورکولو يې) او هر چاته چې ورکړل شو حکمت (نافع علم له عمل سره) نو په تحقیق سره ورکړل شو (ده ته) خير ډېر او نه اخلي پند مګر خاوندان د عقلونو (صافو چې د وهم او نفسي غوښتنو تمايلات په کې نه وي).

له پورتنیو الهي لارښوونو څخه داسې ځرګندیږي، چې د خوږې ژبې استعمال یو حکمت دی، له هر لیکوال، مبصر او فیچر لیکونکي سره چې د خوږې ژبې حکمت وي، نو هېڅکله به هم په ټولنه کې یوازې پاتې نه شي، تل به له ده سره ټولنه همغږې وي، چې په اوسني وخت کې یې بېلګې په خپلو سترګو وينو، ځکه چې د حکمت مخه هیڅوک هم نه شي نیولی.

په معاصرو مطبوعاتو کې فیچر لیکنه د ژورنالیزم یو مهم اړخ ګڼل کیږي، چې د خبرونو تر څنګ د لوستونکو د پوهې او احساساتو د پیاوړتیا له پاره ځانګړې او ژوره ښه وړاندې کوي. فیچر لیکنه یوازې د پېښو راپور نه ور کوي، بلکې د هغې تر شا کلتوري، ټولنیز او انساني اړخونه هم څېړي. د معاصرې ټولنې په چټک بدلون کې لوستونکي یوازې لنډو خبرونو ته خوښیږي، بلکې غواړي، چې په ژوره توګه موضوعات وپېژني.

د دې له پاره چې د برقي رسنیو { راډیو، تلویزیون او انټرنیټ } تر څنګ زموږ چاپي رسنۍ هم ښه وده وکړي، نو دا مې لازمي وګڼله چې په دې هکله یوه علمي مقاله ولیکم، تر څو ژورنالېستان، د رسنیو کار کوونکي او خصوصاً د ژورنالېزم پوهنځیو محصلان ترې ګټه پورته کړي، همدارنګه زموږ مطبوعاتیان د خپلو چاپي رسنیو د بقاء ارزښت او اغېز له پاره له دې ژانر څخه ګټه واخلي او چاپي رسنۍ ژوندۍ وساتل شي.

دا مقاله به د فیچر لیکنې اهمیت او اړتیا په معاصرو چاپي رسنیو کې وڅېړي، د هغې جوړښت، ډولونه او ټولنیز ارزښت به بیان کړي، تر څو د ژورنالیزم په ډګر کې د فیچر لیکنې د ودې له پاره لارښود شي.

**موخه**

څرنګه چې فیچر د ژورنالېزم او ادب یو ګډ ژانر دی، چې د چاپي رسنیو د بقاء او پایښت سبب ګرځي، باید زموږ مطبوعات هم ترې ګټه واخلي. زموږ چاپي رسنۍ ولې مینه وال نه لري، ولې پیکه دي، ولې را ټوکیږي او ژر بېرته له منځه ځي، دا هغه پوښتنې دي، چې خپله دې ته لار هواروي، چې باید زموږ مطبوعات فیچر لیکوالان پیدا کړي، چې لیکنه یې له حقیقت سره، سره د ادب خوند او رنګ هم پیدا کړي. د مقالې له لیکلو څخه اصلي موخه د چاپي رسنیو بقاء، پایښت، له مطبوعاتي علمي او سفري لیکنو سره د خلکو مینه ده، ځکه له فیچرونو پرته چاپي رسنۍ له اقتصادي رکود سره مخامخ کېږي، باید فیچرونه خپاره کړي، چې مطبوعات یې بازار پیدا کړي او د تل له پاره له اقتصادي سقوط څخه خلاص شي.

په چاپي رسنیو کې فیچر په دې موخه لیکل کیږي، چې خلك له ورځنیو نویو او تېرو پېښو څخه په ادبي او انځوریزه بڼه خبر کړي او همدارنګه هغوی ته یوه اندازه د تفریح لپاره ذهني خوراک برابر کړي. فیچر د شخصیاتو، پېښو، انساني فعالیتونو، مسلکونو او نورو موضوعاتو په اړه لیکل کېدی شي.

**مېتود**

څرنګه چې په چاپي رسنیو کې د فیچر لیکنې موضوع یوه علمي، تیوریکي او مسلکي موضوع ده، نو له همدې کبله مې له کتابتوني مېتود څخه ګټه اخیستې ده، د مختلفو عالمانو له مقالو، علمي تجربو- مشاهدو او علمي آثارو څخه مې ګټه اخیستې، د هغوی نظریات مې لوستي او د ضرورت په وخت کې مې په مناسب ځای کې لیکلي دي.

**د فیچر پېژندنه**

د ژورنالیزم پوهان د فیچر د کلمې په اړه دوه نظره وړاندې کوي. یو دا چې فیچر د لاتیني ژبې له Factura, Facere او Factum څخه اخیستل شوې کلمه ده، چې د سینګار، سینګارولو یا فیشن معنا ورکوي او د نړۍ نورو ژبو ته هم له لاتیني ژبې راغلې ده. دویم دا چې فیچر د لرغونې فرانسوي ژبې کلمه ده چې د فیشن، سینګار او جوړښت معنا ورکوي او د انګلیسي ژبې په ګډون د نړۍ نورو ژبو ته فیچر له همدې لرغونې فرانسوي ژبې راغلی دی (حبیب، ۱۳۹۳ش).

پوهنوال محمد خان نیازی په خپل کتاب «فیچر لیکنه» کې لیکي چې فیچر اصلاً د لرغونې فرانسوي ژبې کلمه ده چې له همدې ژبې انګلیسي او له انګلیسي څخه یې نورو ژبو ته د خپل ارزښت له مخې لار موندلې ده. په ټوله کې د فیچر لغوي معنا د یو شي ظاهر، بڼه، مخ، جوړښت، ننداره او ښوونه ښودل شوې ده (نیازی، ۱۳۸۴ش)

فیچر د نوي ژورنالیزم هغه ژانر دی، چې د خبر او رپوټ په څېر په پېښو پورې اړوند حقیقتونه وړاندې کوي؛ خو په دې توپیر چې د خبر ژبه وچه او رسمي وي، مګر د فیچر ژبه معلوماتي، انځوریزه او ډرامایي وي. په خبر کې هڅه کېږي چې شپږو پوښتنو (کله، چېرته، څنګه، ځوک، څه ډول، ولې) ته ځواب ورکړل شي؛ خو فیچر شپږو پوښتنو ته د ځواب ورکولو ترڅنګ د پېښې په اړه شننه کوي او لوستونکي یې له شالید او راتلونکو اغېزو خبروي.

بېلا بېلو خلکو د فیچر بېلا بېل تعریفونه لیکلي دي. پټرسن ویلي دي چې {{فیچر د خبر سره ورته والی لري چې په کې له حقایقو سره تحقیق، مرکې او شننې د دې لپاره ور زیاتې کړل شوې وي، چې د لوستونکو لارښوونه وکړي او هغوی خبر کړي}}. همدارنګه په دغو ورځپاڼو کې د هر خبریال د کار ساحه معلومه وي. سیاسي، اقتصادي، پوهنیز، پوځي او داسې نورې د کار ساحې دي، چې هر خبریال اړ دی، چې د خپلې کاري ساحې اړوند خبر ولیکي او همدارنګه هر خبریال د خپل اړوند کار د ساحې فیچر هم لیکي.

د فیچر د لیکوال لپاره اړینه ده، چې لومړی خو باید پر ژبه پوره برلاسی ولري، انځورکشي وکړای شي او دویم دا چې د موضوع په اړه د تحقیق، شننې او مرکې کولو په نتیجه کې د بشپړ معلوماتو د لاسته راوړلو ځواکمنتیا او توانایي ولري او له همدې امله هر خبریال نه شي کولی چې فیچر ولیکي، یوازې وتلي او تجربه کار خبریالان فیچر لیکلی شي. فیچر په دقیقه توګه په خبر کې د پېښې یا واقعي کتنه او څېړنه ده، په فیچر کې د ولې؟ او څرنګه؟ پوښتنو ته په ادبي او انځوریزه بڼه ځواب ورکوي. د خبر پر خلاف فیچر د پېښې وروستی حالت بیانوي. یو فیچر کولای شي، چې انځور له یوه شخص او یا له یوه ګروپه، له یوې سیاسي څېرې، د لوبو له میدانه او داسې نور ... څخه وي. معمولاً فیچر له یوه خبري راپور څخه لوړ وي. خو ضرور نه ده چې له راپور څخه اوږد وي.

## د فیچر لیکنې جوړښت

فیچر لیکنه د ژورنالیزم ځانګړی ژانر دی، چې د نورو خبرونو یا راپورونو په پرتله په جوړښت کې انعطاف او خلاقیت لري. د فیچر جوړښت له څو مهمو برخو څخه جوړ شوی دی، چې هره برخه ځانګړې دنده لري.

**پیلامه:** پیلامه د فیچر لومړۍ او تر ټولو مهمه برخه ده. دا باید جذاب، لنډ او د فیچر د اصلي موضوع سره سمون ولري، تر څو لوستونکي د فیچر لوستلو ته وهڅوي.

**پېژندنه**: انټرو د لوستونکي پام ځانته را اړوي او د فیچر موضوع معرفي کوي. د انټرو هدف دا دی، چې لوستونکي د ټول فیچر د لوستلو هڅه وکړي او د انټرو اوږدوالی د موضوع د پېچلتیا او اړخونو سره سم توپیر کولی شي.

**اصلي متن**: د موضوع مختلف تحلیلي، څېړنیزې او احساسي اړخونه په تفصیل سره بیانوي او د فیچر اصلي موخه او ارزښت څرګندوي. دا برخه لوستونکو ته واضحوي، چې ولې د موضوع په اړه فیچر لیکل شوی دی، د موضوع اهمیت تشریح کوي او لوستونکي د پاتې متن له پاره ذهني چوکاټ برابروي.

**پایله**: پایله د فیچر وروستۍ برخه ده، چې د موضوع په اړه عمومي نظر وړاندې کوي، د فیچر انسجام بشپړوي او کله نا کله یو په زړه پورې نقل قول یا ادبي جمله د لوستونکي د پام جلبولو له پاره کاروي. په ټوله کې د فیچر لیکنې جوړښت د لوستونکي پام ځانته جلبولو، د موضوع ژورتیا څرګندولو او د لوستونکو د پوهې لوړولو له پاره ډیزاین شوی دی. دهرې برخې ځانګړې دنده د فیچر د اغېزمنتیا له پاره حیاتي ده او ټول جوړښت د ادبي، ژورنالیستیک او انساني اړخونو په ترکیب باندې ولاړ دی (حبیب، ۱۳۹۳ش).

**په معاصرو مطبوعاتو کې د فیچر لیکنې ارزښت**

په معاصرو چاپي مطبوعاتو کې فیچر لیکنه ځانګړی او مهم رول لري، ځکه دا یوازې د پېښو ساده خبر نه وړاندې کوي، بلکې د موضوعاتو ژور تحلیل، د پېښو شالید، انساني اړخونه او د ټولنیزو مسئلو په اړه دقیق معلومات لوستونکو ته وړاندې کوي. د دې لیکنو له لارې لوستونکي د ټولنې د بېلا بېلو سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزو حالاتو په اړه ښه پوهه تر لاسه کوي.

همدارنګه په ډیجیټلي رسنیو کې هم فیچر لیکنه د لوستونکو د توجه جذبولو او د دقیقو معلوماتو د وړاندې کولو له پاره ارزښتمن ژانر دی، چې د لوستونکو د معلوماتو ذخیره په ادبي او ذوقي ډول خړوبوي، ځکه چې فیچر نه یوازې وچ او ترخه واقعات بیانوي، بلکې معلومات په ادبي الفاظو کې رانغاړي.

فیچر لیکنه د خلکو شعور لوړوي، د خلکو ټولنیزو ستونزو او اړتیاوو په اړه خبرتیا را منځ ته کوي او ټولنیز بحث ته زمینه برابروي. سربېره پر دې، فیچر لیکنه د ټولنیزو اړیکو په پیاوړتیا کې هم مهم رول لري، ځکه د دې ژانر له لارې مسلکي ژورنالیستان کولی شي، چې د ټولنې ارزښتونه، ستونزې، لاسته راوړنې او د خلکو احساسات په ادبي، جذباتي او په زړه پورې بڼه لوستونکو ته وړاندې کړي. دغه لیکنې نه یوازې د پوهې د زیاتولو وسیله ده، بلکې د ټولنیزو اصلاحاتو، مثبتو بدلونونو او د ټولنې د ښېرازۍ له پاره هم الهام ور کوي (ریکټس، مایکل ۲۰۲۱م).

فیچر په دقیقه توګه په خبر کې د پېښې پلټنه او څېړنه ده، په فیچر کې د ولې؟ او څرنګه؟ پوښتنو ته په ادبي بڼه ځواب ورکول کیږي. د خبر پر خلاف فیچر د پیښې وروستی بیان دي، همدارنګه فیچر کولای شي، چې انځور له یوه شخص او یا له یوه ګروپه، له یوې سیاسي څېرې، د لوبو له میدانه او داسې نور ... څخه وي.

**په معاصرو مطبوعاتو کې د فیچر لیکنې اهمیت**

په معاصرو چاپي او ډیجیټلي رسنیو کې فیچر لیکنه د لوستونکو د جذب او د معلوماتو د ژورو وړاندې کولو له پاره بنسټیز اهمیت لري. معاصره ټولنه د بېلا بېلو پېښو، سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، نظامي او نړیوالو موضوعاتو سره مخ ده او لوستونکي د ساده خبرونو تر څنګ د تحلیل او تفصیل غوښتنه کوي. فیچر لیکنه دا اړتیا پوره کوي، ځکه چې دا یوازې پېښې نه بیانوي، بلکې د هغې شالید، اغېزې او انساني اړخونه په تفصیل سره لوستونکو ته وړاندې کوي.

سربېره پردې، فیچر لیکنه د لوستونکو د پوهې کچه لوړوي، د رسنیو او لوستونکو تر منځ فضا پیاوړې کوي او د ټولنیزو مسئلو په اړه د بحث او تفاهم زمینه برابرويږ. په معاصرو رسنیو کې د فیچر لیکنې شتون د چاپي رسنیو د بقاء، دوام او لوستونکو د جلبولو له پاره اړین ګڼل کیږي، ځکه چې پرته له دې ډول ژانرونو ورځپاڼې او مجلې د خلکو د توجه او علاقه نه شي راجلبولی.

فیچر لیکنه د ژورنالیزم هغه ژانر دی، چې د پېښو موضوعاتو او شخصیتونو د راپورولو په برخه کې له ساده خبرونو څخه ژور تحلیل په ادبي او زړه راښکونکې بڼه وړاندې کوي. د دې لیکنې اصلي موخه دا ده، چې لوستونکي د یوې پېښې یا موضوع په اړه نه یوازې معلومات تر لاسه کوي، بلکې د هغې انساني، ټولنیز، فرهنګي او احساساتي اړخونه هم وپېژني. د فیچر لیکنې ځانګړتیاوې د ژور تحلیل، ادبي او جذباتي بیان، د لوستونکي جلبونه، د بېلا بېلو موضوعاتو رانغاړل او د انساني اړخونو په وړاندې کولو کې څرګندیږي(Ahmad۲۰۲۱م).

په ټولنه کې د فیچر لیکنې ارزښت په دې کې دی، چې د لوستونکو پوهه لوړوي، د ټولنیزو پېښو درک وړتیا پیاوړې کوي او د رسنیو او لوستونکو تر منځ د اعتماد فضا رامنځ ته کوي. د فیچر لیکنې اهمیت بیا د دې ضرورت څرګندوي، چې ولې رسنۍ باید دې ژانر ته ځانګړې توجه وکړي، ځکه چې دا د لوستونکو د معلوماتو، شعور، تفریح او ټولنیز بحث د پراختیا له پاره اړین دی.

### په فیچر لیکنه کې ستونزې او ننګونې

په معاصرو چاپي مطبوعاتو کې د فیچري لیکنو بهیر له جدي ستونزو او ننګونو سره مخ دی، چې د دې ژانر په کیفیت او اغېزمنتیا مستقیم اغېز لري. د باور وړ او مستندو سرچینو ته محدود لاسرسی د هغو مهمو خنډونو څخه دي، چې د معلوماتو د کره والي او ژورتیا کچه را ټيټه وي.

سربېره پردې، د ژورې څېړنې او تحلیلي لیکنې له پاره د وخت کمښت د فیچر لیکنې د محتوا غناء زیانمنوي، د تخلیقیت او د حقایقو تر منځ د توازن ساتل د لیکوال له پاره دوامداره مسلکي ننګونه ده، چې باید د لوستونکي د جلب له پاره ادبي خوند او د ژورنالیزم د اصولو له مخې د حقایقو دقت دواړه وساتل شي.

اخلاقي او قانوني محدودیتونه، لکه د شخصي حریم درناوی او د مسلکي معیارونو رعایت د لیکوال د اظهار ما في الضمیر آزادۍ دایره محدودوي او په نهایت کې د ډېرو چاپي رسنیو د سرچینو کمښت، د بودجې محدودیتونه او د مسلکي کادرونو نشتوالی د دې لامل کیږي، چې فیچر لیکنه له بشپړ څېړنیز او تحلیلي ځواک څخه بې برخې پاتې شي. همدارنګه، د ډیجیټلي رسنیو د سختې سیالۍ له امله، چې په چاپي خپرونو کې د لوستونکو پام ځانته اړول او ساتل ورځ تر بلې ستونزمن کیږي(ریکټس، مایکل ۲۰۲۱م).

### د فیچر لیکنې ډولونه

فیچر د اوسني ژورنالېزم یو مهم ژانر دی او نن سبا په نړۍ کې ډېر لوستونکي لري. دغه ژانر د ادب او ژورنالېزم یو ګډ ژانر هم بلل کېږي، ځکه د فیچر ژبه ادبي رنګ لري. فیچر تر ډېره مجلو او ورځپاڼو ته لیکل کېږي؛ خو راډیويي او تلویزیوني فیچرونه هم شته. راډیويي او تلویزیوني فیچرونه نظر د مجلې او ورځپاڼې یا مطبوعاتو فیچر ته لنډ وي.که څه هم فیچر ډېر ډولونه لري؛ خو هغه چې د ګڼو هېوادونو په مطبوعاتو کې د پام وړ دي، دلته یې په اړه معلومات وړاندې کوو (نور, ۲۰۰۹م).

### ۱. شخصي فیچر (Personal feature)

په دغه ډول فیچر کې د مشهورو شخصیتونو، لکه د سیاسي څېرو، لیکوالانو د ژوند، شخصیت او لاسته راوړنو په هکله لیکل کیږي. لیکوال کوښښ کوي، چې د موضوع مهم اړخونه د کیسې په بڼه له ادبي ذوق سره وړاندې کوي. سرچینې یې معمولاً مرکې، علمي آثار یا د شخصیت شخصي یاداتونه وي. دا ډول فیچر کېدای شي، چې د ژوندي یا وفات شوي فرد په اړه وي.

## ۲. تاریخي فیچر (Historical feature)

تاريخي فيچرونه په مهمو او جالبو تاريخي پېښو باندې تمرکز کوي، په ځانګړې ډول هغه موضوعات، چې له اوسنۍ زماني سره اړيکه لري. دا ډول ليکنې له تاريخي کتابونو، مطبوعاتي آرشيفونو او د عيني شاهدانو له خبرو او اقوالو څخه سرچينه اخلي او موخه يې د تاريخ ژوندۍ انځور ګري ده.

## ۳. خبري فیچر (News feature)

خبري فيچر ليکنه د هغو موضوعاتو ژوره څېړنه کوي، چې يا خو له پامه لوېدلي وي يا هم د عادي خبرونو له لارې ښه نه دي روښانه شوي. دا ډول فيچر هڅه کوي، چې انساني احساسات په کيسه ييزه بڼه او ژور تحليل سره يو ځای کړي، څو لوستونکي نه يوازې معلومات تر لاسه کړي، بلکې اغېز هم ترې واخلي.

## ۴. علمي فیچر (Scientific feature)

علمي فيچر د علمي موضوعاتو ساده او عامه فهمه بيان دی. دا ډول فيچر هڅه کوي، چې د علمي کشفياتو او نوښتونو مهم اړخونه د عمومي لوستونکو له پاره جالبه او جذابه ژبه وړاندې کړي. معمولاً دا مطلب له علمي رسالو، متخصصينو او علمي منابعو څخه اخيستل کيږي.

## ۵. ټولنيز (Social feature)

په دغه ډول فيچر کې د ټولنې ستونزو ته انعکاس ورکول کيږي او د ټولنې ارزښتونه او بدلونونه منعکسوي. په دغو ليکنو کې کوښښ کيږي، چې هغه ټولنيزې ناخوالې راوپلټي، چې له نظره پټې پاتې وي. ټولنيز فيچر د عامه خلکو ژوند ته نږدې وي او د ټولنيز عدالت احساس او هويت انعکاس کوي.

## ٦. ښوونيز فيچر (Educational feature)

ښوونيز فيچر د عامه پوهاوي، سالم ژوند، زده کړو ارزښت او ټولنيزو اصلاحاتو په اړه ليکل کيږي. دا ډول ليکنې د لوستونکو د پوهاوي لوړولو له پاره معلومات وړاندې کوي، تر څو د شخص او ټولنې تر منځ مثبت بدلون رامنځ ته کړي (نيازی, ۱۳۸۴ش).

## د فيچر ليکوال ځانګړتياوې

د ژورنالېزم ليکوالان اکثريت مشترکې ځانګړنې لري، مګر بيا هم ځينې داسې ځانګړتياوې شته، چې د هر ځانګړي ژانر د ماهر له پاره لازمې دي، فيچر ليکوال ته هم د دې له پاره چې ليکنه يې ډېره اغېزناکه او لوستونکي

ولري، د نړۍ د ارتباطاتو نامتو لیکوالانو یو شمېر ځانګړتیاوې ورته ټاکلې دي، چې باید د فیچر لیکوال یې په خپل ځان کې ولري (احمدزی، ۱۳۸۹ش).

۱- د فیچر لیکوال ښه ځانګړنه دا ده، چې فیچر په داسې ادبي رنګ او ښکلا ولیکي، چې لوستونکي تر پایه له ځان سره وساتي او هغه هم داسې چې لوستونکي تر پایه پرې ښه پوه شي.

۲- د فیچر لیکوال باید یو ښه رپورټر وي، تر څو په ساده الفاظو سره خپل هدف ټولنې ته ولېږدوي.

۳- د فیچر لیکوال باید له خپل چاپېریال څخه کاملاً خبرتیا ولري. د (جان جربر) په وینا یو لیکوال باید په خپله لیکنه کې ادبي تندې، ښکلا او زړه راښکونکو کلماتو څخه کار واخلي، تر څو یې لیکنه لوستونکو ته جالبه تمامه شي، تل له وچو او نېغو لیکنو څخه ځان وژغوري.

۴- د فیچر لیکوال باید یو نوښتګر او ذهین انسان وي، تر څو د مختلفو پېښو، حرکتونو او مالوماتو په رڼا کې نوښتګر کار وکړي، له دې سره یې په ټولنه کې محبوبیت پیدا کیږي. د پورته ځانګړتیاوو سره د نړۍ د ژورنالېزم نامتو عالمانو د فیچر لیکوالو له پاره په اتفاق سره څو مهمې ځانګړتیاوې په ګوته کړې دي. لکه: پراخه مطالعه، د مشاهدې او کتنې ځواک، ښه مرکچي، د پلټنې او څېړنې حوصله او د ادب له خوږې ژبې او لیکوالي سره کامله بلدتیا ولري.

**پایله**

په معاصرو مطبوعاتو کې د فیچر لیکنې اهمیت او ارزښت د هغې ژور تحلیلي بڼه او د لوستونکو د پوهې د لوړولو په برخه کې څرګندیږي. فیچر لیکنه یوازې د خبرونو د لنډ راپورونو پر ځای د موضوعاتو ژور والی او انساني اړخونه روښانه کوي، چې دا د مطبوعاتو کیفیت او باور لوړوي. فیچر لیکنه نه یوازې د مطبوعاتو یو جالب سبک دی، بلکې د انساني احساساتو، ټولنیزو ارزښتونو او ژور تفکر یو انعکاس هم دی. د فیچر ډولونه، د موضوع له طبیعت، د لوستونکو له اړتیاوو او د لیکوال هدف سره سم توپیر کولی شي. فیچر لیکنه که څه هم د معاصر ژورنالېزم یو مهم ژانر بلل کیږي، خو په افغانستان کې لا هم ښه نه ده پراخه شوی، که څه هم زموږ ټولنه او تاریخ له داسې ژورو موضوعاتو ډک دی، چې که مسلکي لیکوالان ورته پام وکړي، د ملي رسنیو تر څنګ به نړیوالې چاپي رسنۍ هم ورته ارزښت ورکړي.

څرنګه چې چاپي رسنۍ د انساني خدمت لرغونی تاریخ لري، د ټولنې علمي او فکري قشر خوراک بلل کیږي، باید ژوندۍ وساتل شي. د چاپي رسنیو لکه ورځپاڼې، مجلې، جریدې او اوونیزې د پایښت له پاره نن ورځ فیچر

لازمي عنصر دی، بايد زموږ ژورنالېستان له دې مهم ژانر څخه خبر او په مطبوعاتو کې ترې رغنده کار واخلي. ګټه به يې دا وي، چې مطبوعات يا چاپي خپرونې به مو لوستونکي پيدا کړي. دا چې په اوسني وخت کې د چاپي رسنيو د پايښت له پاره فيچر يو لازمي عنصر دی، نو بايد زموږ د رسنيو مسئولين، ژورنالېستان او د ژورنالېزم پوهنځي استادان داسې مسايلو ته جدي توجه وکړي، تر څو په راتلونکي وخت کې زموږ چاپي رسنۍ د له منځه تللو له ګواښ سره مخ نه شي.

فيچر ليکنه د ادب او ژورنالېزم تر منځ پل جوړوي، چې د ټولنې د احساساتو، تجربو او حقيقتونو انعکاس کوي. دغه ژانر د نرمې او باثباته ژبې، ادبي خلاقيت، انځور ګرۍ او انساني جذبو کارول غواړي. په پای کې يو بريالی فيچر ليکوال بايد ژورناليستي مهارتونه، ادبي ذوق، ټولنيز درک، ژبنۍ پوهه او د څېړنې وړتيا ولري، څو وکولی شي د ټولنې پټ اړخونه د کيسې په بڼه وړاندې کړي او د لوستونکي فکر او احساس ته ورننوځي، له همدې امله اړينه ده، چې د فيچر ليکنې له پاره مناسبه روزنه او تخليقي فضا رامنځ ته شي، تر څو ژورناليستان وکولی شي، په اغېزمنه توګه خپلې ليکنې وړاندې کړي.

**وړانديزونه**

- د فيچر ليکنې تدريس دې پياوړی شي.
- د ټولنيزو پېښو پوښښ دې زيات شي.
- ليکوالان دې د څېړنې پر کيفيت تمرکز وکړي.
- لوستونکي دې د تحليلي لوست دود ته وهڅول شي.

# The Value and Importance of Feature Writing in Modern Press

S. T. Assistant Ismail Atif, Shaikh Zayed University, Faculty of Communication and Journalism, Department of Journalism.
**Emil add**: ismail.niazai2014@gmail.com

**Abstract:**
This scientific research examines the value and necessity of feature writing in contemporary print media. Feature writing is a genre of journalism that presents the deeper and more analytical dimensions behind news events, evokes readers' emotions, and enhances their level of knowledge and awareness. Since all media organization strive to inform the public about comprehensive events and political, economic, cultural, military, national, and international issues in a literary and journalistic manner, feature writing in print media plays a significant role.Through feature writing, print media aim to convey important fact to governments and society in a literary and dramatic form, express bitter realities through refined language, and inform and engage readers in a gentle and persuasive way. This study examines in detail the concept of feature writing, its characteristics, structure, types, and social significant. Additionally, the major challenges and problems associated with this type of writing are identified and discussed. The findings of the research indicate that feature writing has vital importance for enhancing the quality of the press and increasing readers' trust. Therefore, professional training for journalists and the expansion of resources are considered essential.Thmain objective of this article is to ensure the survival, and sustainability of print media and to strengthen society' interest in the press. Accordingly, without feature writing, the continuity of print publications faces serious threats. Since feature writing in print media is a scientific, theoretical, and professional subject, this research employs the library-based research method and draws upon the scholarly works of various academics and researchers.

**Keywords**: Feature Writing, Value of Feature Writing, Importance of Feature Writing, Modern Press.

**ماخذونه**

احمد، اېس. (۲۰۲۱م). په عصري ژورنالیزم کې فیچر لیکنه. کابل: میهن خپرندویه ټولنه.

احمدزی، ا. ج. (۱۳۸۹ل). کالم، فیچر او تبصره. کابل: اسد دانش خپرندویه ټولنه.

حبیب، خ. (۱۳۹۳ل). د ژورنالېزم بنسټونه. پکتیا: علمي خپرندویه ټولنه.

خان، آر. (۲۰۲۰م). په چاپي رسنیو کې د ژور راپور ورکولو اهمیت. ننګرهار: ګودر خپرندویه ټولنه.

ریکټس، مایکل. (۲۰۲۱م). د فیچر لیکنې کیسې (ژباړه: میر احمد یاد). ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

سمیت، جي.، او علي، اېچ. (۲۰۱۹م). د فیچر لیکنې کلتوري اړخونه. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

نور، م. ک. (۲۰۰۹م). ژورنالېستي ژانرونه. ننګرهار: ګودر خپرندویه ټولنه.

نیازی، م. خ. (۱۳۸۴ل). فیچر لیکنه. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

نیازی، م. خ. (۱۳۸٦ل). غوره ژورنالېزم. خوست: حسین احمد خپرندویه ټولنه.

# د طبيعي چاپيريال د رول او ارزښت فلسفي او تحليلي څېړنه

پوهنیار زینت الله آرمان، شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزو علومو پوهنځی، تاریخ او جغرافیه څانګه
**ایمیل ادرس:** zinatarman2023@gmail.com

**لنډیز**

چاپېریال د ټولو ژوندیو موجوداتو د ژوند لپاره طبیعي سرچینه ده؛ خو د ټولو ژوندیو موجوداتو په نسبت یې د سالم ساتلو مسؤلیت انسان ته زیات راجع دی. که څه هم د نړۍ هېوادونه او د چاپېریال ساتنې ادارې هڅه کوي، ترڅو چاپېریال له ککړتیا څخه وژغوري؛ خو یادې ادارې نه دي توانېدلي په هغه پیمانه لکه څه ډول چې لازمه ده اقدام وکړي. چاپېریال د انسان د ژوند، ټولنیز پرمختګ او د طبیعي منابعو د دوام لپاره حیاتي اهمیت لري. سره له دې چې د چاپېریال ساتنې لپاره مالي او تخنیکي هڅې شوې؛ خو بیا هم د چاپېریال ستونزې دوام لري. دا مقاله د محیطي فلسفې او فلسفي نظریاتو، د اسلامي لیدلوري او د عملي لارو چارو په رڼا کې د چاپېریال ساتنې اهمیت تحلیلوي. موجوده څېړنه درې اساسي فلسفي لیدلوري څېړي: الف- انسانمحوره فلسفه- چې انسان د طبیعت محور ګڼي او د انساني اړتیاوو پوره کولو ته لومړیتوب ورکوي، ب- طبیعتمحوره فلسفه- چې طبیعت خپل ارزښت لري او انساني ګټې محدودوي وي. ج- اسلامي فلسفه- چې د اخلاقي، معنوي او ټولنیزو اصولو له مخې د انساني او طبیعي ګټو ترمنځ متوازن چلند تضمینوي. ددې ترڅنګ نوموړې څېړنه چاپېریالي ستونزې لکه د هوا او اوبو ککړتیا، د ځنګلونو تخریب او د حیاتي تنوع کمښت تحلیلوي او ترڅنګ یې د عملي لارو چارو لکه د منابعو مسؤلانه کارونه، د ټولنې پوهاوی، د قانوني او اداري چارچوبونو پیاوړتیا او د ټېکنالوژۍ مسؤلانه کارولو سپارښتنه کوي. په پایله کې څېړنه په دې ټینګار کوي، چې چاپېریال ساتنه یوازې د ساینسي او تخنیکي حل لارو پورې محدوده نه ده؛ بلکې فلسفي، اخلاقي او ټولنیز لیدلوري هم اړین دي او اسلامي فلسفه د چاپېریال ساتنې لپاره جامع او متوازن چوکاټ وړاندې کوي.

**کلیدي ټکي:** اسلامي لیدلوری، انسانمحوره فلسفه، چاپېریال ساتنه، طبیعتمحوره فلسفه، عملي لارې چارې.

## سريزه

**بسم الله الرحمن الرحيم! الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدالمرسلين وعلى آله واصحابه اجمعين!**

چاپېریال د انسان د ژوند بنسټیزه برخه ده، چې د ټولنیز، اقتصادي او کلتوري پرمختګ لپاره يې اهمیت په تېرو ځو لسیزو کې لا زيات شوی دی. د صنعتي انقلاب او بې‌ساري بشري فعالیتونو له کبله چاپېریال له ګڼو ننګونو سره مخ شوی دی، چې په دې کې د هوا او اوبو ککړتیا، ځنګلونو ویجاړیدل، د حیاتي تنوع له منځه تلل او د اقلیمي بدلون مسئلې شاملې دي (نصر، ۱۳۷۹ل). دغو ننګونو د انسان د بقا او د طبیعي منابعو د دوام لپاره جدي ګواښونه رامنځته کړي دي. سره له دې چې د چاپېریال د ساتنې لپاره ساینسي او تخنیکي هڅې روانې دي، بیا هم د چاپېریال بحرانونو د نړیوالې ټولنې پام ځانته اړولی، چې د حل لپاره يې نوې فلسفي او اخلاقي نظريې او ليدلوري اړين دي. په دې برخه کې چاپېريالي فلسفه، چې د انسان او طبيعت ترمنځ اړيکې او د چاپېريال ارزښتونه څېړي. د چاپېريال ساتنې په مفاهيمو کې ژور او پراخه پوهه برابروي (جوادي آملی، ۱۳۸۶ل). په نوموړې مقاله کې هڅه شوې، چې د محيطي فلسفې بېلابېل ډولونه او نظريات وڅېړي، په ځانګړې ډول انسان‌محوره فلسفه، طبيعت‌محوره فلسفه، اسلامي فلسفه او د دغو فلسفو د چاپېريال ساتنې په برخه کې رول او اهميت تحليل کړي. همدارنګه، د چاپېريالي ستونزو د درک او د عملي لارو چارو وړانديز د دې څېړنې هدف دی؛ ترڅو د پايداره پرمختګ او د طبيعي منابعو د اغېزمن مديريت لپاره جامع او متوازن چوکاټ وړاندې شي.

### د څېړنې موخې

اصلي موخه: د محيطي فلسفې پېژندنه او په طبيعي چاپېريال يې د اغېزو څېړل

### فرعي موخې

۱- د محيطي فلسفي نظرياتو ډولونو پېژندل او د هرې فلسفې ليد تشريح کول.

۲- د انسان‌محوره فلسفې ځانګړتياوې تشريح کول.

۳- د طبيعت‌محوره فلسفې اصول تشريح او د چاپېريال ساتنې په برخه کې د هغوی ارزول.

۴- د اسلامي فلسفې د چاپېريال ساتنې ځانګړي مفاهيم او لارښوونې پېژندل او بيانول.

### د څېړنې پوښتنې

اصلي پوښتنه: محيطي فلسفه څه ده او په طبيعي چاپېريال څه اغېز لري؟

## فرعي پوښتنې

۱- د محيطي فلسفې نظرياتو کوم ډولونه شتون لري او د چاپېريال ساتنې لپاره څه بنسټيز ليد وړاندې کوي؟

۲- د انسان‌محوره (Anthropocentric) فلسفې ځانګړتياوې څه دي؟

۳- د طبيعت‌محوره (Ecocentric) فلسفې بنسټونه او د چاپېريال ساتنې په برخه کې د هغې رول څه دی؟

۴- اسلامي فلسفه په چاپېريال ساتنه کې کوم ځانګړي مفاهيم او لارښوونې وړاندې کوي؟

## د څېړنې مېتود

موجوده څېړنه د نوعيت له مخې توصيفي ده، چې د محيطي فلسفي نظرياتو او د اسلامي فلسفې په رڼا کې د چاپېريال ساتنې په اړه د موجوده علمي او فلسفي ادبياتو د ژورې څېړنې پر بنسټ ترسره شوې ده. دغه څېړنه اسنادي مېتود له مخې ترسره شوې ده، چې په کې د موضوع اړوند نظرياتي بنسټونه او د فلسفي چلندونو مفاهيم تحليل شوي دي. د معلوماتو راټولو په برخه کې د دويم لاس معلوماتو څخه ګټه اخستل شوې ده.

## د ستونزې بيان

په عصري دور کې د انسان بې‌ساري صنعتي او ټکنالوژيک پرمختګونو سره سره، چاپېريال د بېلابېلو ستونزو او ننګونو سره مخ شوی دی. د هوا ککړتيا، د اوبو سرچينو کموالی، ځنګلونو ويجاړول، د حياتي تنوع له منځه تلل او اقليمي بدلون هغه مهمې ننګونې دي، چې نه يوازې طبيعي سرچينو ته زيان رسوي؛ بلکې د انساني ټولنې روغتيا او بقا هم له ګواښ سره مخامخ کوي (اصغری، ۱۳۸۴ل). سره له دې چې د چاپېريال ساتنې لپاره ساينسي، تخنيکي او حقوقي تدابير نيول شوي، بيا هم د چاپېريال بحران دوام لري، چې دا موضوع د فلسفي او اخلاقي بنسټونو د کمښت ښکارندويي کوي. يعنې، د چاپېريال ساتنه يوازې د تخنيکي حل لارو پورې محدوده نه ده، بلکې د انساني ارزښتونو، اخلاقي اصولو، او د طبيعت او انسان ترمنځ د اړيکو په کره پوهيدنې ته هم اړتيا شته (فراهاني، ۱۳۸۴ل). له همدې امله د چاپېريال ساتنې په برخه کې د بېلابېلو فلسفي نظرياتو لکه انسان‌محوره فلسفه، طبيعت‌محوره فلسفه او اسلامي فلسفه د اغېزمنتيا او رول څېړل اړين ګڼل کېږي. دغه فلسفي ليدلوري د چاپېريال ساتنې لپاره بنسټيز فکرونه وړاندې کوي، چې کولای شي د چاپېريالي ستونزو د حل لپاره نوې لارې چارې او تګلارې جوړې کړي. دا څېړنه د يادو فلسفو په رڼا کې د چاپېريال ساتنې رول او اهميت ارزوي او د عملي لارو چارو وړانديز کوي، تر څو د پايداره پرمختيا په چوکاټ کې د طبيعي منابعو د خوندي ساتنې لپاره جامع طرحه وړاندې کړي.

## د څېړنې اهمیت او ضرورت

په ننني نړۍ کې د چاپېریال ستونزې په بې‌ساري ډول زیاتې شوې دي، چې د انساني ژوند او طبیعي ایکوسیستمونو لپاره یې جدي ګواښونه رامنځته کړي دي. د صنعتي او ټکنالوژیکو پرمختګونو په پایله کې، چاپېریال د تخریب، ککړتیا او منابعو د بې‌ځایه مصرف له امله له ګڼو ننګونو سره مخ شوی، چې دا حالت د پایدارۍ ودې او د راتلونکو نسلونو د حقونو لپاره ستونزې جوړوي (نصر، ۱۳۷۹ل). د دغو ننګونو د حل لپاره، یوازې ساینسي او تخنیکي اقدامات کافي نه دي؛ بلکې د انساني چلند، ارزښتونو او فلسفي بنسټونو ژوره پوهه او اصلاح هم ضروري ده. فلسفي نظریات او لیدلوري د انسان او طبیعت ترمنځ د اړیکې په تعریف او د چاپېریال ساتنې په اهمیت کې بنسټیز رول لري (جوادي آملی، ۱۳۸۶ل). اسلامي فلسفه په ځانګړي ډول د چاپېریال ساتنې لپاره جامع او ځانګړی چوکاټ وړاندې کوي، چې اخلاقي، معنوي او ټولنیز بعدونه یې په پام کې نیولي دي. د اسلامي تعلیماتو په رڼا کې، انسان د طبیعت د امانتدارۍ مسؤلیت لري، چې دا لید د چاپېریال د پایدارۍ ساتنې لپاره مهم لارښود ګڼل کېږي (اصغری، ۱۳۸۴ل). له همدې امله، د محیطي فلسفي نظریاتو مطالعه او د اسلامي فلسفې د چاپېریال په ساتنه کې د رول پېژندنه د دې څېړنې اساسي ضرورت دی؛ ځکه چې دا موضوع د چاپېریال ساتنې د اغېزمنو تګلارو د جوړولو، د عامه پوهاوي لوړاوی د طبیعي منابعو د پایدارۍ استفادې لپاره مهمه ده.

## د محیطي فلسفې تاریخي مخینه

محیطي فلسفه د انسان د تفکر او طبیعت د ارزښتونو د پېژندنې له لومړنیو هڅو څخه سرچینه اخلي. د تاریخ په اوږدو کې انسان د طبیعي منابعو څخه د استفادې او ساتنې په اړه بېلابېل فلسفي نظریات وړاندې کړي دي، چې د دوی موخه د ژوند د دوام، د ټولنیز عدالت تأمین او د طبیعي چاپېریال د توازن ساتنه وه (نصر، ۱۳۷۹ل). په لرغونو تمدنونو لکه، د مصر، بابل، هند او چین کې، طبیعت یوازې د انساني اړتیاوو د پوره کولو وسیله ګڼل کېده؛ خو په ځینو فرهنګي او مذهبي اصولو کې یې د طبیعي منابعو د سپما او ساتنې لارښوونه هم کړې ده (فراهاني، ۱۳۸۲ل). په اروپا کې د رنسانس له وخت راهیسې د انسان عقل او ساینسي فکر ته د ستونزو د حل لپاره لومړیتوب ورکړل شوی. فیلسوفان لکه دکارت (Descartes) او فرانسوي عالمانو د «بشر عقل د هرې ستونزې حل دی» په اصولو تمرکز وکړ، چې د ساینسي او تخنیکي پرمختګونو سبب شول؛ خو د صنعتي انقلاب په ترڅ کې د چاپېریالي ستونزو لکه: ککړتیا او طبیعي منابعو د بې ځایه استعمال خطرونه هم زیات شول (فروغي، ۱۳۹۶ل).

په شلمې پېړۍ کې فلسفې د چاپېریال ساتنې په برخه کې دوه اصلي جریانونه تجربه کړل:

الف- انسان‌محوره فلسفه (Anthropocentric Philosophy): ددې فلسفې له مخې انسان د طبيعت محور ګڼل کېږي او چاپېريال يوازې د انسان د اړتياوو لپاره ارزښت لري (نصر، ۱۳۷۹ل).

ب- طبعيت محوره فلسفه (Ecocentric Philosophy): د يادې فلسفې له مخې طبيعت خپل ارزښت لري او بايد د خپل حق په چوکاټ کې وساتل شي (فراهاني، ۱۳۸۲ل).

د اسلامي فلسفې له نظره، انسان د طبيعي منابعو ساتونکی ګڼل کېږي او ټول مخلوقات د الهي موخو د خدمت لپاره مهم دي. اسلامي عالمان لکه جوادي آملی او محقق داماد په خپلو ليکنو کې څرګنده کړې چې د اسلامي تعليماتو رعايت کول د چاپېريال ساتنې عملي لار ده، چې د بشري اړتياوو او طبيعت تر منځ د اصالت توازن رامنځته کوي (جوادي آملی، ۱۳۸۶؛ محقق داماد، ۱۳۸۴ل). په دې توګه، محيطي فلسفې په تاريخي لحاظ د انسان او طبيعت ترمنځ د اړيکو، د منابعو د مسئولانه کارونې او د چاپېريالي ستونزو د حل لپاره د فلسفي تفکر پراخ چوکاټ وړاندې کوي.

**فلسفي نظريات او د هغوی ډولونه**

هغه علمي او فکري ليدلوري، چې د انسان او طبيعي چاپېريال تر منځ اړيکې، د طبعيت ارزښت او د محيط د ساتنې اصول تحليل او تشريح کوي، محيطي فلسفي نظريات بلل کېږي. نوموړې نظريات هڅه کوي، چې د انساني چلند، اخلاقي ارزښتونو او طبيعي منابعو تر منځ يوه متوازنه تګلاره وړاندې کړي. محيطي فلسفي نظريې بېلا بېل ليد لوري لري، چې د انسان، طبيعت او د دوی ترمنځ اړيکو ته بېلابېل ارزښتونه ورکوي. په معاصره چاپېريالي فلسفه کې پنځه مهمې کټګورۍ پېژندل شوې دي، چې عبارت دي له:

**۱- انسان محوره فلسفه**

انسان‌محوره فلسفه هغه ليدلوری دی، چې انسان د طبيعت مرکزي وجود ګڼي. په دې فلسفه کې محيط يوازې د انسان د اړتياوو پوره کولو وسيله ګڼل کېږي (نصر، ۱۳۷۹ل). د دې نظريې له مخې بايد ټولې منابع د انسان د ژوند د اسانتياوو، اقتصادي پرمختګ او ټولنيزې رفاه لپاره وکارول شي. که څه هم دا نظريه د انساني پرمختګ لپاره اغېزمنه ده؛ خو د چاپېريالي منابعو د بې ځايه کارونې، د طبيعي توازن له منځه تللو او د ځينو موجوداتو د له منځه تللو خطرونه له ځان سره لري (فراهاني، ۱۳۸۲ل).

**۲- طبعیت محوره فلسفه**

طبعیت محوره فلسفه هغه فلسفي لید لوری دی، چې طبعیت په کې خپلواک ارزښت لري او یوازې د انسان د اړتیاوو لپاره نه؛ بلکې د خپل ذات او بقا لپاره ورته هم درناوی کېږي. په دې فلسفه کې انسان یوازې د طبعیت مرکز نه ګڼل کېږي، بلکې د طبعیت د ټولو موجوداتو درناوی او ساتنه یې د اخلاقي، فلسفي او اکولوژیکي مسؤلیت برخه ګڼل کېږي. د یادې فلسفې د نظریې له مخې طبعیت ساتنه یوازې د انساني ګټو لپاره نه، بلکې د اکوسیستم د دوام لپاره د حیاتي تنوع خوندي ساتلو او د راتلونکو نسلونو د حقوقو د خوندي کولو لپاره هم اړینه ده( جوادی آملی، ۱۳۸۴ل). همدارنګه د یادې فلسفې پر بنسټ انساني فعالیتونه باید د طبیعي منابعو د مسولانه کارونې، د ککړتیا کمولو او د بایولوژیکي تنوع ساتنې اصول مراعات کړي( فراهانی، ۱۳۸۲ل).

**۳- د اسلامي فلسفې نظریه**

اسلامي فلسفي نظریه د طبیعت د ارزښت، انساني مسؤلیت او د چاپېریال د ساتنې په اړه یو جامع او متوازن لید لوری وړاندې کوي. په دې لیدلوري کې طبیعت یوازې د انساني اړتیاوو لپاره وسیله نه ګڼل کېږي، بلکې د خدای د مخلوقاتو برخه ده، چې خپل ذاتی ارزښت لري. انسان د طبیعت ساتونکي، امین او د خدای د امانتدار په توګه په کې پېژندل شوی دی (جوادی آملی، ۱۳۸۶ل). د یادې فلسفې له مخې طبیعت د خدای د خلافت یوه برخه ده او هر موجود، که هغه ژوی وي، نباتات وي او یا د طبیعي سرچینو یوه برخه، خپل ذاتي ارزښت لري. د اسلامي فلسفې له مخې، د مخلوقاتو د درناوي پرته انساني ژوند بشپړ نه دی.

**۴- ټولنیزې او محیطي فلسفې**

یوه علمي څانګه ده چې د انسانانو او د هغوی د چاپیریال ترمنځ اړیکې او تعاملات ارزوي. دا فلسفه د مختلفو علومو، لکه ټولنپوهنې، فلسفې، اقتصاد او چاپیریال پوهنې په پراخه کړنلاره کې وده کوي. ټولنیزه او محیطي فلسفه د انساني کړنو او د طبیعی سرچینو په اړه د فعالو افکارو او نظریاتو په رامنځته کولو کې مرسته کوي. نوموړې فلسفه د بېلا بېلو کلتورونو او ټولنو د چاپیریالي تعاملاتو د پوهیدو لپاره یو فکري بنسټ برابروي. یاده فلسفه د چاپیریال ساتنې اصولو ته پاملرنه کوي، چې په متوازن ډول طبیعي سرچینې وکاروول شي تر څو په سته منابعو کې د راتلونکو نسلونو حق په پام کې نیول شوی وي. همدارنګه یاده فلسفه بېلابېلو ټولنیزو طبقو ترمنځ د تخصیص او منابعو کارونې د عدالت اصول څېړي، ترڅو ټول وګړي د چاپیریال د ساتنې او د طبیعت د استعمال په برخه کې مساوي حقونه ولري. بایدو ویل شي، چې یاده فلسفه د اقتصادي فعالیتونو او چاپیریال تر منځ اړیکې مطالعه کوي. نوموړې فلسفه تاکید کوي، چې اقتصادي برمختک باید په داسې ډول ترسره شي، چې چاپېریال

ته زیان ونه رسوي، یعنې نوموړې فلسفه د اقتصادي فعالیتونو او د چاپیریال د ساتنې ترمنځ اړیکه څېړي (Embracing).

کلتوري ارزښتونه د انسانانو ترمنځ د همدردۍ او همکارۍ احساس رامنځته کوي، چې د چاپیریال د ساتنې په برخه کې مثبتې اغیزې لري. دا چې کلتوري ارزښتونه د انسانانو او چاپیریال ترمنځ د اړیکو اصول ټاکي. نو محیطي فسفه هڅه کوي، چې څنګه باید د چاپیریال ساتنه وشي او څنګه باید د طبیعت سره د تعامل څرنګوالی تعین شي. نوموړې فلسفه ټینګار کوي، چې د مختلفو کلتورونو درناوی او د هغوی د ارزښتونو د پېژندلو له لارې، د چاپیریال مسایل په ښه ډول حل کېدای شي. ذکر شوې فلسفه په تاکید کوي، چې کلتوري ارزښتونه د پایښت فرهنګ ته وده ورکوي، ترڅو انسانان د طبیعت د ساتنې په برخه کې فکر وکړي او نووښتونو ډک حل وړاندې کړي. د دې تر څنګ کلتوري ارزښتونه د منابعو د ساتنې او د پایښت لرونکي کارونې ته ترجیح ورکوي او د طبیعي سرچینو د استعمال چلند په ګوته کوي (Encyclopaedia Britannica).

**۵- روحاني او دودیزې لارښوونې**

روحاني او دودیز لیدلوري د ټولنیزو او محیطي فلسفو په برخه کې مهم رول لوبوي. دا لیدلوري د انسان او طبیعت ترمنځ اړیکې ته د ژورې پاملرنې او درناوي پر بنسټ ولاړ دي. په دې توګه، روحاني لیدلوري پر دې باور دي چې طبیعت یوازې د مادي ګټې اخیستنې وسیله نه ده، بلکې یو سپیڅلی ارزښت لري. دا لیدلوری ټینګار کوي چې انسان باید له طبیعت سره د یوې مادي سرچینې پر ځای، د یو داسې وجود په توګه چلند وکړي چې روحاني ارزښت لري. له بلې خوا، دودیز لیدلوري هغه پوهې او ارزښتونو ته اشاره کوي چې له نسلونو راهیسې په ټولنو کې د تجربو له لارې پاتې شوي دي. دا لیدلوری د هغو سیمه ییزو کلتورونو او دودونو درناوی کوي چې د پېړیو په اوږدو کې یې له طبیعت سره په همغږۍ کې ژوند کړی دی (Got Questions).

د روحاني او دودیزو لیدلورو یوځای کول مرسته کوي چې د چاپیریال ساتنه له یوې وچې علمي موضوع څخه په یوې کلتوري او اخلاقي وجیبه بدله شي. دا ډول لیدلوري د ټولنې په ژورو طبقو کې د منلو وړ دي او د چاپیریال ساتنې لپاره اغېزمنې لارې چارې وړاندې کوي (Wikipedia).

**انسان محوره فلسفه**

انسان محوره فلسفه هغه لیدلوری دی، چې انسان د طبیعت مرکزي وجود ګڼي. په دې فلسفه کې طبیعت او چاپېریال یوازې د انسان د اړتیاوو د پوره کولو وسیله ګڼل کېږي او ټولې طبیعي منابع باید د انساني ژوند، اقتصادي پرمختګ او ټولنیزې اسانتیا لپاره وکارول شي (نصر، ۱۳۷۹ل). د ذکر شوې فلسفې د ځانګړتیاوو له مخې انسان

د چاپېریال اصلي محور ګڼل کېږي او د طبیعي منابعو ارزښت یوازې د انساني ګټې له نظره ارزول کېږي. د دې تر څنګ د یادې فلسفې له نظره د اقتصادي پرمختګ، صنعتي پراختیا او د ټولنې خیر ښېګڼې ته لومړیتوب ورکوي، حتی که دا د چاپېریال د محدودولو لامل شي (فراهاني، ۱۳۸۲ل). نو انسان محوره فلسفې پلویان باور لري، چې انسان د خپل عقل او علم په مرسته کولای شي د طبیعت منابع په مؤثره توګه وکاروي او چاپېریال ته خطرونه کم کړي (فروغي، ۱۳۹۶ل).

دغه فلسفه ځینې ښېګڼې او  ننګونې لري، چې ځینې یې عبارت دي له: الف- د انسان محوره فلسفې ګټې: انسان‌محوره فلسفه د صنعتي، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره مهمه ده. د دې فلسفې له مخې، انسان کولای شي، چې د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره منابع په منظم ډول وکاروي. ب- د انسان محوره فلسفې ننګونې - د چاپېریالي منابعو د بې ځایه کارونې خطر، د طبیعي توازن ګډوډېدل، د ځینو مخلوقاتو د له منځه تلو او د اکولوژیکي ستونزو رامنځته کېدل د دې فلسفې اصلي ننګونې دي (نصر، ۱۳۷۹ل).

انسان‌محوره فلسفه د انساني پرمختګ لپاره عملي او اغېزمنه ده، خو یوازې په انساني ګټو باندې تمرکز کول، د چاپېریالي ستونزو د زیاتوالي سبب کېږي. د دې فلسفې تطبیق باید د نورو فلسفي او اخلاقي اصولو لکه طبیعت‌محوره فلسفه او اسلامي فلسفه سره توازن ولري، ترڅو د چاپېریال د ساتنې دوام یقیني شي (جوادي آملی، ۱۳۸۶ل).

**طبیعت محوره فلسفه**

هغه لیدلوری دی، چې طبیعت خپل ارزښت لري او انسان یوازې د دې د ساتنې مسؤول نه دی؛ بلکې د ټولې هستی د خیر لپاره هڅې وکړي (فراهاني، ۱۳۸۲ل). په دې فلسفه کې انساني ګټه د طبیعي توازن د ساتنې پر وړاندې لومړیتوب نه لري او ټول مخلوقات د چاپېریالي شبکې یوه مهمه برخه ګڼل کېږي. ددې فلسفې له مخې طبیعت خپل ارزښت لري، چې یوازې د انساني ګټو لپاره موجود نه دی (نصر، ۱۳۷۹ل). د دې تر څنګ نوموړې فلسفه ټینګار کوي، چې انسان باید د خپلو فعالیتونو په وسیله د طبیعي منابعو د تخریب مخنیوی وکړي او د ټولیز اکولوژیکي توازن ساتنه وکړي (فراهاني، ۱۳۸۲ل). ذکر شوې فلسفه وايي، چې د طبیعت ساتنه یوازې تخنیکي مسله نه ده، بلکې د اخلاقي او فلسفي مسؤلیت یوه برخه ګڼل کېږي (جوادي آملی، ۱۳۸۶ل).

د طبیعت‌محوره فلسفې تطبیق د چاپېریالي بحرانونو کمول، د مخلوقاتو د حقونو خوندیتوب او د اکولوژیکي توازن ساتنه تضمینول د یادې فلسفې د ښېګڼو په توګه ښودلی شو. د دې تر څنګ ځینې ننګونې هم لري، چې

د دې فلسفې د عملي کولو لپاره پراخ او ټولنيز پوهاوی او د انساني فعاليتونو محدودول اړين دي، چې ممکن اقتصادي او ټولنيزې ننګونې رامنځته کړي (فروغي، ۱۳۹۶ل).

طبيعت‌محوره فلسفه د چاپېريال ساتنې لپاره حياتي اهميت لري؛ ځکه د انساني ګټو محدودول د اکولوژيکي توازن د ساتنې لپاره ضروري دي. د دې فلسفې تطبيق بايد د انسان‌محوره فلسفې او اسلامي فلسفې سره همغږې وي؛ ترڅو د طبيعي چاپېريال ساتنه په متوازن ډول ترسره شي (محقق داماد، ۱۳۸۴ل).

**اسلامي فلسفه او چاپېريال**

د اسلامي فلسفې له مخې د چاپېريال ساتنه د انسان د اخلاقي، معنوي او ټولنيز مسؤليت يوه اړينه برخه ګڼل کېږي. په اسلامي تعليماتو کې چاپېريال يوازې د انساني ګټو لپاره نه دی، بلکې د ټولو مخلوقاتو د حقونو او د طبيعي توازن د ساتنې لپاره ارزښت لري (جوادي آملی، ۱۳۸۶ل). د نوموړې فلسفې يوه ځانګړنه داده، چې وايي، ټول مخلوقات د الهي موخو د خدمت لپاره جوړ شوي دي او انسان د دې منابعو ساتونکی دی (محقق داماد، ۱۳۸۴ل). د دې تر څنګ ياده فلسفه ټينګار کوي، چې انسان ته د چاپېريال د ساتنې مسؤليت ورکړل شوی، چې د منابعو بې ځايه کارونه او د طبيعت تخريب يې د اخلاقي او معنوي مسؤليت په توګه ګڼل کېږي (جوادي آملی، ۱۳۸۶). د پورته ځانګړتياوو تر څنګ اسلامي فلسفه د انسان اړتياوې په پام کې نيسي؛ خو د طبيعت ارزښت ته هم اهميت ورکوي. دا توازن د چاپېريال د ساتنې لپاره يو جامع چوکاټ برابروي (محقق داماد، ۱۳۸۴ل). د اسلامي فلسفې پر بنسټ د چاپېريال ساتنه يوازې تخنيکي مسله نه؛ بلکې اخلاقي، معنوي او ټولنيز مسووليت ګڼل کېږي (جوادي آملی، ۱۳۸۶ل؛ فراهاني، ۱۳۸۲ل).

اسلامي فلسفه د چاپېريال ساتنې لپاره جامع او متوازن چوکاټ وړاندې کوي، چې د انساني اړتياوو، طبيعي منابعو او اخلاقي مسؤليتونو ترمنځ توازن تضمينوي. د اسلامي ليدلورې په عملي تطبيق سره، انسان کولای شي د چاپېريال ساتنې ستونزې په دوامداره او مؤثره توګه حل کړي.

**پايله**

په دې څېړنه کې د محيطي فلسفي نظرياتو مختلف ډولونه څېړل شوي دي، چې د هرې فلسفې له نظره د چاپېريال ساتنې په برخه کې ځانګړې ونډه څرګنده شوه. د انسان‌محوره فلسفې تمرکز پر انسان د چاپېريال د منابعو د استفادې په حق کې دی، خو دا ليد په دوامداره توګه د طبيعي سرچينو د زيانمنېدو لامل ګرځي. په مقابل کې، طبيعت‌محوره فلسفه د طبيعت خپلواکي او ارزښت په پام کې نيسي او د چاپېريال ساتنې ته يو ژور احترام ورکوي. په ځانګړي ډول، اسلامي فلسفه د چاپېريال ساتنې په برخه کې يو متوازن او جامع ليد لوری وړاندې کوي، چې

په هغه کې د انسان او طبیعت ترمنځ متقابل مسؤولیت، د ټولیزو انساني اخلاقو او د خدای(ج) د مخلوقاتو د قدر پېژندنه شامل دي. اسلامي ښوونې د چاپېریال د ساتنې په برخه کې روحي او اخلاقي بنسټونه برابر کړي دي، چې کولای شي د عصري چاپېریالي ستونزو د حل لپاره یوه مهمه لاره وي.

په پای کې، د فلسفي نظریاتو او اسلامي ارزښتونو د یو ځای کولو له لارې، د چاپېریال ساتنې عملي لارې چارې په ګوته شوې چې کولای شي د دوامداره پرمختګ او طبیعي سرچینو د خوندي ساتنې لپاره اغېزناک رول ولوبوي. دغه ترکیبي فلسفي او اخلاقي چلندونه د چاپېریال د تخریب مخنیوي لپاره یو کلیدي وسیله بلل کېږي.

**وړاندیزونه**

- په ښوونځیو، پوهنتونو او د رسنیو له لارې د عامه پوهاوی ترسره شي.
- د انساني فعالیتونو د اغېزو د کنټرول لپاره دې قانوني او اداري چارچوبونه پیاوړي کړل شي.
- د منابعو مسؤلانه کارول، د ککړتیا کمول او د تجدید وړ منابع دې پراخې شي.
- په عملي ژوند کې دې فلسفي او اخلاقي اصول تطبیق شي؛ تر څو د اقتصادي پرمختګ او چاپېریال ساتنې ترمنځ توازن وساتل شي.

# Philosophical and Analytical Investigation of the Role and Value of the Natural Environment

Teaching Assistant: Zinatullah Arman, Shaikh Zayed University, Faculty of Social Sciences, Department of History and Geography
**Email:** zinatarman2023@gmail.com

**Abstract**
The environment is the natural foundation of life for all living beings, yet humans bear the greatest responsibility for its proper preservation. Although countries around the world and environmental protection agencies have made efforts to prevent environmental degradation, these efforts have not been sufficient. The environment is vital for human life, social development, and the sustainability of natural resources, and despite financial and technical initiatives, environmental challenges continue to persist. This study analyzes the significance of environmental protection from the perspectives of environmental philosophy, major philosophical theories, the Islamic viewpoint, and practical approaches. It examines three key philosophical orientations: anthropocentric philosophy, which places humans at the center of nature and prioritizes human needs; ecocentric philosophy, which assigns intrinsic value to nature and limits human interests; and Islamic philosophy, which advocates a balanced relationship between human and natural interests based on moral, spiritual, and social principles. The study further explores environmental issues such as air and water pollution, deforestation, and the decline of biodiversity, while also recommending practical solutions that include responsible resource use, community awareness, stronger legal and administrative frameworks, and the responsible application of technology. Ultimately, the research emphasizes that environmental protection is not solely dependent on scientific and technical solutions; philosophical, ethical, and social perspectives are equally essential, and Islamic philosophy provides a comprehensive and balanced framework for safeguarding the environment.

**Keywords:** Anthropocentric philosophy, Ecocentric philosophy, Environmental protection, Islamic perspective, Practical solutions.

## سرچيني

- اصغری، صادق.(۱۳۸۴). اسلام و محیط زیست، تهران: انتشارات معارف.

- جواد آملی، محمد تقي.(۱۳۸٦). محیط زیست اخلاق اسلامی، تهران: انتشارات معارف.

- فراهانی، سعید.(۱۳۸۲). فلسفه محیط زیست، تهران: نشرنی.

- فراهانی، سعید.(۱۳۸۴). سازگاری بهره برداری پایدار در اسلام، پایان نامه دکتری، دانشگاه تهران.

- نصر، حسین.(۱۳۷۹). فلسفه و محیط زیست، تهران: نشر مرکز.

- فرغی، محمد رضا.(۱۳۹٦). عقل و محیط زیست، تهران: نشر سمت.

- محقق، محمد.(۱۳۸۴). اصول حفظ منابع طبیعی از دیدگاه اسلامی، تهران: دانشگاه تهران.

- Embracing Environmentalism. (n.d.). Key concepts in environmental *philosophy*. Retrieved from https://embracingenvironmentalism.com.

- Encyclopaedia Britannica. (n.d.). Ecofeminism, deep ecology, and social ecology. Retrieved from https://www.britannica.com.

- Got Questions. (n.d.). Retrieved from [https: //www.gotquestions.org /Pashto/](https: //www.gotquestions.org/Pashto/).

- Wikipedia. (n.d.). Retrieved from [https://en.wikipedia.org/wiki/ Environmental_philosophy](https://en.wikipedia.org/wiki/Environmental_philosophy).

# په بانکدارۍ کې د سهمونو رول

پوهنیار رباني وحدت، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.
برېښنالیک: wahdat.r@gmail.com

**لنډیز**

بانکداري د هر هېواد د اقتصادي نظام له بنسټیزو عناصرو څخه ګڼل کېږي او سهمونه د دې سیستم په مالي په ثبات، مدیریت، نظارت، د مالي سرچینو په جذب، د عوایدو په زیاتوالي او د خطرپه وېش کې بنسټیز رول لوبوي. د دې موضوع د څېړلو اهمیت دا دی، چې د سهمونو د پیر او پلور په اړه د اسلامي شریعت احکام روښانه شوي دي او په بانکدارۍ کې یې عملي اهمیت په علمي ډول څېړل شوی دی. اساسي موخه دا ده چې د سهم ماهیت، ډولونه، ځانګړتیاوې، د سهمدارانو حقوق او مکلفیتونه، د اسلامي شریعت له نظره د سهمونو د پیر او پلور شرطونه او په بانکدارۍ کې یې رول په ډاګه شوی. په دې څېړنه کې اصلي پوښتنه چې سهمونه په بانکدارۍ کې څه ډول رول لوبوي؟ ځواب شوې ده. په څېړنه کې د تحلیلي روش څخه ګټه اخېستل شوي او د معلوماتو او اطلاعاتو راټولولو روش یې کتابتوني دی. دې پایلې ته ورسېدم چې سهمونه د بانکونو په مالي تأمین او پانګونو، د بانکونو پولي سیاستونو په ټاکلو، بانکي سوداګرۍ او د عوایدو په زیاتوالي، د بانکونو په مدني مشارکت او د هغوی په اقتصادي طرحو او د مشترکو سرمایه ګذاریو په صندوقونوڅخه په ګټه اخېستلو کې رول لوبوي.

**کلیدي ټکي:** بانکداري، پولي سیاستونه، رول، سهمونه، مشروعیت

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین!**

بانکداري د اقتصادي نظام د پایښت او پراختیا یو له بنسټیزو عناصرو څخه ګڼل کېږي او سهمونه د بانکونو په مالي تأمین او پانګونو، د مالي منابعو په راجلبولو، د بانکي عوایدو په زیاتوالي، د خطرونو په وېشلو، د پولي سیاستونو په تطبیق او د بانکونو په مدني مشارکت کې هم مهم رول لوبوي.

سهمونه یوازې د پانګوالو لپاره د ګټو ترلاسه کېدو وسیله نه ده، بلکې په ټولیز ډول د اقتصادي جوړښتونو په پیاوړتیا کې هم آغېز لري.

سهمونه د بانکونو لپاره د مالي منابعو راجلبولو یوه مهمه وسیله ده، چې د بانکونو د عملیاتو د پراختیا لپاره پانګه تیاروي او د هغوی د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا لپاره زمینه برابروي. په دې توګه بانګونه د سهمونو په عرضه کولو او راکړه ورکړې له لارې د خپلو پولي سیاستونو د تنظیمولو لپاره اړینې مالي سرچینې پیدا کوي.

د سهمونو عرضه او تقا ضا او د هغوی قیمتونو و ضعیت، د بانکونو د پولي ستراتیژیو او مالي سیستم د عمومي ښه والي لپاره د ارزونې لارې چارې ښیي. په همدې اساس په بانکدارۍ کې د سهمونو رول اړین دی چې په دې مقاله کې څېړل شوی دی.

## د څېړنې موخې

۱ـ د سهم په لغوي او اصطلاحي تعریفونو باندې پوهېدل.

۲ـ د اسلامي شریعت له پلوه د سهمونو د پیر او پلور روښانه کول.

۳ـ د سهمونو د بېلا بېلو ډولونو پېژندل.

۴ـ د سهمونو د پیر او پلور په اهدافو پوهېدل.

۵ـ په بانکدارۍ کې د سهمونو د رول په ډاګه کول.

٦ـ لوستونکو ته په بانکدارۍ کې د سهمونو د رول په اړه معلومات وړاندې کول.

## کړنلاره او د کار توکي

دغه یوه څېړنیزه مقاله ده او د تحلیلي روش څخه ګټه اخېستل شوې ده او د معلوماتو راټولو روش یې کتابتوني دی. د څېړنې په اوږدو کې مې د ځینو معتبرو، مستندو او متعمدو مأخذونو ته مراجعه کړې ده. د یادولو وړ ده چې د څېړنې د نورو مأخذونو او سرچینو ترڅنګ مې د کمپیوټري کتابتون او ټولنیزو شبکو او معلوماتو څخه هم ګټه اخیستې ده، چې د دې څېړنې په بشپړولو کې اړین وو. څرنګه چې زما د لیکنې مو ضوع( سهمونه او په بانکدارۍ

کې یې رول) ده، د مو ضوع و ضاحت لپاره به لومړی د سهم د ماهیت په اړه لنډ معلومات او ورپسې به په بانکدارۍ کې د سهمونو په رول باندې خپله کتابتوني څېړنیزه لیکنه بشپړه کړم.

**د سهم لغوي معنی**

سهم په لغت کې برخې، نصیب، خط او قسمت ته وایي او جمع یې اسهام دي(عمید، ۱۳۸۱ل، ص: ۱۲۵۳).

یا اسهام د افعالو باب له مصدر څخه دی، چې له سهم څخه اخېستل شوی او په لغت کې پر خبرو اضافه کول، قرعه کشی، گټه ورکولو او شریکولو ته وایي(طاهری او انصاري، ۱۳۸۴ل، ص: ۲۲۴).

**د سهم اصطلاحي تعریف**

د سهم لپاره بېلا بېل تعریفونه وړاندې شوې دي، چې یو څو تعریفونه یې په لاندې ډول ذکر کوو:

۱ـــ المقدر المعلوم لکل مستحق فی المال المقسوم. ژباړه:هغه برخه ده چې په وېشل شوي مال کې د هر مستحق شخص لپاره ټاکل شوي وي( الکسانی، ۱۳۶۵ل، ص:۴۲۰).

۲ـــ سهم یوه قیمت لرونکي پاڼه ده، چې د یو شرکت په شتمنیو او عوایدو کې د یو شخص د ملکیت د ادعا ښودنه کوي.

۳ـــ سهم د سهامي شرکت د سرمایې برخه ده، چې په سهامي شرکت کې د برخې درلودل، وجایبو او د منافعو اندازه مشخص کوي(محمدي، ۱۳۸۹ل، ص: ۹۹).

**د سهمونو شرعي حیثیت د هغوي پیر او پلور**

په اوسني وخت کې سهامي کمپنۍ او د هغې برخې د پلورلو او پیرلو مسئله نوي رامنځته شوې ده او هره ورځ په نړۍ کې د سهمونو له لارې په پراخه کچه سوداگري ترسره کېږي.

په همدې اســاس، اړینه ده چې د دې ســهمونو د پیر او پلور مو ضوع شرعي حکم او د اســلامي شریعت له نظره وا ارزول شي.

په واقعیت کې سهمونه د کمپنۍ د وسایلو د ملکیت استازېتوب کوي، کوم شخص چې د کمپنۍ د سهم سند وپیري؛ نو د کمپنۍ د ســهم نمایندگي کوي. په دې معنی چې د نوموړې کمپنۍ د لوازمو او وســایلو مالک گرځي، مگر یو شــمېر علماء په دې آند دي چې د کمپنۍ د توکو یا لوازمو نماینده گي نه کوي، بلکې دغه ســند یوازې د ثبوت لپاره یو لیک دی او د دې ښودنه کوي، چې دغه کس کمپنۍ ته دومره اندازه پانگه ورکړې ده.

دغه سندونه د بانډونو سندونو په څېر دي. بانډونه او سهمونه يوازې دومره توپير لري چې بانډونه ټاکلي اندازه سود يا ګټه لري او د سهمونو سود معلوم نه دی، بلکې هر وخت چې کمپني ګټه وکړي؛ نوسهمدار ته په خپل تناسب ګټه ورکوي. د دوی دليل دا دی چې که چېرې سهمونه د کمپنۍ د لوازمو استازېتوب وکړي، په کار ده چې د سهم لرونکو په څېر ديوالي کېدو په صورت کې د دوی نوره شتمني هم د همدې سهمونو په اندازه ګنګل شي؛ خو داسې نه کېږي. معلومېږي چې سهمونه د کمپنۍ د لوازمو د ملکيت نمايندګي نه کوي.

د دې نظرېې له مخې سهمونه او د هغوی پير او پلور جواز نه لري، ځکه دا د کمپنۍ د لوازمو ملکيت نه دی، که موضوع همداسې وي، بيا زکات هم پکې واجب نه دی( نيازي، ۱۳۹۶ل، ص: ۲۸۱).

که دا نظر په دقيق ډول وڅېړل شي، معلومېږي چې سم نه دی، ځکه د شرکت د ظاهري تصور او د هغو کتابونو پربنسټ چې د دې مو ضوع په اړه ليکل شوي دي، نو په څرګند ډول معلومېږي چې سهم لرونکي د شرکت په شتمنۍ کې متناسب ملکيت لري. په همدې اساس کله چې شرکت د شريکانو د همغږۍ او موافقې په صورت کې تجزيه کېږي، هر سهم لرونکي ته د شرکت له شتمنۍ څخه مناسب سهم ورکول کېږي. په داسې حال کې چې د نورو مالي اسنادو لرونکو ته لکه د قر ضونو او نورو پاڼو لرونکو ته د عام سهامي شرکت د تجزيې په صورت کې، دوی ته د ګټې سره يو ځای خپله شتمني بېرته ورکول کېږي( د شرکت له شتمنۍ څخه هغوی ته متناسب سهم نه ورکوي) په همدې اساس، معلومېږي چې سهم يوازې د قرض سند نه دی، بلکې د سهامي شرکت په شتمنۍ کې د سهم لرونکي لپاره د ملکيت سند دی.

د دې څخه معلومېږي چې سهم په خپل ذات کې څه نه دی، بلکې د دې تر شا د هماغه کمپنۍ لوازم او ملکيت اصلي شيان دي او د سهم پير او پلور په حقيقت کې د هماغه کمپنۍ د لوازمو پيرل او پلورل دي؛ خو لوازم بېلا بېل حالتونه لري، لکه: نقدې پيسې، د لاسته راوړنې وړ قر ضونه، جامد توکي، سوداګريز مالونه او داسې نور. په همدې اساس سهم لرونکی د شرکت د شتمنيو په ټولو ډولونو کې متناسب سهم لري، چې په هغه کې نقدې پيسې، قرضونه، ثابته شتمني او سوداګريز توکې شامل دي(روابند، ۱۳۸۸ل، ص: ۱۱۳).

**د سهمونو د پير او پلور شرايط**

د سهمونو پير او پلور ځينې شرايط لري، چې په لاندې ډول يې ذکر کوو:

۱ــ شرکت بايد حلال (مباح) فعاليت ولري او د سهم اخېستل يوازې په هغه شرکت کې جواز لري، چې حلال توليد، تجارت يا خدمت وړاندې کوي او د حرامو فعاليتونو لکه: سود، قمار، شراب، فحشا، د ژونديو خوګانو، مخدره موادو او نورو نارو فعاليتونو کې دخيل نه وي(روابند،۱۳۸۸ل، ص: ۴۲۶).

۲ــــ د سـهمونو پیر او پلور د هغه رسـمي مبلغ څخه په ټیټ یا لوړ قیمت په دې شرط جواز لري چې د شرکت ټوله شـتمني د ثابتې شـتمنۍ ( تعمیر، ماشـین آلات، او داسـې) یا سـوداګریزو توکو څخه تشـکیل شـوې وي. که چېرې د شرکت ټوله شتمني نقدې پیسې یا هغه قرضونه وي، چې د نورو پر ذمه واجب وي؛ نو دا ډول شرکت د سـهمونو پیرل او پلورل، د سـهم پر پاڼه د لیکل شـوي دفتر قیمت څخه په لوړه یا ټیټه بیه سـم نه دي او د داسـې شرکتونو د سـهمونو پیر او پلور باید د هغې د اسمي قیمت سره برابر او مساوي وي (روابند،۱۳۸۸ل، ص:۱۱۳).

که چېرې د کمپنۍ د شتمنۍ یوه اندازه برخه منجمد یا ثابت شکل ولري، په داسې حال کې چې کمپنۍ په هغې خام مواد، ماشـین آلات او اجناس و پیرل؛ نو په دې وخت کې د اصـلي قیمت څخه په کم یا لوړ قیمت د دې کمپنۍ د سهمونو پیر او پلور جواز لري( ضریري، ۱۳۹۱ل، ص: ۲۷۱).

ځینې وخت د سهامي شرکت اصـلي فعالیت په مشروع حدودو کې وي، مګر په یو ډول نه یو ډول سـودي معاملات ترسره کوي. د بېلګې په توګه د بانک څخه نزولي پور اخلي یا دا چې خپلې ا ضافي پیسـې په بانک کې ږدي او د هغې په مقابل کې ګټه ترلاسـه کوي. دا د شرکت د ضمني فعالیتونو څخه دي او نن ورځ زیاتره شرکتونه دا ډول معاملات ترسره کوي. د دې ډول شرکتونو د سـهمونو د پیرلو حکم په اړه د معاصرو علماوو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی(روابند،۱۳۸۸ل، ص:۱۱۵).

**د سهمونو ډولونه**

سهمونه د بېلا بېلو اړخونو له پلوه په مختلفو ډولونو وېشل شوې دي، چې لاندې يې په لنډ ډول ذکر کوو:

**لومړی مطلب: د حقوقو ترتیب له مخې د سهمونو وېش**

د حقوقو ترتیب له مخې سهمونه په عادي او امتیازي سهمونو وېشل شوي دي:

**الف ـ عادي سهمونه**

عادي سهمونو پاڼې هغه قانوني اسنادو ته ویل کېږي، چې په سهامي شرکت کې د سهمدارانو حقوق مشخص کوي. همدارنګه دا ډول اسناد د قیمت لرونکو پاڼو په توګه د پیر او پلور وړ دي. همدارنګه عادي سهمونه د رأی حق لري، خطر يې ډېر دی، مګر ګټه يې تضمین شوې نه ده (https://bashgah.com/blog)

**دویم مطلب ـ امتیازي سهمونه**

امتیازي سـهمونه یو ډول قیمت لرونکي پاڼې دي، چې د هغوی لرونکي د شرکت د شـتمنیو او عوایدو کې د ټاکلي حق ادعا لري (ستانکزی او ناصح، ۱۳۹۶ل، ص: ۲۷۰).

**د نوم له پلوه د سهمونو وېشنه**

د نوم له پلوه سهمونه په دوو ډولونو وېشل کېږي:۱ـ نوم لرونکي سهمونه. ۲ـ نوم نه لرونکو سهمونه.

**۱. نوم لرونکي سهمونه:** هغه سهمونو ته ویل کېږي، چې د ټاکلي شخص پر ملکیت دلالت کوي. د سهمونو په دفتر کې د سهم لرونکي نوم او ځانګړتیاوې ثبت وي(عرفاني، ۱۳۸۱ل، ص: ۴۵).

نوم لرونکی سهم په اسنادو کې د سهمدار کسب او مسلک لیکل کېږي او د شرکت په مرکزي کې یې په ځانګړي دفتر کې ټول معلومات ثبت کېږي(www.ir bours.com) .

**۲. نوم نه لرونکي سهمونه:** هغه سهمونه دي، چې د سهم لرونکي نوم د سهم پر پاڼه او یا د شرکت په دفتر کې نه وي ثبت شوي. یا په بل عبارت نوم نه لرونکي سهمونه په حامل پوري اړوند وي او پرته له کومې ستونزې په اسانه توګه انتقالېږي. دا ډول سهمونه په سوداګرۍ کې د سهولت او انتقال پروسې د چټکتیا له پلوه، د نوم لرونکو سهمونو په پرتله ګټور دي.

**د طبیعي والي له پلوه د سهمونو وېش**

له طبیعي والي له پلوه سهمونه پر دوو برخووېشل کېږي: ۱- نقدي سهمونه. ۲- عیني سهمونه.

**۱ . نقدي سهمونه:** هغه سهمونو ته ویل کېږي، چې په شرکت کې د برخې د لاسته راوړلو لپاره نقدو پیسو په بدل کې ترلاسه کېږي دلیل یې روښانه دی، ځکه چې پیسې د سوداګرۍ تر ټولو اسانه وسیله ده او د شرکت د فعالیت اساس تشکیلوي. دا ډول سهمونه، نقدي سهمونه ګڼل کېږي. (ستانکزی او ناصح، ۱۳۹٦ل، ص: ۲۷۰).

**۲ . غیر نقدي سهمونه:** هغه سهمونو ته ویل کېږي، چې په شرکت کې د برخې لاسته راوړلو لپاره د غیر نقدي اجناسو او اموالو په بدل کې ترلاسه کېږي. یعنې هغه څه چې شرکت د سهم په بدل کې په غیر نقدي ډول قبول کړي وي؛ نو لومړی باید هغه وپلوري او په نقدو پیسو یې تبدیل او وروسته له هغې څخه ګټه واخلي، چې دا کار یو لړ ستونزې لري، مګر په ځینو حالتونو کې شرکت مجبور دی، چې د خپلو اړتیاوو د رفع کولو لپاره غیر نقدي اجناس ومني او دا ډول اسهام د غیر نقدي سهمونو په نوم یادېږي.

**څلورم مطلب: تأسیسي والي او انتفاعي والي له پلوه د سهمونو وېش**

تأسیسي سهم، هغه سهم ته ویل کېږي، چې بنسټ ایښودونکی یې پرته له دې چې په شرکت کې سرمایه ولري، لاسته راوړي.

هر هغه څوک چې شرکت ته کار وکړي یا یې ګټه ور ورسېږي؛ نو شرکت دغه شخص ته د تاسیس برخه ورکوي. په دې کې شــک نشـــته چې دغه برخه ډېره خطرناکه ده، ځکه داسي ســـهمونه چې په مقابل کې یې هیڅ مال نه دی ورکړی، په داسي ډول ګټه لاسته راوړي او سـهمدارانو سره شریک کېږي، چې په مقابل کې شرکت ته شتمني نه ده ورکړې. له همدې امله د ګڼ شـمېر هېوادونو په قوانینو ( د شرکتونو قوانین ) کې دا ډول تأسیسي-سـهمونه ملغاء اعلان کړې دي، ځکه نا سم او ډېر خطر لري ( نیازی، ۱۳۹۰ل، ص:۷۶).

## د سهمونو د پیر او پلور موخې

نن ورځ په سـټاک مارکیټ(Stock Exchange) کې د سـهمونو پیر او پلور دوه مهم اهداف لري، چې هر یو یې په جلا جلا ډول ذکر کوو:

۱. یو شـمېر کسـان په سـهامي شرکت کې د سـهیم والي په نیت او اراده سـهمونه پیري او له ځان سره یې سـاتي، څو کلني عواید ترلاسه کړي، مګر د داسي مشتریانو شمېر ډېرکم دی(عثماني،مترجم: روابند،۱۳۸۸ل، ص: ۳۲۶).

سهمداران د دې لپاره سرمایه ګذاري کوي چې په کمپنۍ کې سهمدار شي، په کور کې کنېني، کلنۍ یا میاشتینۍ ګټه ورته راځي. البته دا ډول سرمایه ګذاري هغه وخت جواز لري چې د اسلامي شریعت له لوري ټاکل شوې شرایط پکې مراعات شوي وي.

۲ . د ګټې لاســته راوړل: یو شـــمېر کســـان د ســـهمونو د پیر او پلور له سرمایه ګذارۍ څخه موخه دا وي چې خپله سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي، ځکه دوی دا تمه لري چې امکان لري د کمپنۍ د سهمونو قیمت لوړ شي او څو ورځې وروسته یې وپلوري؛ نو ګټه به لاسته راوړي. دغه شخص د دې تمه نه لري چې په کمپنۍ کې سهمدار شي او نه هم د کال یا میاشتې پر اساس د ګټې لاسته راوړلو تمه ولري، بلکې یوازېنۍ موخه یې دا وي چې د سهم قیمت لوړ شي او بیا یې په لوړه بیه وپلوري(نیازی، ۱۳۹۶ل، ص: ۸۷).

## په بانکدارۍ کې د سهونو رول

د سهمونه د بانکدارۍ په بېلا بېلو برخو کې مهم نقش لوبوي، چې لاندې یې ذکر کوو:

## لومړی: د سهونو رول د بانکونو په مالي تأمین او پانګونو کې

د سهمونو بازار د مالي نظام یو بنسټیز عنصر-دی او بانکونه د دې بازار له لارې د مالي تأمین او پانګونې په برخو کې مهم رول لري. له حقوقي پلوه د بانکونو درې مهمې برخې د سهمونو په مرسته پیاوړې کېږي:

ا. د بانک شتمنۍ.

۲. د پانګونې وړتیا.

۳. مالي ثبات او د کفایت سرمایه ( راعی، ۱۳۹۷ل، ص: ۲۱۰).
په عمومي ډول د سهمونو په بازار کې د سهمونو دوه ډوله عرضه کوونکي او تقا ضا کوونکي رول لوبوي. لومړی د سهمونو عرضه کوونکي هغه سوداګريزې ادارې دي چې د خپلو پانګونو د مالي تأمين لپاره د خپل بانک یا شرکت سهمونه عر ضه کوي. دویم يې د پانګې اچونې هغه مالي مؤسسات او افراد دي چې د ګټې د ترلاسه کولو لپاره سهمونه پلوري. په همدې اساس د سهمونو غوښتونکي هم د دواړو ډلو انګيزو او اړتياوو ته په کتو د سهمونو په بازار کې د سهمونو معاملات ترسره کېږي، يعنې سهمونه پيري او پلوري( بهمن پوراو مشيري، ۱۳۹۰ل، ص: ۱۰۹).

بانکونه د هغو مؤسساتو له ډلې څخه دي چې د سهمونو په بازار کې ټاکونکی رول لوبوي. بانکونه د خطر په منلو سره د شرکتونو له لوري نشر-شوې قيمتي پاڼې او سهمونه په اشخاصو پلوري او یا د قيمت لرونکو پاڼو د پيرلو ژمنه کوي.

پانګه اچونکي بانکونه، د پانګونې نويو طرحو مالي تامين چې نسبتاً يې خطر ډېر وي، د مشارکت یا تملک او د اقتصادي فعاليتونو په پراختيا د نظارت له لارې مرسته کوي.

همدارنګه پانګه اچوونکي بانکونه د دولتي قرض پاڼې د پير او پلور په مزايده(يو تر بله د قيمتونو لوړول ) د دولتي شرکتونو عادلانه وېش یا د سهمونو بازار ته د وړاندې کولو په موخه د هغوی واقعي ارزښت ټاکلو او د نورو قيمت لرونکو پاڼو د ارزښت په ټاکلو کې همکاري کوي( https://research.chambertrust.ir).

دا چې بانکونه په ځانګړي ډول د پانګې اچونې بانکونه(Investment Banks) د اوږد مهاله مالي وسايلو له لارې لکه: عادي سهمونه، امتيازي سهمونه، د قرض اسناد او نورو مالي وسايلو له لارې پانګونه کوي، مګر په ځينو حالتونو کې بانکونه په خپله هم له مالي ستونزو سره مخ کېږي او د مالي ستونزو د حل او فصل لپاره نورو بازارونو سره متوسل کېږي(بهمن پور او مشيري، ۱۳۹۱ل، ص:۱۰۸).

يو له هغو مواردو څخه چې بانکونه د مالي ستونزو پرمهال ترې ګټه اخلي، د سهمي پاڼو خپرول دي، څو د خپلو ځانګړو پروژو او طرحو د مالي تامين لپاره له سهمي پاڼو څخه ګټه واخلي او له همدې لارې خپلې مالي اړتياوې پوره کړي(www.tazehayeeghtesad.com ).

**دويم ـ د سهمونو رول د بانکونو په پولي سياستونو کې**

سهمونه د بانکونو د پولي سياستونو په ټاکلو کې مهم رول لوبوي، په ځانګړي ډول د مرکزي بانک په پولي سياست کې د سهمونو رول ډېر څرګند او د پام وړ دی، چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

مرکزي بانک د یو هېواد تر ټولو مهم بانک دی، چې د بانکونو سردار په نوم هم یادېږي او په هېواد کې د مالي نظام د پیاوړتیا لپاره کار کوي( نیازی، ۱۳۹۱ل، ص: ۱۰).

مرکزي بانک کولای شي، چې د سـهمونو بازار په فعالیتونو باندې ډېر آغېز وکړي. لکه څه ډول چې وړاندې یادونه وشوه چې د سهمونو د نرخ په ټاکلو کې یو بنیادي عامل، د ګټې اندازه ده او د مرکزي بانک پولي سیاستونه کولای شي چې د سهم قیمت ته بدلون ورکړي.

که چېرې مرکزي بانک، انبساطي پولي سیاست تعقیب کړي، په لنډ مهال کې د سـهم بیې راټیټېږي او ملي عواید زیاتېږي. دا بدلونونه د اساسي عواملو پر اساس د سهمونو قیمت له ټاکلو سره د سهمونو قیمت لوړېږي( بهمن پور او مشیري، ۱۳۹۱ل، ص: ۱۰۹).

د ملي عوایدو لوړوالی، د اقتصادي پرمختګ، د بانګونو د فعالیتونو او د هغوی د ګټې د زیاتوالي سبب کېږي او په پایله کې خلک د دې انتظار باسي چې په راتلونکي کې د سـهمونو له لارې ډېره ګټه ترلاسه کړي. همدارنګه د قیمتونو ټیټوالی او د تنزیل نرخ په پایله کې به د سهمونو قیمت لوړ شي.

د یادولو وړ ده چې پولي سیاست هغه مهال د سهمونو په بازار باندې آغېز کوي، چې د اتکل وړ نه وي( بهمن پور او مشیري، ۱۳۹۱ل، ص: ۳۲۷).

**درېیم: د سهمونو رول د بانکونو په سوداګرۍ او د عوایدو په زیاتوالي کې**

که چېرې بانکونه عواید یا ګټه ترلاسه نه کړي، نو دا ډول اقتصادي نهاد څه په درد خوري؟ په همدې دلیل د بانک تر ټولو اساسي موخه او دنده د ګټې لاسته راوړل او پانګوالو د غوښتنو پوره کول دي( www.banker.ir).

همدارنګه سوداګریز بانکونو له فعالیتونو یو مهم فعالیت د شتمنۍ او پیسو په بازار کې یې ترسره کوي او بانکونو لپاره عواید هم لري؛ په مالي بازارونو کې د سـهمونو پیر او پلور او د دې پانګو په پیر او پلور کې منځګړیتوب کوي او د همدې لارې هم عواید ترلاسه کوي.

بانکونه په بازار کې د منابعو مدیریت په برخه کې تخصص لري. کله چې د بازار و ضعیت ښه وي، بانکونه ډېر ژر سهمونه پیري او کله چې د بازار و ضعیت خراب وي، بانکونه سهمونه پلوري (www.tazehayeeghtesad.com).

البته بانکونه کولای شي چې د پانګه اچونې په صندوقونو کې د مرکزي بانک د طرزالعمل سره سم په ټاکل شویو حدودو کې د سهمي واحدونو پیر او پلور وکړي.

**څلورم: د سهمونو رول د بانکونو په مدني مشارکت کې**

مدني مشارکت په سوداګریزو، تولیدي، او خدماتي فعالیتونو کې د اسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه یو ډول آغېزمن تړون دی او په مدني مشارکت کې بانک او مشتري دواړه په یوه اقتصادي پروژه کې پانګونه کوي.

مدني مشـارکت دا ډول تعریفوو: مدني مشـارکت د ګټې اخېسـتنې په موخه په مشـاع ډول په څو حقیقي او حکمي اشـخاصـو پوري اړوند د نقدي او غیر نقدي مشـترک سـهم یو ځای کولو ته وایي. د تړون سره سـم متقا ضیان کولای شي چې د دې تړون په چوکاټ کې د بانکي اسانتیاوو څخه ګټه واخلي.

د مدني مشـارکت تړون له انعقاد څخه وړاندې یو شـمېر کسـانو ته دنده سـپارل کېږي، چې د مشـارکتي مو ضوع اجراآت وڅېړي او ډاډ ترلاسه کړي، چې اصلي مشترک مال او د هغې څخه رامنځته شوې ګټه د قرارداد په موده کې د بیا ترلاسه کولو وړ ده او کنه؟(http://www.bank.ir_sina ).

امکان لري بانکونه دا ډول پاڼې د مؤقتي سـهمونو د پاڼو په توګه د یو ډول رسـمي اسـمي ارزښـت او ټاکلي وخت( د بېلګې په توګه د طرحې د وخت پای ته رسېدو یا یو کلن یا دوه کلن او داسې نور) لپاره طرحه او سرمایه اچونې بازار ته وړاندې کړي(http://www.yic.ir_n).

**پنځم: د سهمونو رول د د مشترکې سرمایه ګذاریو صندوقونو څخه ګټه اخېسته کې**

په اسلامي بانکدارۍ کې، بانکونه کولای شي د مدني مشارکت له لارې په یوه پروژه کې پانګونه وکړي، یعنې بانک او مشـــتري دواړه د پروژې په شـــتمنۍ کې شریک وي. د دې شراکت په چوکاټ کې بانک د ســـهم په بڼه سرمایه وړاندې کوي

په دې مشـارکت کې، بانک او مشـتري د ګټه اخېستونکي په توګه په توافق شـوي تناسـب شریک وي او تاوان هم د دوی د ونډې پربنسټ ویشل کېږي(Islamic-banking.com ).

د مشـترکې پانګې اچونې صـندوقونه، د پانګونې له مالي نهادونو څخه ګڼل کېږي، چې په وروسـتیو کلونو کې یې په یاد بازار کې ځانګړې ارزښت رترلاسه کړی دی.

په مشـترکو صـندوقونو کې زیاتره پانګه د سـهمونو په پیرلو مصرفېږي، چې د سـهم د شرکت د ملکیت برخه ده، د وخت په تېرېدو سره د ارزښت د لوړېدو امکان لري او د ګټې ترلاسه کېدو یوه منبع ده( راعی، ۱۳۹۸ل، ص:۲۴۵).

هغه مستقیم او غیر مستقیم روشونه چې بانکونه کولای شي د مشترکې پانګه اچونې له صندوقونو څخه په ګټه اخېستنې، د سرمایې بازار ته دخیل شي، په لاندې ډول دي:

- په مستقیم ډول له صندوقونو څخه د سهمونو او د نوم لرونکو قیمتي پاڼو پیرل.
- په مستقیم ډول له صندوقونو څخه د سهمونو او د اسمي قیمت لرونکو پاڼو پلورل
- صندوقونو او کارکوونکو ته په مستقیم ډول د اعتباري سهمونو او پاڼو د پیرلو لپاره د اسانتیاوو برابرول
- د بانکونو له خوا د پانګې اچونې د مشترکو صندوقونو تأسیس او رامنځته کول

د پانګه اچونې بازار د مالي خدماتو پنجره او کنټرولول ( بهمن پور، مشیری، ۱۳۹۰، ص: ۳۴۶).

دا ډول صندقونه د مسلکي مدیرانو له خوا اداره کېږي. دا مدیران د سهمونو د انتخاب، مدیریت، پیر او پلور په برخو کې تخصص لري؛ نو پانګوال پرته له دې چې سودا وکړي، د سهمونو د ګټې څخه برخمن کېږي(راعی، ۱۳۹۸ل، ص: ۳۰۵).

**پایله**

سهمونه د معاصرو اقتصادي مسایلو یو له مهمو مباحثو څخه ګڼل کېږي، چې د نورو اقتصادي مسایلو سربیره په بانکدارۍ کې هم رغنده رول لري. د سهم له څېړلو او مطالعې څخه معلومېږي، چې سهم یوازې د ملکیت د شریکولو وسیله نه ده، بلکې د شتمنۍ د تنظیم او د اقتصادي فعالیتونو او د پیاوړتیا یوه آغیزمنه وسیله ده. د سهم لغوي او اصطلاحي تعریفونو پربنسټ سهم هغه برخه ده، چې په سهامي شرکت کې د برخې د څښتن د ګډون، تعهداتو او د منافعو اندازه ټاکي.

داسلامي فقهاوو له نظره د سهم پیرل او پلور هغه مهال جواز لري، چې شرکت فعالیت حلال وي، د سهمونو پیر او پلور به په اسمي یا دفتري قیمت سره وي، د شتمنۍ شتون حقیقي وي او معاملې اصول له سود، قمار، غرر او نورو ناروا چارو څخه پاک وي

سهمونه د بېلا بېلو اړخونو له پلوه په مختلفو ډولونو ویشل شوې دي، لکه د نوم له پلوه په نوم لرونکي او نوم نه لرونکو سهمونو، د طبیعي والي له پلوه په نقدي او عیني سهمونو او د تأسیس له پلوه په تأسیسي او انتفاعي سهمونو ویشل شوي دي.

د سـهمونو پیرل او پلورل دوه اساسي موخې لري، چې عبارت دی له په سهامي شرکت کې سهیم والی او د ځینو کسانو هدف د ګټې لاسته راوړل، څو خپلې سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي او تمه لري چې په لوړ قیمت يې وپلوري، يعنې سهم يوازې د ګټې اخیستنې وسیله نه ده، بلکې د پس انداز راجلبولو، د پانګونې فرصتونو پراختیا او د سالم مالي جريان د رامنځته کولو لپاره يو آغیزمن سیستم دی.

سـهمونه د بانکدارۍ په بېلا بېلو برخو، لکه: د بانکونو په مالي او د پانګونو په تأمين، د پانګونې وړتیا په لوړولو، د پولي سیاست په ټاکلو، د بانکونو په سوداګرۍ او د عوايدو په زياتوالي، د بانکونو په مدني مشارکت او د هغوی په اقتصادي طرحو او د مشترکې پانګونې صندوقونو او داسې نورو برخو کې مهم رول لوبوي.

په ټولیز ډول، څېړنه د دې ښودنه کوي، چې سهمونه د نورو اقتصادي فعالیتونو سربېره د بانکدارۍ لپاره ډېر ارزښت لري، د بانکدارۍ په پرمختګ او د مالي ثبات په ټینګښت کې مؤثر رول لوبوي.

**وړانديزونه**

په بانکدارۍ کې د سهمونو رول تر عنوان لاندې څېړنيزې مقالې د ليکلو پرمهال هغه څه چې ما يې اړتیا احساس کړه، غواړم د وړانديزونو په ډول يې وړاندې کړم:

۱- که څه هم سهمونه او په بانکدارۍ کې د هغې ځخه ګټه اخیستنه اوږد تاريخ لري، مګر په پښتو ژبه د اقتصاد او بانکدارۍ پوري اړوند کتابونو کې ورته لازمه پاملرنه نه ده شوي. د علم او پوهې خاوندانو ته مې وړانديز دا دی، چې د يادې موضوع په اړه هر اړخيزې ليکنې او څېړنې وکړي.

۲- دا چې په افغانستان کې د سهمونو او نورو قیمت لرونکو پاڼو بازار کمزورۍ او ډېرۍ افغانان ورسره نابلد دي؛ نو دولت، بانکونو او سهامي شرکتونو ته مې وړانديز دا دی چې د اسلامي شريعت او د هېواد نافذه قوانينو په چوکاټ کې د سهمونو او نورو قیمت لرونکو پاڼو د پیر او پلور لپاره مناسب بازار رامنځته کړي.

۳- علماءی کرامو او اقتصاد پوهانو ته وړانديز کوم چې د سهمونو د شرعي حيثيت د څېړلو، د سهمونو د ګټو او اهميت په اړه علمي کنفرانسونه او سيمينارونه داير کړي.

# The role of shares in banking

Teaching Assistant: Rabani Wahdat, Sheik Zayed University, Law and political science Faculty, Department of Political Science and international relation.
**Email:** wahdat.r@gmail.com

## Abstract

Banking is one of the fundamental elements of the economic system of any country, and shares play a basic role in the financial stability, management, supervision, attraction of financial resources, increase in income, and risk distribution of this system. The importance of studying this topic is that the provisions of Islamic Sharia regarding the purchase and sale of shares have been clarified and their practical importance in banking has been scientifically studied. The main objective is to clarify the nature, types, characteristics of shares, the rights and obligations of shareholders, the conditions for the purchase and sale of shares from the perspective of Islamic Sharia, and their role in banking. In this study, the main question, what role do shares play in banking? has been answered. The analytical method was used in the study and the method of collecting information and data was library. I concluded that shares play a role in the financial security and investments of banks, in determining the banks' monetary policies, in increasing banking business and income, in the banks' civic participation and their economic plans, and in benefiting from mutual funds.

**Key words**: banking, monetary policies, role, share, legitimacy

## مأخذونه

القرآن الکریم
بهمن پور، حمید، مشیری، سعد.(۱۳۹۰ل). اقتصاد پول و بانکداری، تهران: انتشارات نشرنی.
پاول، ستیپن.( ۱۳۹۰). د شرکتونو د تمویل او پانګه اچونې اساسات، ترجمه: رحمن الله رسا، جلال آباد: ګودر خپرندویه ټولنه.
راعي، پویان فر، عسګر.( ۱۳۹۸ل). مدیریت سرمایه ګذاری، تهران: انتشارات ګنج دانش.
ستانکزی، نصرالله، ناصح، ولي محمد.( ۱۳۹۶ل)، حقوق تجارت، کابل: انتشارات سعید.
ضریری، عبدالمعبود.(۱۳۹۱ل).معاملات ربوی و راه های بدیل از نظر اسلام( در بانک ها، شرکت ها، بیمه ها و تبادله اسعار)، کابل: انتشارات رسالت.
طاهري، محمد علی. انصاري، مسعود.( ۱۳۸۴ل). دانشنامه حقوق خصوصی، تهران: انتشارات سحراب فکر.
عبادي، محمد علی.( ۱۳۸۲ل). حقوق تجارت، تهران: کتابخانه ګنج دانش.
عثماني، علامه محمد تقي.( ۱۳۸۸هـ ش، اقتصاد اسلامي، ترجمه: رعایت الله روابند، تهران، انتشارات صدیقی.
عرفانی، محمود.( ۱۳۸۱ل)، حقوق تجارت، تهران: انتشارات میزان.
عمید، حسن.( ۱۳۸۱ل). فرهنګ عمید، تهران: انتشارات امیر کبیر.
محدي، خادمي.( ۱۳۸۹ل). همه چیر درباره سهام، ایران: انتشارات مکز اطلاع رسانی بورس.
نیازی، محمد مصطفی.( ۱۳۹۶ل).تجارت حقوق، جلال آباد: حکمت خپروندویه ټولنه.
نیازی، محمد مصطفی.( ۱۳۹۶ل).د بانکداری مقایسوي حقوق، جلال آباد: یار خپروندویه ټولنه
نیازی،محمد داؤد( ۱۳۹۱ل). بانکوالي، جلال آباد: ګودر خپرندویه ټولنه..
انټرنیټي ویبپاڼې
https:/basabt.ir
www.tazehayeeghtesad.com
www.banker.ir
g www.Ipo intial public offerin
www.irbourse.com
https://www.yjc.ir_news
https://bannk.Ir_sina

# د سازماني تعارض په مدیریت کې د مذاکرې رول

پوهنیار نذیرجان نوري، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.

**بریښنالیک :** nazirnoori.a@gmail.com

**لنډیز**

په اداره او سازمان کې تعارض یو طبیعي او نه جلا کېدونکی بهیر دی چې د انساني اړیکو، افکارو، باورونو، د ګټو توپیرونو، اهدافو او سازماني جوړښتونو د پیچلتیاوو له امله رامنځته کېږي. د سازماني اهدافو د تحقق لپاره لازمه ده چې د سازماني تعارض په مدیریت کولو باندې اقدام وشي. د سازمان تعارض د حل لارو څخه یوه بنسټیزه او مهمه حل لاره د مذاکرې پروسه چې د متعارضو خواوو ترمنځ د تفاهم، باور جوړونې او ګډو ګټو پر اساس د حل لارې رامنځته کوي. که د سازماني تعارض د مدیریت کولو لپاره د مذاکرې اساسات او د اغېزمنې مذاکرې معیارونه او رولونه په سم ډول د مذاکرې په پروسه کې د مذاکرې سطحو او اړخونو ته په پام سره په نظر کې ونیول شي مذاکره تر بیا رسیږي او برعکس یې ممکن ملموسه پایله ونه لري. دا مقاله کې د سازماني تعارض د مدیریت کولو لپاره د مذاکرې رول او ارزښت باندې په علمي ډول رڼا اچول کیږي او هم ټول هغه ټکي روښانه کوي کیږي چې مذاکره کوونکي یې باید د مذاکرې پر مهال په نظر کې ونیسي . پایلې ښيي چې مؤثره مذاکره نه یوازې د شخړې د شدت مخه نیسي، بلکې د اړیکو د ښه کېدو، د کارکوونکو د رضایت لوړولو، او د سازماني ثبات د پیاوړتیا لامل ګرځي. مقاله د څیړنې د توصیفي - تحلیلي روش پر بنسټ لیکل شوي ده، معلومات د مختلفو منابعو څخه راټول شوي او بیا تحلیل شوي دي.

**کلیدي کلمې**: اداره، اغېزمنه مذاکره، سازماني تعارض، د مذاکرې پروسه، مذاکره.

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین!**

تعارض د سازماني ژوند يو نه جلا کېدونکی واقعيت دی چې د انساني تعاملاتو، ادارې د جوړښتي ځانګړتياوو، د دندو او مسؤليتونو، ارزښتونو، کلتوري تنوع، د منابعو محدوديت او د قدرت د وېش له توپيرونو سره تړاو لري. ادارې او سازمانونه د ګڼو متقابلو اړيکو لرونکو واحدونو څخه جوړ شوي دي چې د بېلابېلو نظرونو، اړتياوو، ګټو او چلندونو له امله د تعارض د رامنځته کېدو لپاره زمينه برابروي. په همدې دليل تعارض د مديريت او سازماني علومو په ادبياتو کې نه يوازې يوه ستونزه نه ګڼل کېږي، بلکې د سالم مديريت له نظره د بدلون، پرمختګ او سازماني زده کړې يوه ممکنه سرچينه هم بلل کېږي. د تعارض ماهيت او اغېز د هغه د مديريت په کيفيت پورې تړلی وي؛ يعنې تعارض په خپله مثبت او منفي نه دی، بلکې دا د مديرانو او کارکوونکو د چلند، تصميمنيونې، اړيکو او د ادارې په کلتور پورې اړه لري چې تعارض کوم لوري ته رهبري کېږي.

د تعارض د مديريت کولو ميکانېزمونه د لرغوني بشري تاريخ يوه مهمه برخه جوړوي، خو د سازماني مديريت په معاصر ادبياتو کې د مذاکرې رول ځانګړې اهميت لري. مذاکره داسې پروسه ده چې په هغې کې متعارض لوري د خپلو دريځونو، اندېښنو، ګټو او اړتياوو د څرګندولو له لارې د متقابل تفاهم او ګډې حل لارې په لټه کې کېږي. په دې بهير کې لوري هڅه کوي چې د مقابل لوري نظرونه واوري، خپل حقايق، شواهد او اړتياوې څرګندې کړي، د ګډو موخو ساحه مشخصه کړي او هغه حل لارې ومومي چې نه يوازې د تعارض د شدت د کمېدو لامل شي، بلکې د دوامدارې همکارۍ او باور په رامنځته کولو کې مرسته وکړي.

په معاصرو څېړنو کې د مذاکرې اهميت د څو بنسټيزو عناصرو په رڼا کې روښانه شوی دی. لومړی، مذاکره د دريځ پر بنسټ چلند بدلوي او د ګټو پر بنسټ تحليل ته لار هواروي. کله چې لوري يوازې پر خپلو دريځونو ټينګار کوي، د حل لپاره محدودې لارې پاتې کېږي؛ خو د ګټو پر بنسټ چلند د دواړو لورو د واقعي اړتياوو د تشخيص امکان برابروي. دويم، مذاکره د فعالې اړيکې او اورېدنې له لارې د متقابل باور د جوړېدو زمينه جوړوي، چې دا خپله په سازمان کې د همکارۍ، مثبت کلتور او رواني امنيت په رامنځته کولو کې اساسي رول لري. درېيم، مذاکره د شفافيت، ګډ تصميمنيونې او د مسؤليت د شريکولو فرهنګ پياوړی کوي چې دا ټول د سازمان د مديريت د معاصرو اصولو له مهمو برخو څخه دي.

په سازمانونو کې د تعارض د مديرت کولو د تګلارو تطبيقي اغېزمنتيا د هغو مديرانو پر مهارتونو او چلند ولاړه ده چې له مذاکرې څخه د يوې ستراتيژيکې وسيلې په توګه کار اخلي. په هغو ادارو کې چې د مذاکرې مهارتونه

معیاري بڼه ولري، تعارضونه ژر تشخیصیږي، د شخړې شدت د پیښېدو مخه نیول کیږي، د کارکوونکو رضایت لوړیږي، د ګډ کار چاپېریال مثبت پاتې کیږي او عمومي سازماني ثبات ښه کیږي.

## د موضوع اهمیت

د سازماني تعارض په مدیریت کې د مذاکرې موضوع ځکه خورا مهمه ده چې معاصر سازمانونه او ادارې د انساني متقابل عمل، دندو د وېش، کلتوري تنوع، منابعو د کمښت او یوې پیچلې ادارې د جوړښت لرونکي چاپېریال کې فعالیت کوي او په دې ډول شرایطو کې د تعارض رامنځته کېدل یو حتمي واقعیت ګڼل کیږي. همدا تعارض که په ناسمه لاره اداره شي، د ادارې د فعالیت، اړیکو، ګډ کار او موثریت لپاره جدي ګواښ ګرځي؛ خو که په سمه او منطقي لاره حل شي، د بدلون، زده کړې، نوښت او پرمختګ لپاره په یوه فرصت بدلیږي. له همدې امله، د مذاکرې د رول ژور او مسلکي درک، د معاصر سازماني مدیریت یوه حیاتي اړتیا ده.

## د موضوع موخې

### د موضوع اساسي موخه

د مقالې اصلي او اساسي موخه دا ده چې لوستونکو ته په سازماني مدیریت کې د مذاکرې د مفهوم، اصولو، مرحلو او د هغې د نظري چوکاټ په هکله هر اړخیزه معلومات او پوهه ورکړي.

### د موضوع فرعي موخې

۱. د تعارض د حواري په پروسه کې د مذاکرې د اغېزمنتیا ارزونه، او دا څرګندول چې مذاکره څنګه د تعارض د شدت په کمېدو او د حل په پایښت کې مرسته کوي.

۲. د دریځ‌محور چلند په پرتله د ګټو پر بنسټ د مذاکرې د عملي او ستراتیژیک ارزښت تحلیلي پرتله او مقایسه روښانه کول.

۳. د سازماني ثبات، مثبت کاري فضا، ټیمي کار او ګډو موخو د تحقق په برخه کې د مذاکرې د تګلارې اغېزمن رول روښانه کول.

۴. د مدیرانو او کارکوونکو لپاره د مذاکرې د مهارتونو د پراختیا، ظرفیت لوړونې او مسلکي روزنې اهمیت څرګندول، ترڅو د تعارض د حواري په برخه کې د اغېزمنو کړنو توان زیات شي

**د څېړنې کړنلاره او د کار توکي**

د دې مقالې په ليکلو کې معلومات د مختلفو ليکلي منابعو څخه راټول شوي، تجزيه او تحليل شوي دي نو په دې اساس دا مقاله د کتابتوني تحقيق په نتيجه کې ليکل شوي چې د توصيفي تحليلي روش څخه د موادو په کارونه کې استفاده شوي ده .

**د تعارض پېژندنه**

اکثره خلک د تعارض او اختلاف کلمه د وهلو، ټکولو او جنګ په معنا پېژني خو داسې نه ده تعارض وهل او جنګ نه دی هغه يوازې د تعارض پرمختللی او خطرناک حالت دی، تعارض په اصل کې د ژوند يوه طبيعي او عادي برخه ده او هېڅوک ورڅخه انکار نشي کولی. خو بد بختانه چې د سم مديريت د نشتوالي له امله ډېری تعارضونه په دښمنۍ بدلېږي او تعارض ته د يوې منفي پديدې په توګه کتل کېږي.

**د تعارض لغوي تعريف**

تعارض په لغت کې تضاد، ټکر، عدم توافق، مخالفت، کشمکش او مزاحمت ته وايي. ( ,1991, Kabanoffp.115).

د لغاتو په فارسی فرهنګ کې تعارض د دوو يا څو نفرو او ډلو ترمنځ د توافق د نشتون په معنا راغلی دی (عميد، ۱۳۸۳، ص ٦٦٠)

**د تعارض اصطلاحي تعريف**

تعارض په اصطلاح کې د دوو يا څو افرادو، ډلو او سازمانونو ترمنځ مخالفت او تضاد ته وايي. ( ,1991 , Kabanoffp.115).

يا په بل عبارت تعارض د هغه ټولنيز وضعيت څخه عبارت دی چې په هغه کې دوه يا څو نفره په سازمان پورې د اړوندو اساسي موضوعاتو په باره کې د يو بل سره عدم توافق يا هم د يو بل سره يوه اندازه احساسي خصومت ولري

(Schermerhorn and others, 1994, p.592).

يا هم تعارض د هغه وضعيت څخه عبارت دی چې په هغه کې (الف) شخص کوښښ کوي چې د (ب) شخص هغه هڅې خنثی کړي چې (ب) شخص يې د خپلو ګټو لپاره کوي (Robbins, 1993, p.368).

**د تعارض مدیریت**

د تعارض مدیریت عبارت له هغه مدیریت څخه دی چې مدیر وکولای شي د تعارض د شرایطو په شتون کې سازمان په ښه ډول باندې اداره کړي، د سازمان او افرادو ترمنځ تعادل رامنځته کړي. مدیر باید په دې عقیده ولري چې تعارض د انساني انرژیو د بهبود لپاره ارزښت لري او کولی شي له هغې څخه د افرادو او سازمان په رشد او اصلاح کې استفاده وکړي(درگاهی ۱۳۸۷هـ.ش ،ص ، ۱۵).

**د مذاکرې پیژندنه**

مذاکره په لغت کې خبرو اترو، دیالوگ او مباحثې ته وایي اوپه اصطلاح کې یې مفهوم نسبت منازعاتو او د منازعاتو سطحو ته په کتو سره په مختلفو تعبیرونو سره تعبیر کیږي چې دلته یې د ځینو تعریفاتو یادونه کوم

مذاکره یوه پروسه ده چې په دې پروسه کې د غوښتنو په تشخیص، د غوښتونو اولویت بندی، په غوښتنو بحث او په هغې باندې توافق تر سره کیږي (سعید ۱۳۸۹ه ش، ص ۳۰). مذاکره د متقابلو خلکو په منځ کې د مختلفو غوره توبونو ترمنځ یوه موافقه شوې پریکړه ده. ( Neale and Others, 1994, p.42). یا داسې هم ویل کېدای شي چې مذاکره یوه پروسه ده چې دوه یا ډیر خلک او ډلې سره مشترک او مخالف اهداف ولري دوی، خپلې حل لارې سره وړاندې کوي او تر بحث لاندې یې نیسي تر څو یوې موافقې ته سره ورسیږي. and (Hellriegel others1998,p.646). یا دا چې مذاکره د غوښتنو د پیژندلو، د هغوی د اولویت بندی، پر هغوی د بحث کولو او د هغې پر سر د توافق کولو له پروسې څخه عبارت ده .

هره مذاکره نشي کولای چې تعارض مدیریت کړي. کله کله داسې هم کیږي چې افراد مذاکرې ته د تعارض د مدیریت کولو لپاره داخلیږي، خو د دې پر ځای چې دوی شته تعارض له منځه یوسي، تعارض ته لا شدت ورکوي.

نو څکه خو په اداره او سازمان کې د تعارض او مشکلاتو د مدیریت لپاره اغیزمنې مذاکرې ته اړتیا ده اوس نو پوښتنه دا ده چې اغېزمنه مذاکره څه ته وایي؟

**اغېزمنه مذاکره**

اغېزمنه مذاکره اړخونه توافق ته په داسې شکل رسوي چې د ټولو اړخونو گټې پکې تأمین شي. نو مونږ ویلای شو چې اغیزمنه مذاکره هغه ده چې اړخونه په داسې شکل سره توافق ته ورسیږي چې د مذاکرې د ټولو اړخونو گټې پکې تأمین شي. په اغیزمنه مذاکره کې هیڅ لوری د بایلونکي احساس نه کوي څکه چې د اغیزمنې مذاکرې

په مرسته د هغوی ټولو ګټې پوره کیږي او کله چې د ټولو اړخونو ګټې پوره شي، نو دلته هیڅ بایلونکی نشته. اوس ددې لپاره چې اغیزمنه مذاکره په سمه توګه وپیژنو او د هغو په رامنځته کولو برلاسي شو،نو اړینه ده چې د اغیزمنې مذاکرې ګامونه وپیژنو چې ددغو ګامونو په پایله کې مونږ یوه اغیزمنه مذاکره کولای شو. د اغیزمنې مذاکرې لپاره څلور ګامونه باید په نظر کې ونیول شي: ۱) چمتو والی ۲) د ګزینو یا انتخابونو ارزونه. ۳) د اړخونو د ګټو پیژندل. ۴) د ګډو ګټو ایجاد او رامنځته کول.

**لومړی ګام: چمتو الی**

چمتو ووالی باید ډیر ژر د مذاکرې څخه مخکې ونیول شي. هر لوری باید د مذاکرې د تاریخچې، چلند، تعاملونو او د مخکینیو موافقو، د مقابل اړخ انتظاراتو او ترجیحاتو په اړه اطلاعات ولري تر څو، د خپلې ډلې د ګټو د تعقیب لپاره کمي او کیفي توافق باندې پوه شي. لوري باید اطلاعات د خپل رقیب څخه تر لاسه کړي تر څو، د رښتینو انتظاراتو په تعیین کې ورسره مرسته وکړي. همدارنګه باید په دغه مرحله کې د تعارض ماهیت وپیژني او هغه عوامل پیدا کړي چې د تعارض لامل شوي دي. په دې مرحله کې باید د ځان لپاره د مذاکرې اهداف معلوم کړي. که چیرته اړخونه تیاری ونلري او مذاکرې ته داخل شي نو دا به د دوی لپاره ډیره ګرانه تمامه شي ځکه دلته بیا دوی نشي کولای چې د هغو وړاندیزونو په ارزښت پوه شي چې د مقابل اړخ له لوري وړاندې کیږي.

له ویلو دې پاتې نه وي چې په مذاکره کې خاص مسایل وجود لري چې له مدیرانو سره ځانګړې اړیکه لري. له هغې جملې څخه یو هم د تلفیقي موافقو لپاره د یو لړ بنیادونو رعایت کول دي. چې په لاندې توګه یې تر بحث او مطالعې لاندې نیسو:

د تلفیقي موافقو لپاره د بنیادونو د رعایتولو مفهوم دادی چې اصولي مذاکره باید په یوه پایه ولاړه وي. د موافقو لپاره د بنیادونو رعایتول دریو اصلي زمینو ته پوښښ ورکوي.۱) کتل. ۲) اطلاعات. ۳) چلندونه.

- ✓ د کتلو په برخه کې دری بنیادونه د تلفیقي موافقو لپاره وجود لري.
- ✓ هر لوری باید له مقابل لوري سره مذاکرې ته په اعتماد سره وګوري.
- ✓ هر لوری باید له یو بل سره د اطلاعاتو تبادله کولو ته لیواله وي.
- ✓ هر لوری باید د مقابل طرف پوښتنو ته د ځواب ورکولو لپاره لیواله وي (Jones 2005,p.445, R. E. and B. H. Melcher).

**دویم ګام: د ګزینو یا انتخابونو ارزونه**

د انتخابونو ارزونه په داسې ډول کارول کیږي چې د توافق شوي موافقتنامې د معلوماتو اساس مهم وي؛ د شوي ترون په پرتله د غوره انتخاب پر مفهوم د پوهیدو په شمول، مذاکره کونکي باید خپل غوره انتخاب وپیژني که چیرې موافقې ته ونه رسیږي. په کار دا ده چې اړخونه په دې حالت کې خپلې ګټې وپېژني او په دې پوه شي، چې په دې حالت کې د دوی لپاره څه مهم دي، هر اړخ باید د بل اړخ د ګټو په نسبي اهمیت هم ځان پوه کړي. که څه هم دا ستونزمنه ده چې پوه شي چې بل اړخ ته څه ارزښت لري، دا اړینه ده چې د موافقې د حاصل لپاره غوره بدیل وټاکل شي.

**دریم ګام: د اړخونو د ګټو پیژندل**

هر یو مذاکره کوونکی هڅه کوي چې خپلو ګټو ته ورسیږي چې کېدای شي دغه ګټې ماهوي، رابطه ییزې، شخصي یا سازماني وي. د بیلګې په توګه د مدیریت ګټې کېدای شي د هغه شهرت، په خبرو اترو کې د نورو اړخونو سره د هغه اړیکې، سازماني اهداف یا د کارمندانو ګټې وي. د کارمندانو په ګټو کې د ژوند د معیار ښه کول، د مدیریت سره مثبت او ښه کاري اړیکه یا د نورو کارمندانو په پرتله د ښه اعتبار درلودل دې سازمان ته.

د مذاکرې هر اړخ د خپلو ګټو په تاکېد سره اکثریت د بل اړخ ګټې له پامه غورځوي یا د هغه ګټې کموي. په ځانګړې توګه هغه وخت چې راتلونکې ناځرګنده پیښې د دوی په ګټو کې رول لوبوي. شخص یا ډله باید په مذاکره کې د بل اړخ ګټې وارزوي او پریکړه وکړي چې څنګه په خپلو وړاندیزونو کې د دوی ګټو ته ځواب ووایي (Gordan 2003, p. 661).

**څلورم ګام: د ګډو ګټو ایجاد او رامنځته کول**

مذاکره کوونکي د (راکړه او واخله) په کارولو سره خپلې او د نورو ګټو پوره کوي. د کارګرانو په مذاکره کې د کارګرانو استازي کولای شي د معاشونو د زیاتولو پر ځای د کارګرانو د کار د خوندیتوب تضمین ترلاسه کړي یا برعکس کار وکړي. دا هر یو لکه معاشونه یا د دندې امنیت د کارګرانو لپاره د ژوند یو ټاکلی معیار ساتي.

خلک د (راکړه او واخله) په ارزولو سره کولای شي لومړی غوره او بدې پایلې وپیژني بیا د هر (راکړه او واخله) اغیزه په پایلو باندې وټاکي. په پای کې وګوري چې د پایلو په بدلولو سره دوه اړخیزې ګټې څنګه پوره کېدای شي. (Neale, M. A. and M. H. Bazerman 1992,p.318).

**د مذاکرې شرطونه**

دلته مونږ د مذاکرې لپاره هغه شرایط ذکر کوو چې پوهانو په خپلو څېړنو کې څېړلي دي:

**۱ـ د مذاکرې د اړخونو شتون**: له دې شرط څخه مطلب دادی چې مذاکره هغه وخت شونې ده چې دواړه اړخونه شتون ولري او که چیرې اړخونه شتون ونلري نو مذاکره نه کیږي.

**۲ـ د اړخونو ترمنځ د تعارض شتون**: له دې شرط څخه مطلب دادی چې مذاکره هغه وخت شونې ده چې د اړخونو ترمنځ تعارض شتون ولري او که چیرې د اړخونو ترمنځ تعارض نه وي نو مذاکره نه کیږي.

**۳ـ د اړخونو له لوري د مذاکرې مشروعیت**: له دې شرط څخه مطلب دادی چې د تعارض او مذاکرې د اړخونو مذاکره باید مشروعیت ولري.

**۴ـ د مذاکرې اړخونه یو او بل پر رسمیت پیژندل**: له دې شرط څخه مطلب دادی چې اړخونو باید یو او بل سره پیژندلي وي او دواړه یو او بل د مذاکرې د اړخونو په توګه وګڼي.

**۵ـ د تعارض حل او د خپلو ګټو ترلاسه کولو لپاره په مذاکره باور درلودل**: له دې شرط څخه مطلب دادی چې د مذاکرې اړخونه باید باور ولري چې د مذاکرې له لارې د دوی ترمنځ تعارض حل کیږي او د دوی ګټې لاسته راځي.

**٦ـ د مذاکرې لپاره د اړخونو واک**: له دې شرط څخه مطلب دادی چې اړخونه باید د مذاکرې لپاره واک ولري.

**۷ـ د اړخونو لپاره د مذاکرې د موضوع او هدف مشخصول**: له دې شرط څخه مطلب دادی چې د مذاکرې د اړخونو لپاره باید د مذاکرې موضوع او هدف مشخص وي.

**۸ـ په مرحله واره توکه مذاکره**: له دې شرط څخه مطلب دادی چې مذاکره باید په مرحله ییز شکل مخته یوړل شي.

**۹ـ د مذاکرې عملي کول**: له دې شرط څخه مطلب دادی چې د مذاکرې اړخونه باید مذاکره عملي کړي. (میر کمالی ۱۳۸۱، ص. ۳۱۸)

**هغه سازماني چاپیریال چې مذاکرې ته اړتیا لري**

د مدیرانو له لسو رولونو څخه یو د مذاکره کوونکي رول ګڼل کیږي. په هره اداره کې دا مهمه ده چې د مدیرانو د مذاکرې مختلف حالتونه وپیژندل شي. په مذاکره کې د ګډون لپاره مدیران باید لږ تر لږه د لاندې څلورو مهمو حالتونو لپاره اړین چمتووالی ولري: (۱) دوه نفره مذاکره (۲) ډله ایزه مذاکره (۳) د ډلو ترمنځ مذاکره (۴) د استازو ترمنځ مذاکره.(Mintzberg, Henry 1995,p.617)

**د مذاکرې دلایل**

مونږ چې کله د مذاکرې نوم واورو نو په ذهن کې مو پوښتنه پیداکیږي چې ولې مذاکره؟ یا د مذاکرې دلایل څه دي؟ نو په ځواب کې مونږ ورته لاندې دلایل وړاندې کوو:

- ❖ په اړوندو منابعو کې د خپل سهم د توافق لپاره مذاکرې ته اړتیا ده.
- ❖ د داسې څه ایجاد کول چې اړخونه په یوازې توګه ورباندې قادر نه وي.
- ❖ د یو مشکل، نزاع او د نظر د اختلاف د رفع کولو لپاره .(Peterson, M. F. and Associates **1995,p.412)**

**د مذاکرې د رامنځته کېدو وخت**

مذاکره هغه وخت رامنځته کیږي کله چې لاندې موارد موجود وي:

هره مذاکره باید حد اقل دوه اړخونه ښکیل لري.

په هره مذاکره کې د اړخونو د غوښتنو او تمایلاتو ترمنځ ټکر وجود لري.

اړخونو مذاکره د یوې حل لارې په توګه انتخاب کړې ده.

په مذاکره کې هر شی د ملموسو غوښتنو په تبادلې سره پای ته نه رسیږي (غفوریان ۲۰۰۷ م، ص. ۲۱۸)

**د مذاکرې موخې او پایلې**

په مذاکره کې دوه ډوله اهداف تعقیب کیږي چې عبارت دي له (۱) بنسټیز اهداف (۲) اړوند یا ضمني اهداف. چې مونږ اوس دغه دوه ډوله اهداف په جلا جلا توګه تر بحث او مطالعې لاندې نیسو:

**لومړی: بنسټیز اهداف**: دا ډول اهداف د بحث لاندې مسایلو په محتویاتو پورې اړوندو پایلو ته اشاره کوي.

**دویم: اړوند یا ضمني اهداف**: اړوند اهداف د خبرو اترو له پای ته رسیدو وروسته د یو بل سره په خبرو اترو کې د ښکیلو افرادو ښې پایلې ته اشاره کوي. لکه د کارگرانو د اتحادیې او د مدیریت د استازو وړتیا چې د مزد په اړه د تعارض د مدیریت کولو وروسته د یو بل سره په اغیزمنه توگه کار وکړي. (ناطق ۱۳۹۴، ص.۱۱۸)

**د مذاکرې بنسټیز ډولونه**

مذاکره په دوو بنسټیزو ډولونو ویشل شوې ده: توزیعی او تلفیقي چې مونږ دغه ډولونه په لاندې توگه تر بحث او مطالعې لاندې نیسو.

**لومړی: توزیعی مذاکره**

دا ډول مذاکره معمولا د یوې قضیې په اړه ترسره کیږي، چیرته چې د یوې خوا د گټې په پایله کې د بل په تاوان پای ته رسیږي او له همدې امله دا ډول مذاکره گټونکې او بایلونکې مذاکره بلل کیږي. په لنډ توگه ویلای شو چې توزیعي مذاکره هغه ده چې یو اړخ یې گټي او بل اړخ یې بایلي. توزیعي مذاکره په هغه صورت کې کیږي چې د اړخونو مورد نظر وخت کم وي او دوی داسې فکر کوي چې بیا به هیڅکله له یو بل سره مخامخ نشي. همداشان دغه مذاکره هغه وخت صورت نیسي چې اړخونه فکر کوي چې د توزیع وړ شي کم دی او هر اړخ باید کوښښ وکړي چې خپله برخه زیاته کړي..

**د توزیعی مذاکرې ستراتیژۍ**:

کله چې افراد یا ډلې د اختلافاتو د حل لپاره مذاکرې ته داخل کیږي نو، دوی ځانگړې روش یا ستراتیژي انتخابوي. چې دغه روشونه یا ستراتیژۍ په دوه ډوله دي یا په رقابت ولاړه وي یا به هم په همکارۍ ولاړه وي. هغه ستراتیژي چې په رقابت ولاړه وي نو مذاکرې ته یې توزیعي مذاکره او هغه ستراتیژي چې په همکارۍ ولاړه وي نو مذاکرې ته یې تلفیقي مذاکره وایي. چې په توزیعي مذاکره کې به اړخونه د (گټل ـ بایلل) حلارې تعقیبوي او په تلفیقي مذاکره به (گټل ـ گټل) حلارې. په توزیعی او یا د (بایللو ـ گټلو) په مذاکره کې عامې تگلارې عبارت دي له: ۱) د ټولو گټو غوښتل ۲) د وخت نیول ۳) ژمنه او وعده ۴) د دلیل پای ته رسیدل. چې مونږ یې دلته په جلا جلا توگه تر بحث او مطالعې لاندې نیسو:

**۱ـ د ټولو گټو غوښتل**: د مذاکرې کوونکي خورا لوی وړاندیز کوي او بیا که امتیازات وغواړي نو په زور یې ترلاسه کوي، په دې توگه د هغه بل لوري د تباه کولو هیله لري. کله چې تاسو د لاندې روشونو سره مخ شئ، نو پوه شئ چې د همداسې مذاکره کوونکو سره مخ یاست: (۱) خورا ډیر لوی وړاندیز ورکړل شي. (۲) جزوي ټکي

په زور ورکړل شي. (۳) په تاسو فشار راوړي چې ډیر امتیازات ورکړئ. (۴) د اخیستل شویو امتیازاتو د جبران څخه انکار وشي.

**۲ـ د وخت نیول**: یو ګټونکی او بایلونکی مذاکره کوونکی کولای شي وخت د یوې پیاوړې وسیلې په توګه وکاروي کله چې متقابل اړخ له لاندې روشونو څخه یو کاروي، نو د نامطلوبې اجبارې موضع د قبلولو څخه انکار کیږي.۱) وړاندیز د محدود وخت لپاره اعتبار لري.۲) بل اړخ تاسو د ټاکل شوې نیټې منلو ته اړ باسي.۳) د مذاکرې پرمختګ ورو کوي یا یې ودروي. ۴) پر تاسو فشار راوړي چې تعارض ژر تر ژره حل کړئ.

**۳ـ ژمنه او وعده**: هغه مذاکره کوونکي چې له دې ستراتیژۍ څخه کار اخلي نو دوی تاسو د ګواښونکي چلند پر ځای په مهربانۍ او خواخوږۍ سره خپل لوري ته راګرځوي. کله چې تاسو د لاندې روشونو سره مخ شئ، نو تاسو خپل دریځ مه پریږدئ. ۱) مقابل اړخ غیر معقول وي یا بد خوی. ۲) د مقابل اړخ له مذاکرې څخه وتل.۳) د غیر منطقي چلند وروسته معقول او د خواخوږۍ چلند له ځانه ښیي.

**۴ـ د دلیل پای ته** رسیدل: د دې ستراتیژۍ پایله دا ده چې هڅه کوي چې بل اړخ د دوی ارادې ته تسلیم شي. کله چې بل اړخ له لاندې روشونو څخه کوم یو کاروي نو تاسو باید محتاط اوسئ.۱) تاسو ته د منلو او ردولو وړاندیز وکړي.۲) ډیره هڅه کوي چې تاسو د خپلو غوښتنو منلو ته مجبور کړي.۳) د امتیاز ورکولو ته تمایل نلري.۴) انتظار کوي ترڅو ټول امتیازات تاسو ورکړئ.

په توزیعی یا د بایللو او ګټلو په خبرو اترو کې د خبرو اترو کوونکي محافظه کاره اړیکې، د باور څرګندول،څو ډوله ګواښونه ، بیانونه او تقاضاوې کاروي . په توزیعی مذاکره کې د تعارض د مدیریت د زور او روغې جوړې له سبکونو څخه استفاده .(Robbins, S. P 1993, p.211-212)

**دویم: تلفیقي مذاکره**

د ګډې ستونزې حل کولو لپاره یوې داسې حل لارې ته د رسیدو طریقه ده چې د مذاکرې د اړخونو په ګټه وي چې له همدې امله د (ګټلو ـ ګټلو) د مذاکرې په نوم هم یادیږي. په دغه مذاکره کې هر اړخونه کوښښ کوي چې ددواړو ګټې تامین کړي او ددغو ګټو د تامین لپاره له یو بل سره همکاري کوي. په لنډه توګه ویلای شو چې هغه مذاکره ده چې دواړوه پکې لاسته راوړنې لري او دوی دواړه ګټونکي ګڼل کیږي. په دې ډول مذاکره کې مذاکره کوونکي د اړخونو مسایل په ګوته کوي او اختیارونه یې ټاکي او ارزوي یې او د خپلو غوره توبونو په

څرګندولو سره اړخونه هغه اختیار ته رسوي چې د اړخونو له خوا منل شوی وي او غوره شوی انتخاب به په ډېر کمه اندازه د اړخونو له خوا په مساوي توګه ومنل شي.

**د اغیزمنې مذاکرې شاخصونه**

د اغیزمنې مذاکرې د پیژندلو لپاره درې شاخصونه چې عبارت دي له : کیفیت، موثریت او توازن څخه کارول کیږي

**کیفیت** : په هغه صورت کې به د مذاکرې پایلې کیفي وي چې موافقه عاقلانه وي او د مذاکرې د اړخونو لپاره رضایت بخښونکي وي

**مؤثریت**: په هغه صورت کې به مذاکره مؤثره وي چې په کم وخت کې په کم مصرف سره ترسره شي

**توازن** : په هغه صورت کې مذاکرې متوازنې دي چې ښې متقابلې اړیکې رامنځته کړي نه هغه چې د ښو متقابلو اړیکو مانع شي

که په مذاکره کې ښکیل اړخونه موافقې ته ونه رسیږي کېدای شي دوی ودرېږي مګر په مذاکره کې توافق مختلفه معنی او مفهوم لري ترون کېدای شي د اړخونو یا هم یوې خوا په ګټه یا زیان وي. اغېزمنه مذاکره د ګډو ګټو لامل کېږي او ګډې پرېکړې د ښکېلو خواوو په ګټه تمامېږي، د مذاکرې هنر په دې پورې اړه لري چې څنګه دغه پړاو ته ورسېږو. (Schermerhorn and others, 1994, p.644).

**د مذاکرې تګلارې او هنرونه**

ددې لپاره چې مذاکره په ښه توګه په مخ لاړه شي او هغه هدف چې مذاکره یې د حصول لپاره کیږي ترلاسه شي باید چې د مذاکرې تګلارې او هنرونه په پام کې ونیول شي، که چیرته دغه تګلارې او هنرونه په پام کې ونه نیول شي نو مذاکره به د ستونزو سره مخ شي او اړوند هدف به په لاس رانشي. نو مونږ یې هم دلته په جلا جلا توګه تر بحث او مطالعې لاندې ونیسو:

**د مذاکرې تګلارې**: په اغیزمنو مذاکرو کې د دې پر ځای چې مذاکره کوونکي پر بل لوري برید وکړي او دریځ غوره کړي د ستونزې پر حل تمرکز کوي او ګډ حل لټوي او د یو بل ګټې لټوي دوی ډېرې اختیارونه رامنځته کوي او که دوی یوې موافقې ته ونه رسیږي، دوی هڅه کوي خپل اختیارونه ښه کړي او غوره وړاندیزونه وړاندې کړي ( ایزدي ۱۳۸۵، ص. ۱۲۶).

**تګلارې**

په خبرو اترو کې درې ګډې تګلارې دي: (۱) سیالي (۲) د باور پر بنسټ همکاري (۳) نرمښت (انعطاف).

**۱ـ رقابتي ستراتیژي**: د دې ستراتیژۍ څخه معمولاً په توزیعي مذاکره کې کار اخیستل کیږي او د یوې خوا د اهدافو ترلاسه کول دي چې د بل اړخ خپلو اهدافو ته د رسیدو د ناکامۍ په قیمت ترلاسه کیږي. مذاکره کوونکې ډله یا فرد کېدای شي د خپلو اهدافو د پټولو او د بل لوري د اهدافو د موندلو لپاره د پټولو، ګواښونو یا مبالغه کولو څخه کار واخلي.

**۲ـ د باور پر بنسټ د همکارۍ ستراتیژي**: دا ستراتیژي معمولاً د تلفیقي مذاکرې سره تړاو لري او هر مذاکره کوونکی اړخ د ګډو اهدافو په تعقیب ټینګار کوي خپلې اړتیاوې په روښانه توګه یو بل ته بیانوي د ستونزې د حل لاره غوره کوي او د حل لاره لټوي چې دواړه یې په نښه کړي.

**۳ـ د نرمښت ستراتیژي**: په دې ستراتیژۍ کې د تعارض د مخنیوي لپاره د یوه مذاکره کوونکي لوري اهداف پر بل باندې ترجیحت پیدا کوي او یو مذاکره کوونکی اړخ د دې پر ځای چې خپلو موخو یا دواړو لوریو ته لېوالتیا ولري، د بل لوري اهدافو ته ډېراهمیت ورکوي ((Lewicki R. J. and J. A. Litterer 1985,p.177)

**د خبرو اترو هنرونه**

مذاکره کوونکي د لنډ مهاله متمرکزو تمرینونو څخه خپلو موخو ته د رسېدو لپاره استفاد کوي. دا ډول هنرونه ډېری د بل اړخ د غوښتنو کمولو لپاره ډیزاین شوي ترڅو نوموړي ته ځواب ورکړي چې خپلو اهدافو ته د رسیدو لپاره هغه وړاندیزونه چې د اړخونو لپاره په بشپړه توګه د منلو وړ ده قبول کړي اوکه داسې ونه کړي نو هدف ته د رسیدو احتمال به یې لږ وي. د مثال په توګه مذاکره کوونکی کولای شي په صبر سره بل اړخ له صحنې څخه وباسي یا په یو اړخیزه توګه اقدام وکړي او د خبرو اترو پایله د ترسره شوي عمل په توګه وګڼي؛ یا ناڅاپه خپل چلند بدل کړي او د هغه چلند څخه برعکس چلند وکړي چې له هغه څخه یې تمه کیږي په دې توګه د ترسره شوي عمل په وړاندې بل اړخ ته قرار ورکړي یا له خبرو اترو څخه ووځي یا د وخت او لګښت محدودیت پرې تحمیل کړي. په همدې ترتیب مذاکره کوونکی ممکن ادعا وکړي چې د هغه سر په سر ټکی د معمول په پرتله خورا لږ دی (Chertkoff, J. M., and S. L. Baird 1991, p.298).

**پایله**

د ادارو او سازمانونو په چاپېریال کې تعارض یو داسې بنسټيز او نه جلا کېدونکی واقعیت دی چې د انساني اړیکو، دندو د تنوع، سازماني جوړښتونو، شخصي او مسلکي ګټو او ارزښتونو د توپیر له امله رامنځته کېږي. د تعارض موجودیت په خپله یو منفي پدیده نه ده؛ بلکې دا د ودې، بدلون، نوښت او سازماني زده‌کړې لپاره فرصتونه هم رامنځته کولای شي. اصلي ستونزه هغه مهال راولاړېږي چې تعارض په سمه توګه مدیریت نه شي، پر وخت پرې غور ونه شي، د اړیکو په ضعیفېدو، د ګډو اهدافو په ګډوډېدو او د سازمان په ثبات د اخلال سبب شي. له همدې امله، د تعارض د مدیریت کولو اغېزمنې لارې ټاکل نه یوازې یوه اداري اړتیا، بلکې یوه ستراتیژیکه غوښتنه ده.

د څېړنې موندنې څرګندوي چې مذاکره د سازماني تعارض د مدیریت تر ټولو مهمه، انعطاف منونکې، کم لګښت لرونکې او د پایدارو پایلو لرونکې تګلاره ده. مذاکره د متعارضو لورو ترمنځ د ګډ فهم، باور، شفافیت او ګډو ګټو پر محور ولاړه ده او لوري له دریځ‌محور دریځ څخه د ګټو پر بنسټ تعامل ته رهبري کوي. د مذاکرې پروسه د غوښتنو د پېژندنې، د لومړیتوبونو ټاکلو، د متقابل خبرو اترو، د احساساتو د مدیریت، د حل لارو د ارزونې او د یوه ګډ او منصفانه توافق په ترلاسه کولو ولاړه ده. څېړنه دا هم څرګندوي چې هغه مهال چې د مذاکرې اصول، بنسټيز معیارونه، اخلاقي چوکاټ او د باور فضا په سمه توګه رعایت شي، نتیجه نه یوازې د شخړې حل وي، بلکې د سازماني اړیکو پیاوړتیا، د کارکوونکو رضایت، د ټیمي همکارۍ لوړتیا، او د سازمان د فعالیتونو په ثبات او پایدارتیا کې هم څرګند اغېز لري.

برعکس، هغه مذاکره چې پر احساساتو، دریځ‌محور چلند، غیر شفافیت، کمزوري اړیکې، د مقابل لوري د اړتیاوو په نه پېژندنه او یا د باور په نشتون کې رهبري کېږي، پایدارې پایلې نه شي رامنځته کولای او حتی ممکن د شخړې د لا ژورېدو او بیا راټوکېدو لامل شي. له همدې امله، څېړنه ټینګار کوي چې سازمانونه باید د مذاکرې د مهارتونو په مسلکي روزنه، د اړیکو د ښه مدیریت، د فعال اورېدو، د حل‌لارې پر بنسټ فکر او د ګډو ګټو د تحلیل په برخو کې پانګونه وکړي.

په ټوله کې، د دې مقالې عمومي پایله دا ده چې مؤثره مذاکره د سازماني تعارض د مدیریت تر ټولو پیاوړې وسیله ده. مذاکره باید د ادارو په کلتور کې د یوه معیاري، سیستماتیک، ستراتېژیک او مهارت‌محور میکانېزم په توګه ځای ولري.

**وړاندیزونه**

۱. ادارې او سازمانونه باید د مدیرانو او کارکوونکو لپاره د مذاکرې د مهارتونو په برخه کې دوامدارې روزنیزې برنامې تنظیم کړي، څو هغوی وکولای شي د تعارض په وخت کې د علمي او اغېزمنو تګلارو پر بنسټ عمل وکړي.

۲. ادارې باید داسې کاري چاپېریال رامنځته کړي چې په کې فعال اورېدل، روڼتیا، متقابل درناوی او د سمو اړیکو اصول د ورځني کاري کلتور برخه وي، څو د تعارض د زیاتېدو مخه ونیول شي.

۳. مدیران او کارکوونکي باید دریځ‌محور چلند پرېږدي او د ګټو پر بنسټ مذاکره دود کړي، ځکه دا چلند د دواړو لورو د اړتیاوو د پوره کېدو او پایدارې هوکړې زمینه برابروي.

۴. سازمانونه باید د تعارض د پېژندلو، راپور ورکولو، تحلیل او حل لپاره واضح، لیکلې او عملي تګلارې جوړې او پلي کړي، څو د تعارض د مدیریت پروسه معیاري شي.

۵. ادارې باید د اعتماد د ودې لپاره داسې کارونې ترسره کړي چې پکې شفافیت، مسؤلیت‌پذیري او د کارکوونکو ترمنځ ګډ کار او همغږي وده وکړي، ځکه باور د بریالۍ مذاکرې بنسټیز شرط دی.

۶. سازمانونه باید تعارض په وخت تشخیص او مدیریت کړي، ځکه ځنډ د شخړې د شدت، د اړیکو د خرابېدو او د سازمان د ثبات د کمزورتیا سبب کېږي.

# The Role of Negotiation in Managing Organizational Conflict

Teaching Assistant: Nazir Jan Noori, Shaikh Zayed University, Law and Political Science Faculty, Department of Political Science and Inter National Relations
**Email:** nazirnoori.a@gmail.com

## Abstract

Conflict is a natural and inseparable process within organizations, arising from the complexities of human relationships, thoughts, beliefs, divergent interests, goals, and organizational structures. Achieving organizational objectives requires effective management of such conflicts, among which negotiation stands out as a fundamental and indispensable mechanism. Negotiation facilitates the development of solutions grounded in mutual understanding, trust-building, and shared interests among conflicting parties. It involves a mutually agreed decision that emerges from identifying demands, prioritizing them, discussing concerns, and ultimately reaching consensus. When the essential principles, standards, and roles of effective negotiation are properly applied—while considering its levels and dimensions—the negotiation process can produce constructive and meaningful outcomes; otherwise, it may fail to yield tangible results. Therefore, negotiators must possess a solid understanding of negotiation fundamentals and criteria. This article scientifically examines the role and significance of negotiation in managing organizational conflict and highlights the key elements negotiators should consider during the negotiation process. The findings indicate that effective negotiation not only prevents the escalation of conflict but also improves interpersonal relations, increases employee satisfaction, and strengthens organizational stability. The study employs a descriptive–analytical research method, drawing upon data collected from diverse sources, which were subsequently analyzed.

**Keywords:** Administration, Organization, Conflict, Negotiation, Negotiation Process, Effective Negotiation

**مأخذونه**

استیفن پی. رابینز،(١٣٨٦ هـ.ش)، Essentials of Organizational Behavior، (مبانی رفتار سازمانی)،ترجمان:پارسائیان ،علی و اعرابی، سید محمد،ایران(تهران)، دفتر پژوهشهای فرهنگی.

ایزدی، آبادی.(١٣٨٥هـ.ش)، مدیریت تعارض، دانشگاه امام حسین.

درگاهی، (١٣٨٧هـ.ش)، مدیریت تعارض و راهبردهای مرتبط، پوهنتون علوم بژشکی .

رضائیان،علی. (١٣٨٢هـ.ش)، مدیریت تعارض و مذاکره،ایران(تهران)، سازمان چاپ وابسته به اوقاف و امور خیریه.

سعید، مراد راهی. (١٣٨٩هـ.ش). اصول و فنون مذاکره؛ مؤثّرترین روش برای حل و فصل صلحآمیز منازعات. کابل :مطبعه بهیر.

عمید ، حسن. (١٣٨٣ هـ.ش) ، فرهنگ عمید، چاپ ٣٠ ، تهران، انتشارات امیر کبیر

غفوریان، هما او فلامرزی، آمنه، (٢٠٠٧ م)، بررسی رابطه بین تعارض و عملکرد شغلی کارکنان، اسلامیار پوهنتون.

کارتر،گریگ لی او بیرنیس، جوزف ایف،(١٣٨٣ هـ.ش)، How to Manage Conflict in the Organization، (څنګه کولای شو په سازمان کې شخړه کنټرول کړو)، ژباړن: منګل، شاه محمود، کور د خپرونو څانګه.

میرکمالی، سید محمد.(١٣٨١هـ.ش)، مدیریت تعارض، مجله دانش مدیریت.

ناطق، زحل. (١٣٩۴هـ.ش)، شیوه های گذار از منازعه، مؤسسه تحصیلات عالی گوهرشاد .

Brett, J. F., & others. (1999, July). Stairways to heaven: An interlocking self-regulation model of negotiation. Academy of Management Review.

Chertkoff, J. M., & Baird, S. L. (1991). Applicability of the big lie technique and the last clear chance doctrine to bargaining. Journal of Personality and Social Psychology.

Gordon, J. R. (2003). Organizational behavior: A diagnostic approach (6th ed.). New Jersey: Prentice Hall Inc.

Hellriegel, D., & others. (1998). Organizational behavior (7th ed.). New York, NY: West Publishing Co .

Jones, R. E., & Melcher, B. H. (2005, August). Personality and the preference for modes of conflict resolution. Human Relations.

Kabanoff, B. (1991). Equity, power, and conflict. Academy of Management Review.

Lax, D. A., & Sebenius, J. K. (1986). The manager as negotiator. New York: Free Press.

Lewicki, R. J., & Litterer, J. A. (1985). Negotiation. Homewood, IL: Irwin .

Mintzberg, H. (1995). The manager's job: Folklore and fact. Harvard Business Review, Vol. (No. 4).

Morrow, B., & Bernardi, L. M. (1999, Spring). Resolving workplace disputes. Canadian Manager .

Neale, M. A., & Bazerman, M. H. (1992, August). Negotiating rationally: The power and impact of the negotiator's frame. Academy of Management Executive.

Nulty, P. (2001, February 8). Look what the unions want now. Fortune

Peterson, M. F., & Associates. (1995). Role conflict, ambiguity and overload: A 21-nation study. Academy of Management Journal.

Robbins, S. P. (1993). Organizational behavior: Concepts, controversies, and applications (6th ed.). Englewood Cliffs, NJ: Prentice Hall .

Schermerhorn, J. R., Hunt, J. G., & Osborn, R. N. (1994). Managing organizational behavior (5th ed.). New York, NY: John Wiley & Sons, Inc.

# د عضوي انتقال په اړه، د حنفي مذهب، د معاصرو فقهي احکامو څېړنه

پوهنیار دلاورشاه متقي، د شیخ زاید پوهنتون، د شرعیاتو پوهنځی د اسلامي ثقافت څانګې استاد.
**برېښنالیک:** delawermutaqee@gmail.com

**لنډیز**

اسلامي شریعت له داسې ځانګړتیاوو څخه برخمن دی، چې نه له اسلام څخه وړاندې شریعتونو درلودلې او نه په اوس کې کوم خپلواک قانون او یا کوم فکري مکتب ترې برخمن دی. یو له هغو ځانګړتیاوو څخه، هراړخیزوالی او په هر مهال کې د هرې ستونزې ځواب وینه ده. څه ډول چې زما د مقالې موضوع د عضوي انتقال په اړه ده، چې یو غړی له یو انسان څخه بل ته او یا د بدن برخه د همدې بدن په بل ځای کې لګول کېږي او په دې اړه د حنفي فقه دریځ په ډاګه کول دي، چې د اسلامي شریعت پورتنۍ ځانګړتیا، په ډېره روښانه توګه په ډاګه کوي. د یادې موضوع له څېړنې څخه بنسټیزه موخه، د یادو پیچلو طبي او جراحي عملیاتو لپاره، د حنفي فقه په رڼا کې، وړ د حالاتو سره سم، شرعي او باور ببنونکې حللارې په ډاګه کول دي؛ ترڅو ښکېل انسان د خپل اسلام دین په ریښتونوالی باندې باوري او له باطني اضطراب څخه خوندي شي. د یادې څېړنې لنډه پایله دا شوه، چې د عضوي انتقال ځینې صورتونه اتفاقي دي او په ځینو کې اختلاف دی، چې د روا ګڼونکو دلائل ځواکمن او د ټاکلو شرائطو په رڼا کې همدغه اختلافي صورت، د حنفي فقهاوو او جمهورو علماوو رحمهم الله تعالی په آند مباح او روا دی. یاده څېړنه کتابتوني څېړنه ده، چې د څېړنې د تګلارې له مخې تحلیلي، مقایسوي او توصیفي څېړنه بلل کېږي، چې مرکزي توکی یې کتاب، علمي مقالې او په اړونده برخه کې علمي څېړنې او فتواګانې دي. له وړاندیزونو څخه یو دا دی، چې ښکېل انسان د په دې برخه کې ډېر شکونه نه کوي، په ډاډه توګه د یې ترسره کړي. په دې برخه کې دا ډېره کوچنۍ څېړنه ده، ښکېل انسان باید په دې اړه ډېر څه ولولي او یا د اړتیا پرمهال د اړوندې برخې له متخصصینو سره په اړیکه کې شي. د اړوندې برخې مسلکیان او متخصصین ډاکټر صاحبان، باید د یادې برخې په شرعي پولو او مواردو باندې هم پوه کړل شي.

**کلیدي کلمات:** اتفاقي صورتونه، اختلافي صورتونه، عضوي انتقال، عضوي انتقال حکم، غړي لګول، غړي ویستل

## سريزه

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين، وعلى آله وأصحابه أجمعين. أما بعد!**

قال الله تعالى في القرآن المجيد: ﴿... **فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ٤٣**﴾ [النحل: ۴۳].

اسلامي شريعت له داسې ځانګړتياوو څخه برخمن دی، چې نه له اسلام څخه وړاندې شريعتونو درلودلې او نه په اوس کې کوم خپلواک قانون او يا کوم فکري مکتب ترې برخمن دی. يو له هغو ځانګړتياوو څخه، چې اسلامي شريعت يې له نورو بېل کړی دی، هراړخيزوالی او په هر مهال کې د هرې ستونزې ځواب وينه ده.

څه ډول چې زما د مقالې موضوع: (د عضوي انتقال په اړه، د حنفي مذهب، د معاصرو فقهي احکامو څېړنه) ده، چې د اسلامي شريعت پورتنۍ ځانګړتيا، په ډېره راڼه توګه په ډاګه کوي.

## د موضوع مسأله

په اوسني مهال کې يادو جراحي عضوي عملياتو ته، يو ښکېل انسان د خپل بدن په ډېرو برخو کې په اړتيا قائل دی؛ خو د يو مسلمان په صفت، د ښکېل انسان خوشالي دا ننګوي، چې ياد عمليات به شرعًا روا وي او که نه؟ او که روا وي، کومې بڼې او صورتونه يې روا دي او د کومو ظروفو او شرطونو په شتون کې روا دي؟ چې له څېړنې وروسته، ياده څېړنه دغه بنسټيزه ستونزه او پوښتنه حل کولی شي.

## د څېړنې پوښتنې

اصلي پوښتنه په دې ډول ده: د شريعت او حنفي فقه له مخې، عضوي انتقال روا دی او که روا نه دی؟

فرعي پوښتنې په دې ډول دي:

۱ – د عضوي انتقال کوم صورتونه روا دي او کوم يې روا نه دي او که له سره روا نه دي؟

۲ – که روا وي، شرطونه لري او که په مطلقه توګه روا دي؟

۳ – که د شرطونو په رڼا کې روا وي، شرطونه يې کوم دي؟

۴ – په دې هکله علماء په يوه خوله دي او که ترمنځ يې همغږي نشته؟

۵ – د حد، قصاص او د جاني د جنایت په پایله کې د لاس او یا پښې پرې کېدل او بیا یې په خپل ځای کې لګول، روا دي، د حد له مفهوم سره خو ټکر نه لري، له جاني څخه د قصاص او ارش په سقوط کې خو اغېز نه لري؟

٦ – ایا پرې شوی غړی، له لګولو څخه وروسته پاک دی او که نه؟

**موخې**

د یادې موضوع له څېړنې څخه بنسټیزه موخه، د یادو پیچلو طبي او جراحي عملیاتو لپاره، د حنفي فقه په رڼا کې، وړ د حالاتو سره سم، شرعي او باور بښونکې حللارې، ظروف او شروط په ډاګه کول دي؛ ترڅو ښکېل انسان د خپل اسلام دین په رښتونوالۍ باندې باوري او له باطني اضطراب څخه خوندي شي.

**د څېړنې کړنلاره**

یاده څېړنه کتابتوني څېړنه ده، چې د څېړنې د تګلارې له مخې تحلیلي، مقایسوي، توصیفي څېړنه ده، چې مرکزي توکی پکې کتاب، علمي مقالې او په اړونده برخه کې علمي څېړنې او فتواګانې دي.

**د عضوي انتقال صورتونه او په هکله یې د معاصرو علماوو آندونه او دلائل**

د عضوي انتقال د جواز په ځینو صورتونو باندې د معاصرو علماوو اتفاق دی؛ أما د ځینو د جواز او عدم جواز په هکله یې لارې سره بېلې کړې دي، چې ځینې یې د یو لړ شرطونو په رڼا کې په جواز قائل دي او ځینې یې بیا جواز نه ورکوي. هره ډله د خپلې مدعی د ثبوت په پار خپل دلائل لري، چې په لاندې توګه لومړی د عضوي انتقال صورتونه او بیا ورپسې د هرې ډلې په تفکیک سره، د دوی دلائل وړاندې کوو:

**د عضوي انتقال صورتونه او د حکم په اړه یې د علماوو آندونه**

**الف: د عضوي انتقال صورتونه**

په اوسني مهال کې د عضوي انتقال صورتونه په لاندې توګه دي:

۱ - د انسان په کوم اندام او غړي پسې، د کوم بل غیرساکښ شي، لکه مس، پلاستیک او ... لګول.

۲ - د انسان په کوم اندام او غړي پسې، د کوم حلال ژوي، لکه وزه او یا غوا، د کومې برخې لګول.

۳ - د انسان د بدن یوه برخه، د همدې انسان د بدن په بل ځای کې لګول.

**۴ -** د انسان په کوم اندام او غړي پسې، د کوم حرام ژوي، لکه خنزير، د کومې برخې لګول.

**۵ -** د روغ انسان د بدن کومه برخه، د ناروغ انسان د بدن په يو ځای کې لګول. (عثماني، ۱۴۳۸هـ ق، ص. ۲۲۴).

**ب: د حکم په اړه يې د علماوو آندونه**

د عضوي انتقال د پورتنيو صورتونو څخه د لومړنيو درې صورتونو د جواز په هکله اتفاق دی، په څلورم صورت کې تفصيل دی، هغه داسې چې د اضطرار په حالت کې، له خنزير پرته، د حرام ژوي د بدن د کوم غړي کارول روا دي؛ أما که د حرام ژوي پرځای بل ژوی موجود و او يا د اضطرار حالت نه و، بيا جواز نه لري.

د پنځم صورت په هکله علماء سره همغږي نه دي؛ د هند او پاکستان ډېری علماء يې په نه جواز باندې؛ مګر د هند ځينې علماء او د عربي نړۍ ډېری علماء يې، د يو لړ شرطونو په شتون کې، چې وروسته به يې يادونه وشي، په جواز باندې قائل دي. په هر صورت د وروستۍ ډلې د علماوو نظر د اړونده شرطونو په شتون کې، د جواز شونتيا لري؛ مګر د پير او پلور څخه يې ځان ساتنه ډېره اړينه ده؛ ځکه چې د انسان د غړو خرڅلاو جواز نه لري؛ خو بيا هم که يو څوک د جواز په صورت باندې عمل وکړي، توبه، استغفار او صدقه کولورباندې اړين دي(عثماني، ۱۴۳۸هـ ق، ص. ۲۲۴).

کوم علماء چې وروستي (۵) صورت ته د يو لړ شرطونو په رڼا کې جواز ورکوي، هغه شرطونه په دې ډول دي:

**ج: د عضوي انتقال د پورتني صورت د جواز شرطونه**

علماوو پنځم صورت (د روغ انسان د بدن کومه برخه، د ناروغ انسان د بدن په يو ځای کې لګولو) ته د يو لړ شرطونو په رڼا کې جواز ورکړی دی، چې په لاندې توګه دي:

۱ – د شونتيا تر کچې به د مسلمان غړی مسلمان ته لګول کېږي.

۲ – د يو انسان داسې غړی به نه ويستل کېږي، چې ژوند يې ورپورې تړلی وي، لکه زړه.

۳ – د داسې غړي لېږد هم حرام دی، چې د بېلولو له امله يې، انسان له بنسټيز کار او دندې څخه بې برخې کېږي. لکه سترګې او نور.

۴ – د باوري او پوهو ډاکټرانو د پرېکړې له مخې به دا خبره په ډاګه وي، چې بې له دې يې بل علاج نشته.

۵ – د غړي ويستل به د هغه شخص د اجازې پر بنسټ وي؛ كه مرگ ته نږدې او يا له مړي څخه ويستل كېږي؛ اړينه ده، چې له وارثانو څخه به يې اجازه اخيستل كېږي.

۶ – له ژوندي جسم څخه به هغه غړی ويستل كېږي، چې ډاكټرانو يې په هكله، د ياد جسم له پاره د ځانگړې اړتيا د نه شتون خبره كوي.

۷ – د غړي د لېږد څخه وروسته به په بدن كې كومه داسې د پام وړ بدرنگي نه رامنځته كېږي، چې مثله ته ورته والی ولري.

۸ – د لا وارث مړي څخه د كوم غړي ويستل روا نه دي.

۹ – د مسلمان انسان د بدن غړی به هيڅكله هم كافر ته نه لگول كېږي.

۱۰ – كوم انسان ته چې د بل كس غړی لگول كېږي، د هغه غړي د لېږد څخه وروسته بايد، نوموړی انسان له روغتيا څخه برخمن شي(د علماوو يوه ډله، ۱۴۰۸هـ، ص. ۵۰۷) (عثماني، ۱۴۳۸هـ ق، ص. ۲۲۵).

**د عضوي لېږد د ځينو صورتونو د روا او ناروا گڼونكو دلائل**

وړاندې تېر شول، چې د علماوو ترمنځ د عضوي لېږد (د روغ انسان د بدن كومه برخه، د ناروغ انسان د بدن په يو ځای كې لگول) صورت كې د رواوالي او نه رواوالي ترمنځ د نظر اختلاف شتون درلود؛ هره ډله د خپلې مدعی د ثبوت په پار يو لړ دلائل لري، چې په دې مطلب كې په لنډ ډول ترې يادونه كوو:

**الف: د نارواگڼونكو دلائل**

**۱** – الله تعالی فرمايي: ﴿...وَلَآمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلۡقَ ٱللَّهِۚ ...﴾ [النساء: ۱۱۹] ژباړه: او زه به ضرور هغوی ته حكم كوم، نو هغوی به ارومرو د الله په تخليق كې تغيير (بدلون) راولي.

په دې آيت باندې دوی استدلال داسې كوي، چې د عضوي لېږد ياد صورت، د دې آيت په مصداق كې، چې د الله تعالی په پيدايښت كې بدلون راوستل دی، شامل دی.

**۲** – الله تعالی فرمايي: ﴿ وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ ... ۷۰﴾ [الإسراء: ۷۰]. ژباړه: او د شک پرته مونږ د ادم اولادې ته ډېر عزت وركړی دی.

دوی استدلال په دې ډول کوي، چې د یو انسان څخه د غړي په ویستلو سره، د نوموړي انسان سپکاوی، بې عزتي او بې حرمتي کېږي؛ په داسې حال کې چې الله تعالی انسان عزتمن پیدا کړی دی او په اسلامي شریعت د انسان د سپکولو جواز نشته؛ بناءً د عضوي لېږد یاد صورت د اسلامي شریعت له مخې جواز نه لري.

۳ – په ورته توګه یاده ډله علماء د نبي کریم علیه السلام په دې حدیث باندې استدلال کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: "**مَا قُطِعَ من البَهيمةِ وهي حَيَّةٌ فهي مَيتةٌ**"(ابو داود، ۱۴۳۰هـ، حدیث نمبر۲۸۵۸، ج۴، ص. ۴۸۰).

ژباړه: له کوم څاروي څخه چې په ژوندوني یو څه غوښ کړل شي، مرداره بلل کېږي.

هره میتة نجسه ده؛ خوراک یې حرام دی او په دې باندې بیا اجماع ده، چې هر حرام ناپاک او نجس دی.

۴ – همدا رنګه یاده ډله علماء د خپلې مدعی د ثبوت لپاره وايي، چې انسان د خپل ځان مالک نه دی، په حقیقت کې د انسان مالک الله تعالی دی؛ نو که یو څوک د خپل بدن په غړو کې له یو چا سره ښېګڼه کوي، په حقیقت کې د بل په ملک کې تصرف کوي، چې دا کار د شریعت له مخې روا نه دی؛ بناءً د عضوي لېږد یاد صورت جواز نه لري (قرضاوي، ۲۰۱۰م، ص. ۴۲).

**ب: د رواګڼونکو دلائل**

اوس راځو دلائلو ته، د عضوي لېږد د یاد صورت روا ګڼونکي، د خپلې مدعی د ثبوت په پار له قران کریم، نبوي احادیثو او قیاس څخه دلائل وړاندې کړي دي، چې پیل له قران کریم څخه کوو:

- **قرآني دلایل**

۱ – ﴿إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيۡرِ ٱللَّهِۖ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ١٧٣﴾ [البقرة: ١٧٣].

**ژباړه:** بېشکه خبره همدا ده چې هغه په تاسو باندې همدا مرداره او وینه او د خنزیر غوښه حرامه کړې ده او هغه څه (یې حرام کړي دي) چې په هغه باندې د غیرالله لپاره اواز اوچت شوی وي، نو هغه څوک چې مجبور کړی شي، په دې حال کې چې نه سرکشي کوونکی وي او نه (له حد نه) تېرېدونکی وي، نو په هغه باندې هېڅ ګناه نشته، یقینًا الله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی.

په یاد آیت باندې دلیل په دې ډول نیسي، چې دلته الله تعالی په عامه توګه د ضرورت او اړتیا حالت، په آیت کې له منصوصې تحریم څخه، مستثنی کړی دی او استثناء تغذي حالت ته، چې په آیت کې یې یادونه شوې ده

او د تداوی دواړو حالتونو ته عامه ده. بل خوا ته ناروغ انسان د بل انسان غړي ته د اړتیا پر مهال د مضطر په حکم کې دی او د یادې عمومي استثناء په حکم کې داخلیږي؛ نو په ډاګه شوه، چې د بل چا د غړي لېږد یې بدن ته روا دی. أما د غړي ورکوونکي له پاره د خپل غړي ورکول، هغه نور نصوص، چې د مسلمانو په خپلمنځي تعاون او تکافل باندې ټینګار لري، روا کوي (الدیات، ۱۹۹۹م، ص. ۲۳۷).

۲ – الله تعالی فرمايي: ﴿... يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلْعُسْرَ ... ١٨٥﴾ [البقرة: ۱۸۵] ژباړه: الله پر تاسو د اسانتیا اراده لري او پر تاسو باندې د سختی اراده نه لري.

دا او دېته ورته نور آیاتونه دا په ډاګه کوي، چې د شارع موخه په خپلو بندګانو باندې د اسانتیا راوستل دي، نه د سختی راوستل؛ نو عضوي لېږد ته د جواز په صورت کې د اسانتیا، تخفیف او مهربانۍ معنی ثابتیږي؛ خو نه جواز یې د شارع د یادې موخې سره ټکر لري(سطحي، ۲۰۰۷م، ص. ۲٦).

- **له نبوي احادیثو څخه دلایل**

۱ – رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «**مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَنْفَعَ أَخَاهُ فَلْيَفْعَلْ**» (مسلم، ب –ت، نمبر۲۱۹۹، ج۴، ص. ۱۷۲٦).

**ژباړه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: په تاسو کې چې د هر چا په وس پوره وي، چې خپل ورور ته ګټه ورسوي؛ دا کار دې وکړي.

په یاد حدیث شریف باندې استدلال داسې کوي، چې په حدیث شریف کې د مؤمن لپاره خپل ورور ته ګټه رسول، غوره کړنه بلل شوې ده او په دې کې شک نشته، چې د یو چا د ژوند د ژغورنې په پار د بدن په خپل غړي باندې ایثار، مسلمان ته له سترې ګټې رسونې څخه ده(سطحي، ۲۰۰۷م، ص. ۲۸).

۲ - **عَنْ عَرْفَجَةَ بْنِ أَسْعَدَ قَالَ: أُصِيبَ أَنْفِي يَوْمَ الكُلَابِ فِي الجَاهِلِيَّةِ، فَاتَّخَذْتُ أَنْفًا مِنْ وَرِقٍ، فَأَنْتَنَ عَلَيَّ فَأَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَتَّخِذَ أَنْفًا مِنْ ذَهَبٍ** (ترمذي، ۱۹۹۸م، نمبر ۱۷۷۰، ج۳، ص. ۲۹۲).

**ژباړه**: عرفجه فرمايي، چې د جاهلیت په زمانه کې د کلاب په ورځ (د جاهلیت په زمانه کې د عربو قابیلوي جنګ تېر شوی دی) زما پوزې ته زیان ورسېدو، بیا مې ځان ته له سپینو زرو څخه پوزه جوړه کړه، پوزې راپسې بدبویې کوله، رسول الله صلی الله علیه وسلم راته امر وکړ، چې له سرو زور څخه ځان ته پوزه جوړه کړم.

په دې حدیث شریف باندې استدلال په دې توګه کوي، چې د سرو زرو کارول، د سړیو له پاره روا نه دي؛ خو رسول الله صلی الله علیه وسلم، چې دلته اجازه ورکړې ده، لامل یې په مخ کې د بدرنګۍ شتون دی؛ بناءً چې د

مخ بدرنګي د هغو ضرورياتو له ډلې څخه ګڼل کېږي، چې ناروا روا کوي؛ نو ايا له مړي او يا له ژوندي څخه د غړي لېږد به، د يو چا د ژوند د ژغورنې په پار روا نه وي؟ يعنې هرو مرو به روا وي (ابراهيم، ب –ت، ص. ۲۱۵).

- **له قياس څخه دليل**

فقهاء کرام رحمهم الله تعالى د هغې مړ کس د خېټې د څيرې کولو په جواز قائلين دي، چې د بل چا جوهر يې تېر کړی وي؛ترڅو څښتن خپل مال ترلاسه کړي(ابن عابدين الشامي، ۱۴۱۲هـ، ج۲، ص. ۱۳۸).

کله چې فقهاء د مال د ساتنې په پار د يو انسان د خېټې د څيرې کولو جواز ورکوي، په داسې حال کې چې د مال ساتنه يو تبعي موخه ده؛ نو د بدنونو د ساتنې له پاره، چې اصلي موخه ده، په ډېره غوره بڼه، د يو انسان د بدن د غړي لېږد ته به جواز ورکوي (سرطاوي، ب –ت، ص. ۱۴۵).

**ج: د نارواګڼونکو له دلائلو څخه ځواب**

له لومړني دليل څخه يې ځواب داسې کوو، چې په مطلقه توګه د عضوي لېږد په ياد صورت باندې د جواز حکم نه دی شوی؛ بلکې د يو لړ شرطونو په رڼا کې، چې مخکې يې يادونه وشوه، که دا په ډاګه شي، چې د عضوي لېږد ياد صورت هم په تغيير في خلق الله کې سپکاوی داخل دی؛ نو مونږ د لوی او کوچني ضرر د قاعدې په رڼا کې، د کوچني ضرر په ارتکاب سره د لوی ضرر مخه نيسو «**إِذَا تَعَارَضَ مَفْسَدَتَانِ رُوعِيَ أَعْظَمُهُمَا ضَرَرًا بِارْتِكَابِ أَخَفِّهِمَا**» (په عثماني خلافت کې د علماوو او فقهاوو يوه ډله، ب-ت، ج۱، ص. ۱۹).

له دويم دليل څخه يې ځواب داسې کوو، چې ياد عضوي لېږد د انساني کرامت سره په ټکر کې نه دی؛ ځکه دلته د غړي ورکوونکي، نه فعلي سپکاوی شته او نه قصدي او ارادي؛ بلکې په ډېرې نرمۍ او احترام سره يې اندامونه، په پرمختللو جراحي وسايلو او ميتودونو عمليات کېږي.

له دريیم دليل څخه يې ځواب داسې کوو، چې د مذاهبو د ټولو فقهاوو په اتفاق سره، د مسلمان انسان بدن، که ژوندی وي او که مړ وي، پاک دی؛ مګر د احنافو رحمهم الله په آند، په مړينې سره انسان نجس کېږي؛ خو د احنافو رحمهم الله په آند هم سمه خبره دا ده، چې نجاست يې د مړينې له کبله نه دی؛ د بې اودسۍ له امله دی، داسې چې په غسل سره پاک ګرځي (النووي، ب –ت، ج۲، ص. ۵۶۱). (ابن الهمام، ب –ت، ج۲، ص. ۱۰۶).

په کوم حديث باندې، چې د عضوي لېږد، د ياد صورت ناروا ګڼونکو دليل نيولی دی، په واقعيت کې دغه حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم د يوې مهمې موخې له پاره ويلی دی؛ عربان به چې کله په خپلو سفرونو کې ورې شول، بيا به يې د خپلو ژونديو پسونو او اوښانو څخه، د خوراک له پاره د لمونو او کوبونو (ډوډيو) غوښې،

راپرې کولې، چې په دې سره به یو ژوی ډېر په تعذیب کېده؛ نو رسول اقدس صلی الله علیه وسلم، له دې کار څخه منع کړل او یاده غوښه او وازده یې میتة او حرام وګرځوله، لکه په یو حدیث شریف کې همدا مفهوم په راڼه ډول یاد شوی دی، لکه واقد اللَّيْثِي فرمايي: **قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَهُمْ يَجُبُّونَ أَسْنِمَةَ الإِبِلِ، وَيَقْطَعُونَ أَلْيَاتِ الغَنَمِ، فَقَالَ**: «مَا قُطِعَ مِنَ البَهِيمَةِ وَهِيَ حَيَّةٌ فَهِيَ مَيْتَةٌ» (ترمذي، ۱۹۹۸م، حدیث نمبر ۱۴۸۰، ج۳، ص. ۱۲۶). (قرضاوي، ۲۰۱۰م، ص. ۴۲).

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم په داسې حال کې مدینې منورې ته راغی؛ خلکو به د اوښانو ډوډې او د پسونو لمونه به یې راغوڅول؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له کوم ژوي څخه چې په ژوندوني یو څه راپرې کړل شي، هغه میتة او مرداره بلل کېږي.

د دوی له څلورم دلیل څخه په دې توګه ځواب کوو، لکه څه ډول چې د یو انسان مال هم په حقیقت کې د الله تعالی ملکیت دی؛ خو په مال باندې ایثار او صدقه کولو کې د هیڅا اختلاف نشته؛ بلکې یاد کار ستایل شوی او ممدوح عمل بلل کېږي؛ همدا رنګه د انسان د بدن په کوم غړي باندې ایثار او صدقه کول هم دي او دا قرباني او ښېګڼه د مال د ښېګڼې په پرتله ستره او ډېره هم ده؛ مګر توپیر دومره دی، چې په ځینو حالاتو کې په ټول مال باندې هم صدقه کېدلی شي او ثواب هم لري؛ خو په ټول بدن باندې له یو چا سره ښېګڼه کول جواز نه لري؛ آن یو چا ته د داسې غړي ورکړه هم نه ده روا، چې د مړینې سبب یې کېږي او یا یې په بدن کې بنسټیزه دنده معطله کېږي، لکه څه ډول، چې په شرطونو کې تېر شول.

**د: ترجیح:** پورتنیو یادو شویو دلائلو ته په کتو، د راوګیونکو دریځ او موقف د ترجیح وړ دی؛ ځکه چې دلایل یې غوره او په یاد دریځ کې د انسانانو ګټې نغښتې دي. والله تعالی أعلم بالصواب!.

**د عضوي لېږد اړوند د حد، قصاص او جنایت مسائل**

دلته د الله تعالی په مهرباني سره، په څلورو موضوعاتو باندې بحث کوو:

۱ – له مَجْنِيٌّ علیه څخه پرې شوی غړی، بېرته په خپل ځای کې لګول.

۲ – جاني، چې د بدن غړی یې د قصاص په پایله کې پرې شوی، بېرته په خپل ځای لګول.

۳ – پرې شوی غړی، په خپل ځای کې له لګولو وروسته، پاک دی او که نه؟

۴ - يو چا چې د حد په پايله کې، لاس او يا پښه له لاسه ورکړې ده، شرعًا ورته روا ده، چې بېرته يې په خپل ځای کې ولګوي؟

هره تر بېل بېل سرليک لاندې تر څېړنې لاندې نيسو، پيل له لومړني موضوع څخه کوو:

**له مَجْنِيٌّ عليه څخه پرې شوی غړی، بېرته په خپل ځای کې لګول**

په يو کس باندې يو چا تېری وکړ، په پايله کې يې کوم غړی پرې شو، مجني عليه (په چا باندې چې تېری شوی) پرې شوی غړی بېرته په خپل ځای کې ولګو، ايا ياد عمل يې د قصاص او ارش(تاوان) په ساقط کېدو کې اغېزناک دی؟

په ياده مسأله کې راجح او غوره مذهب د جمهورو مالکيانو، احنافو، شوافعو او د يو ډولي د حنابله وو رحمهم الله تعالی اجمعين دی؛ دوی ډول په دې نظر دي، چې د مجني عليه ياده کړنه، په قصدي (عمد) کې د قصاص او په خطا کې د تاوان (ارش) په سقوط کې اغېز نه لري؛ دا ځکه چې قصاص او أرش دواړه د هغه تجاوز بدله ده، چې له جاني څخه صادر شوی دی او ياد تجاوز د غړي په پرې کېدو سره صورت پيدا کړی دی؛ بناءً د مجني عليه له خوا په خپل ځان کې د پرې شوي غړي بېرته په خپل ځای کې لګول، د ده د قصاص او ارش حق له منځه نه وړي (دسوقي، ب – ت، ج۴، ص. ۲۵۶، ۲۷۸). (ابن عابدين، ۱۴۱۲هـ، ج٦، ص. ۲۸۵). (الشافعي، ۱۴۱۰هـ، ج٦، ص. ۵۲). (المرداوي، ب – ت، ج ۱۰، ص. ۱۰۰).

**د قصاص او ارش د نه ساقطېدو دلايل**

۱ – چې مجني عليه خپل غړی بېرته په خپل ځای کې ولګو، په دې سره يې که څه هم د زيان يوه برخه له منځه لاړه؛ خو بشپړ زيان له منځه نه دی تللی؛ ځکه معمولاً غړی بېرته په ګټه اخيستنه او ښکلا کې خپل عادي حالت ته نه شي ستنېدلی؛ نو اوس که مونږ له مجني عليه څخه د قصاص او يا ارش حق آخلو، په واقعيت کې د ده د حق له منځه وړل دي، هغه هم وروسته له دې چې شريعت ورته ورکړی و.

۲ – د غړي د پرې کېدو او ويستل کېدو په صورت کې قصاص او ارش، د قطعي نصوصو په رڼا کې، په يقيني توګه ثابت دی؛ خو له بل اړخه له قرآن کريم او احاديثو څخه داسې نص نه لرو، چې د غړي په بېرته اعادې سره دې، قصاص او يا ارش ساقط کړي؛ بناءً ترڅو چې د قصاص او ارش د شتون يقيني حالت پر خلاف د قصاص او ارش د سقوط يقيني حالت رامنځته شوی نه وي؛ قصاص او ارش به په خپل حالت وي.

اوس که یو څوک د مجني علیه دغه غړی، چې د طبي جراحي عملیاتو په پایله کې یې بېرته په خپل ځای لګولی دی، د دویم ځل له پاره وباسي، ایا په دغه دویم ځل جنایت کوونکي باندې قصاص او ارش شته او که نه؟

سمه خبره دا ده، چې قصاص نه شته؛ خو ارش شته؛ دا ځکه چې دغه غړی یو عیبي غړی دی، چې د اصلي غړي په مرتبه کې نه دی؛ نو که قصاص لازم شي، له جاني څخه به هغه غړی پرې کېږي، چې په اصل خلقت کې صحیح او غیر عیبي غړی دی او دا عدالت نه دی؛ خو ارش ځکه شته؛ ترڅو عدالت رامنځته شي او له جاني سره ظلم نه وي شوی. (عثماني، ب – ت، ج ۱، ص. ۲۷۰).

**جاني چې د بدن غړی یې د قصاص په پایله کې پرې شوی، بېرته په خپل ځای لګول.**
کله چې د جاني (تېري کوونکي) د بدن کوم غړی، د قصاص په پایله کې پرې شوی وي، ایا جاني ته روا ده، چې د جراحي عملیاتو په وزله یې په خپل ځای کې ولګوي؟ او دا کار یې د قصاص د امر سره په ټکر کې دی او که نه؟ که یاد کار یې وکړ، ایا مجني علیه یې دویم ځل د قصاص کولو غوښتنه کولی شي؟

تقي عثمانی صاحب حفظه الله تعالی فرمایي، چې زما په آند په دې مسأله کې غوره او راجح نظر د شوافعو او د حنابله وو رحمهم الله تعالی د یوې ډلې نظر دی، چې په واقعیت د حنفي مذهب مقتضی او غوښتنه هم ده، هغه داسې، چې قصاص د غړي په یو ځل بېلېدلو سره رامنځته کېږي، که جاني خپل غړی د طبي جراحي عملیاتو په ترڅ کې بېرته په خپل ځای کې ولګو، بیا وربانديې قصاص نشته او نه دا د قصاص له أمر سره په ټکر کې ده. باقي د هر یو له پاره، که جاني وي او یا مجني علیه، په خپل بدن کې د روا تصرف حق شته، د یو تصرف د بل کس له تصرف سره کوم تړاو نه لري، داسې نه ده چې که جاني یاد کار ترسره کړ، نو مجني علیه به یې هم ضرور ترسره کوي او یا برعکس، که مساوات رامنځته نه شي؛ نو یو شرعی محظور رامنځته کېږي؛ نه! داسې نه ده؛ هر یو کس ازاد دی، چې په خپل ځان کې څه ډول روا تصرف کوي او څه ډول له ځان څخه د ضرر او زیان مخه نیسي (عثماني، ب – ت، ص.۲۷۵).

**پرې شوی غړی، په خپل ځای کې له لګولو وروسته، پاک دی او که نه؟**
په پورتنیو دواړو مسألو کې، کله چې پرې شوی غړی بېرته په خپل ځای کې ولګول شي؛ پاک دی او که نه؟ لمونځ ورسره کېږي او که نه؟

د مذاهبو د ټولو فقهاوو په اتفاق سره، د مسلمان انسان بدن، که ژوندی وي او که مړ وي، پاک دی؛ مګر د احنافو رحمهم الله په آند، په مړینې سره انسان نجس کېږي؛ خو د احنافو په آند هم سمه خبره دا ده، چې نجاست یې

د مړينې له کبله نه دی؛ د بې اودسۍ له امله دی، داسې چې په غسل سره پاک ګرځي (النووي، ب – ت، ج۲، ص. ۵۶۱). (ابن الهمام، ب – ت، ج۲، ص. ۱۰۶).

بناءً د څلورو واړو مذاهبو په آند، کله چې يو کس خپل بېل شوی غړی بېرته په خپل ځای کې ولګوي، پاک دی، په اړه يې د نجاست حکم نه کېږي، نه د نوموړي کس د لمانځه په فساد باندې حکم کېږي او نه له همدې کبله د ياد غړي په بيا ځلې ويستلو باندې حکم کېږي.

کله چې له پورتنيو څېړنو څخه دا خبره په ډاګه شوه، چې د بېل شوي غړي بېرته په خپل ځای کې ځای پر ځای کول، د قصاص له غوښتنې سره ټکر نه لري او نه ناپاک دي؛ راڼه شوه، چې دا ډول عمل مباح او د اسلامي شريعت له مخې کومه باک او پروا نه لري (عثماني، ب –ت، ج۱، ص. ۲۸۲).

**يو چا چې د حد په پايله کې، لاس او يا پښه له لاسه ورکړې ده، شرعًا ورته روا ده، چې بېرته يې په خپل ځای کې ولګوي؟**

کله چې يو کس لاس او يا پښه د حد په پايله کې له لاسه ورکړې ده، اوس شرعًا نوموړي محدود کس ته روا ده، چې بېل شوی لاس او يا پښه بېرته په خپل ځای کې ولګوي؟

د پخوانيو فقهاوو رحمهم الله تعالی په کتابونو او ليکنو کې ياده مسأله نه تر سترګو کېږي؛ ښايي لامل يې دا وي، چې په حدودو کې چې د انسان غړي پرې کېږي، هغه يوازې لاس او پښه دي، چې د غلا او لاروهنې په حدودو کې انحصار لري، له دې هاخوا د حدودو په ترڅ کې، د انسان د بدن کوم غړی نه پرې کېږي او لرې نه ده، چې په هغه مهال کې د لاس او يا پښې د بېلوالي څخه وروسته، بېرته يې په خپل ځای کې د لګولو تصور موجود نه وي، ښايي له همدې کبله فقهاوو رحمهم الله تعالی ياده مسأله نه وي څېړلې. د سلفو صالحينو رحمهم الله تعالی عادت دا و، چې له واقع کېدو څخه وړاندې يې په مسائلو کې دننه کېدنه بده ګڼله، دوی به ويل: (لا تعجلوا بالبلاء قبل نزوله) ژباړه: له پېښېدو څخه وړاندې، ستونزو او کړاوونو ته بيړه مه کوئ!. که څه هم په اوس کې د قطع شويو لاسونو او پښو په خپل ځای کې د لګولو عمليات کېږي؛ خو لا تراوسه په دې برخه کې د پام وړ برياليتوب نه دی تر سترګو شوی؛ بلکې هغو اوسپنيزو او لرګينو لاسونو او پښو، د پرې شويو پښو او لاسونو بېرته په خپل ځای کې د لګولو په نسبت، ښه پايله ورکړې ده. په دې برخه کې له باوري ډاکټرانو څخه هم پوښتنه شوې ده، چې هغوی هم د يادې شوې خبرې پخلی کړی دی (عثماني، ب –ت، ج۱، ص. ۲۸۳).

که فرض يې کړو، چې ياده مسأله واقع شوې ده؛ نو د حکم د راويستلو له پاره يې دوه اصله لرو؛ ترڅو په قياس سره يې حکم راوباسو:

**الف: په قصاص باندې قياسول**

کله چې حد په قصاص باندې قياس شي، لکه څه ډول چې وړاندې تېر شول، چې د جمهورو فقهاوو رحمهم الله په آند غوره نظر دا و، چې قصاص د غړي په جدا کېدو او پرې کېدو سره پای ته رسېږي او دا له قصاص څخه نه ده، چې جاني دې تل له خپل غړي څخه بې برخې پاتې شي؛ همدا ډول به حد هم وي، چې د غړي په پرې کېدو به حد بشپړتيا ته رسېږي، دا به په حد کې شامل نه وي، چې محدود دې د تل له پاره، له خپل غړي څخه بې برخې پاتې شي او که داسې ونه شي گواکې بيا به حد نيمگړی وي. نو پر دې بنسټ د غل او لاروهونکي لپاره دا هم روا ده، چې مصنوعي لاس او پښه وکاروي او هم کولی شي، چې خپل پرې شوی لاس او يا پښه بېرته په خپل ځای کې ولگوي؛ ځکه د دې کار څخه کوم مانع شتون نه لري.

**ب: د قصاص سره د توپير شتون**

کله چې د حد د قصاص سره د توپير اړخ په نظر کې ونيسو، بيا په کوم حد کې د محدود کس له پاره روا نه ده، چې د حد په پايله کې يې بېل شوی لاس او يا پښه د کومو جراحي عملياتو په ترڅ کې، بېرته په خپل ځای کې ولگوي. هغه توپير يې داسې دی، چې په قصاص کې اصلاً مطلوب، جاني ته د مجني عليه په څېر سزا ورکول دي، يعنې کله چې د جاني لاس پرې شي، بس نوره قصاص پای ته ورسېد، اوس که جاني بېرته خپل لاس په خپل ځای کې عمليات کوي، د قصاص له اصلي موخې سره ټکر نه لري؛ ځکه دا له قصاص پرته بل څه دي. خو په حد کې اصل مطلوب، د مماثل ضرر رسول نه دي؛ بلکې ابتداءً د الله تعالی له خوا د سزا ټاکل دي، چې اصل مطلوب يې يوازې د لاس او يا پښې بېلوالی نه دی؛ بلکې د يادو غړو د منفعت څخه بې برخې کېدل دي؛ نو په دې صورت کې د محدود له اړخه، د خپل بېل شوي غړي بېرته خپل ځای ته راگرځول، د حد د ياد اصيل مقصود او مطلوب سره ټکر لري. نو په دې اساس ويلی شو، چې د محدود له پاره د خپل بېل شوي غړي بېرته راگرځول او يا د لرگين او ډبرين غړي کارول، جائز نه دي.

خو دې ته مو بايد پام وي، چې دا خبره يقيني نه ده، چې له حد څخه اصلاً مطلوب څه شی دي؟ ايا مطلوب د جاني د لاس په پرې کولو سره يوازې جانی ته د درد رسول دي او که مطلوب په بشپړه توگه د ده د غړي له منځه وړل دي؟ که لومړنۍ خبره موخه وي، ده ته د خپل غړي بېرته لگول روا دي او که دويمه خبره موخه وي، بيا نه دي روا، په داسې حال کې چې د هر يو احتمال له پاره خپل خپل دلائل شتون لري.

په اوس کې په مونږ باندې لازمه نه ده، چې په یو احتمال باندې یې هم پرېکړه وکړو؛ ځکه تر اوسه پورې یاده مسأله نه ده پېښه شوې، که پېښه شوه، بیا به الله تعالی په هغه ځای کې، د خپلې رضا سره مل، د فقهاوو سینې د یادې مسألې په هکله پرانېزي. ان شاء الله (عثماني، ب – ت، ج ۱، ص. ۲۸۳).

**پایله (Conclusion)**

پایله دا شوه، چې د شریعت او حنفي فقهې له مخې د عضوي انتقال پنځه صورتونه دي، چې د دریو د جواز په هکله د علماوو اتفاق دی، په یو کې تفصیل دی او په بل کې د علماوو ترمنځ اختلاف دی، ځینې یې جواز له سره نه مني؛ خو ځینې جواز د یو لړ شرطونو په رڼا کې مني، چې د دلائلو پر بنسټ د روا ګڼونکو دلائل څواکمن او یاد نظر غوره بلل کېږي. د قصاص او د جاني د جنایت په پایله کې د کوم غړي پرې کېدل او بیا یې په خپل ځای کې بېرته لګول، روا دي، د قصاص له مفهوم او موخې سره ټکر نه لري او نه د مجني علیه یاده کړنه، د جاني څخه قصاص او یا ارش غورځولی شي. د حد په پایله کې، چې کوم لاس او یا پښه پرې شوې ده، بېرته یې په خپل ځای کې لګول، که د قصاص په څېر وبلل شي، جواز لري او که د قصاص څخه مغیر وبلل شي، بیا نو جواز نه لري، خو په اوس مهال کې غوره نظر دا دی، چې توقف وشي. په ورته توګه پرې شوی غړی په خپل ځای کې له لګولو څخه وروسته پاک دی.

**وړاندیزونه**

یو لړ اړین وړاندیزونه په لاندې ډول دي:

۱ – د عضوي لېږد موضوع د معاصرو طبي جراحی سره تړلې موضوع ده، په کار ده، چې څېړونکي وخت پروخت په دې برخه کې تحقیقي مقالې ولیکي؛ ترڅو د نوو صورتونو په هکله د اسلامي شریعت او حنفي فقه دریځ روښانه وي.

۲ – د عضوي لېږد او دېته ورته نورو موضوعګانو، د ساري په توګه جراحة التجمیل، په اړه باید تحقیقي مقالې او علمي رسالې زیاتې شي؛ ترڅو په دې برخه کې عام مسلمانان، په نارواو کې له غورځېدو خوندي پاتې شي.

۳ – د عضوي لېږد او په ټوله کې د جراحی په روا او ناروا صورتونو باندې، د یادې برخې مسلکیان او متخصصین ډاکټر صاحبان، د سمینارونو، کنفرانسونو، ورکشاپونو او ورته نورو اغېزمنو لارو په وزله پوه کړل شي، ترڅو په دې برخه کې له شرعي پولو اوښتنه کمه او په پایله کې له منځه لاړه شي.

۴ – د حد په پایله کې چې کوم اندام پرې شي، د بېرته لګولو د جواز او نه جواز په اړه یې، بنده د افغانستان د مرکزي دار الافتاء کومه رسمي فتوا نه ده لیدلې، هیله ده، چې په دې اړه فتوا صادره کړي.

# An Analytical Study of Contemporary Jurisprudential Rulings Regarding Organ Transplantation in the Hanafi School.

Teaching Assistant Delawershah Muttaqi, Faculty of Sharia, Sheikh Zayd University, Instructor of Islamic Culture.
**mail:** delawermutaqee@gmail.com

**Abstract**
Islamic Sharia is endowed with unique attributes not found in previous divine laws nor present in any modern legal system or intellectual school. Among its foremost qualities is its comprehensive nature and its ability to provide relevant solutions for every era and circumstance. This distinct feature is clearly reflected in the subject of this paper: "An Analytical Study of Contemporary Jurisprudential Rulings Regarding Organ Transplantation in the Hanafi School." The primary aim of this study is to explore, in light of Hanafi jurisprudence, appropriate and faith-assuring legal solutions to complex medical and surgical procedures such as organ transplantation, in order to ensure that the involved individual remains firmly rooted in their faith and protected from internal spiritual unrest. The findings of the research indicate that certain forms of organ transplantation are unanimously accepted, while others are subject to scholarly disagreement. Nonetheless, the arguments in favor of permissibility are strong, and under defined conditions, even the disputed forms are deemed permissible and lawful by Hanafi jurists and the majority of Islamic scholars (may Allah have mercy upon them). This is a library-based research employing an analytical, comparative, documentary, and descriptive methodology. The core sources include books, academic articles, scholarly research, and formal religious edicts (fatwas) related to the issue. One of the key recommendations is that individuals involved should avoid excessive doubt and proceed with confidence, while also seeking further knowledge or consulting specialists when needed. Moreover, medical professionals should be educated in the relevant Sharia-based boundaries and considerations concerning this issue.

**Keywords:**
Cases of agreement and disagreement, Organ transplantation, Organ removal, Organ implantation, Ruling on organ transplantation

**اخځلیکونه**

قران کريم

ابراهيم، محمد يسري. ١٤٢٦هـ/٢٠٠٥م. سرقة الأعضاء بالجراحة الطبية وأحكام القصاص المترتبة عليه في الفقه الاسلامي. چ١. مكة المكرمة – دار طيبة.

ابن الهمام، كمال الدين محمد بن عبدالواحد السيواسي. ب – ت. فتح القدير. ج٢. دار الفكر.

ابن عابدين الشامي، محمدآمين بن عمربن عبدالعزيز الدمشقي الحنفي(المتوفى:١٢٥٢هـ). ١٤١٢هـ/١٩٩٢م، رد المحتار على در المختار. ج٢. چ٢. بيروت- دار الفكر.

أبو الحسن، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: ٢٦١هـ). ب – ت. صحيح مسلم. ج٤. څېړونکی: محمد فؤاد عبدالباقي. بيروت - دار إحياء التراث العربي.

أبو داود، السجِستاني، سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (المتوفى: ٢٧٥هـ). ١٤٣٠هـ/ ٢٠٠٩م. سنن أبي داود. څېړونکی: شعيب الأرنؤوط. ج٤، چ١. دار الرسالة العالمية.

په عثماني خلافت کې د علماوو يوه ډله. ب –ت. مجلة الأحكام العدلية. ارام باغ- كراچي.

الترمذي، أبو عيسى محمدبن عيسى بن سورة بن موسى بن الضحاک. ١٩٩٨م. ٣ج. څېړونکی: بشار عواد معروف. بيروت- دار الغرب الاسلامي.

خلف الله، دكتور شعبان. ٢٠١١م. زراعة الأعضاء بين الواقع والمأمول. چ١. لبنان: بيروت- دار الكتب العلمية.

د علماوو يوه ډله. ١٤٠٨هـ/١٩٨٨م. مجلة مجمع الفقه الاسلامي، الدورة الرابعة. ج١. ب – ط.

الدسوقي، محمد بن أحمدبن عرفة المالكي (المتوفى: ١٢٣٠هـ). ب – ت. حاشية الدسوقي على الشرح الكبير. ج٤. دار الفكر.

الديات، سميرة عايد. ١٩٩٩م. عمليات الزرع ونقل الأعضاء بين الشرع والقانون. چ١. عمان- دار الثقافة للنشر والتوزيع.

السرطاوي، محمود علي مصلح. ١٤٠٥هـ/١٩٨٥م. حكم التشريح وجراحة التجميل في الشريعة الاسلامية. مج:١٢، عدد: ٣. أردن- الجامعة الأردنية.

سطحي، سعاد. ١٤٢٨هـ/ ٢٠٠٧م. نقل الأعضاء البشرية. چ١. مؤسسة الرسالة.

الشافعي، أبو عبدالله، محمدبن ادريس بن العباس بن عثمان بن شافع (المتوفى: ٢٠٤هـ). ١٤١٠هـ/١٩٩٠. بيروت- دار المعرفة.

عثماني، محمد تقي. ١٤٣٨هـ/٢٠١٦م. فتاوى عثماني. ج٤. پاكستان -كراچي: مكتبة معارف القرآن كراچي.

عثماني، محمد تقي. ب – ت. بحوث في قضايا فقية معاصرة. ج١. كندها- مكتبة الصلاح.

قرضاوي، يوسف. ٢١٠م، زراعة الأعضاء في ضوء الشريعة الاسلامية. چ١، مصر- قاهره: دار الشروق.

المرداوي، الدمشقي، علاء الدين أبو الحسن علي بن سليمان، الصالحي الحنبلي (المتوفى: ٨٨٥م). ب – ت. الانصاف في معرفة الرجح من الخلاف. ج١٠. چ٢. دار احياء التراث العربي.

النووي، محيي الدين، يحى بن شرف (المتوفى: ٦٧٦هـ). ب – ت. المجموع شرع المهذب. ج٢. دار الفكر.

# Shaikh Zayed

**Quarterly Academic and Research Journal 2025, No: 40**

## Editorial Board

- **Prof. Zarwali Sadiqi / Faculty of Social Science**
- **Prof. Abdulkhlil Afghani / Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Dr Subhanullah Shahab / Faculty of Languages and Literature**
- **Assot. Prof. Mohammad Shafiq Mandozai/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Mohammadullah Mondozay/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Abdul Tawab Azizi/ Faculty of Education**
- **Assot. Prof. Amanullah Zadran/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Shafigul Shafiqi/ Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Salih Khan Salih/ Faculty of Computer Science**
- **Assot. Prof. Said Kamal Shah Bannuri/ Faculty of Sharia**
- **Assot. Prof. Naqibullah Atish/ Faculty of Journalism**
- **Assist. Prof. Gawhar Shah Gawhari/ Faculty of Computer Science**
- **Assist. Prof. Ghazi jan Mohammadi/ Faculty of Education**